# د وردګو کلتوري بون



Ketabton.com

محمد اورنګ مختار

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل پوهنتون
ژبـــو او ادبـیاتو پوهنځی
پـــښتو څانګه

# د وردګو کلتوري یون

(د ماسترۍ تېزس)

لیکوال:

**محمد اورنګ مختار**

**۱۳۹۴ل کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: د وردګو کلتوري یون

لیکـــوال: محمد اورنګ مختار

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۶۵)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) كال په پیل كې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه كړې وه چې د دې كال په بهیر كې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې كوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد كال د كب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ كې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې كړل. ملي تحریك په یاده غونډه كې ژمنه وكړه چې د (۱۳۹۴ ل) كال په بهیر كې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې كوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه كار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ كړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی كوي. دا اثر چې ستاسو په لاس كې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه كړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته كړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیكوالو، ژباړونكو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې د دې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر كې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا كړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی كړی، د زړه له كومې مننه كوي او كور ودانی ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقریظ

د (وردګو کلتوري یون) تر سرلیک لاندې د ماسترۍ دورې څخه د فارغ محصل ښاغلي محمد اورنګ مختار له خوا لیکل شوی تېزس مې وکوت.

دغه تېزس ټولټال (۳۲۳) مخه دی، چې د تېزس لیکنې په اوسنیو معیارونو برابر لیکل شوی دی. نوموړی تېزس (۱۳) عمومي او د (۲۴۰) واړه او فرعي عنوانونه لري.

د وردګو کلتوري یون په حقه د پښتو ادب د عمومي ادبي او ژبني بهیر یوه عمده برخه ده. په دغه بهیر کې څه پخوا او څه اوس داسې لوی، تکړه او نامتو لیکوال، علمي او فرهنګي څېرې او ژبپوهان تېر شوي، چې نه یوازې د وردګو ادبي بهیر لپاره د ویاړ وړ څېرې ګڼل کېږي، بلکې له شک پرته د پښتو ادب تشې وربانده ډکې شوې او پښتو ادب ته یې پوره پوره ویاړ وربښلی دی.

د تېزس لیکوال نه یوازې دا چې د (وردګو کلتوري یون) برابر شوي فهرست ته پوره ځواب ویلی، بلکې په بشپړه توګه یې دغه یون او د وردګو ولایت د خلکو په دودونو له حوصلې پورته ډېر کار کړی دی. زه یې کار د پوره قدردانۍ وړ بولم او په راتلونکو علمي کارونو کې ورته له الله (ج) څخه بریالیتوب غواړم.

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي

د پښتو څانګې استاد

پوهنوال احمد شاه زغم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پیل خبرې

د وردګو سیمه یوه علمي سیمه ده، چې په خپل زړه کې یې د نورو متخصصو کادرونو ترڅنګ ګڼ شمیرپوهان ،ادیبان، ژورنالستان، دیني عالمان او لیکوالان ساتلي، دغو لیکوالانو، شاعرانو اوژورنالستانو د هیواد دفرهنګي بډاینې لپاره د پام وړ خدمتونه کړي او ډیر شمیر یې د هیواد په بیلابیلو سیمو کې زموږ وولس ته د علمي، تاریخي او فرهنګي خدمتونو ویاړ لري لکه غازي محمد جان خان وردګ چې د افغانستان د استقلال لپاره یې بې مثاله مبارزه کړې ده ، همدارازپه اوس مهال کې د هېواد زړور او نوموتی لیکوال، ژ،رنالست،شاعر او سیاستوال ثیرځندوی استاد حبیب الله رفیع... ، د دې شاعرانو، اتلانو او فرهنګیانو دغو خدمتونو ته په پام دا فکر راسره له ډیر وخت راهیسې په ذهن کې و، چې څنګه وکولای شو د وردګو تیت اوخور شوی کلتوري بهیر په یوه نسبتا لویه ټولګه کې، سره راټول کړو ،څو وردګ میشته او له وردګ سیمې بهر هغه خلک د دې سیمې له کلتورڅخه خبر شي چې تر دې دمه نه دي خبر شوي، همدې فکرته په پام سره مې د خپلې ماسترۍ د دورې تیزس (د وردګو کلتوري یون) تر سرلیک لاندې د خپل درانه استاد پوهنوال احمدشاه زغم چې په لیسانس او ماسترۍ دورو کې یې ماته د کلتور او ادب په اړه ډیره انګیزه راکړې، زه یې د کلتور په ارزښت پوهولی یم او ډیر څه مې ترې زده کړي، تر لارښوونې لاندې غوره کړ.

له نیکه مرغه استاد او د ماسترۍ د دورې د استادانو عالي کمیسیون هم د دغې موضوع لیکل تایید کړل او ماته یې د دې موضوع د لیکلو هدایت وکړ.

ما هم د خپل لارښود استاد پوهنوال احمدشاه زغم تر لارښوونې لاندې په دې برخه کې خپل کارپیل کړو، لومړی مې د سیمې د لیکوالانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعرانو سره خبرې وکړې چې ټولو يې زه وهڅولم او هر يوه يې تر خپله وسه راسره د ماخذونو په چمتو کولو او معلوماتو په شريک کولو کې راسره مرسته هم وکړه، په ځانګړې توګه ازاد خبريال او( د وردګو د مشاهير ) نومي څلورو ټوکونو کتاب ليکوال ښاغلي حيات الله حليم، هڅاند ليکوال او شاعر ګل اغا احمدي وردګ چې خپل ټول عمر يې د وردګو د کلتوري يون د بډاينې لپاره نه ستړې کيدونکې هلې ځلې کړي او تاند شاعر او ژورنالست محب الله شريفزي راسره تر ټولو زياتې مرستې کړي دي، دوی هر يوه په خپلو برخو کې له اندازې زياتې مرستې کړې دي، زه له دې دريو واړو قدرمنو ليکوالانو په ځانګړې توګه له خپل لارښود استاد پوهنوال احمد شاه زغم او ټولو هغو دوستانو څخه منندوی يم چې له ما سره يې د دې تيزس په ليکلو او ترتيب کې مرسته کړې ده، نن که زه د ليکلو يا د کلتور په اړه د څه ويلو توان لرم لامل يې يوازې او يوازې د استاد زغم لارښوونې او نيکې پيرزوينې دي چې زه يې کلونه کلونه د خپل محصل په توګه منلی يم او زما ګوتې يې ان د ليسانس په دوره کې د ليکوالۍ له هنر سره اشنا کړې دي.

همدا راز په پای کې د وردګو د فرهنګي ميراثونو د ساتنې له مدبر ښاغلي محمد نسيم رسا او د وردګو د اطلاعاتو او فرهنګ رياست د خپرنيز ارګان ملي هدف د اونيزې له مسوول مدبر محمد عمرنجاتمل څخه نړۍ مننه کوم چې د وردګو کلتوري يون د تيزس د ډيزاين کولو او معلوماتو په راټولو کې يې له ما سره نه ستړې کيدونکې مرسته کړې ده او د دې ټولګې د بډاينې او لاښکلا په موخه يې له ما سره په ورين تندي د همکارۍ سينه ډبولې ده.

په درنښت

محمد اورنګ مختار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډيز

الف

د وردګو کلتوري يون چې د وردګو د سيمې اړوند د کلتور په اړه زما د ماسترۍ د دورې د تيزس موضوع ده، پکې د وردګو د کلتوري ژوند بېلابېل اړخونه لکه د کوژ دې دود، د واده کولو دود، د مړي خښولو دود ، د وردګو سيمه ييز خواړه، سيمه ييزې لوبې او د دې سيمې د ولسي ادب اړوند معلومات په کې راغونډ شوي دي، دغه اثر د وردګو د خلکو عقيدې، انګيرنې، ادبيات، سيمه ييز خواړه، د ميلمه پالنې دود، د اخترونو لمانځل او د اختر دود د څرنګوالي په اړه د معلوماتو يوه ټولګه ده موږ په همدې تيزس کې له پورته يادو شوو دودونو راوړلو سربېره د وردګو د سيمې د خلکو مادي ژوند ته هم سر ورښکاره کړی دی او د دې سيمې اړوند معدنونو، کرنې او لاسي صنايعو په اړه مو معلومات خپاره کړي دي، چې د دې سيمې د وګړو د ژوند يوه برخه ده.

ماشومان چې د سبا ورځې لويان او مشران دي، په هره سيمه کې د ماشوم پيدا کيدل ځانګړي مراسم لري، موږ دلته د وردګو په سيمه کې د ماشوم د پيدا کيدلو، دهغه د سنتيې، پر هغه د نوم ايښودلو په دود هم يو څه معلومات راټول کړي دي څو لوستونکي په دې پوه شي چې د وردګو په کلتور کې د يو ماشوم د پيدا کيدلو دود څه ډول دود دی، د دې سيمې خلک د ماشوم پيدا کيدلو ته څومره ارزښت ورکوي او ماشوم هلک او ماشومه نجلۍ د دې خلکو له انده څه ډول دي.

همدا راز مو دا هم جوته کړې چې په وردګو د نجلۍ او هلک دود او دستور کول څومره توپير کوي او جوتوي چې د وردګو خلک د دويز جندر او اسلامي مفکورو ته څومره درناوی کوي، همدا راز مو د دې سيمې د وولسونو عقايد چې د خلکو د ژوند يوه مهمه برخه جوړوي او له کلتور سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

نېغې اړیکې لري او د یو هلک ماشوم یا نجلۍ ماشومې د پیدا کیدا پر مهال خپل د غه عقاید او ګروهنې څرګندوي روښانه کړي دي. په وردګو کلتوري یون کې مو له هغو پټو شیانو هم پرده اوچته کړې چې اوسنې ځوانان ترې د سیمې څخه د لیرې والي او کډوالۍ له امله سم نه دي خبر لکه د خسر کورته د زوم تګ یا نه تګ، د خسر د کورنۍ غبرګون او...همدا راز هڅه مو کړې څو وولس د وردګو د سیمه ییزو لوبو او دلوبو له ډولونو خبر کړو ځکه چې د لوبو دود او د یوې سیمې له لوبو څخه د نورو سیمو د ځوانانو او ماشومانو خبرول یو مهم او اړین کار دی. منو چې د وروستیو بدلونو په بهیر کې ممکن یو شمېر لوبې له خلکو هیرې شوې وي او له یاده وتلې وي، خو په ټولییز ډول د وردګو سیمې د ملي او سیمه ییزو لوبو ډېر داسې ډولونه خوندي ساتلي چې په نورو سیمو کې د خلکو له پامه لویدلي او یا هم هیر شوي دي. موږ په دې لیکنه کې د وردګو په سیمه کې د میلمه پالنې په دود او دستور هم غږیدلي یو او دا مو ثابته کړې چې د وردګو خلک میلمه ته په ډېره درنه سترګه ګوري، همدا راز مو دلته د میلمه د ډالۍ په اړه هم معلومات خپاره کړي څو زموږ هیوادوال او راتلونکي نسلونه په دې وپوهیږي چې پښتانه په ځانګړې توګه وردګ وولسونه تر کومه ځایه د میلمه پالنې دود ته ژمن دي. پر دې علاوه مو د وردګو د سیمې د پوهنې، طب، لوړو زده کړو او د دې سیمې د محلي یا دودیز طب په اړه معلومات خپاره کړي.

ب:

د وردګو د سیمې ادبیات په ځانګړي ډول وولسی ادبیاتو (ولسی سندرې، متلونه...) مو هم دلته را اخستي دي، د وولسي ادب په برخه کې مو د ښځینه ادبیاتو، سندرو او کنځاکیو په اړه معلومات خپاره کړي دي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغـوی احساسـات ، عقایـد ، انګیرنـې،او هنـر چـې د دوی د اسـتعداد ځرګندوی دی روښانه کړی دي.
همـدا راز مـو د وردګـو د سـیمې مهـم تـاریخي ځایونـه، مهـم زیارتونـه، مشاهیر، مدني او کلتوري ټولنې، رسنۍ، دشعر او شاعرۍ ځرنګوالی او دبـتـه ورتـه هغـو اړینـو ، دودیـزو اوعلمـي معلومـاتو تـه نغوتـه کـړې چـې د وردګـو د سـیمې د کلتـور سـره تـړاو لـري. هـیلمن یـم چـې د دې ټـولګې پـه لوسـتلو سـره بـه لوسـتونکي وکـولای شـي د دې سـیمې د کلتـور او کلتـوري یون په اړه دمعلوماتو د راغونډولو پر مهال له ستونزو سره مخ نـه شـي او دا ټولګه به ورته د یو مرستندوی ماخذ ځای ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک

ګڼه عنوان | مخ

سریزه............................................................................................۱
د موضوع موخه..............................................................................۲
د موضوع شالید..............................................................................۴
د موضوع مېتود..............................................................................۶

## (۱) کلتور

۱-۱ د فولکلور مانا..........................................................................۲۱
۱-۲ د فولکلور اصطلاح کارېدل..........................................................۲۳
۱- ۳ فولکلور په افغانستان کې..........................................................۲۳
۱- ۴ فولکلوریکې څېړنې................................................................۲۵
۱- ۵ د فولکلور ارزښت......................................................................۲۷

## (۲) د کلتوري ژوند عمده توکي

۲-۱ مادي ژوند.................................................................................۳۰
۲-۲ د مادي ژوند مهمې برخې............................................................۳۱
۲- ۳ د مادي ژوند څرنګوالی.............................................................۳۱
۲-۴ معدنونه.....................................................................................۳۳
۲- ۵ صنعتي چاري.............................................................................۳۷
۲- ۶ لاسي صنایع..............................................................................۳۸
۲- ۷ کرنه او مالداري.........................................................................۴۰

## (۳) کلتور او فولکلور

۳-۱ د فولکلور غوره برخې..................................................................۴۳
۳- الف۲ د کوژدې دود.......................................................................۴۳
۳- الف۳ د نجلې کتنه........................................................................۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳-الف۴ د پېغلې کورنۍ ته د ښځو ورتګ دوه ډوله وي.......................... ۴۷
۳-الف۵ د پېغلې خوښول.......................................................... ۴۸
۳-الف۶ مرکه لېږل یا رویباري..................................................... ۵۰
۳-الف۷ د ستنې راوړل یا ننبه..................................................... ۵۲
۳-الف۸ د ستن (ستنې) د ورکړې دود............................................ ۵۵
۳-الف۹ د ستنې ښکلا او جوړښت................................................ ۵۵
۳-الف۱۰ د هلک کورته د ستنې رسېدل.......................................... ۵۶
۳-الف۱۱ دعا......................................................................... ۵۹
۳-الف۱۲ ایجاب او قبول........................................................... ۶۲
۳-الف ۱۳ د ګل راوړل............................................................. ۶۵
۳-الف۱۴ ناسته....................................................................... ۶۶
۳-الف۱۵ بوله........................................................................ ۶۷
۳-الف۱۶ نوروزي.................................................................... ۶۹
۳-الف۱۷ د پوښ وړل............................................................... ۷۰
۳-الف۱۸ د اختري وړل............................................................. ۷۱
۳-الف۱۹ د واده لپاره تیاری (چمتو والی)...................................... ۷۳
۳-ب۱ د واده دود..................................................................... ۸۰
۳-ب۲ لومړی عادي واده............................................................ ۸۰
۳-ب۳ خلعتي (خلتي)................................................................ ۸۳
۳-ب۴ د خلتیو ډولونه................................................................. ۸۴
۳-ب۵ طوی............................................................................ ۸۵
۳-ب۶ د طوی طریقه.................................................................. ۸۵
۳-ب۷ د طوی ډولونه.................................................................. ۸۶
۳-ب۸ خام طوی....................................................................... ۸۶
۳-ب۹ پوخ طوی....................................................................... ۸۷
۳-ب۱۰ د نکریزو شپه................................................................ ۸۷
۳-ب۱۱ د ناوې جوړول.............................................................. ۸۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳-ب۱۲ د ناوې راوړل.......... ۹۱
۳-ب۱۳ د ناوې مخ کتل او مخروني.......... ۹۱
۳-ب۱۴ د وردګو د واده بدلې.......... ۹۳
۳-ب۱۵ ورا.......... ۹۶
۳-ب۱۲ د ناوې راویستل.......... ۹۷
۳-ب۱۷ د ناوې رارسول.......... ۹۸
۳-ب۱۸ د نکاح شپه.......... ۹۹
۳-ب۱۹ د نکاح پلار.......... ۹۹
۳-ب۲۰ کردار راوړل (بوخڅه).......... ۹۹
۳-ج۱ د ماشوم د پیدا کېدو دود.......... ۱۰۱
۳-ج۲ د ماشوم په غوږ کې اذان.......... ۱۰۲
۳-ج۳ سنتي.......... ۱۰۲
۳-ج۴ نوم اېښودنه.......... ۱۰۳
۳-د۱ د مړي دود.......... ۱۰۴
۳-د۲ په مړي پسې خیرات.......... ۱۰۵
۳-و۱ د مېلمه پالنې دود.......... ۱۰۶
۳-و۲ مېلمه ته ډالۍ.......... ۱۰۶
۳-و۳ د خېښانو د کورنیو ترمنځ نورې ډالۍ.......... ۱۰۸
۳-و۴ متفرقه ډالۍ.......... ۱۰۸
۳-و۵ مرېځی.......... ۱۰۸
۳-و۲ دودیزې مېلمستیاوې (اختر، مسافري، خېښي...).......... ۱۰۹
۳-ه۱ د اختر دود.......... ۱۰۹

## (۴) د وردګو سیمه ییز خواړه

۴-۱ لاندی.......... ۱۱۱
۴-۲ ښوروا.......... ۱۱۲
۴-۳ پلو.......... ۱۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴-۴ شیر برنج........................................................................ ۱۱۳
۴-۵ چیکړی (کیچړی)...................................................... ۱۱۳
۴-۶ کورت........................................................................ ۱۱۳
۴-۷ شکنه........................................................................ ۱۱۴
۴-۸ اوګره........................................................................ ۱۱۴
۴-۹ سمنګ........................................................................ ۱۱۴
۴-۱۰ اړوب........................................................................ ۱۱۵
۴-۱۱ حلوا........................................................................ ۱۱۵
۴-۱۲ پیرکی........................................................................ ۱۱۵
۴-۱۳ شنالغه........................................................................ ۱۱۶
۴-۱۴ چیشپیری........................................................................ ۱۱۶
۴-۱۵ شین تاړ........................................................................ ۱۱۶
۴-۱۶ ښپلی (مالیده)........................................................ ۱۱۷
۴-۱۷ کوچه........................................................................ ۱۱۷

## (۵) ولسي لوبې

۵-۱ غښتی ویشتل........................................................ ۱۱۹
۵-۲ والیبال........................................................................ ۱۲۱
۵-۳ توپ ډنډه........................................................................ ۱۲۴
۵-۴ تیره اچول........................................................................ ۱۲۷
۵-۵ ډی (کاک ډنډه)........................................................ ۱۲۸
۵-۶ نېزه وهل........................................................................ ۱۲۹
۵-۷ غېږ نیول........................................................................ ۱۳۱
۵-۸ د پښې او لاس اړول........................................................ ۱۳۲
۵-۹ بېډی (سپښتې)........................................................ ۱۳۳
۵-۱۰ خستکه خوړل........................................................ ۱۳۶
۵-۱۱ شم متې (ډمې ډمې)........................................................ ۱۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵-۱۲ غولک (غولکه).......... ۱۴۰
۵-۱۳ چنې منې غاړي (سی یا سی یا ).......... ۱۴۲
۵-۱۴ مچنوزغه.......... ۱۴۳
۵-۱۵ شیطان خانې.......... ۱۴۵
۵-۱۶ مردکۍ (توشلې).......... ۱۴۶
۵-۱۷ خط پراک.......... ۱۴۸
۵-۱۸ بنډول.......... ۱۴۸
۵-۱۹ کیج.......... ۱۴۹
۵-۲۰ بچونې.......... ۱۵۰
۵-۲۱ شونیه.......... ۱۵۱
۵-۲۲ غوز (چارمغز) ګټل.......... ۱۵۲
۵-۲۳ میدان.......... ۱۵۳
۵-۲۴ رغړوند.......... ۱۵۳
۵-۲۵ خط پراک.......... ۱۵۴
۵-۲۶ یو په لس.......... ۱۵۴
۵-۲۷ لوښت او ټک.......... ۱۵۵
۵-۲۸ سرپوچاق.......... ۱۵۵
۵-۲۹ جفت تاک.......... ۱۵۵
۵-۳۰ لبوه او مېږه.......... ۱۲۱
۵-۳۱ پټ پټاني (پټوونکي).......... ۱۲۲
۵-۳۲ سر شکوونکی.......... ۱۲۳
۵-۳۳ دوزخ او جنت.......... ۱۲۴
۵-۳۴ انګړ بنګړ.......... ۱۲۴
۵-۳۵ تر نغري مې تېره نه شې.......... ۱۲۵
۵-۳۶ اکوبکو (اینکه پینکه).......... ۱۲۵
۵-۳۷ ګل دی ګل.......... ۱۲۷
۵-۳۸ کاغذباد (ګوډي پران).......... ۱۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (۶) جرګې او نرخونه

۶-۱ جرګه.................................................................................. ۱۷۰
۶-۲ ناغه.................................................................................. ۱۷۰
۶-۳ بښنه.................................................................................. ۱۷۱
۶-۴ کانړی.................................................................................. ۱۷۱

## (۷) طب

۷-۱معاصر طب.................................................................................. ۱۷۲
۷-۲ دودیز طب.................................................................................. ۱۷۳

## (۸) پوهنه او کادرونه

۸- الف۱ د وردګو معارف.................................................................................. ۱۷۴
۸- الف۲ د وردګو پوهنتون.................................................................................. ۱۷۴
۸- ب۱ د وردګو علمي کادرونه.................................................................................. ۱۷۴
۸- ب۲ دوکتور بهاوالدین بها.................................................................................. ۱۷۵
۸- ب۳ پوهنوال دکتور عبدالباقي امین.................................................................................. ۱۷۸
۸- ب۴ عبدالقدیر (خموش).................................................................................. ۱۸۰
۸- ب۵ اسد الله وحیدي.................................................................................. ۱۸۵
۸- ب۶ دوکتور زرجان بهاء.................................................................................. ۱۸۶
۸- ب۷ دوکتور علي وردګ.................................................................................. ۱۸۶
۸- ج۱ د هېواد د لوړو زده کړو په موسساتو کې وردګ استادان.......... ۱۸۹
۸- د۱ هغه وردګ چې په مختلفو برخو کې دوکتورا لري.................... ۱۹۰

## (۹) د وردګو ولسي ادبیات

۹-۱ نکلونه او کیسې.................................................................................. ۱۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹-۲ نکلونه........................................................................ ۲۰۱
۹-۳ انګېرنې او فالونه.......................................................... ۲۰۳
۹-۴ انګېرنې........................................................................ ۲۰۳
۹-۵ د چرګې اذان.................................................................. ۲۰۳
۹-۶ په سفر کې په چپه خوا د ګیدړې تېرېدل.......................... ۲۰۴
۹-۷ د کیشکرې چغېدل............................................................ ۲۰۴
۹-۸ د سوي سر په نوي.......................................................... ۲۰۴
۹-۹ د وردګو په ځینو سیمو کې د وخت معلومولو دود ، هنر او .............. ۲۰۵
۹-۱۰ فالونه........................................................................ ۲۲۲
۹-۱۱ متلونه........................................................................ ۲۲۴
۹-۱۲ منې ګل مشاعره............................................................ ۲۲۷

## (۱۰) ټولنې او رسنۍ

۱۰-۱ مدني او کلتوري ټولنې................................................ ۲۲۸
۱۰-۲ رسنۍ.......................................................................... ۲۲۹

## (۱۱) لرغونې سیمې او فرهنګي میراثونه

۱۱-۱ د کلاخ بُوتان.................................................................. ۲۳۴
۱۱-۲ د چتو کافر کلا.............................................................. ۲۳۵
۱۱-۳ د احمدخېلو کافر کلا...................................................... ۲۳۸
۱۱-۴ د اورمړو کافر کلا.......................................................... ۲۳۸
۱۱-۵ د دښتکې بُوتان.............................................................. ۲۴۰
۱۱-۶ ارګ............................................................................ ۲۴۱
۱۱-۷ د خوات ډبر لیک............................................................ ۲۴۳
۱۱-۸ د چک د نهه برجه لرغونې کلا.......................................... ۲۴۴
۱۱-۹ زیارتونه........................................................................ ۲۴۷

## (۱۲) د وردګو ځلېدلې کلتوري او تاریخي څېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲-۱ تاريخي جهادي........................................................ ۲۴۸
۱۲- الف۱ غازي محمد جانخان........................................................ ۲۴۸
۱۲- الف۲ غازي کريم خان وردګ........................................................ ۲۵۶
۱۲- الف۳ غازي مومن خان........................................................ ۲۶۴
۱۲- الف۴ عبدالکبير خان ببرک........................................................ ۲۷۰
۱۲- الف۵ جمعه خان همدرد........................................................ ۲۷۴
۱۲- ۲ مشاهير........................................................ ۲۸۲
۱۲- ب۱ عبدالکريم خرم........................................................ ۲۸۲
۱۲- ب۲ غلام فاروق وردګ........................................................ ۲۸۲
۱۲- ب۳ سميع جان شيرزاده........................................................ ۲۹۱
۱۲- ب۴ محمد صديق مخترع........................................................ ۲۹۷
۱۲- ب۵ ډګروال دستګير خان........................................................ ۳۰۱
۱۲- ب۶ ذکرياخان........................................................ ۳۱۴
۱۲- ب۷ محمد موسی وردګ........................................................ ۳۱۶

## (۱۳) فرهنګيان

۱۳-۱شاعران........................................................ ۳۱۹
۱۳- الف۱ ګل الرحمن رحماني........................................................ ۳۲۰
۱۳- الف۲ فهيم الله فدايي........................................................ ۳۳۰
۱۳- الف۳ عبدالمتين وردګ........................................................ ۳۳۲
۱۳- ۲ ژورنالېستان........................................................ ۳۳۵
۱۳- ب۱ حيات الله حليم........................................................ ۳۳۵
۱۳- ب۲ زلمی شهباز........................................................ ۳۳۹
۱۳- ب۳ امان الله نصرت........................................................ ۳۴۳
۱۳- ۳ ليکوالان........................................................ ۳۴۴
۱۳- ج۱ استاد حبيب الله رفيع........................................................ ۳۴۴
۱۳- ج۲ ګل اغا احمدي........................................................ ۳۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳- ج۳ احسان الله ارينزی........................................................ ۳۵۷
۱۳- ج۴ دوکتور کفايت الله وردګ.................................................... ۳۶۲
۱۳- ج۵ ارسلان سليمي................................................................ ۳۶۴
۱۳- ج۶ اغامحمد غيرت................................................................ ۳۶۹
۱۳- ژباړن................................................................................ ۳۷۴
۱۳- د۱ زبير شفيقي..................................................................... ۳۷۴
۱۳- ديني عالمان........................................................................ ۳۷۹
۱۳- و۱ زمرک ياسر(استاد ياسر)...................................................... ۳۷۹
۱۳- و۲ محمد عبدالله (خوشحال)...................................................... ۳۸۳
۱۳- و۳ مولوي محمد نصير الدين اخندزاده........................................... ۳۸۸
۱۳- و۴ مسعود حليم د قران کريم نوښتګر ليکوال.................................... ۳۹۷
۱۳- و۵ مولوي عبدالرب احدي........................................................ ۴۰۱
پايله........................................................................................ ۴۰۳
مناقشه..................................................................................... ۴۰۵
پايليزه (نتيجه ګيري)..................................................................... ۴۰۹
وړانديزونه.................................................................................. ۴۱۱
اخځليکونه.................................................................................. ۴۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

کلتور د یوې ټولنې د وګړو د ژوند مهمه برخه جوړوي، همدې اصل ته په پام ټول متمدن او د لوړ فکر لرونکي خلک هڅه کوي څو د خپل کلتور پالنه او ساتنه وکړي او آن نورو ته یې وغځوي، همدې ټکي ته په پام او په افغاني ټولنه کې کلتوري ارزښتونو ته د وولس د درناوي له امله ما هم وپتییله څو د خپل سیمه ییز کلتور چې یو منل شوی او بډای کلتور دی په اړه دغه ټولګه چې د ماسترۍ څخه زما د فراغت تیزس هم دی ولیکم او خپل دیني او دنیوي مسولیت چې ما ته متوجه دی ادا کړم، څکه چې له یوې خوا زه د کلتور سره ځانګړې علاقه لرم له بله پلوه زما رسمي ژوند د همدې موضوع سره تړلی دی چې زما مینه یې نوره هم له خپل کلتور سره زیاته کړې ده، له کلتور په ځانګړې توګه د وردګو د سیمې له کلتوري یون سره زما ځانګړې علاقه، وظیفوي مسوولیت او په دې برخه کې د پوره معلوماتو او ماخذونوشتون، د کلتوري ملګرو هڅونه او همکاري هغه څه وو چې زه یې (د وردګو کلتوري یون) تر سرلیک لاندې موضوع لیکلو ته وهڅولم.
دا کار مې د څو لاملونو له امله وکړ، لومړی دا چې د دې تیزس له وجې به زمونږ د کلتور ډیرې هغه برخې تل پاتې ژوندۍ وساتل شي، چې اوس د له منځه تللو له ګواښ سره مخ دي.
دویم دا چې د دې مقالې لیکل زما د قوم، سیمې، وولس، ادارې او هم مسلک ملګرو لپاره یو څرګند ماخذ وي او دوی به د دې ماخذ په موجودیت کې له سرګردانیو تر یو بریده خوندي وي څکه چې تر دې وړاندې ما کوم داسې ماخذ ونه لیدا چې هغه د وردګو د سیمې د ټولو کلتوري ارزښتونو څرګندوییی وکا، که څه هم چې په دې برخه کې یو شمیر مطرح لیکوالانو تر خپلې وسه کارونه کړي دي خو دغه کارونه په ځانګړو برخو پورې منحصر دي، په دې ټولګه کې مونږ هڅه کړې څو د کلتوري ټولې خوا په یو نه یو ډول دلته راوړو او په لنډه توګه تړې یادونه وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موضوع موخه

الف

د وردګو کلتوري یون چې د ماسترۍ له دورې زما د فراغت تیزس دی، د لیکنې څخه موخه د دې سیمې د خلکو چې زه یې ځان پوروړی بولم د کلتور د بیلابیلو برخو راټولول او د پښتني کلتور په لویه پانګه کې د وردګو د سیمې د خلکو کلتوري یون په اړه د کره او رسمي معلوماتو ورزیاتول او د یو ماخذ په توګه د دې سیمې د کلتورخوندي کوو دي.

د وردګو کلتوري یون سره له دې چې د وردګو د سیمې اړوند لیکوالانو، تاریخ لیکونکو او لوستونکو، محصلانو او عامو خلکو سره د یو ماخذ په توګه مرسته کولای شي، بلکې د دې اثر په بشپړیدا سره زموږ د ملي کلتور چې د وردګو کلتور یې یوه مهمه برخه ده په بډاینه کې مهم رول لري، ما هڅه کړې په دې تیزس کې د وردګو د کلتوري ژوند بېلابېل اړخونه لکه د کوژ دې کول او د کوژدې دود، واده کول، د مړي خښول او د مړي اړوند د دود دستور په اړه معلومات راټولول، د وردګو د خلکو عقیدې، انګیرنې، ادبیات، سیمه ییز خواړه، د میلمه پالنې دود، د اخترونو لمانځل او د اختر دود د څرنګوالي په اړه معلومات راټول کړم څو په راتلونکې کې د هغو خلکو او تاریخ لیکونکو لپاره د یو ماخذ په توګه پاتې شي، چې غواړي د نن ورځې له دودونو خبر شي، ځکه چې نړۍ دا مهال د پرمختګ او بدلون په حال کې ده، افغانستان ته د نړیوالې ټولنې او نوې ټکنالوژۍ په راتلو سره په ډېر کم وخت کې ژور بدلونونه رامنځته شول.

د دغو بدلونونو څخه زموږ کلتور، ادب، ژورنالیزم، طب، پوهنه... هم بې اغیزې پاتې نه شول ځکه نو موږ په دې تیزس کې هغه څه راټول کړل چې تر اوسه هم زموږ د وولسونو په ژوند کې موجود دي او یا هم په دې نږدې وروستیو کې موجود وو، موږ تر وسه هڅه کړې چې د وردګو د کلتور اړوند ټولې خواوې په ځانګړې توګه هغه اړخونه دلته راوړو چې زموږ د وګړو د ژوند او کلتور د یوې برخې حیثیت لري، موږ په همدې تیزس کې له پورته یادو شوو دودونو راوړلو سربیره د وردګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیمې د خلکو مادي ژوند ته هم سر ورښکاره کړی دی او د دې سیمې اړوند معدنونو، کرنې او لاسي صنایعو په اړه مو معلومات خپاره کړي دي، چې د دې سیمې د وګړو د ژوند یوه برخه ده او لیکل یې د د ې سیمې د کلتوري یون په بډاینه او ژوندي ساتلو کې ډېره مرسته کولای شي.

ماشومان چې د سبا ورځې لویان او مشران دي، په هره سیمه کې د ماشوم پیدا کیدل ځانګړي مراسم لري، موږ دلته د وردګو په سیمه کې د ماشوم د پیدا کیدلو، دهغه د سنتی، پر هغه د نوم ایښودلو په دود هم یو څه معلومات راټول کړي دي څو لوستونکي په دې پوه شي چې د وردګو په کلتور کې د یو ماشوم د پیدا کیدلو دود څه ډول دود دی، د دې سیمې خلک د ماشوم پیدا کیدلو ته څومره ارزښت ورکوي او ماشوم هلک او ماشومه نجلۍ د دې خلکو له انده څه ډول دي.

همدا راز مو د دې سیمې د وولسونو عقاید چې د خلکو د ژوند یوه مهمه برخه جوړوي او له کلتور سره نېغې اړیکې لري او د یو هلک ماشوم یا نجلۍ ماشومې د پیدا کیدا پر مهال خپل دغه عقاید او ګروهنې څرګندوي روښانه کړي او خوندي کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موضوع شالید

کلتور د ملتونو د هویت، تهذیب او تاریخ زېږنده ده ځکه نو د کلتور ژوندي ساتلو ارزښت د انساني ژوند د یوې مهمې برخې په توګه د نړۍ د بېلابېلو ملتونو په ځانګړي ډول د پرمختللو هېوادونو د خلکو او لیکوالو پام ځانته را اړولی دی او د کلتور او کلتوري یون په اړه یې ډېر څه لیکلي، همدې اصل ته په پام وردګ لیکوالانو او فرهنګپالو هم تر ډېره ځایه دا مسولیت درک کړی او پېژندلی دی چې په دې لړ کې د څېړندوی استاد حبیب الله رفیع ملي زاویه، ملي نړۍ لید، ملي مخه ملي موخه چاپ شوي او نا چاپ اثار چې په ملي کچه د افغاني کلتور په اړه بحث کوي د بېلګې په توګه یادولای شو، همدا راز د روښنا وردګ (فولکلوري وړانګې) چې د وردګو د سیمې د فلکلور بېلابېلې خواوې په کې را اخستل شوي دي، همدا راز څېړنیار محمد حامد حلیمي د (وردګ قوم، سیمه او کلتور) تر نامه لاندې یو کتاب په ۱۳۸۷ کال کې چاپ کړی دی، چې د وردګو د سیمې کلتور، ژبه، د کرنې دود، ښوونه او روزنه، د وردګو اتلان، د وردګو تاریخي سیمې او لرغوني ځایونه او د کلتور اړوند مسایل په کې را اوړل شوي دي، همدا راز د ګل اغا احمدي د خیښې د وردګو د واده پانګه په نامه کتاب چې د وردګو د واده دودونه او د خېښۍ کولو طریقه او همدا راز د وردګ پیژندنې هر اړخیز کتاب چې په دې اړه د ګل اغا احمدي له خوا چمتو شوي دي هر یو په خپل ځای کې د ډېر ارزښت او اهمیت څخه برخمن دی او د وردګو کلتوري یون یې ډېر پیاوړی کړی دی، د لیکوال او ژورنالست حیات الله حلیم (غازی محمد جان خان وردګ) کتاب، چې د وردګو دغازي او مبارز اتل غازي محمد جانخان ژوندلیک، مبارزه، اتلولي، سیاست، کلتور او داسې نور پکې په ۲۳۴ مخونو کې راغونډ شوي دي یو په زړه پوري اثر دی، پر دې سربېره د حیات الله حلیم (د وردګو مشاهیر) په څلورو بېلابېلو ټوکونو کې، همدا شان د (محب الله شریفزي ولسي لوبې) د احمد فرید فروزي د شاعرانو تذکره، د احسان الله ارینزي (د وردګو د واده دود او بدلې) تر نامه لاندې کتاب چې په ۱۳۸۹ کال د الازهر خپرندویې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنې له خوا چاپ شوی د وردګو د سیمې دودونه، کلتور ادبیات او د ادبیاتو اړوند مسایل په مستند ډول راوړل شوي دي، په دې کتاب کې لیکوال هڅه کړې څو د ماخذونو سربیره د کلیوالي مېړمنو سره د سیمې په کلتور، ادب او هنر وغږېږي او د ولس له منځ څخه مسایل را ټول کړي... دا ټول هغه اثار دي چې د وردګو د کلتوري یون ببلابېلې برخې یې را اخستې، یادو شوو ټولو لیکوالانو په خپلو اثارو کې په بېلابېلو کلتوري مسالو کره او ثقه معلومات راغونډ کړي، خو دا معلومات د محتوا له پلوه دومره پراخ نه دي چې د وردګو د کلتوري یون ټولو خواوو ته ځواب ووایي. موږ هڅه کړې ده چې د پورته یادو شوو لیکوالو د اثارو څخه په ګټه اخستنه یوه داسې ټولګه خپلې ټولنې ته وړاندې کړو چې د کلتوري یون ټولو خواوو ته یا لږ تر لږه زیاتو خواوو ته ځواب ویوونکې وي او د لوستونکو تنده ماته کړای شي.

پر دې اثارو سربیره د وردګو ببلابېلو کلتوري ټولنو، ببلابېلو دولتي او نا دولتي ادارو په ځانګړي ډول د وردګو د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د دې سیمې د کلتوري بهیر د بډاینې لپاره خپلې هڅې جاري ساتلې دي، چې د ملي هدف او نیزه یې د بیلګې په توګه دلته یادوو، دا اونیزه چې د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست خپرنیز ارګان دی تل یې د ولایت په کچه کلتوري مسایل څېړلي او خپاره کړي دي، په تېره بیا په وروستیو څلورو کلونو کې کله چې دې اونیزې د دریم ځل لپاره په نوې محتوا او نوې بڼه په کار پیل وکړ دریم مخ یې کلتوري مسایلو ته ځانګړی شو چې د سیمې د کلتوري یون په منظموالي کې یوه لاسته راوړنه بلل کیږي.

د یادونې بولم چې د منې په نوم مجلې چې د وردګو کلتوري یون له خوا د ۱۳۸۷ کال راهیسې د وردګو لیکوالانو له خوا د ګل اغا احمدي وردګ په مشرۍ او مسول مدیریت تر اوسه پورې خپرېږي د وردګو کلتوري یون ډېرې برخې خوندي کړې دي، البته منه مجله اوس د کابل ادبي بنډار له خوا د احمدي په مشرۍ د کابل میشتو وردګو له خوا خپرېږي چې په کابل او وردګو کې ترې خلک ګټه اخلي او په دواړو ولایتونو کې یوځای توزیع کیږي.

هیله ده چې دا ټولګه او د بټه ورته د نورو لیکوالانو هڅې او اثار د وردګو کلتوري یون او د هېواد د کلتوري یون لپاره ګټور ثابت شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موضوع مېتود

د دې تيزس په ليکلو کې مې هڅه کړې ځو د ځيړنې د ميتود د يوې مهمې برخې په رڼا کې د وردګو د سيمې د ۴ ولسواليو( چک ، جغتو ، سيداباد او دايمير داد ) د خلکو کلتور د تشريحي ميتود د اساساتو او لارښوونو په رڼا کې تشريح او وځيړو !

که څه هم چې دا ځيړنه به له ستونزو خالي نه وي خو موږ تر ډيره هڅه کړې څو د وردګو د سيمې اړوند کلتوري يون ټول اړخونه راوسپاړو او ديو نسبتا بشپړ ماخذ په توګه يې د ادب او کلتور د مينه والو په لاس ورکړو !

هغه څه چې زه يې د دې تيزس لپاره او ځان لپاره مهم بولم هغه زما د مسلک سره سم د هغو با اعتباره معلوماتو په لاس لرل دي چې زه يې د خپراوي ، ساتنې او ځيړنې مسووليت لرم او درلودا مې ، د همدې مسوليتونو په رڼا کې ليکوالانو او لويتونکو ته ډاډ ورکوم څو د دې سند په لوستلو سره خپل اطمينان حاصل کړي ځکه موږ هڅه کړې چې په دې ټولګه وړاندې شوي ټول مطالب په خوندي او بې پرې توګه لوستونکو ته وړاندې کړو ، د کلتور بحث د ځينو نورو اسانه بحثونو او ځيړنو غوندې کوم اسانه کار نه دی، موږ هڅه کړې دا سې معلومات راغونډ او په دې کتاب کې علاقمندانو ته وړاندې کړو چې موږ وولس ته د يو مسيوليت له مخې په ملي هدف اونيزه يا نورو کتابونو کې وړاندې کړي دي.

موږ د دې تيزس د لا ښه والي په موخه د ماخذ په توګه د هغو ليکوالانو کتابونو ته لومړيتوب ورکړی دی، چې د نورو ځانګړنو سره سره د وولس په منځ کې لوی شوي وي او له وولس سره د ټينګو کلتوري او ټولنيزو مناسباتو خاوند وي او يا عمل د وولس په منځ کې وي.

په يوه دوديزه او سنتي ټولنه کې چې وګړي يې شاوخوا ۴۰ کاله په جګړه کې لوی شوي وي ، د يوې کلتوري موضوع په اړه تيزس ليکل دومره اسان کار نه دی، هغه څه چې زه يې په دې اړه ليکلو ته وهڅولم هغه د خپل وولس او خپلو ليکوالو ملګرو په کلتوري هڅو باور درلودل او په دې برخه کې زما عملي بوختيا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۱) کلتور

کارپوهانو د کلتور په اړه بېلابېل تعریفونه کړي دي او بې شمېره معنا ګانې يې ترې را ايستلي دي. د يو قوم دود دستور، مذهب، عقيده، ژبه، موسيقي، لوبې، کالي، ودانۍ، ادب، ارمانونه، خوبونه او انګېرنې، لنډه دا چې د ټولنيز ژوند ټول اړخونه د هغوی کلتور جوړوي. د کلتور ويي، رېښې د لاتيني ژبې ټکي colere څخه راوتی دی، چې د کرلو، پاللو او مېشته کېدلو مانا لري. کلتور په ټوليز ډول د وګړو د ژوند د کړو وړو له هغه سمبوليک چوکاټ سره پرتله کېږي کوم چې يو ځانګړی ښکارندويي کوي او هغه چې په يوه ټولنه کې ډېر اړين دی. د کلتور د ويکې بېلابېل تعريفونه د بېلابېلو تيوري ګانو د پوهاوي دريځونو باندې رڼا اچوي، او يا هم د انسانانو د کړو وړو ارزښتناک معيارونو څرګندوي. خو بشرپوهان بيا ډېر ځل د کلتور ويي، په کايناتو کې د انسانانو هغې وړتيا سره پرتله کوي کوم چې انسانان په ټولګيو سره وېشي، د قانونو په پلي کولو او له يو بل سره خپلې سمبوليکې تجربې ګډ وي، چې دوی له نورو قومونو او سيمو څخه په کلتوري ډول بېلوي يعنې د دوی هويت، ژبه، مذهب، دودونه ثابت ساتي. ولسي کلتور په ټولنه کې د ولس د کړو وړو هغه ټولګه ده چې پر بنسټ يې خپل ورځنۍ چارې پر مخ بيايي. ولسي کلتور پراخ اړخونه لري چې د مروجو توليدي و سايلو څخه بيا تر ګړنۍ ويناوو پورې ټولې خواوې لکه خواړه، کالي، ودانۍ، باور، دوستي، دښمني، زېږد، مړينه، واده او نور په لمن کې لري، ددې لپاره چې په دې برخه کې د اړينو مطالبو په اړه يادونې ولرو لا زمه ده چې هر عنوان ته د بېل بحث په توګه پام وساتل شي، فولکور د يوې ټولنې د ټولې هستۍ او تېر تاريخ هنداره ده، هغه ټولنه چې فولکور نه لري هغوی ملي هويت او ملي خپلواکي نه لري او د ملي هويت نه درلودل د انسان د لوړ کرامت په اړه پوښتنې راولاړوي، لنډه دا چې کلتور د انسانانو د انساني کرامت او د ټولنيز ژوند د

(c) ketabton.com: The Digital Library

انساني ارزښتونو او اندونو هغه برخه ده چې له مخې يې د انساني کرامت اړوند ارزښتونه خوندي ساتل کيږي.

او فولکورد نړۍ د ادبياتو او په ځانګړې توګه د پښتو ادبياتو بنسټ يې ابنې دی. انساني ټولني چې په يوه جغرافيايي، اقتصادي او فرهنګي فضاء کې ګډ ژوند کوي نو د خپل دغه ګډ ژوند ګډې تجربې له يوه نسل څخه بل نسل ته د فولکور په واسطه پرېږدي. پر فولکور يا فوکلور که لغوي پلټنه وکړو نو به داسي ووايو چې دا يوه انګليسي کلمه ده چې د دوو مورفيمونو (فولک) او (لور) څخه جوړه شوې ده، فولک په انګليسي ژبه کې د خلکو او لور د پوهنې په معنا ده، چې بشپړه معنا يې د خلکو پوهه يا ولسي پوهه ده. دا کلمه د لومړي ځل له پاره يوه انګريزي لېکوال ټامس په ۱۸۴۲م کال کې د ولسي ادبياتو د مفهوم لپاره وضع کړه.

دا د فولکلور لغوي معنا وه خو که يې اصطلاحي معنا ته وګورو نو به فولکور داسې و پېژنو چې د تاريخ وهلي فکرونو، عقېدو، ذهنيتونو او روايتونو ته فولکلور وايي.

فولکلور ته په پښتو کې وګړنی ادب، ولسي ادب او شفاهي ادب وايي، خو د کندهار اديب پوهان ډېر وخت ولسي ادبياتو ته شفاهي ادب وايي، که د شفا لغت ته را شو نو وبه وايو چې دا لغت اصلاً يوه عربي کلمه ده چې په خپل ځان کې درې معناوې لري.

لومړی: شِفا د زېر په لرلو سره د دوزخ و اخرنۍ کندې ته وايي.

دويم: شفَاء په پای کې د همزه په ورکولو سره د صحت، روغتيا په معنا ده.

دریيم: شفاد شونډو په معنا ده چې مراد مو ورڅخه خوله پر خوله دی

ولسي ادبيات د يوې ټولنې په غېږ کې زيږي، وده کوي، لويږي، په زړونو کې ځای نيسي خوله پر خوله او پښت پر پښت له ډېرو لرغونو زمانو راهيسې نويو نسلونو ته رسيږي. پښتو ژبه د شفاهي ادب له پلوه تر نورو ټولو ورنيژدې او ورځېرمو ژبو بډايه ژبه ده، ددې برخې څېړونکي د شفاهي ادب بډاينه د ټولنې د پرګنيو د ليک لوست په کښته کچه کې بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که راشو پښتنو او پښتو ژبي ته له ډېره بده مرغه د پښتنو لویه برخه د ځینو سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي، فرهنګي او جغرافیایي عواملو له امله د سواد له نعمته او د ژوند له مدنیته لېرې ساتل شوي دي، د ډېرو پښتنو ژوند له کلیو او بانډو سره تړلی دی، دغه کلیوالي ژوند او مناسبات او تر ټولو وړاندې د پښتنو خپل هنري ذوق او احساس د ولسي ادب د ایجاد او ودې لوی لامل ګرځېدلی دی.

زموږ خلکو پېړۍ پېړۍ خپل ارمانونه خپلې خوښې، خپل غمونه او خپل مینې په دغو شفاهي ادبیاتو کې بیان کړې دي. دغه ادبیات په شفاهي ډول خوله پر خوله لېږدولي دي او ژوندي پاته شوي دي، خو د لېږد دې لړۍ تر یو وخته پورې دوام کړی دی او د راویانو په له منځه تلو سره دغه شفاهي ادبیات هم له منځه تللي دي، د پښتو د شفاهي ادبیاتو د بېلابېلو ډولونو د ثبت او ټولو له پاره څه د پاسه له سلو کلونو را هیسې کار پیل شوی دی او تر ټولو دمخه پښتو شفاهي ادبیاتو ته د لویدځو څېړونکو یا ختیځو پو هانو پام ور اوښتی.

په بله معنا کلتور، ثقافت یا کلچر (Culture) د ملتونو د تهذیب او تمدن نښانه ده.

د ملتونو کلتوري پوړۍ (کچه) هغه مهال موږ ته په پوره ډول روښانه کېږي چې د نوموړو خلکو په فولکلور ښه و پوهېږو او د هغوی د فولکلور (فوکلور) سره ښه بلدتیا ولرو.

کلتور یا ثقافت د انسان د ارتقایي ژوند او عمل یوه ټولنیزه پانګه ده، چې د انساني ژوند له پیله بیا تر اوسه پورې ورو -ورو راغونډه او خوندي شوې ده، د کلتور په دې لویه او تاریخي مجموعه کې لاندې اجزاوې شاملې دي او تاسې به یې په مفصل ډول ولولئ:

د ولسي ژوند نظام (Social Process) تمدن او تهذیب (Civilization) روایات ژبه (Communication) هر ډول اداري، ولسي او ټولنیز دودونه لکه کیسې، دم، درود، جادو، اقتصادي، اداري تنظیمونه، ښوونه او روزنه، اداب، قانون، فلسفه، اخلاقیات، علوم او فنون، موسیقي، نقاشي، لوبې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا چې د ولسي ژوند د هر اړخ سره تړلی عمل چې د تاریخي دور له ابتدا څخه را په دې خوا روان دي، د کلتور او ثقافت په کړۍ کې حسابېدلای شي.

فولکلور یا فوکلور په خپله د کلتور یو ټوک دی د کلتور جاج(مفهوم) ببخي ارت او هر اړخيز دی، سیمه ییز کېدلای شي، خو کلتور کله - کله له یوه هېواد څخه هم ور واوړي. که دلته ځینې ترمینالوژیکي توپیرونه هم په پام کې ونیسو بیا هم هېڅکله او په هېڅ ډول فولکلور د کلتور له ډګره وتلای نه شي، سره له دې که فولکلور په یوه الواک یوازې په وګړني ادب، دود او دستور پورې تړلي هم وګڼو، کلتور او ثقافت پراخ مفهوم لري، کلتور د یوې ټولنې ټوله مادي او معنوي شتمني رانغاړي، په کلتور کې د ژوند پراخه اړخونه ځلونه کوي.

همدارنګه د کلتور اغېزې د ژوندانه په بېلابېلو برخو او اړخونو کې ډاګیزې دي، یا له همدې امله ده چې پر کلتور څېړنه او په هغه پوهېدل په هره ټولنه کې ځانګړی ارزښت پیدا کوي.

کلتور د یوې ټولنې عمومي کړه وړه، اعمال، مهارتونه، عقیدې او سلوک چاپېروي او فولکلور د ټولنې د کلتور تکاملي پروسه ده او له کلتور سره په اړیکې کې ده.

داسې هم ویلای شو چې کلتور د انساني ټولنې د ژوندانه عمومي اړخونه رانغاړي او فولکلور د ژوند یوه برخه ده. یا په بله وینا کلتور د کل او فولکلور په کې د جز بڼه لري. ټولې فولکلوري پدیدې د یوې ټولنې د کلتوري جرأتونو زېږنده او د کلتور جز دی او یو له بله سره نه شلېدونکې دي. د ملتونو او قبایلو د کلتوري جراتونو د تاریخي تګلارې مطالعه د هماغه ملت او قوم د ټولنیزو او قبیلوي اړیکو او پر بېلابېلو اړخونو پوره رڼا اچوي.

کلتور د متمدنې ټولنې د انسانانو د ژوند د کلیت مطالعه او پلټنه ده او فولکلور په کلیت کې د ټاکنو بېلګه لري. کلتور د یوه بڼ ټولو (ګټو او ګټورو) ونو او بوټو ته پاته کېږي او فوکلور په بڼ کې د یوې ځانګړې ونې او مشخصو ګلانو او بوټو ننداره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلتور د یوه هېواد، ملت او ټولنې د خلکو د ثقافت عمومي کچه او اندازه څرګندوي، د بېلګې په توګه مېلمه پالنه زموږ د خلکو عام کلتور دی د دوی دغه نېک فطرت زموږ د خلکو د ادب سطح ښکاره کوي او اخلاقي او فطري لوری څرګندوي او د دوی د کلتور د سطحې لوړې پوړۍ څرګندوي. رښتیا خبره ده چې ثقافت تر ډېرې اندازې د یووالي او پیوستون کلچر هم دی او دغه کلچر د یو ملت د تمدن درجه څرګندوي.

د کلتور کلمه چې د مادي او معنوي ارزښتونو د ټولګې په څېر تعبیرېږي او د انسانانو په مرسته ایجادېږي ؛ دلاتیني ژبې له ریښې څخه په بېلابېلو ډولونو او اشکالو اروپایي ژبو ته ورننوتلې ده، چې په انګرېزي کې دکلچر په بڼه ده، چې تر هرڅه لومړی د اګریکلچر په کلمه کې مخې ته راغې.

دکلچر کلمه د لومړي ځل لپاره په دولسمه لمریزه پېړۍ کې E. R. Tylor وکاروله او داسې یې تعریف کړه : کلتور یا کلچر یوه پېچلې اصطلاح ده، چې معلومات، اعتقادات، هنرونه، اخلاق، قوانین، آداب، دودونه او ټول هغه تمایلات، قابلیتونه او کسب کړي عادتونه په کې دي، چې انسان یې دټولنیز غړیتوب په درشل کې تر لاسه کوي، ددې ترڅنګ د کلچر دکلمې مترادف ثقافت او فرهنګ د ښوونې او روزنې په اړه اساسي او ګټور بدلونونه رامنځته کول، تعلیمات، پوهه، فني پېژندګلوي، عمومي معرفت په معنا هم کارېدلی دی یعنې بې فرهنګه او بې کلتوره د بېسوادۍ، جهل خرافات او بې تعلیمۍ په مفهوم دي. همدارنګه دغه اصطلاح د تمدن سره هم څنګ په څنګ کارېږي، همدارنګه د فرهنګ په اړه ځینې نور تعبیرونه هم شتون لري، لکه فرهنګ مردم یا فرهنګ توده، چې د فولکلور سره هممعنا کارېږي، که څه هم فلکلور فرهنګ دی خو د فرهنګ ټول اړخونه د فلکلور جز نه دي.

د عمید فارسي قاموس د علم، پوهې، ادب، معرفت، تعلیم او تربیې، د یو قوم یا ملت علمي آثار او هم د لغتونو د کتاب په معنا چې د یوې ژبې لغتونه په کې شرح شوي دي. د فرهنګ په نامه یادوي او فرهنګي هغه چا ته ویل کیږي، چې فرهنګ ته منسوب وي. یعنې معلم او مربي یعنې با فرهنګ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

باادبه سړی، فرهنګیان یې جمع او فرهنګستان مدرسې، مکتب، د تعلیم او تربیې ځای ته وایي.
د ارواښاد علامه رشاد صاحب دوینا له مخې د کېکاوس د مور نوم هم فرهنګ و، که چېرې دا خبره سمه وي نو د دغې کلمې عمر به په دې حساب (۳۵۰۰) کلونو ته ورسیږي. بله دا چې د ونې د تر خاورې لاندې شویو ښاخونو څخه سروهونکي تېغ ته هم فرهنګ وایي. •
لکه څنګه چې فرهنګ ته په فرانسوي ژبه کې کلتور وایي په عربي کې ورته ثقافت وایي. چې ثقا د نیزې او غشی سموونکې الې ته وایي. ثق، دانا، هوښیار او مؤدب ته وایي. ثقافت ځیرکي او هوښیاري هم بلل کیږي. په انګلیسي ژبه کې کلچر ورته وایي.
په ایراني فارسي کې د فرهنګ په بڼه کاریږي او د عربي تر څنګ په ځینو نورو ګاونډیو ژبو کې د ثقافت په ډول راوړل کیږي، په پښتو ژبه کې ورته ارواښاد محمد ګل خان مومند د (هڅوب) کلمه کارولې ده.
همدارنګه د کلتور سره ځینې نورې کلمې هم څنګ په څنګ کاریږي، لکه د مادي کلتور، معنوي کلتور، عیني کلتور، ذهني کلتور، ولسي کلتور، د خلکو کلتور، د ژوند کلتور، انقلابي کلتور او نور چې ځینې یې د ځانګړو ایډیالوژیو سره اړه لري چې دلته یې له ډېر تفصیل څخه تېرېږو.
دا چې کلتور ولې د (اګریکلچر) له کلمې سره مترادف دی، نو یو علت یې همدا دی، چې دا کلمه د بشري بدویت د هغو دورو میراث دی، چې هلته کرنه د ټول ټولنیز فعالیت سرچینه وه او دغې مشغلې د خپل پراخ مفهوم په چوکاټ کې د انساني مناسباتو (وده او نمو) ددغو تورو تابع کړې وه. کرنه یا اګریکلچر د بشري فهم او ثقافت یوه لویه پدیده ده او په هغه زمانه کې چې د انسانانو محدودو ټولنو ته دغه نعمت په نصیب و، نو دوی ځانونه تر نورو هغو ټولنو چې دا کار یې نه و زده، ممتاز او لوړ ګڼل.

---

• (۱۹) ۵۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اګریکلچر او د هغه په تکاملي شکل (کلچر) کې چې کوم ستر مفهوم پروت دی، هغه د بشري ذهن د انکشاف سره مستقیمه اړیکه لري، کله چې موږ بشر د خپل لوړ ذهن په قدرت پر دې بریالی وبولو، چې دی د اسماني کراتو په تسخیر کې برخه لري، نو ددې فهم تکامل موږ ته تر هر څه پخوا دده دکلتوري سیر او تحول په مرحلو کې را تر سترګو کیږي.
هغه لومړنی کروندګر چې هغه د اهلي شویو حیواناتو د غذاء له پاره په کرنه کې د تحول پر هره مهره او ګړۍ یوه اختراع کوله، نو دایې په کلتور کې د تکامل یو عامل و، یا په ساده وینا ددغه بزګر ذهن د خپلو شرایطو پر حکم بدلون مانه او دغه بدلون دیوې (ودې -نمو) لامل ګرځېده، چې دغې نمو ته کلتور وایي او ارتباط یې د (کرنې _ زراعت) سره د اګریکلچر په کلمه کې له دې ځایه راغلی دی، چې دکرنې یا اګریکلچر له پیل سره (کلتور یا کلچر) طلوع کړې ده.
په بریتانیکا انسایکلو پیډیا کې دکلتور (کلچر) په باره کې داسې لیکل شوي دي: ((کلتور د خلکو عادات یا طریقې دي، د هر شي نشونما ده، چې یوې ځانګړې پالنې ته ضرورت لري، په مطالعه سره سړی ښه کیږي او د کلتور خاوند کیږي یعنې د علم او هنر استعداد لري)) کلتور یا کلچر په خپل پراخ تعریف کې د یوې سیمې د خلکو په حال او ماضي کې د امیالو، اعمالو، لاسي هنرونو، کرنې، مذهب، اقتصاد، روایاتو، ژبو او افسانو مجموعې ته ویل کیږي.
فلسفي انسایکلو پیډیا په دې اړه لیکي: د یوې ټولنې رشد او ځانګړې سطحه، اخلاقي اړخونه او د انسان استعدادونه چې په یوه ځانګړي فورم او شکل کې تکامل وکړي، د خلکو فعالیتونه، مادي او معنوي ارزښتونه چې د یوې ټولنې د انسانانو له خوا رامنځته کیږي د کلتور یا فرهنګ معنا ورکوي، چې په دې ډول د کلتور تصور د انسان او ټولنې څخه د باندې وجود نه لري. که څه هم ځینې نورې مقولې شته چې د کلتور کلمه یې له انساني ټولنې څخه د باندې هم کارولې، لکه ځینې پوهان چې وایي د شاتو مچۍ هم کلتور لري، دا خبره په خپل ځای کې سمه ده، خو د انساني کلتور او فرهنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره يې جوت توپير شته او توپير يې د ودې، نمو او پرمختګ معنوي ټکي دي، چې په هغوی کې د ارتقا، لوړوالي او همدارنګه دبدلون پروسه نه تر سترګو کېږي او انساني کلتور، فرهنګ او يا هم کلچر د بدلون دوامداره پروسه ده.
همدا ډول فرهنګ د انسانانو عمومي مناسبات د نړۍ او ټولنې سره راپه ګوته کوي او د هر کلتور او فرهنګ په اړه معلومات د يوې ټولنې د عمومي کړنو په اړه معلومات دي.
د کلتور کلمه په ټولنيزو پوهنو کې زياته کارېږي(انسان پېژندنه) (کلچرل انتروپولوجي) زموږ په معاصره دوره کې يوه نوې پوهنه ده او ددې پوهنې پالونکي د بشر تکامل په فزيکل يا طبعي او سوشل يا ټولنيز دواړو اړخونو کې پلټې، د کلتوري انسان پېژندنې يو بل لوی ښاخ ټولنيزه انسان پېژندنه (سوشل انتروپولوجي، اتنو لوژي يا قوم شناسي) ده، چې په هغې کې د يوې ټولنې د خلکو خپلوي، د ژوند اقتصادي اړخونه، قوانين، عرف او عادات څېړل کېږي، کله چې کلتور د انسان د عيني او ذهني ژوند هنداره وبولو، نو د هنر ننداره په دغه هنداره کې خورا ښه تره کولای شو.
که موږ د کلتور په تعريفونو پسې وګرځو د نړۍ د ايډيالوژيو سره ځنګ په ځنګ د کلتور تعريفونه راوړو، نو د يو ځانګړي اثر د ليکلو ايجاب به وکړي ځکه دا مهال يوازې د کلتور تر پنځه سوو زيات تعريفونه شوي دي چې د هرې ايډيالوژۍ خاوندان يې د خپلې ايډيالوژۍ سره سم تعريفوي.
همدا ډول کلتور د موسسو د مجموعې څخه عبارت دی، چې ديوې ټولنې دغړو سره ګډ دی، د مجموعې اصطلاحي مفهوم هغه چوکاټ او د سمون سيستم دی چې له يو بل سره تړلی او يو له بل سره په توافق کې راغلې موسسې د بشپړ سيستم په توګه فعاليت کوي، دغه کلتوري سيستم د وګړو سره ګډ دی، خو پر دې مفهوم نه چې ټول وګړي او ډلې په کې يو برابر برخه لري يا ټول ژوند کاملاً په يو شان تېروي، ځينې ټاکلي رولونه شته چې ځينې ټاکلي وګړي يې نه شي لوبولی، ځينې ټاکلې موسسې شته چې نسبت نورو ته زياته برخه اخيستنه غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې د کلتوري سیمې اصطلاح یوه ترلې جغرافیوي سیمه ده چې د هغې په دننه کې یو د پېژندلو وړ کلتور او یا هم سب کلتور شتون ولري، د هغې مقصد هرومرو سیاسي یا ملي سرحدونه نه دي سره له دې چې په ځینو لویو او پخوانیو هېوادونو کې کلتوري سرحدونه لږ یا ډېر د هېواد د سرحدونو سره یو شان دي، کله داسې هم وي چې یوه کلتوري اصلي موسسه په دوو یا زیاتو لویو ټولنو کې عملاً یو شان ځانګړتیاوې ولري.

کلتور د ټولنیز جوړښت لپاره د جوړ شوي پلان مواد تیاروي، ټولنیز چلند تنظیموي تر څو چې ځانله وګړي په ټولنه کې برخه واخلي پرته له دې چې د نویو چلندونو زده کولو او پیدا کولو ته اړ شي. همدا ډول کلتور د ځانله وګړو او ډلو د چلند توپیر لرونکې کوچنۍ برخې له یوې بلې سره تړي او منظموي یې، همدارنګه په هره ټولنه کې کلتور د ټولنیز شخصیت د جوړولو او سمولو لپاره یو عمده فکتور دی. که څه هم د یوې ټولنې د غړو ترمنځ زیات شمېر توپیرونه شته دی، چې د دوی له هر یوه څخه ځانته شخصیت جوړوي، خو په همدې وخت کې کلتور د ځانله وګړي شخصیت ته یو ډول ځانګړنه ورکوي، چې هېڅ وګړی ترې بې برخې کېدلی نه شي، دا طبعي خبره ده چې خپلواک ژوند تېروونکي وګړي ددې استعداد لري چې انتخاب وکړي او د خپل چاپیریال په مقابل کې په توپیر لرونکي توګه عکس العمل ښیي، خو دده ټولنیز شخصیت په زیاته اندازه د کلتور تولید دی، له همدې کبله د انسانانو د مختلفو ډولونو په اړه خبرې کیږي.

د ټولنیزو فعالیتونو د تحلیل او څېړنې څخه په څرګنده توګه هغه ګټور توب معلومیږي چې کلتور د یوې ټولنې په چوکاټ کې نه یوازې د ځانله وګړي او ډلې لپاره، بلکې د ټولنو ترمنځ د مناسباتو لپاره هم عمل کوي، سړی ویلی شي چې یوه ټولنه هغه څه ده، چې کلتور ورڅخه جوړېدای شي البته برعکس یې هم ښایي سم وي.

یو کلتور هغه څه دي چې ټولنې جوړ کړي دي، کلتور او ټولنه له یو بل سره نه بېلېدونکې اړیکې لري او د نوک او اوری حیثیت لري، د وګړو او کلتوري عناصرو ترمنځ د متقابلې اغېزمنتیا او توافق پرلپسې بهیر روان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډله ییز ژوند د مفهوم او کلتوري عادتونو اساسي څرګندونه د ټولنیزو ارزښتونو په وسیله تر سره کیږي، ټولنیز وګړی له یوې خوا د لیږد تابع دی او له بلې خوا یې عملي کوي، د کل په حیث کلتور او ټولنه پرلپسې اوښتون کوي او د ټولنیز کنټرول د توپیر لرونکو اشکالو تر اغیزې لاندې راغلي دي، د وګړو نورمونه او ارزښتونه کله کله سره ټکر کوي او موضوع انحراف ته رسیږي، خو بیا هم د ټولنیز کلتوري یووالي اندازه شته.

موږ په خپله لیکنه کې ارزښتونه ذکر کړل نو ښه به داوي چې د ارزښتونو په اړه هم یوه لنډه یادونه وکړو. ټولنپوهان ارزښتونه د داسې معیارونو په حیث تعریفوي، چې د هغوی اساسي ډلې یا ټولنې د وګړو، سلوکونو، هدفونو او نورو ټولنیزو کلتوري شیانو په هکله قضاوت کوي.

زیات وخت داسې هم وي چې کلتوري سیمه نسبتاً یوه وړه سیمه وي چې په کې اوسیدونکي وګړي مشابه سلوکونه لري، چې د لویې او پراخې ټولنې څخه توپیر لري، د یوه لوی هېواد توپیر لرونکې سیمې خصوصاً هغه وخت چې زاړه دودونه ولري کلتوري یا سب کلتوري سیمې ښیي، د کلتوري سیمو اصطلاح خصوصاً د شډلو ولسونو د څېړنې او زړو قومونو او ولسونو د تاریخي تحلیل لپاره ګټوره ده، همدارنګه د کلتوري کملپلکس اصطلاح هم د اتنوګرافیکي او کلتوري انتروپولوژي په اثارو کې زیاته لیدل کیږي.

دا چې د پښتني فرهنګ په اړه په لویدیځ او ختیځ کې ډېرې لیکنې او څېړنې شوې، چې د هغو په اړه بیان او کره کتنه او یا هم حتی د بیبلیوګرافي برابرول یې هم د یو ځانګړي اثر موضوع ښکاري، کېدای شي چې په خپله د پښتنو لیکوالو په لیکنو کې د اتنوسنټریزم او نشنلېزم بېلګې ډېرې وي، ځکه هر قوم، که هر څومره د ځان په اړه د عینیت خوښونې او بې طرفۍ ادعا وړاندې کړي، بیا هم د بې غرضه نندارچي په توګه نه شي پاتې کېدلی، خو د پښتنو په اړه بهرنیو لیکوالو ډېرې څېړنې کړې دي چې اکثر یې انګرېزان دي، چې له پښتنو سره یې خونړۍ جګړې کړې دي، خو د پښتنو د مبلمه پالنې، په ناموس باندې غیرت، توره او لوړ همت، پر قوم ویاړنه، له خپلواکۍ سره مینه، د پناه غوښتونکي د پت ساتنه او نور یې د عمده کلتوري کرکټرونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډله کې یاد کړي دي، البته د غو لیکوالو د پښتنو د فرهنګي کرکټر ناوړه خواوې لکه تربګني او ګوندیماري، حسادات(چې عمر لنډوي) بې علمي او داسې نور هم یاد کړي دي، چې دغه کلتوري ناوړه کردارونه د پښتنو سترو مشرانو لکه خوشال بابا او معاصر پښتون مشر خان عبدالغفارخان هم غندلي دي او د دوی اثار یې په اړه شاهدي وايي، چې ددغو ناوړو کرکټرونو څخه هېڅ پښتني ټولنه خالي نه ده او تر اوسه پرې اخته ده. که څه هم د پښتني ټولنې په ځينو کرکټرونو کې بدلون راغلی دی، خو بيا هم د ژور بدلون اړتيا محسوسه ده.

ځو لسيزې وړاندې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو نړيوال مرکز د افغانستان د ځينو سيمو په اړه ځينې څېړنې کړي دي، دغه څېړنې چې د يوه کتاب په بڼه راټولې شوې او د(پښتنو ټولنيز اقتصادي جوړښت) تر سرليک لاندې چاپ شوې ده، د پښتني ټولنې د ځينو په اړه ژوندي مثالونه هم لري او د پښتنو د ځينو مثبتو او منفي فرهنګي توکو په اړه يې خبرې کړې، چې دلته يې له ډېر تفصيل څخه تيرېږو، خو بايد يوه يادونه وکړو، چې دغه منفي توکي لا اوس هم زموږ په ټولنه کې ترسترګو کيږي، که موږ د خپلې ټولنې پرمختګ او ارتقا غواړو اړينه ده چې دغه توکي هم په خپل وار سره له منځه يوسو او يا هم ژور بدلونونه په کې رامنځته کړو تر څو د خپلې ټولنې خوشحالي، لوړتيا او انکشاف له نږدې مشاهده کړو.

دا چې په کلتور او فرهنګ کې د انساني ټولنې ټول مادي او معنوي ارزښتونه د خپل تکامل او بشپړتيا پړاوونه وهي او پرلپسې د بدلونونو سره مخ وي، نو پښتني ټولنه چې له ډېر پخوا زمانې څخه يوه فرهنګي او کلتوري ټولنه بلل شوې ده، د پرلپسې کلتوري بدلونونه سره مخ ده او د ځينو نورو ټولنو سره د کلتوري برخې په اړه بشپړ توپيرونه لري، لکه د پښتني سيمو په ځينو ټولنو کې د اتڼ دود شته خو په ځينو نورو سيمو کې بيا دغه دود له سره نه تر سترګو کيږي، همدارنګه د چنغلۍ دود چې د افغانستان په ځينو سيمو کې رواج دی، خو په ځينو نورو سيمو کې ددغه ډول دود په اړه تصور نه شته او بيا هم که څوک يې په اړه تصور وکړي ډېرې ناوړه پايلې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که موږ په ټولیز ډول د پښتني ټولنې فرهنګي او کلتوري ارزښتونو ته ځیر شو نو دا به جوته شي چې پښتني ټولنه له ډېرې پخوا زمانې څخه تر اوسه د ځانګړې پښتني او اسلامي فرهنګ د زانګو حیثت درلودلی دی او پرلپسې له بدلونونو سره مخ شوې ده، د بېلګې په توګه که موږ وګورو، نو د واده، مړي او همدارنګه د نورو خوشحالیو او غمونو پر مهال د ځینو دودونو د بدلون شاهد یو لکه پخوا به چې د چا په کورنۍ کې مړی وشو، نو خلکو به د شومې په نامه د مړي د کورنۍ مال (غوا، غوایي او نور....) حلال کړل او د مړي د غم په ورځ به یې یو بل غم هم د مړي په کور کې جوړ کړ، که څه هم د مړي خاوند دا کار د زړه له اخلاصه کاوه او ددې کار نه کول یې شرم باله خو اوس مهال دغه دود ډېر کم شوی او حتی په ځینو سیمو کې هېڅ نه تر سترګو کیږي او نه یې هم څوک شرم بولي، همدارنګه د واده په محفلونو کې هم جوت توپیر تر سترګو کیږي.
د هرې ټولنې کلتور د هماغې ټولنې د پوهې سره سم رامنځته کیږي او د کلتور او ټولنیزې پوهې د اړیکو په اړه یو بل باب پرانیزي، چې موږ ترې دې پایلې ته رسیږو، هره ټولنه خپل کلتور او فرهنګ لري او د بلې ټولنې د کلتور او فرهنګ سره یې یو شان بلل نا شوني دي.
که موږ د فرهنګ، تمدن، کلتور، فولکلور او ځینو نورو مقولو د بېلګو او د هغې د څېړلو په اړه دې لیکنې ته نور هم دوام ورکړو، نو ځینې شیان به سره ګډ کړو او بیا به یې بېلول ډېر ګران وي، ځکه دغه مقولې که څه هم سره ډېرې نږدې دي، خو لرې والی یې له نږدېوالي څخه هم ژور دی.
په پښتني ټولنه کې د پښتني کلتور او فرهنګ ډېر زاړه ځانګړې دودونه لکه د جرګې، مرکې، تربګنۍ، پښتني کوډونو، عنعنوي روایاتو، عنعنوي دودونو، انګېرنې، د خلکو ویناوې او د مادي او معنوي کلتور نورې بېلګې هم شتون لري،
۱ـ کولتور، کلچر۲ـ انت، سو ۳ـ د تاریخ په یوه ټاکلې دوره کې، یا د بشر په ټول تاریخ کې د ټاکلې انساني ډلې یا د ټول بشر د پنځولو (خلق کړو) او پنځېدلو عینې او ذهنې شتو جونګ (مجموعه)؛ یا :

(c) ketabton.com: The Digital Library

E. کلچر اصطلاح لومړی وار ټایلر havin+Deing+thinkirg=culture.د
R. Tylor د دولسمې لمریزې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې استعمال کړه او داسې یې تعریف کړه۴ـ کلتور یوه پېچلې مجموعه ده چې معلومات، معتقدات، هنرونه، اخلاق، قوانین، اداب، دودونه او ټول هغه تمایلات، قابلیتونه او کسب کړي عادتونه په کې دي چې انسان یې د ټولنیز غړیتوب په حال کې تر لاسه کوي.۵ـ دود، دود دستور؛ دود، اداب او تاسیسات((سمز. . ؛ ۵ـ ثقافت، فرهنګ))۱ـ اساسي بدلون راوستل او یوه ګټوره ښوونه او روزنه رواجول؛ ۲ـ تعلیمات، پوهه، فني پېژندګلوي، عمومي معرفت؛ په دې مانا د فرهنګ نه درلودل((یا)) بې فرهنګه((یا)) بې کلتوره عبارتونه د بې سوادۍ، جهل، خرافات او بې تعلیمي په مفهوم دي؛ ۷ـ تمدن، په یوه ټولنه کې د کړو وړو څرنګوالی، د افرادو په خبروالي اتروالي کې د خپل ځانګړي تمدن سره د یوې ټولنې د ارزښتو انعکاس؛ په فرهنګي انقلاب کې دغه مانا نغښتې ده؛ ۸ـ ایډیالوجي، ((ایډیالوژي، د نړۍ سره د انسان د اړیکې بیان))؛ په بور ژوایي کلتور، ډیموکراټیک کلتور، سوسیالیستي کلتور... کې دغه مفهوم نغښتی دی ۹ـ تهذیب: ۱ـ فکر، تهذیب، احساس، ذوق، کړه وړه چې د ښوونې او روزنې په نتیجه کې حاصلېږي ۲ـ روزنه او پالنه؛ د کلتور کلمه هغه مفاهیم چې په لاتین کې لري زموږ په ژبو کې یې نه لري، استاد راج ولي شا خټک وایي کلتور د رسم او رواج په مانا ده اوزیاتوي:

د پښتو (دود) د رسم ورواج، دستور او عنعني ته وایي نوموړي زیاتوي؛ د(فرهنګ)کلمه په ایران کې(معارف او ښوونې او روزنې (Education= ته وضعه شوې ده؛ (ثقافت) د پوهنې او معرفت مانا لري، (هڅوب) د هغه څه چې ولسونه سره بېلوي لنډون دی او اروښاد محمد ګل مومند (کلتور) ته وضعه کړی دی؛ د (ژواک) کلمه د لوی استاد پوهاند حبیبي په یوه مقاله کې راغلې ده چې عنوان یې((د پښتو خپل ځانګړي نومونه)) دي: مادي کلتور، معنوي کلتور، عیني کلتور، ذهني کلتور، ولسي کلتور، د خلکو کلتور، د کار کلتور، روحي کلتور، د ژوند کلتور، بې کلتوره، د کلتور ضد؛ ولسي کلتور: د خلکو کلتور، د خلکو فرهنګ، د خلکو کلچر (وګ. فولکلور)؛ ذهني کلتور:

(c) ketabton.com: The Digital Library

معنیو کلتور، د کلتور هغه برخه چې د یوې ټولنې ټولې لاس ته ورغلې تجربې، پوهه، هنر، اخلاق او فلسفه په کې شامل دي؛ عیني کلتور: مادي کلچر، د کلتور هغه برخه چې د تولید وسایل، تخنیک د تولید تجربه او نور مادي ارزښتونه په کې شامل دي؛ د کلتور توکي ا جزا: ۱ـ کالي، کورونه، د کور شیان، وسله، موسسې، تعمیرونه، سړکونه، د کار سامانونه، ماشینونه، کسبونه، ټول مصنوع شیان.. او هر څه چې مادي تجسم لري؛ ۲ـ اخلاق، هنرونه، پوهنه، فلسفه، ژبه، تفکر، منطق، کړه وړه، د افکارو سیستم، عقاید، قوانین، عادتونه، ابداعات، انګېرنې، مهارتونه، موسسې، ذوق، احساسات، روزنه او پالنه، دودونه، فنون، ښه سلوک، عزت، دوستانه، اړیکې، مقررات، استعدادونه، تمایلات، قضاوتونه، او ددغو توکو تر منځ اړیکې؛(۲) کر. ۱۰ـ کرنه، کرهڼه، زراعت۱۱ـ د کوم نبات یا حیوان یا محصول اصلاح، وده، انکشاف.

د هر یوه ژوندي قام په شان پښتانه هم خپل یو کلتور او د ژوند د تېرولو لارلیکه لري. پښتانه تر ډېره د هسکو غرونو په درو کې ژوند تېروي، وطن یې ښایسته دی، د فطرت په رنګونو موړ دی نو ځکه کلتور یې هم د ژوند له ټولو رنګونو ډک دی. پښتانه د هندوکش د غرونو په لمن کې د قبیلو په شکل کې اوسېږي او د پښتونولۍ تر ټاکلي لارلیکې لاندې د ژوند تېرولو هڅې کوي. ړومبی د دې پېژندګلو هڅه کوو چې کلتور په اصل کې وایي څه ته؟ او ایا د دومره وسیع ټکي تعریف ممکن هم دی او که نه؟ په دغه اړه د پښتو اکاډمۍ پخواني ډایریکټر ډاکټر راج ولي شاه خټک وایي، کلتور د یو قام د ژوند تېرولو طریقه وي.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړي استاد حبیب الله رفیع بیا وایي کلتور د یو قام دود دستور، مذهبي عقیده، موسیقي، کالي او د هغوي ټولنیز ژوند دی. دا چې کلتور، تهذیب، رسم او رواج څنګه جوړ شي، ډاکټر راج ولي شاه خټک وایي، کله چې یو قام د خپلو اړتیاوو پوره کولو لپاره لارې چارې جوړې کړي نو کلتور په وجود کې راشي. د ننګرهار پوهنتون استاد او لیکوال لال باچا ازمون د کلتور ژوندي ساتلو د اهمیت په اړه وایي، لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه د یوې ودانۍ د دربېدو لپاره مضبوط بنسټ مهم وي نو هم دغسې د یو قام لپاره کلتور مهم دی، راج ولي شاه خټک د کلتور د ژوندي ساتلو د اهمیت په اړه بیا وايي چې کله د یو قام کلتور ختم شي نو د هغه قام د ختمېدو خطرې هم پیدا شي•

## د فولکلور مانا

فولکلو (عامه پوهه =ولسي پوهه) په خاصه توګه انګلیسي کلیمه ده له (فوک - خلک ) او (لور - پوهه) څخه جوړه شوې ده او په همدې اصطلاح په ټوله نړۍ کې مشهوره شوې ده، په انګلیستان، فرانسې او امریکې کې د ټولو خلکو د محصول او اثارو حالت ته فولکلور وايې، لکه: شعر، موزیک، نڅا، حکاکي او همدارنګه عقیدو او عنعناتو ته هم فولکلور ویل کیږي. په پخواني شوروي اتحاد کې د خلکو شفاهي اثارو او همدارنګه د خلکو سندرو، موزیک، او نڅا ته هم فولکلور وايي)١-۵ (فولکلور (folklore) د خلکو ادبیات، د ولس ادبیات، د خلکو فرهنګ، ولسي پوهه، د خلکو زده کړه، عامیانه ادب او رسوم، ولس پېژندنه، د خلکو پوهه science) .

د فولکلور تعریف:

د کلتور هغه څانګه ده چې د انساني مشخصو ډلو عنعنوي دودونه، نکلونه، ارزښتونه، ټوټکې، انګېرنې، شګومونه، اعتقادونه، محلي طب او داسې نور په کې شامل دي.

په روسیه کې فولکلور د ولسي شفاهي ادب او خلاقیت، ولسي سندرو، ولسي موسیقۍ او ګډا یا ژست په مفهوم استعمالیږي او د فولکلور اصطلاح د شاعرانه (شفاهي) تخلیق سره برابره راوړي.

فولکلور د محتوا له مخې درې برخې لري:

---

• (۱۹) ۴۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شفاهي فولکلور: چې برخې يې دا دي: سيمه ييزې (محلي) ويناګانې، سيمه ييز نومونه، متلونه، سندرې، معماوې، کيسې، ټوکې، دودونه، ولسي قوانين، د مشرانو درناوی، د کشرانو حقوق، ټولنيزې چارې (اشر، بسپنه، نکلونه..)

نيم شفاهي فولکلور: خرافاتي عقيدې، پال، ستورې پېژندنه، سيمه ييزې نڅاوې او ګډېدا، سيمه ييزې لوبې.

غير شفاهي فولکلور: سيمه ييز هنرونه، سيمه ييزه موسيقي، سيمه ييز خواړه، سيمه ييز ادب، سيمه ييزې اشارې.

د دغو عناصرو علمي څېړنه: فولکلور پنځه ځانګړنې لري، چې عبارت دي له: په شفاهي توګه وجود لري. په عنعنوي ډول وجود لري. په نظم يا نثر دي جوړوونکي يې معمولاً معلوم نه دي.

د کلتور د جز په حيث په هر کلتور کې شته. د فولکلور اصطلاح له دوو کليمو څخه جوړه شوې ده، فولک (folk) وګړي يا خلکو ته وايي او لور (lore) ادبياتو يا زده کړو ته وايي چې له دواړو څخه ولسي پوهه يا د خلکو زده کړه يا ادبيات جوړيږي، ځينې يې د کوچنيو هلکانو او نجونو ادبيات ګڼي او ځينې يې ويل او اودرېدل کېږي. (۲-۲).

همدارنګه د فولکلور په برخه کې روسي قاموس چې اوژيګوف تاليف کړی دی داسې ليکي: ((د خلکو کړنې، د خلکو پوهه، د موسيقۍ پوهه، د ژست يا ګډا پوهه، دودونه او عنعنات، سندرې، د وګړو سيمه ييز کړه وړه او نور (۳-۵)

که د فولکلور په برخه کې پورتنيو تعريفاتو او توضيحاتو ته ځير شو؛ نو ويلی شو چې فولکلور په تاريخي لحاظ د انسان له پيدايښت سره سم منځته راغلی دی.

کله چې انسان له طبيعي پېښو او حوادثو سره مخامخ شو؛ نو نوموړو پېښو او حوادثو ته غلی پاتې نه شو، بلکې د خپل فکر سره سم يې د نوموړو پېښو ربښې معلومې کړې، د هر نامعلوم او پټ شي د معلومولو لپاره يې هلې ځلې وکړې او د ځا ن قناعت يې پرې حاصل کړ او د وسايلو او وسايطو د نه درلودلو په بنا يې جبراً... په خيال بافيو او موهوماتو د پېښو ربښې معلومې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، د هر څه لپاره يې يو دليل وټاکه چې ورو ورو د رواياتو د انسانانو د عقيدو او افکارو په شکل واوښتل او فولکلور يې جوړ کړ. د دې موضوع څېړنه چې فولکلوريک اثار د لومړي ځل لپاره د چا لخوا په کومه زمانه او وخت کې پيل شو، ډېره ګرانه خبره ده دا ځکه چې تر اوسه پورې ډېر خلک فولکلوريک اثار او مواد چا ته منسوبولی نه شي او نه يې تاريخ ښکاره دی. فولکلور چې د هر ملت د کلتور تکاملي رېښه ده د يوې انګليسي کلمې (folklore)څخه جوړه شوې ده.•

## د فولکلور اصطلاح کارېدل

د لومړي ځل لپاره د فولکلور اصطلاح د يوه انګليسي پوه (W. j. Thoms) تامس لخوا په ۱۸۴۲ مېلادي کال کې استعمال شوه نوموړي د فولکلور اصطلاح د هغو دودونو، خرافاتو، متلونو، سندرو، کيسو او نورو عنعناتو لپاره استعمال کړه چې په انګليستان کې د لرغونو وختونو څخه په ميراث پاتې شوې وه. همدغه د تامس د فولکلور اصطلا ح ډېر ژر نورو اروپايي هېوادونو او ژبو ته لاره وموندله او د څېړنو ډګر نور هم پراخ شو د نولسمې پېړۍ له نيمايې څخه وروسته لومړی په انګليستان بيا په امريکا، جرمني، فرانسې، هسپانيې، اسکنديناوي، رومانيې، ترکيې او نورو هېوادونو کې يو په بل پسې د فولکلور څېړنې موسسې جوړې شوې.
دغو موسسو په اصولي او سيستماتيک ډول فولکلوريک موضوعا ت وڅېړل او يو زيات شمېر اثار يې خپاره کړل.

## فولکلور په افغانستان کې

په ۱۳۵۳ هجري شمسي کال د افغانستان د هغه وخت د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې عملاً (فولکلور ټولنه) جوړه شوه او د فولکلور په نامه يې د

---

• (۱۵) ۳۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوې مجلې په خپرولو پيل وکړ. د فولکلور مجلې په خپرېدلو سره د فولکلور ټولنې او فولکلور پېژندنې په اړه منسجم او سيستماتيک کار پيل شو په شپېتمو کلونو کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ او د کابل پوهنتون د ادبياتو په پوهنځي کې د فولکلور پېژندنې په نامه يوه مضمون له هماغه وخته تدريس کيږي. په **۱۳۷۵** هـ، ش کال کې د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو څانګې هم په خپل درسي پروګرام کې د فولکلور پېژندنې مضمون ور زيات کړ چې همدا اوس يې هم د تدريس چارې پر مخ روانې دي، د فولکلور په اړه په پښتو او دري ژبو کې تيت او پرک، **معلومات** مات ګوډ ډېر مضامين او مطالب د مقالو په ډول خپاره شوي دي، خو په دې برخه کې چې کوم کار د افغانستان د علومو اکاډمۍ کړی د ډېرې ستاينې وړ دی او وي به.•

---

• (۱۵) ۲۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فولکلوریکي څېړنې

د نولسمې پېړۍ تر پیله پورې فولکلور او فولکلوریکو څېړنو چندان ارزښت نه درلود، په همدې دلیل زیاتې څېړنې په دې موضوع کې نه وې شوې او څوک به د فولکلوریکو موادو د راټولولو لپاره اطرافو، کلیو او بانډو ته نه تلل، مګر د نولسمې پېړۍ په پیل کې ځېنو پوهانو او څېړونکو فولکلور ته پاملرنه وکړه او ځېنې څېړنې په دې برخه کې رامنځته شوې له دې جملې څخه په روسیه، فرانسه، انګلیستان، المان، امریکا او نورو هېوادونو کې پر فولکلور څېړنې وشوې. خو په شلمه پېړۍ کې ځېنې کتابونه هم پر فولکلور ولیکل شول، په عامه توګه په تېره بیا د فولکلور ادبي برخه د انسان او ټولنې د پېژندنې له پاره ډېر داسې مواد لري چې په هغه باندې د ټولنیز تاریخ د میتودولوژۍ ستنې ولاړې دي دا چې د لومړنیو انسانانو ټولنیز ژوند د کومو خواصو درلودونکی و، دې ډول پوښتنو ته ځواب ورکوي، کله چې انسان د لیک مرحلې ته ورسید ډیرې دورې یې شاته پرې ایښې او هغه دورې چې تر تاریخ وړاندې دورې ته رسیږي په دوو ښاخونو ویشل کېږي:

۱.د ټولنې مادي جوړښت

۲.د ټولنې معنوي جوړښت

هره ټولنه د خپلو امکاناتو او کلتوري اړیکو په اړه په خپله برخه کې د څېړنې مواد لري، خو د لومړنیو ټولنو خصوصیات د تاریخ د ودې په پړاوونو کې داسې مواد لري چې موږ ته وخت په وخت د کلتوري ژوندانه نظام راښیي. د لرغونو ولسونو په فولکلور کې داسې ادبي ټوټې شته چې په ژبه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

موجودې دي خو مفاهيم يې تر اوسه پورې لاينحل دي، په متلونو کې هم دغسې مجهولې برخې شته او په ژبني ادب کې ځای لري چې کلتور يې ډېر لرغونی دی او هغه کليمات چې نن د متلونو په جملو کې نامفهوم دي په يوه زمانه کې يې ځانته مفهوم او مانا درلوده. فولکلوريستان د اتنوګرافانو هغه راټول شوي مواد تر څېړنې لاندې نيسي چې د يوې ټاکلې دورې اړيکې په کې منعکس شوې وي؛ نو ځکه څېړنې پوهان وايي چې د فولکلور ساحه يوازې په هنر او ادبياتو پورې اړه نه لري بلکې فولکلور هغه عمومي اصطلاح ده چې اساطير، افسانې، امثال او حکم، ګډا او جادو، خرافات، ترانې، سرودنه، ټوکې او نور دودونه چې له يوه نسله بل ته انتقال مومي راچاپېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فولکلور ارزښت

موږ د فولکلور له لارې چې د کلتوري انسان پېژندنې یوه څانګه ده د انسان معنویت په لرغوني نړۍ کې ډېر ښه پېژندلای شو، همدا فکر دی چې لرغوني نړۍ د کلتور هغه ښکلاوې په موږ لیدلی شي چې تر هر څه پخوا د دوی فولکلور د هغه پیژندنه او څرګندونه کوي، د کلتور په مختلفو ښاخونو کې فلکلور هغه وسیله ده چې په کره کتنې او څېړنې سره یې د پوښتنې ښه او کره ځواب پیدا کولی شو، چې په ټولنه کې انسان څرنګه له یوه پړاو څخه بل پړاو ته قدم واخیست، په طبیعي انسان پېژندنه کې د انساني پرمختګ، حالات او د حیواناتو له مختلفو انواعو سره د ده اړیکې موږ ته د یوې پوهنې له خوا راښودل کیږي چې ورته (کامپریټ اناتومي مقایسوي تشریح) وایي. کامپریټ اناتومي د انسان د طبعي پرمختګ په تاریخ کې ډېرې ستونزمنې ربړې حل کړې دي، په همدې ترتیب سره (مقایسوي تشریح کامپریټ اناتومي چې په فزیکل انتر پولوجیۍ طبعي انسان پېژندنه) کې په ګټورو پایلو سره یې انساني پوهه پیاوړې کړې ده؛ نو په کلتوري انسان پېژندنه (انتروپولوجۍ) کې فولکلور بیا د ټولنیز ژوندانه څرنګوالی او مظاهر پر موږ پېژني. د انسان پوهنې په لاره کې دا یوه اړتیا ده چې موږ د خپلې او بلې کومې ټولنې حالات په لرغونې نړۍ کې معلوم کړو. ددې پوهنې ارزښت په دې کې دی، چې موږ د تېرې ټولنې د وګړو د اندونو، ګروهو، هیلو او غوښتنو څخه د دوې ټولنیز تاریخ معلوم کړو او د هغوی سره د نننۍ ټولنې جریانات پرتله کړو او دا غوښتنې موږ هغه وخت تر سر کولی شو چې فولکلوري څېړنې د نورو ټولنیزو پوهنو له پاره د علمي څېړنو ور (دروازه) پرانیستی دی. فولکلور د تاریخي څېړنو لپاره ښایسته زیات مواد برابر کړي دي، د هغو لرغونو پېښو د توضیح لپاره چې د لیک له ایجاد څخه وړاندې واقع شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي له فولکلور څخه د يوې مهمې سرچينې په توګه ګټه اخيستل شوې ده. الکسي ماکسيم ګورکي وايي:((د لفظي هنر پيل په فولکلور کې دی)) نو د ژبنيو هنرونو د منشا ستې او پرمختګ د پوهېدنې لپاره له فولکلور څخه پوره مرسته غوښتلی شو، حتی د ليک له پيداينښته وروسته هم فولکلور خپل ارزښت له لاسه نه دی ورکړی، په دې دليل چې د لرغونو او کلاسيکو دورو څېړونکو د پخوانيو پېښو د تشريح لپاره يوازې د ټولواکانو او واکمنو د ژوند د حالاتو په بيانولو بسنه کړې ده او د خلکو د اکثريت ژوند يې نه دی انځور کړی، له دې امله لرغوني تاريخونه که هر څومره په صادقانه ډول هم ليکل شوي وي لکه د قدنما هنداري په شان ټوله نړۍ نه راښيي، فولکلور ددغې تشې په ډکولو کې ستر نقش او رول لري. همدارنګه فولکلور د ښکلا پوهنې (استيتکس) د تيورۍ په رغونه کې مهمه ونډه اخيستې ده، د فولکلور او انتولوجۍ څېړونکو ښودلې ده چې د لرغونو انسانانو او همدارنګه د ځينو بېرته پاتې قبيلو خلکو د حيواناتو پوستکي، پنجې او غاښونه د سينګار لپاره کارولي دي. د فولکلور ډېره مهمه برخه ولسي شفاهي ادبيات دي، له يو شمېر څېړنو څخه معلومېږي چې ولسي ادب د ځينو ښېګڼو په درلودلو سره د خواصو له ادب څخه د زياتې پاملرنې وړ دی، د فولکلوريکو ادبياتو مطالعه ډېره مهمه ده.
په پايله کې په لنډ ډول ويلې شو چې: فولکلوريک ادب د خلکو هيلې، انګېرنې، دودونه، عقيدې او ټولنيزه سيکالوژي څرګندوي، واقعيتونه په کې په رياليستيکه يا حقيقي بڼه افاده کېږي او له دې امله د ټولنې د پېژندلو لپاره د يوې مهمې سرچينې په توګه کارول کيږي له فولکلور څخه د فولکلوريکو موضوعاتو ايماژونو، استعارو، تشبيهاتو اساطيرو او بديعي مختصاتو څخه د هنري نوښتونو او تلميحونو لپاره ډېره استفاده کيږي، د نړۍ ډېرو سترو ليکوالو، شاعرانو او ډرامه تستانو لکه‌ويليم شکسپير، دانته ايلګر، ګويته، الکسي ماکسيم ګورکي او نورو ډېرو د ولسي افسانو، اساطيرو او رواياتو څخه الهام اخيستی دی. دکتور امير حسن ايانپور په خپل اثر (جامعه شناسي هنر) کې ليکي:((چې رياليزم د فولکلور محور دی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عوامو هنر تل معشيت او له انساني عواطفو او ارمانونو څخه ډک دی))، دی وايي:((کله چې په فولکلور کې عملي فعاليت کومې نتيجې ته ونه رسيږي؛ نو د تخيل لمنه نيسي خو ځنډ او تسليمي نه پيژني؛ نو په دې اساس هغه څوک چې فولکلور ته د يوه مبتذل او بابيزه څيز په سترګه ګوري او د مطالعې ور يې نه ګڼي نشي کولی چې د خلکو له سيکالوژۍ او فرهنګ سره ژوره اشنايي پيدا کړي. هر مليت خپل فلکلور دود، دستور او ژوند ته له خپله انده ګوري، او په هر فلکلور کې عقيدوي، سياسي، فرهنګي کلتوري، تاريخي، ټولنيز او د ژوند په هکله رنګارنګ ولسي پوهاوی شته، چې دکاڼي کرښې دي، فلکلور د يوه ولس د ټولو پوهنو مور ده، که غواړو چې د يو ملت په اړه لاپاخه معلومات ولرو بايد فلکلور يې مطالعه کړو. •

---

• (۱۹) ۲۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (۲) د کلتوري ژوند عمده توکي

کلتور د ټولنیز ژوند سره نېغې اړیکې لري چې له مخې یې د اړونده ټولنو د ژوند کچه، پرمختګ، وروسته والی، عقاید، مذهب.. څرګندېږي او تقریبا د ژوند په ټولو برخو پورې اړوندېږي، پوهان ژوند له کلتور سره تړلی بولي او وایي چې د هرې ټولنې د وګړو کلتوري ژوند دوې مهمې او سترې برخې لري چې د هغوی مادي او معنوي ژوند بلل کیږي.
هغه ټولنې چې په مادي لحاظ مترقي او پرمختللې دي معنوي ژوند یې هم وده کړې ده، همدا ډول هغه ټولنې چې د معنوي ژوند تله یې درنه ساتلې په مادي لحاظ هم تر نورو مخکې دي، د دې لپاره چې د وردګو د کلتور او کلتوري ژوند سره ښه اشنا شو، موږ دلته د وردګو د مادي او معنوي ژوند اړخونه څېړو چې د دې سیمې د خلکو کلتوري ژوند جوتوي.

## مادي ژوند

د وردګو د سیمې د خلکو مادي ژوند متوسط او د اقتصاد نیمه برخه یې په کورنیو تولیداتو او کرنیزو حاصلاتو راڅرخي، که څه هم چې د دوی سیمه د هېواد د نور یو شمېر سیمو په څېر پراخې کرنیزې ځمکې او د مال څړځایونه او یا هم تولیدي او صنعتي فابریکې نه لري، خو وګړي یې ډېر زیارکښ او علم خوښوونکي دي، چې له مخې یې په دې وروستیو کې تریوې اندازې په مادي ژوند کې ښه والی راغلی، د وردګو ولسونه د نسبي پرمختللي ژوند څخه برخمن دي او وګړي په لویو او ښکلو کلاګانو چې په ښکلې بڼه له خټینو پسخوڅخه جوړې شوې ژوند کوي، د دوی ژوند په اوړي او ژمي کې د موسم په بدلیدا او د هوا په سړیدا سره توپیر کوي، د ژمي د یخنۍ په راتګ سره د دې سیمې وګړي په توخانو کې چې د دوي په خاص هنر جوړې شوي او دسیمې د غرونو په بوټیو (ترخه، لګوند، ګوند، سرغونډ او غوړانګه) تودیږي اوسیږي، خو په اوړي کې بیا په معتدلو کورنیو صالونونو او یخو خونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند کوي، د ژمي په موسم کې د هوا د زياتې يخنۍ له امله عادي کارونه يې دريږي، خو د هوا په تودېدا سره د وري(حمل) په مياشت کې بېرته کرنيز کارونه له سره پيليږي.

## ۱ – د مادي ژوند مهمې برخې

د وردګو د سيمې د خلکو مادي ژوند په طبعي اقتصاد ولاړ ژوند دی چې **۵۰** سلنه يې کورني توليدات اوعايدات جوړوي او **۵۰** سلنه يې بهرنۍ ګټه ده، د دې سيمې خلک که څه هم له علم او پوهې سره ځانګړې علاقه لري، خو د مادي ژوند يوه لويه برخه يې سيمه ييزکرنيز حاصلات جوړوي، د وګړو يوه لويه برخه يې د هېواد د نورو سيمو په څېر بزګران جوړوي، خو په ښنګ کې يې کم خلک په دوديزو او سنتي کسبونو لکه ترکاڼۍ، اهنګرۍ او ګلکارۍ هم بوخت دي چې د سيمې د خلکو ورځنۍ دوديزې اړتياوې د همدې سيمه ييزو کسبګرو په وسيله پوره کيږي، د دې سيمې د خلکو ژوند عادي او غير ښاري ژوند دی، چې تقريبا نيمه برخه يې په بيروني اقتصاد ولاړه ده.
د وردګو سيمه که څه هم يو پرمختللی بازار نه لري چې د دوی د ژوند ټولې اړتياوې پوره کړای شي، خو د سيمه ييزو او کورنيو سوداګرو او کليوالي هټيوالو په وسيله د دوی د سيمې لومړنۍ اړتياوې پوره کيږي.

## ۲ - مادي ژوند څرنګوالی

ددې سيمې اتيا سلنه وګړي په کرنه، بڼوالۍ او مالدارۍ بوخت دي، غنم، جوار، شولې، کچالو، بانجان، لوبيا، باقلي، کدوان، ختکي، بادرنګ او شنې ترکارۍ.... يکې دوديز کرنيز توکي دي خو په افغانستان کې د کرنې د وروستيو نسبي پرمختګونو سره سم په دغې سيمه کې د بڼوالۍ کسب تر ډېره د ودې په حال کې دي اوس ددې سيمې ډېرې ځمکې د مڼو، زردالیو، الو پورموسی، شفتالیو، ګیلاسو او ناکو ونوپوښلې دي چې مڼې او زردالو يې ترټولو غوره حاصلات دي، خو د ناسمې بازار موندنې له امله بيا هم ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمې د وګړو په اقتصادي ژوند کې څنګه چې هیله کېږي کوم ژور بدلون نه ترسترګو کېږي، د وردګو د سیمې خلک د کرنې او بڼوالۍ ترڅنګ په خپلو کورونو کې د اهلي ژوو ساتنه هم کوي، چې یوازې کورني لبنیات ترې حاصلوي او په خپل کورني ژوند کې ترې ګټه اخلي، تر دې مهاله په دې سیمه کې نه د کورنیو لبنیاتو لپاره او نه هم د میو د حاصلاتو لپاره کومه فابریکه شته او نه یې چا د جوړېدو هڅه کړې، خلک یې په عادي او طبعي ډول په خپلو کورونو کې د اړتیا وړ خواړه، لبنیات، مېوې او نور خوراکي توکي تولیدوي، چې له لوړ کیفیت څخه برخمن دي، خو د ننني پرمختللو دودونو او اړتیا وو له مخې د دوی ټولې اړتیاوې په سیمه کې نه پوره کیږي او د ضرورت له مخې خپل اړتیا یي توکي له پلازمېنې کابل او ګاونډي ولایت غزني څخه پوره کوي، ځکه چې د وردګو په سیمه کې د پورته دوو ګاونډیو سیمو په نسبت داسې لوی سوداګریز مارکېټ او بازار نشته چې د دوی ټولې اړتیاوې پرې پوره شي.

د وردګو خلک له خپلې سیمې سره د ځانګړې مینې دلرلو له امله په خپل زیار د خپلې سیمې اوکورونو په جوړولو کې ډېرهڅاند دي، خو د نا امنیو او یو شمېر نورو لاملونو له مخې لاهم د دوي په ژوند کې د پام وړ بدلون نه دی راغلی ۸۰ سلنه سړکونه او لارې یې خام دي چې بنسټیزې رغاونې ته اړتیا لري، د سړکونو خاموالي د دې لامل شوی چې د وردګو د بڼوالو خوندور کرنیزحاصلات پر وخت کابل ته ونه رسیږي او د ناوخته رسېدو له امله خپل کیفیت له لاسه ورکړي، د وردګو سیمه که څه هم په خپله غېږه کې د مستو اوبو سیند (لوګر سیند) او د چک ولسوالۍ د برښنا فابریکه لري چې یو وخت یې آن پلازمېنه کابل هم روښانه کړې و، خو اوسمهال یوازې ۳ سلنه وګړي یې له یادې دولتي برښنا څخه ګټه اخلي پاتې نور یې یا برښنا نه لري که یې لري هم د دوی په شخصي زیاراولګښت جوړه شوې لمریزه برښنا ده، چې د دوی اړینې برښنایي اړتیاوې نشي پوره کولی او یوازې د رڼا ګټه ترې اخلي، په دې سیمه کې ډېری خلک اوس هم په کلیو اوبانډو کې اوسي او د مادي ژوند لویه برخه یې کورني حاصلات او طبعي محصولات دي، په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمې کې یا خو فابریکې هېڅ وجود نه‌لري که یې لري هم غیر فعالې او په نشت حسابیږي، خو دا په دې مانا نه‌ده چې د دې سیمې ځمکه دې په خپله ګېډه کې طبعي زېرمې او اومه مواد ونه‌لري، بلکې د وردګو سیمه د قیمتي ډبرو، ګچ او نورو انساني اړتیاوو ګڼ کانونه لري چې دلته یې د وردګو ولایت د معدن د ریاست د نویو ارقامو پر بنسټ له تاسو سره شریکوو:

## ۳ – معدنونه :

د وردګو سیمه د معدنونو له پلوه یوه بډایه او د هیواد په کچه مهمه معدني سیمه ده، خو دغې سیمې ته د لوړو پوړو چارواکو د نه پاملرنې او نا امنیو له امله د یادې سیمې معدنونه په فني ډول ندي کیندل شوي او ډیره برخه یې یا تر ځمکه لاندې پرته ده یا هم د دې سیمې د کانونو مادي ګټه د ځایي زورواکو او ټوپکواکو جیبونو ته لویږي.

د معلوماتو له مخې د وردګو د سیداباد د تنګي د مرمر تیږو کان که په فني توګه وکیندل شي د کال ۵۰۰ ملیونه ډالر عاید به وکړي او افغانستان به په نړۍ کې د مرمر ډبرو د لومړي تولیدونکي هیواد نوم غوره کړي، دا مهال د ایټالیا هېواد د مرمر ډبرو د تولیدونکو هیوادو په سر کې ځای لري چې کلنی عاید یې ۴۵۰ ملیونه امریکایی ډالر ښودل شوی خو د وردګو د تنګي سیمې د مرمر ډبرو کان د ایټالیا هیواد له کان څخه څو ځله ستر ښودل شوی دی او د ډبرو کیفیت یې هم د ایټالیا د ډبرو څخه څو ځله زیات دی، تنګي چې پلازمېنې کابل ته شاوخوا ۵۰ کیلومتره واټن لري د دې کان په استخراج سره شونې ده د تنګي مرمرینې ډبرې نړیوال شهرت ترلاسه کړي چې د هیواد د اقتصاد په پیاوړتیا کې مهم رول لوبولای شي. د وردګو د معدن ریاست د معلوماتو پر اساس د سید اباد ولسوالۍ د تنګي درې د مرمرو کان ۱۲ کیلومتره مربع مساحت لري چې د ۱۵۰ ملیارده ډالرو په ارزښت د مرمرو ډبرې لري چې که سمه پاملرنه ورته وشي د سیمې د هیوادونو ډبرو د وارداتو چې له امله یې هرکال له افغانستان څخه په لسګونه ملیونه افغانۍ بیروني جیبونو ته ځي ، په استخراج سره یې د نورو هیوادونو د مرمر تیږو د واردیدلو مخنیوی کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تنګي د مرمر تيږو يو بلاک تر ۵ مترو پورې اوږدوالی لري دا په داسې حال کې ده چې د سيمې د هيوادونو د مرمر تيږو اوږدوالی د دې له نيمايي هم کم دی.
له دې سربيره د وردګو سيمه د ګچو، سلفرو، اوسپنې... نور مهم کانونه هم لري چې په لنډه توګه يې د وردګو ولايت د کانونو د رياست د معلوماتو له مخې دلته يادونه کوو:
په وردګو ولايت کې ډول ډول مواد شتون لري چې په کې ۲۱ ډوله کاني ظواهر شته دي، چې د دې ولايت په مختلفو سميو کې په نښه شوي دي او رسمي پايلې يې د لابراتوار د سروې رياست د جيولوجي وزارت له محترم مقام سره ثبت او تشخيص شوي دي.
د وردګو د کانونو د رياست د معلوماتو له مخې په ۱۳۹۳ ل کال کې د دې ولايت له کانونو څخه ۲ مېليونه افغانۍ عوايد تر لاسه شوي دي او د ۱۳۹۴ هـ ل کال په ۹ مياشتو کې له نا امنيو سره سره شپږنيم مېليونه عوايد درلودل. د دې ولايت د کانونو رييس فضل الباري بلوچ د وينا له مخې که چېرې په دې ولايت نا امنۍ له منځه ولاړې شي د استخراج لپاره يې لازمه ماشينري او اړوند وسايل برابر شي پورتنی عوايد به څو څنده نور هم لوړ شي او په لسګونه زره کسانو ته به د کار زمينه برابره شي.
اوسمهال په دې ولايت کې د لسو ځايونو په شاخوا کې کاني مواد د ګچ ډبرې په دايميرداد او سيداباد ولسواليو او ځينو نورو برخو کې خصوصي سکتورونو ته د راويستلو لپاره ورکړل شوي دي تر څو چې د کانونو له استخراج څخه مو بشپړه ګټه پورته کړې وي.
د کانونو د راويستلو لپاره پانګونه هم شوې چې ډېری کانونو ته سرکونه ور جوړشوي، کانونه را اسپړل شوي، پلورل شوي او د کانونو د راويستلو لپاره ماشينري هم نصب شوې ده په دې سره د وردګو لاسته راوړنې هم ډېرې شوې دي په دې سره به ځايي اوسېدونکو ته کار پيدا کيږي او له بل پلوه به د کانونو د قاچاق مخه نيول شوي وي، بله خوا به مو د ګاونډيو هېوادنو د کاني موادو سره رقابت کړی وي، تر اوسه چې دوه ډوله مواد او کانونه په دې ولايت کې راويستل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کيږي شاوخوا ۸۰۰۰ کسان په مستقيم او غير مستقيم ډول کاري فرصتونو ته لاس رسی لري.

سربېره پردې په وردګو کې ډېر کانونه همدا سې سرپټ پاتي دي او هېڅ ډول کار ترې نه دی اخسيتل شوي او څنګه چې د کانونو د راويستلو په برخه کې لازمه کړنه تر سره شي نه ده تر سره شوې په وردګو کې کاني مواد کولی شو په لاندې ډول په ګوته کړو:

- د سيدآباد په لويه آبدره کې –کروميت
- د سيدآباد په منګليو کې –کروميت
- د سيدآباد په هفت آسيا کې –کروميت
- د سيدآباد په نوريو کې –کروميت
- د سيدآباد په تنګي دره چفکام کې –کروميت
- د سيدآباد په تنګي دره لاچ خيلو کې –کاني بال ظواهر ډبرې
- د سيدآباد په اونخي چنار دره ستېه خېلو کې - کاني بال ظواهر ډبرې
- د دايميرداد په فولادي او دالان کې –تراورتين ظواهر ډبرې
- د سيدآباد په کامرانخېلو کې –مرمر ډبرې
- د سيدآباد په وړه آبدره کې - مرمر ډبرې
- د سيدآباد په لويه آبدره کې - مرمر ډبرې
- د سيدآباد په منګليو کې - مرمر ډبرې
- د سيدآباد په سپين ورسک کې - مرمر ډبرې
- د سيدآباد په توپ دښته کې - مرمر ډبرې
- د سيدآباد په کامرانخېلو کې –تالک ظواهر
- د چک په بيکسمند کې –پګماتيت (کوارتسيت) ظواهر
- د سيدآباد په لوړه کې –د سرپنتنيت انتی ګاريت ظواهر
- د دايميرداد په کوز فولادي کې –کلسي ظواهر
- د دايميرداد په کوز فولادي کې –ريګي وړې داني حجر ډبرې ظواهر

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د سیدآباد په لاچ خېلو کې - د شیت کاربنات، پلاجیوکلاز، اکتی نولیتی ظواهر
- د دایمیرداد په جوقولک کې – سر پنتین ظواهر
- د سیدآباد په لوړه کې - سرپنتنیت ظواهر
- د دایمیرداد په کوز فولادي کې – د ګچ ډبرې
- د دایمیرداد په برفولادي کې – د ګچ ډبرې



عکاس: محب الله شریفزی/ د وردګو د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست آرشیف

څه مو چې پورته ذکر کړي د کانې کرښې نه دي ښايي له دې څخه هم زيات کاني مواد او ډول ډول قیمتي ډبرې، لعل، جواهر، یاقوت، د ډبرو سکاره، مس..... او داسې نور شیان ولري ځکه په ټوله کې افغانستان د کانونو له مخې یو غني هېواد دی له دې ډلې څخه وردګ هم له دې نعمتونو څخه بې برخې نه دی خو دا چې موږ له دغه کانونو څخه څنګه مثبته او قانوني ګټه پورته کړو بیا په موږ او دولت پورې تړاو لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴ – صنعتي چارې

د وردګ ولایت مهم کورني لاسي صنایع په ټغر، لمڅي، جاکټ، خولۍ، رېخچینه، شړۍ، دسمال، جرابلې، د ناوې ریمال، ستن دسماغو، ګرېوان، لستوڼخولو، پایڅو خولو او داسې نورو په اوبدلو کې خلاصه کېږي. همدارنګه په دې وروستیو کې له لویو او وړو مریو څخه په کورونو کې د ښځو او نجونو په وسیله رنګارنګ څېزونه جوړېږي چې په دې څېزونو کې ګلدانۍ، د کوچنیانو د ساعت تېرۍ موټر، لوځکې، د قران کریم د کتاب د ایښودلو رېیل او په لسګونو داسې نور څېزونه شامل دي. د دې تر څنګ په وردګو کې د میده مریو کار په ظریفه توګه صورت مومي او د همدې مریو، ورېښمو، ځونډیو او نفیسو ټوټو په مرسته داسې کالي هم په خورا لوړ کیفیت سره په سیمه کې جوړېږي چې د ښځینه وو لپاره دي او (افغاني کالي) نومېږي. دغه راز کالي د ناوې او خوښیو په ځانګړو محفلونو کې ځواني ښځې او پېغلې آغوندي او دغه ډول کالي د هېواد د جامو په مارکېټونو کې په لوړه بیه پلورل کېږي. خو په عمومي توګه باید وویل شي چې د وردګ ولایت کورني صنعت ته په ملي او دولتي کچه هېڅ راز پاملرنه نه ده شوې او نه هم کورني تولیدات په موثره توګه ملي او نړیوالو مارکېټونو ته وړاندې شوي دي. همدارنګه د وردګ په ولایت کې د لاسي صنایعو د ښې ودې لپاره تر دې مهاله کوم ملي پروګرام نه دی تطبیق شوی او نه هم کومه کارخانه، دستګاه، نندارتون یا فابریکه ورته جوړه شوې. باید وویل شي چې د وردګو یو شمېر وګړي په ډول ډول کسبونو او مهارتونو لګیا دي خو دا چارې انفرادي بڼه لري او یو شمېر وګړي هڅه کوي له همدې لارې د خپل ژوند لپاره یوه اندازه پیسې په لاس راوړي. د وردګ ولایت صنعتي چارې لا هم کلیوالي بڼه لري او داسې حد ته نه دي رسېدلي چې د خپلو تولیداتو کچه لوړه، ملي او نړیوالو مارکېټونو ته بې وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لاسي صنايع

په وردګو کې لاسي صنعت له پخوا څخه دود دی لکه د ګیلم یا ټغر اوبدل، د پوستین جوړول اوپخول، د غړکو پخول او رنګول،د رنګونو جوړول،لمڅي جوړول، د ښیښو پټول، تارکشي، خامک ، ګیراف،زری کښ، سوری بخیه، پوسته چین، تارشمار، د شکرونو جوړول، په بوجیو د ستنو کار،ریښنۍ یا پیڅکې جوړول، د جاکټونو اوبدل،رخچینه یا دزرتارو خولۍجوړول، د اوونو خولۍ جوړول، د ځونډیو جوړول او د مریو نور کارونه، د چرمو ماتول،د تورونو جوړول، ددریاګانو جوړول، ټوکرۍ جوړول، د زنبیل جوړول، د راشپیل جوړول، د کڼاوو جوړول، د یوې جوړول، ښاخۍ جوړول، ښاخور، ماله، د ژرندو پلونه، دروازې، کړکۍ، میزونه، او ژغ جوړول. موږ د لا روښانتیا په موخه دلته ښځینه او نارینه لاسي صنایعو په اړه معلومات وړاندې کوو:

لومړۍ: ښځینه لاسي صنایع

ښځینه لاسي صنایع له دسمال ګنډلو، سنۍ، جاکټ جوړولو، خولۍ وودلو، جرابلو جوړولو، ښځینه جامې جوړولو، جاینماز جوړولو، د تکیو، بالښت پوښونو، پردو او رنګارنګ ټوټو جوړولو، د قلم پوښ، لوجروملې او امیانیو جوړولو، ګرېوان، ټټر، یخن، جوړولو، مرۍ کاري او داسې نورو څخه عبارت دی. همدارنګه د وردګو ښځینه له وړیو څخه لمڅي دجوړوي، له خاورو څخه خاورین لوښي جوړوي، له خوشیو او خاورو څخه کندو او کندوچې جوړوي، د څارویو له پوست څخه د ځانګړي مهارت له مخې غړکې جوړوي، له سرو خاورو څخه د ډوډۍ د پخولو تنور، له خوشیو او خاورې څخه کنګینه، سرپوښ او داسې نور ځیزونه جوړوي او د ټغرو د وودلو لپاره له وړیو څخه سنۍ جوړوي. پر دې سربېره له پختې یا پنبې څخه هم د مختلفو موخو لپاره تار جوړوي. د وردګو ښځینه د ځینو طبیعي او کېمیاوي بوټو په ملتیا وړۍ، پنبه او پخته رنګوي او بیا له همدې رنګ شوو ځیزونو څخه د نورو ځیزونو په جوړولو کې کار اخلي. د وردګو ښځینه د ټوکر، پختې او سپېسیو په مرسته توشکې، بالښتونه، برستنې، ځلګي او د خپلوکورونو د اړتیا وړ فرشونه جوړوي. د وردګو ښځینه د مریو په مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خولۍ، لوجروملې، څونډې، غاړکۍ، لاسبند، سینه بند، وټې، ټیک، لښتۍ، تسبېح، لمنې، لستوڼخولې، پایڅو خولې او داسې نور ځیزونه جوړوي او خپلې جامې پرې ښکلې کوي. همدارنګه د وردګو ښځینه د مریو، تخرېتیتیو، مرغلرو، بوربورو، زرتارو او داسې نورو په مرسته ډول ډول زینتي ځیزونه جوړوي چې په کورونو کې یې د ښکلا په موخه ږدي او په ودونو کې ترې کار اخلي. په ځینو سیمو کې حتی ټوپکونو او پېش کوزو ته هم د مریو په وسیله پوښونه د ښځینه وو له لوري جوړېږي.•

دویم: نارینه لاسي صنایع

د وردګو د لاسي صنعت په برخه کې نارینه هم لاس لري چې له پوستکي څخه چرمینه، ګونده، رسۍ، پړی، څپلۍ، بوټونه او داسې نور جوړوي. له سنیو څخه ټغر جوړوي، وړیو څخه لمڅي جوړوي، له وژغونو څخه غوندی او کلچ جوړوي. په وردګو کې د لرګي صنعت هم د دود دی او پخوا به له لرګي څخه یو ډول د پښو کولو لپاره یو ډول چپلکې جوړېدلې چې (کهاوې) یې ورته ویلې او همدارنګه له لرې څخه په وردګو کې پارو، د بېلچې لاستی، د کولنګ لاستی او ډول ډول زینتي توکي جوړېږي. د وردګو خلک په لیک لوست مین خلک دي او لیک په برخه کې هم په دې سیمه کې لاسي صنایع دود دي د ساري په توګه ځینې وګړي د غنمو د فلالې په مرسته لوحې جوړوي او بیا پر هغه باندې په نسخ، نستعلیق، کوفي او داسې نورو خطونو سره د قرآن شریف آیتونه، احادیث، ښکلې شعرونه او داسې نور ځیزونه لیکي. همدارنګه په دې سیمه کې خطاطي، میناتوري او د ښکلو هنرونو پالل له پخوا څخه رواج لري او یو شمېر وګړي پرې بوخت وي. د وردګو په کلیوالي او غرنیو سیم کې د نارینه وو له خوا د تېږې د ویشتلو لپاره غولکه او مچنوغزه جوړېږي.•

---

• (۲۳) ۵۴ مخ •
• (۳) ۴۵مخ •

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کرنه او مالداري

کرنه، بڼوالي او د څارويو ساتنه د وردګو د خلکو یو لرغوني دود دی، د وردګو د سيمې ۷۰ سلنه وګړي په کرنه بوخت دي، د دې سمسورې او شنې درې د ځايي خلکو د کرنې دود ته لاښکلا ورکړې ده. د وردګو خلک د کرنې په دود ډيرښه پوهيږي، د دې سيمې خلک خپلې ځمکې په غوايانو يوې کوي، د وردګو ځمکه د هوا د سړوالي له امله په کال کې يو ځل حاصل کوي.
د وردګو خلکو په دې وروستيو کې د بڼوالۍ چارې ته ډېره پاملرنه کړې ده، د دې سيمې د کرنيزو ځمکو ۷۵ سلنه يې شنو بڼونو پوښلې ده.
د وردګو اقليم سوړ او په ژمي کې يې هوا ډېره سړه په اوړي کې معتدله وي ځکه نو د دې سيمې مڼې او زردالو تر ډيرو نورو سيمو غوره والی لري، په ځانګړې توګه د وردګو مڼو په سيمه ييزه او آن نړيواله کچه شهرت ګټلی دی.
د وردګو غرونه د ونې نلري خو د دې سيمې په منځ کې تېر شوي سيند د مستو اوبو او شنو درښکلا نوره هم زياته کړې ده. د وردګو په سيمه کې د لويو ويالو او سيند په غاړه دنګ ،چنارونه، خرولې او غيشولې ډير ښايسته ښکاري.•
د وردګو د سيمې حاصلات:
غنم، جوار، شولې، باقلي، لوبيا، وربشې، رشقه، کولول، مشنګ، کچالو او شلغمې يې مهم کرنيز حاصلات دي. د وردګو سيمه همدارازد شنوسبو، سروبانجانو، توروبانجانو، ګلپيو، کدوانو، خربوزو اوبادرنګو د کښت لپاره هم مناسبه ده، د دې سيمې ډيری خلک د خپلې اړيا وړ ترکاري له خپلو ځمکو څخه پوره کوي.
مهمې ميوې
مڼې، زردالو، آلوچې، الوپورموسا، بادام، شفتالو، سنځلې، ناک، چارمغز، توت،غونځې، الوبالو، انګور يې د ميوو مهم حاصلات دي خو مڼې او زردالو د ټولو په سر کې ځای لري.
مالداري:
د دې سيمې خلک په خپلو کورونو کې د ضرورت وړ څاروي هم ساتي، تقريبا هر کور يوه يا دوې غواګانې لري. د دې له امله چې په وردګو کې بڼوالي ډيره وده کړې اوس د دې سيمې خلک د ميږو او وزو ساتلو ته ډير زړه نه ښه کوي ، خو يو شمير

• (۱۲) ۴۶مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې د ضرورت مطابق په کمه اندازه میږې او پسونه ساتي. چې د شیدو او غوښو څخه یې ګټه اخلي.
په دغه سیمه کې د اهلي څارویو سربېره ځینې وحشي څاروي لکه: لېوه، ګیدړه، سوی، غرڅه او داسې نور وحشي څاروي پیدا کېږي.

## (۳) کلتور او فوکلور

مخکې مو په عامه توګه د کلتور او فوکلور په اړه رڼا واچوله دلته سره له دې چې د وردګو د سیمې په فوکلور بحث کوو په لنډ ډول د فوکلور معنا او تعریف هم راوړو:
د فولکلور اصطلاح له دوو کلیمو څخه جوړه شوې ده، فولک (folk) خلک او لور(lore) رواج یا دود ته وایي یعنې د خلکو دود او دستور یا هغه رواجونه چې د خلکو په منځ کې دود وي ځینو عالمانو بیا (لور) د ادبیاتو یا زده کړو په مانا راوړی دی، چې له دواړو څخه ولسي پوهه یا د خلکو زده کړه یا ادبیات جوړیږي، ځینې یې د کوچنیو هلکانو او نجونو ادبیات ګڼي، خو که ځیر شو د لویانو او کوچنیانو ترمنځ کاریدونکي ټول اصطلاحات، متلونه، انګېرنې، ادبیات او نور دودیز ځیزونه چې د خلکو ترمنځ وکارول شی، د همغه اړوند ولسونو دود، علم او ادب دی چې فولکلور یا د خلکو منل شوی دود یې بولي.
د فولکلور په برخه کې روسي قاموس چې اوژیګوف تالیف کړی دی داسې لیکي: د خلکو کړنې، د خلکو پوهه، د موسیقۍ پوهه، د ژست یا ګډا پوهه، دودونه او عنعنات، سندرې، د وګړو سیمه ایز کره وړه او نورعبارت له فولکلور څخه دي.
که د فولکلور په برخه کې پورتنیو تعریفاتو او توضیحاتو ته ځیر شو؛ نو ویلی شو چې فولکلور په تاریخي لحاظ د انسان له پیدا ایښت سره سم منځته راغلی دی او هرې ټولنې د خپل ځانګړي کلتور له مخې چې د دوی د فکر او پوهې محصول دی یوه لاره غوره کړې ده چې د دوی فلکلور یې بولي.
کله چې انسان له طبیعي پېښو او حوادثو سره مخامخ شو؛ نو نوموړو پېښو او حوادثو ته غلی پاتې نه شو، بلکې د خپل فکر سره سم یې د نوموړو پېښو ربښې معلومې کړې، د هر نامعلوم او پټ شي د معلومولو لپاره یې هلې ځلې وکړې او د ځا ن قناعت یې پرې حاصل کړ او د وسایلو او وسایطو د نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

درلودلو په بنا یې جبراً... په خیال بافیو او موهوماتو د پېښو رېښې معلومې کړې، د هر څه لپاره یې یو دلیل وټاکه چې ورو د روایاتو د انسانانو د عقیدو او افکارو په ډول واوښتل او فولکلور یې رامنځته کړ. نو په لنډه توګه ویلی شو چې د ډېرو فولکلوریکو موادو تاریخ تر تاریخ وړاندې ځي. فولکلور چې د هر ملت د کلتور تکاملي رېښه ده د یوې انګلیسي کلمې (folklore) څخه جوړه شوې ده.

د فولکلور اصطلاح د لومړي ځل لپاره د یوه انګلیسي پوه (W. j. Thoms) تامس لخوا په ۱۸۴۲میلادي کال کې استعمال شوه نوموړي د فولکلور اصطلاح د هغو دودونو، خرافاتو، متلونو، سندرو، کیسو او نورو عنعناتو لپاره استعمال کړه چې په انګلیستان کې د لرغونو وختونو څخه په میراث پاتې شوې وه.

د وردګو سیمه هم د نړۍ د خلکو په څېر خپل ځانګړی فولکلور لري، چې د دې سیمې په وګړو او د هغوی له علم څخه سرچینه اخلي، د وردګو خلک تر ډېره کلیوالي ژوند لري، ځانګړي اصطلاحات، انګېرنې، د درملو په تېره بیا سیمه ییزو بوټو ځانګړي کارونې، ځانګړي خوښې او ځانګړي سیمه ییز خواړه او دودونه لري چې د دوی فلکور جوړوي، مونږ په دې کتاب کې چې زما د غوښتنې او ځانګړي علاقې له مخې زما د ماسترۍ د تېزس موضوع هم ټاکل شوې ده هڅه کړې څو د وردګو د سیمې د کلتور مختلف اړخونه راواخلو څو لوستونکي له هر یو سره جلا جلا اشنا شي او په لوستلو سره یې د وردګو د کلیمې د فلکلور هغه برخه د راتلونکو نسلونو لپاره ژوندۍ پاتې شي چې د وردګو له جغرافیې بېرون په بهرنیو هېوادونو یا هم د هېواد په مختلفو ښاري سیمو کې ژوند کوي.•

• (۱۵) ۳۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فوکلور غوره برخې

د وردګو د سیمې فوکلور هم د هېواد د نورو سیمو په څېر بېلابېلې برخې لري مور دلته د ټاکل شوې موخې سره سم د فوکلور یا فولکلو ر غوره برخې په تفصیل سره راوړو ، چې په لاندې توګه ترې یاد ونه کوو:

## د کوژدې دود

په وردګو کې د کوژدې دود هم خپل ځانګړي کوایف لري، د دې سیمې خلک هم د نورو پښتنو په څېر دغه دود په ځانګړو خوښیو او سیمه ییزو دودونو سره لمانځي، خو هغه څه چې د کوژدې پر مهال یا له کوژ دې دمخه د وردګو خلکو ته ډېر مهم دي هغه د کوژده کېدونکې نجلۍ خوښول دي، د وردګو خلک د هغې نجلۍ سره د خپل زلمي کوژده غوره بولي چې د یوې غوره او درنې کورنۍ سره تړاو ولري او په خپله نجلۍ هوښیاره او د کار او سرشتې کولو وړتیا ولري، ښکلا او اخلاق یې دوه نور مهم توکونه دي چې د کوژدې وړاندې پرې د هلک د خپلوانو ترمنځ بحثونه کیږي، خو هغه نجلۍ ته ډېر ار زښت ورکول کیږي چې د ستر او حجاب په ساتلو کې تر نورو نجونو مخکې وي، همدا شان د کوژدې پرمهال او د کوژدې څخه د مخه د نجلۍ د کورنۍ لخوا هم د هلک په اړه پټ پټ بحثونه کیږي او هغه هلک ته لومړیتوب ورکول کیږي چې زده کړې ولري.

سریزه، د پوښ وړل، ستن، ایجاب او قبول، د هلک کور ته د ستنې رسېدل، دسمال یا ناسته، د ناستې ځانګړي مراسم، چغل بازۍ، د زوم ناغه کول، مبایل چغل بازۍ، ټکری اچونه، خونی، پښه خلاصی، د اخترونو پوښ، د خوښۍ مجلسونه او وسلې.

د وردګو په ټولنه کې د کوزدې او شریني خورۍ نومونه دواړه نوي دي او زمور په ټولنه کې دغه مراسم په عامه توګه په دې نومونو نه یادیږي بلکې د ستن راوړلو ، دسمال راوړلو او یا ناستې په نومونو یې یادوي. کله چې د دوو کورنیو تر منځ د خپل ځوان او پیغلې تر منځ د ګډ ژوند د تړون لومړۍ مرحله د دعا او رویبارانو ته د ګل په ورکولو سره سر ته ورسیږي نو دواړې کورنۍ د خپښۍ بلې مهمې مرحلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته چې د کوزدې يا شيريني خورۍ مرحله ده، ځانونه چمتو کوي. د هلک کورنۍ پوښ اخلي او په هغه کې پېغلې ته ځو جوړه جامې، ګاڼه، چادري، د سينګار سامان، پايزار، ټکرى، د کوزدې ځانګړې جامې چې غالباً شين رنګ لري، نيکريزې او نور د اړتيا وړ څيزونه برابروي. همدارنګه پخوا به په لومړي پوښ کې يوازې د ناوې مور او پلار ته جامې اخيستل کېدې خو اوس مهال په دې ډول پوښ کې د ناوې مور، پلار، خويندو، ورونو، کاکاګانو، نيا او نيکه ته هم جامې اخيستل کيږي او د هر يوه نوم په هغه ښيښه يي خلته يا کځوړه ليکل کيږي چې دغه جامې پکې ځاى پر ځاى کړې وي. پر دې سربېره ځو منه مېوه او که د شيريني خورۍ مراسم ناسته وي نو تقريباً د يوه بشپړ طوى لپاره خوراکي توکي، اوړه، وريجې، غوښه او نور اړوند څيزونه برابروي. په همدې توګه د خپلوانو، دوستانو، کليوالو او آشنايانو هغه شمېر کسان برابروي چې د شيريني خورۍ په مراسمو کې بايد ګډون وکړي. د ټنګورو او يا د خېښانو کور ته د تلونکو ښځو نومونه هم په ډاګه کيږي او هغوى د خپلو ځانونو لپاره نوي کالي، ګاڼې، پېغلې ته ډالۍ، په پوښ کې اچونه، درياګانې، د سندرو تمرين، د اتڼ څرنګوالى او ټول هغه لازم چمتوالى په نظر کې نيسي چې د خېښانو په کور کې ورته اړتيا پېښيږي.

د پېغلې د کورنۍ له خوا بيا د هغه پر مور او مشرانو خويندو او د خپلې کورنۍ پر تجربه دارو ښځو سربېره د کلي د ځو خپلوانو په ګډون هره ورځ په دې موخه کاري او مرستندوى مجلسونه جوړيږي چې په څه ډول ښه ستن يا دسمال ترتيب کړي، د ټنګورو استقبال په څه ډول وکړي، پېغلې ته په دې ورځ کوم ډول کالي بايد ور واغوستل شي او کوم مراسم بايد ترسره شي، څرنګه خېښانو ته لازمه بوخځه برابره شي؟ همدارنګه هڅه کوي چې خپل کور د کوزدې مراسمو ته تيار، ښکلى او پاک کړي په دې مانا چې فرشونه يې پرې وينځي، غولي او دېوالونه يې په سپينه او تازه خاوره و موښي او را سپين يې کړي. د همدې کورنۍ نارينه مشران هم د خپلو يو شمېر خپلوانو او تجربه دارو اشخاصو په مرسته په دې چارو بوخت شي چې څرنګه د مېلمنو ښه خدمت او مېلمه پالنې ته ځانونه چمتو کړي، جومات يا حجره په څه ډول فرش کړي، توشکې پکې هوارې او تکيې پکې کښېږدي، د ښې لپاره تېره کښېنوي، لازمه سودا واخلي، ضروري خواړه او مېوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او داسې نور څيزونه کورته راوړي. همدارنګه د ملا صاحب، نږدې خپلوانو او مشرانو لپاره د جامو، چپنو، لونګيو او پټوګانو برابرول هم په پام کې نيسي.
د وردګو د سيمې مشهور ليکوال او شاعر ګل اغا احمدي وردګ دغې مسالې ته ډېرپام کړی دی او د (خپلسۍ) په نوم کتاب کې يې د وردګو د کوژدې او واده دود په ساده او روانو دوديزو اصطلاحګانو تشريح کړی دی چې دلته به ترې يادونه وکړو:
((کله چې هلک او نجلۍ د ځوانۍ داسې مرحلې ته ورسيږي چې بايد نوې کورنۍ تشکيل کړي نو د لازمو امکاناتو، کور، ولور او د لګښتونو په پام کې نيولو سره د دوی مور، پلار، مشران، ورونه، خويندې او يا د کورنۍ سرپرست د دوی د کوزدې په هکله فکر کوي.)) او د کوژدې لپاره چمتو والی نيسي.
په وردګو کې د کوژدې لپاره لومړی غږ د هلک د کورنۍ له خوا پورته کيږي او زموږ په ټولنه کې هېڅکله د نجلۍ پلارګنۍ چاته نه وايي چې ګواکي د هغوی لور ځوانه شوې او د کوزدې او واده کولو مرحلې ته نږدې شوې ده او پلانکي هلک ته يې ورکوي يا له پلانۍ کورنۍ سره دوستي کوي. همدارنګه د وردګو په ټولنه کې د مروج عرف له مخې دا خبره ډېر ستر عيب ګڼل کيږي چې که يو څوک ووايي چې زما لور پېغله شوې او پلانکي ځوان ته يې په نکاح ورکوم. بلکې کله يې چې خور يا لور د کوزدې مرحلې ته ورسيږي نو غوږ يې نيولی وي چې څوک به ورسره د خپلې ځوانې پېغلې په هکله د دوستۍ د تړون وړانديز کوي او دوی به له ژور غور او دقت څخه وروسته د هو يا نه ځواب ورته وايي ځکه چې د وردګو خلک د خپلو مذهبي او ديني لارښوونو له مخې دا نه خوښوي چې يوه نجلۍ د د پلار په کور کې تر وروستي عمره پاتې شي او يا هم د ژوند ډېره برخه د خپل پلار په کور کې تېره کړي ولې که کومه نجلۍ په خپله خوښه وغواړي چې د ژوند ترپايه واده نکوي د پلار لخوا کوم ممانعت نشته.
له بلې خوا زموږ په ټولنه کې ځوان هلک په پټه يا ښکاره تو ګه خپلې مور، خويندو، همزولو او ملګرو ته دا خبره ثرګندولی شي چې ګواکي ولې واده نه ورته کوي؟ يا خو دا چې په کور کې ناغيرې را واخلي او ځينې داسې اعمال ترې صادريږي چې د نورو ورته پام شي او د واده لپاره د ځوان غوښتنه منعکس کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو پېغله نجلۍ هېڅکله دا حق ځانته نه ورکوي چې د دې خبرې اظهار وکړي چې ګواکي ولې يې د خپل قسمت کور ته نه واده کوي. له همدې کبله د ځينو کورنيو پېغلې له پېغلتوب وروسته د ډېر وخت لپاره د خپلو پلرونو په کورونو کې پاتې کيږي. حتی خبره تر دې حده را رسيږي چې له کوم شرعي عيب، ځانګړې ناروغۍ او يا ستونزې پرته ځينې پلرونه خپله يوه لور د زوی په نامه او ځينې وروڼه خپله يوه خور د ورور په نامه په خپل کور کښېنوي چې بکره ورته وايي او نوموړې ښځه هم د افغاني غيرت او شرم له مخې د خپل سر وښتان د پلار او يا ورور په کور په داسې حال کې سپينوي چې د کورنۍ ټولو غړو ته محتاجه وي، هېڅوک ورته په ښه سترګه نه ګوري او بالاخره د زړه ګنې هيلې قبر ته ور سره وړي.
په وردګو کې د کوژدې لپاره د تصميم نيولو پروسه مختلفې مرحلې لري چې خو مخکې له هر څه د دې خبرې واضح کول ضروري دي چې زموږ په ټولنه کې د ځوانانو وروڼو او ځوانانو خويندو تر منځ د واده په هکله نوبت مراعات کيږي په دې مانا چې هڅه کيږي څو لومړی مشرانو ځوانانو او پېغلو ته ودونه وشي او بيا په ترتيب سره هغوی ته چې په دوی پسې وي، خو ډېره لږ داسې پېښه شوې چې له مشر ورور څخه دې کشر ورور او يا له مشرې خور څخه دې کشرې خور ته د مخه واده وشي.*

## د نجلۍ کتنه

د پېغلې کتنه په وردګو کې د کوژدې لپاره لومړی او ضروري ګام ګڼل کيږي په دې مانا چې هغې کورنۍ ته د بې واده ځوانانو د کورنيو د ښځو ورتګ پيل کيږي چې پېغله لور يا پېغله خور لري او ممکن په خپلوانو او يا کليوالو کې داسې پېښې شي چې يو ځوان د خپل ژوند د ملګري په توګه يوه خوښه کړې پېغله په داسې حالت کې له لرې يا نږدې واټن څخه و وينې چې نوموړې پېغله د همدې کليوال نارينه ځوان په نيت پوهه نه وي. همدارنګه که د هلک لپاره د خوښې کړې پېغلې مخامخ ليدل ممکن نه وي نو نوموړی هڅه کوي چې د خپلو خويندو، مور او يا نورو ښځينه خپلوانو له لارې د خوښې کړې پېغلې د ښکلا، اخلاقو، دينداري،

---

* (۲) ۱۴- ۱۵ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسب، هنر او کاري ورتیاوو په هکله معلومات لاسته راوړي او په عمومي ډول د ځواني پېغلې په هکله دغه ډول معلومات د ځوان زلمي کورنۍ ته د هغو ښځو په وسیله په لاس ورځي چې د پېغلې د کتلو دنده یې په غاړه وي. •

## د پېغلې کورنۍ ته د ښځو ورتګ دوه ډوله وي

لومړی دا چې که چېرې کتونکې ښځې په دې ډاډه وي چې ځوانه پېغله نه ترې پټېږي او کورنۍ یې هم د دوی د نیت د پوهېدلو په صورت کې په دې هکله کومه ستونزه نه پېښوي نو د ځوان هلک د کورنۍ له لوري کتونکې ښځې په ښکاره توګه ورځي د نجلۍ له مور سره موضوع شریکوي او پېغله په داسې حالت کې له دوی سره ګوري چې ښکلې جامې یې آغوستې وي او پر ځان یې د ښایست او سینګار تازه ګوتې وهلې وي. په دې حالت کې کتونکې ښځې د پېغلې ښکلا، د پوستکي رنګ، ونې، سترګو، د سر وېښتانو، د بدن چاغوالي یا ډنګروالي، حرکاتو، خبرو او ټولو هغو چارو ته متوجه کېږي چې له لیدونکې پېغلې څخه یې د لیدلو تمه وي.

دویم دا چې که چېرې کتونکې ښځې په دې خبره ډاډه نه وي چې دوی به په مخامخ توګه په خپله موخه کې بریالۍ نه شي نو د پېغلې کورنۍ ته ناڅاپي او یا په داسې یوه پلمه ورځي چې په ښکاره توګه د پېغلې له لیدلو سره کوم تړاو نه لري. نو کله چې د کور د ننه ورشي په نښه کړې پېغله د هغو اوصافو له مخې ګوري چې مخکې یې یادونه و شوه. خو باید وویل شي چې د ځینو کورنیو ښځینه غړې د ناخوښۍ په صورت کې د کتونکو ښځو لپاره ستونزې هم پېښولی شي او خپله پېغله ترې پټوي، یا دا چې د ناخوښۍ په صورت کې شاید په خپله پېغله و نه غواړي چې هغوی ته ځان ور و ښیي نو له همدې کبله داسې هم پېښېږي چې کله کله ممکن کتونکې ښځینه پلاوی د پېغلې کور ته په بیا بیا ورتګ سره بیا هم په خپله موخه کې بریالۍ نه شي او د خپل ځوان لپاره په نورو کورنیو کې پېغله و ګوري.

ګل اغا احمدي وایي:

---

• (۲) ۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپښی د وړاندیز په صورت کې د ځوان خوښول زموږ په ټولنه کې پخوا په ډېره پیمانه رواج نه وو خو اوس مهال هڅه کیږي چې د دوو کورنیو د خپښی په موضوع کې له هر ډول پرمختګ څخه د مخه د هغه ځوان په هکله هم لازم معلومات لاسته راوړل شي چې د پېغلې کورنۍ ته یې د خپلوۍ وړاندیز کړی دی چې په خپل ځای کې به بحث پرې و شي.

د وردګو د ترلې ټولنې د رواجونو، عنعناتو او سننو له مخې شاید ډېرې کمې پیغلې د دې چانس و لري د خپل ژوند ملګری له کوزدې څخه د مخه خوښ او خپله کورنۍ له خپل هوډ څخه خبره کړي بلکې دا خبره زموږ په ټولنه کې ډېر ستر عیب ګڼل کیږي.

## د پېغلې خوښول

د پېغلې تر کتلو وروسته د هلک د کورنۍ مشران د خپل ځوان زوی سره خبره شریکوي چې ګواکې د دوی د ښځینه پلاوي له خوا پلانکۍ پېغله لور یا خور په دې موخه خوښه شوې ده چې نوموړي ته یې د ګډ ژوند د ملګرې په توګه انتخاب او د هغې د کوزده کولو هڅه وکړي. کله چې هلک له دې کار سره موافقه وکړي نو په هغو لارو چارو غور کیږي چې په څه ډول د نجلۍ یا پیغلې کورنۍ ته خبر ورکړي چې دوی یې د خپل ځوان زوی لپاره د هغوی پېغله خور یا لور خوښه کړې ده. کله کله داسې هم کیږي چې د پېغلې په هکله د کورنۍ د خوښې په صورت کې هلک ته هېڅ راز خبر نه ورکول کیږي یا دا چې هلک مسافر او په مزدورۍ پسې ورک وي خو کورنۍ یې نوموړي ته پېغله خوښه کړې وي او ده ته یې د کوزده کولو تکل کوي. همدارنګه د نجلۍ کورنۍ چې کله د هلک د کورنۍ له لوري د دوستۍ په نیت پوه شي نو هڅه کوي چې د پېغلې کورنۍ هغه هلک و ګوري چې د دوی راتلونکی زوم جوړیږي او معلومه کړي چې څنګه سړی دی، سیرت او صورت یې څنګه دی، کوم عیب خو به نه لري، ځواني او ښایست یې څنګه دی، ایا زده کړې لري او که نه، او که زده کړې لري نو درجه یې څومره ده، څه دنده لري، اقتصادي وضعیت یې څنګه دی، اخلاق یې څه ډول دي، د دینداری کچه یې څنګه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګري يې څوک دي، ايا په چلم، سګرېټ، نسوارو، هېروينو، ترياکو او يا نورو نشه يي توکو خو به روږدي نه وي، په کور کې يې د خپلو والدينو، ورونو او خويندو سره وضعيت څه ډول دی او داسې نور؟ خو په پخوانيو دودونو کې د نجلۍ د کورنۍ له لوري د هلک ليدلو ته دومره اهميت نه ورکول کېده بلکې د هغه باور په بنسټ به يې د هلک د صورت او سيرت په هکله ډاډ حاصلاوه چې د رويبارانو او د پېغلې د خپلوانو ښځو له خوا به د نجلۍ د کورنۍ غړو ته ورکړ شو. کله کله به د غه معلومات ناسم ثابت کېده چې د دواړو کورنيو تر منځ به يې بيا وروسته ستونزې هم رامنځته کولې او که به تر خپښې وروسته د هلک د صورت او سيرت په هکله د نجلۍ د کورنۍ غړو هر څومره ملاحظات درلودل ګټه به يې نه کوله ځکه چې کار به تر کار تېر وو.•

• (۲) ۶- ۷ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرکه لېږل یا رویباري

په وردګو کې رویباري هغه ورتګ ته ویل کیږي چې د خپلې کورنۍ یوه ځوان ته د بلې کورنۍ د پېغلې د کوزده کولو یا په بله مانا د دواړو کورونیو تر منځ د خپښۍ او دوستۍ د رامنځته کولو په هدف تر سره کیږي او هغه کسان چې په دې پلاوي کې شامل وي مفرد ته یې رویبار او جمعې ته رویباران ویل کیږي. په لومړي رویبارۍ کې کېدای شي یو شخص یا له یوه څخه ډېر کسان شامل وي خو غالباً دغه پلاوی د هلک د کورنۍ له درېیو ډېرو نږدې کسانو څخه نه زیاتېږي ځکه چې که چېرې د نجلۍ کورنۍ د همدې خپښۍ او دوستۍ د وړاندیز په هکله موافقه ورسره و نه کړي چې عام ولس پرې خبر نه شي، د زلمي شخصیت او یا کورنۍ ته کومه عیب جنه خبره متوجه نه شي یا دا چې څوک د نجلۍ د پلار ذهنیت ته ددې دوستۍ په هکله ناسم معلومات ور نه کړي او پښېمانۍ ته یې و نه هڅوي.

د رویبارۍ په موخه چې لومړی ځل پلاوی د پېغلې کره ورځي نو کېدای شي د کور غړي یې په لومړي سر کې په موخه پوه نه شي او د عادي مېلمنو په څېر چلند ورسره وکړي خو رویباران په داسې موقع د پېغلې د کور مشرانو ته د خپښۍ او دوستۍ یا دونه کوي چې په مجلس کې پردي کسان موجود نه وي. که غرمې د ډوډۍ پر مهال ورسره مېلمانه شي نو د غرمې له ډوډۍ تر صرف کولو وروسته د چای خوړلو پر مهال د خپښۍ یادونه ورته کوي او که د ماښام له لوري ورسره مېلمانه شي نو د بېګاه د ډوډۍ وروسته د چای چښلو پر مهال په داسې توګه د دواړو کورنیو تر منځ د خپښۍ یادونه کیږي چې لومړی د راغلي پلاوي په ترکیب کې د یوه هوښیار، په خبره پوه او تجربه کار شخص په وسیله په غیر مستقیمه توګه د مجلس مرکزي ټکی د انسانانو تر منځ د خپښیو او دوستیو اهمیت ته ځانګړی شي. ممکن د هغې په شرعي اړخ خبرې وکړي، په ټولنه کې د ځوان هلک او ځوانې پېغلې پر دریځ خبره منځته را واچوي او بیا د دوی په هغه حق خبرې وکړي چې شرعي نکاح، د دوو کورنیو د خپښۍ پر اهمیت، د نارینه او ښځینه تر منځ د ګډ ژوند پیل، د نېکو اولادونو روزنه، د هوې بختورې کورنۍ او ښې ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړښت يې مهم اړخونه تشکيلوي. همدارنګه په دې ډول مجلسونو کې يو لړ هغو برياليو او مثالي خپلويو ته هم لنډه اشاره کيږي چې د تاريخ په اوږدو کې د دوی د خپلوانو، دوستانو يا کليوالو تر منځ شوې او ښې پايلې يې درلودلې وې او ممکن دغه مشهوره خبره هم وکړي چې (ښه خپښي باغ ده او بده خپښي د زړه داغ).
کله چې دغه راز خبرې د مجلس مرکزي ټکي و ګرځي نو د هغه اصلي مطلب سرليک را برسېره کيږي چې دغه پلاوی يې نو موړي کورته د مېلمنو او رويبارانو په توګه راوستلي وي. دا خبرې په دې ډول پيل کيږي چې شکر زموږ پلانکي ځوان شوی، ښه سړی دی، د ښه خوی، ښې پوهې، ګټور کسب او غوره تجربې خاوند دی او موږ غواړو چې تاسو زموږ پلانکی زوی يا ورور د خپل زوی يا غلام په حيث و منئ او ستاسو پلانکۍ چې اوس نام خدای پېغله شوې او هغه وخت يې را رسېدلی دی چې پرده يې پر ځای شي او د خپل ژوند لپاره ښه ملګری و مومي نو د دې لپاره چې خور يا لور اخر د بل کور ده او د خپل قلم او قسمت له مخې بل کورته ودېږي نو ښه خبره دا ده چې تاسو له موږ سره خپښي وکړئ.
کله چې د راغليو مېلمنو يا رويبارانو له خوا د اصلي موخې مطلب ښکاره شي نو د نجلۍ پلار د ډول ډول فکرونو او سوچونو نړۍ ورسره په مخه او په غوږونو کې يې ډول ډول غږونه انګازې خپرې کړي. ځينې هغه کسان چې د مخکينې تفاهم له مخې چې غالباً د ښځو په وسيله رامنځته شوی وي او د خپلې کورنۍ له غړو سره يې خوښه کړې وي په همدې مجلس کې رويبارانو ته د ټاکلي وخت وعده ورکوي چې ګواکې د دعا لپاره په پلانکۍ نېټه راشئ. خو هغه کورنۍ چې د لومړي ځل لپاره د داسې يوه وړانديز سره مخ کيږي چې مخکې ترې ناخبره وي، نو رويبارانو ته که د دې غوښتنې پايله منفي يا مثبت وي، مستقيم ځواب نه ورکوي بلکې ورته وايي چې دا ښه کار دی، ستاسو څخه ډېره مننه چې له موږ سره مو دوستۍ يا خپښۍ ته زړه ښه کړی دی، که قسمت وو نو دا ښه خبره ده ځکه چې متل دی وايي:
( سل يې غواړي، يو يې وړي) موږ به خپله خوښه وکړو او احوال به درکړو. که له خوښې وروسته د پېغلې د کورنۍ د مشر ځواب د رويبارانو د وړانديز په هکله منفي وي نو خبره د يوې يا دوو ورځو په تيرېدو سره په يوه لنډ ځواب مقابل طرف ته روښانه کوي چې د دې کار هيڅ راز امکانات نشته او تاسو په دې موخه زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ته د بل ځل راتګ تکلیف مه باسی او که ځواب مثبت وي نو هغوی ته د دعا لپاره د ټاکلې نېټې وعده ورکوي.
په وردګو کې چې کله د پېغلې د کورنۍ مشران د خېښۍ په موخه د ځوان د کورنۍ له وړاندیز سره مخ شي نو هڅه کوي چې په دې هکله ژور فکر، هراړخیزه مشوره او له ټولو اړوندو نارینه او ښځینه کسانو سره خوښه وکړي. د دې ډول مشورو ځواب که مثبت وي نو د نجلۍ د مور، مشرې خور، انا، کاکاناوې، مامۍ او یا بلې کومې مشرې ښځې په وسیله له پېغلې سره هم خوښه کېږي خو زموږ په ټولنه کې په دې هکله د پېغلې ځواب مستقیم نه وي چې د خوښې په صورت کې په زړورتوب او ښکاره توګه (هو) یا (نه) ووايي بلکې د نوموړې موسکا، چوپوالی، له صحنې څخه منډه ځان پناه کول، لنډکۍ ژړا او یا دا خبره (هر څه چې کوی) د هغې مثبت ځواب ګڼل کېږي. خو دا یو حقیقت دی چې زیاتره وخت که د نجلۍ کورنۍ د هلک د کورنۍ له لوري د وړاندیز شوې خېښۍ په هکله مثبت فکر و لري او پېغله د خپل ربښتني منفي ځواب د ښکارولو په هکله هر څومره ژړا، شور، فریاد، بدې ورځې او غالمغال وکړي نو د نوموړې د کورنۍ غړي د خپلې پېغلې خوښې ته کوم اهمیت نه ورکوي بلکې د هغې خوښه مثبته ارزوي. له همدې کبله د ناخوښۍ په صورت کې کله کله ځینې پېغلې خپل غبرګون ډېر تونند څرګندوي او د ځان وژنې تر هڅې پورې رسیږي.•

## د ستنې راوړل یا ننبه

هغه ګل یا ځونډۍ چې د خېښۍ د ننبې په توګه یې په لومړي سر کې د پېغلې کورنۍ د هلک د کورنۍ څخه راغلیو رویبارانو ته ورکوي، ورته مالګه یا ننبه هم ویل کیږي خو دا چې ولې دغې ننبې ته مالګه ویل کیږي لاسته راغلي معلومات ښیي چې مالګې ته زموږ د وګړو تر منځ د یوه تبرک په سترګه کتل کیږي او پخوا به د خېښۍ د لومړي مجلس په لړ کې د دعا پر مهال د دواړو کورنیو د مشرانو تر منځ له ګل یا ځونډې سره یو ځای یوه اندازه مالګه هم ایښودل کېده، یا به ځونډې

• (۲) ۷- ۸- ۹ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګنډل کېده او بیا به د دوستۍ د نښې په توګه رو‌یبارانو ته ورکول کېده. بل دا چې مالګه د خوردې په نامه په ځینو زیارتونو کې اېښودل شوې وي او د منجورو په لاربښوونه یې زیارت کوونکي د تبرک په نامه څکي او خپلو ناروغانو ته یې د شفا په موخه له زیارتونو څخه کورونو ته وړي. همدارنګه مالګه په هغه لفظ کې هم استعمالیږي چې یو شخص د افغانانو یوه کور ته ولاړ شي، هلته ډوډۍ وخوري، چای او یا اوبه وڅښي نو وایي آو نمک یې راسره شریک کړ نو د ژوند تر پایه د همدې آونمک د شریکېدو ځانګړی احترام کوي، د همدې کورنۍ ګټې په پام کې نیسي او هغه ته د خپل ژوند تر پایه د څه ضرر رسولو څخه ډډه کوي.
کله چې د دوو کورنیو تر منځ د نوې خپښۍ لومړۍ نښه د نجلۍ له کوره د هلک کورته یوړل شي نو که په نږدې ورځو کې د دې کلي څخه څوک مړه شوي نه وي، خپل کلي ته له رسېدو سره سم د رو‌یبارانو له خوا د ټوپک ځو ډزې کېږي، د کلي ټول هستوګن خبریږي، د همدې کورنۍ د خپلو ټولو دوستانو او خپلوانو سره یو ځای د نوې خپښۍ زېری د خوښۍ په ولولو کې بدرګه کوي.
په وردګو کې به چې کله د مخکینۍ پرېکړې له مخې د شیرنیي خورۍ د محفل پر مهال د پېغلې د کورنۍ له خوا د ستنې د ورکولو پریکړه شوې وه نو ستن به ورکول کېده. ستن له داسې یوه مثلث ډوله تشکیل څخه عبارت ده چې په منځ کې یې یوه برابره هېنداره په مریو پوښل شوې وي او شاوخوا یې په ډول ډول ځونډیو پوښل شوې وي. د ستنې ځونډې له وړو او غټو مریو، ګلباتونو، وربښمو، سونډو، زرتارو، بوربوو، بدامچو، سیتارو، خالونو، تخرېتیو، لونګو او داسې نورو ځیزونو څخه جوړیږي او د مثلث په سر کې بیا یوه داسې غورغۍ ورته جوړیږي چې د کلپې ستنې په مرسته د یوه شخص په اوږه کې بنده شي. ځینې خلک د ستنې په مثلث کې د لویې هنداري په شاوخوا کې ځو وړې هنداري هم د مریو په مرسته پوښي او په شاوخوا یې ډول ډول ګلان کوي او ددې ډول کوچنیو هندارو لړ برخه د ستنې په منځ کې د لیدلو وړ وي. دغه ډول ستنې د ښځو په وسیله جوړیږي او زموږ د ټولنې د ښځینه طبقې د لاسي صنایعو زېږنده دي. په ستن کې همدارنګه د غنمو وږی، د مالګې یوه کوچنۍ ټوټه او د مېږې یوه بچه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې باور ګنډل کيږي چې ناوې د خپل خاوند په کور کې روزي منه او د ښو ځارويو خاونده شي.
په ستن کې د ورايځې د شاملو کسانو شمېر د ناستې په تناسب زيات نه وي، لګښتونه يې عادي او د نجلۍ د پلار په غاړه وي. همدارنګه په ستن کې د دواړو لوريو ځخه ډېر کسان نه راغوښتل کيږي او په ستن کې هلک يا زوم اجازه نه لري چې له ورا سره د خپلو خسرخېلو کره ولاړ شي او يا د چغل بازۍ زمينه لاسته راوړي.
کله چې د ستنې د راوړلو ورا د نجلۍ کلي ته ورسيږي نو ښځې درياوې وهي، سندرې بولي، اتڼ کوي او له رسېدو وروسته پوښ ښکاروي او نجلۍويني. نارينه بيا د ټوپک ځو هوايي ډزې کوي، هغه جومات يا ستر مېلمستون ته ځي چې مخکې له مخکې په ښکليو فرشونو، ټغرو، لمڅيو، توشکو، بالښتونو او تکيو فرش شوی وي. همدارنګه د نجلۍ د کلي ټول مشران او خپښان يې مخې ته را وزي او د ورا له ټولو لويانو نارينه وو سره په غېږ ستړي مه شي يا روغبړ کوي او بيا يې جومات يا هغه لوی مېلمستون ته بيايي چې مخکې له مخکې ورته فرش شوی وي. اوس مهال جومات يا لوی مېلمستون د ټغرو او لمڅيو په ځای په ډول ډول خارجي موکيټ او غاليو فرش کيږي، لومړی ورا ته له شيدو، کوچو، پېروي، مربا، غونډاريو، نينو او داسې نورو ځيزونو سره يو ځای چای او بيا وروسته د غرمې ډوډۍ ورکوي چې د پلو، ښوروا او قورمې تر ځنګ مېوه، مستې، سلاته او داسې نور ځيزونه په ترکيب کې شامل وي.•

---

• (۲) ۱۶- ۱۷ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ستن ( ستنې ) د ورکړې دود

هغه دود چې په ستن ورکول کې تر سره کېږي په لاندې ډول دی:
کله چې د هلک کورنۍ د نجلۍ په کور کې ډوډۍ خوري تر هغه وروسته ستن چې په یوه پتنوس کې چې یو شین ټوکر ورباندې اچول شوی وي د نجلۍ د کور د غړي له خوا د یو چا په شا باندې ټومبل کېږي له دې سره د مېوې یو پنډوکی هم ورکول کېږي چې د خولې خوږلوو لپاره وي، مېلمانه او نور خلک د هلک پلار ته مبارکي ورکوي او د نجلۍ له کور څخه وځي.
په وردګو کې ټېټ ولور له درې لکو څخه بیا تر شپږو لکو ځینې وخت تر اوو یا اته لکو افغانیو پورې ټاکل کېږي په ولور سربېره ټکري، نکریزي، غوښه، اوړه، وریجې او نور شیان ټاکل کېږي.
راګرځو خپلې پاتې موضوع ته: د نجلۍ د کوره له راوتو او د هلک کور ته په رسېدو د خوښۍ د اعلان لپاره ډزې کوي، له دې ډزو سره د کلي خلک خبرېږي او د هلک کور ته د مبارکۍ په لپاره راځي د هلک په کور کې څو ورځې خوشالۍ، نڅاوې او سندرې وي.

## د ستنې ښکلا او جوړښت

رنګارنګ مرۍ، شیرینۍ، لونګ، رنه مالګه په وربښمو پوښ شوې آینې، واړه ځونډي، سیکې د غنمو دانې، د وزو او مېږو پچې د دود په شکل په کې نغاړي.
د شیرنۍ ټومبل په ستن کې دا مانا لري چې د هلک او نجلۍ زړونه یو له بل سره خواږه شي، لونګ ځکه ږدي په کې چې د دوی په کور کې پاکي او ښه بوی پیدا کوي. د آینې مفهوم دا دی چې سپېڅلتوب او رڼا یې په کور کې پیدا شي، د غنمو له دانې څخه یې موخه دا ده چې د هلک کور د غلو او دانو څخه ډک شي، د پچو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وجه يې دا ده چې د هلک کورنۍ د ښې رمې لرونکې شي، مالگه هم په ژوند کې د خوند د پيدا کولو او مالگې ته د درناوي په وجه ټومبي.•

## د هلک کور ته د ستنې رسېدل

کله چې د ستنې ورا خپل کلي ته ورسيږي نو هغه شخص چې غالباً هلک يا نوی ځوان وي چې ستن يې په سر يا اوږه کې ټينگه کړې وي د ځانگړي وياړ احساس کوي او د ورا په مخکې روان وي او په ورا کې د ټولو شاملو کسانو تر ځانگړې پاملرنې لاندې په ناز قدمونه اخلي. په ورايځه کې ټوپک ويشتونکي ځو ډزې کوي، هغه ښځې چې له پوښ سره تللې وي د خپلو سندرو او درياوو وهلو ته نهايي زور ورکوي او د هغې خوا څخه د هلک د کور او کلي ښځې چې د ستنې راوړلو ته انتظار باسي دغه بهير په سندرو سره پالي، درياوې وهي او په ځينو ځايونو کې خو نارينه ځانته او ښځينه ځانته اتڼونه جوړوي، هوايي ډزې کوي، خپل ټوپکونو او چادرونه هم د خوښۍ په موخه په لاسونو کې نيسي او ورسره نڅيږي. هغه ښځې چې د ستنې او ورا انتظار کوي په سندرو او درياوو سره سره د ورا لور ته د نېکمرغۍ په موخه اوبه او مېوه ور شيندي او هغه ځوان يا هلک په ډير ناز او خوښۍ سره د کور انگړ ته بيايي چې ستن يې په سر کې ټينگه وي او کومه مشره او مخوره ښځه يې له سر څخه را خلاصه او هلک يا نوی ځوان د جار او قربان په کليماتو او ښکلولو سره نازوي، ستن يې له اوږې يا سر څخه را خلاصه او د اتڼونو، درياوو او سندرو په بدرگه يې د خپل کور هغې خونې ته وړي چې مخکې له مخکې ورته ټاکل شوې وي. په ځينو کليو کې هغه هلک يا نوی ځوان چې ستن يې په اوږه ټينگه وي تر هغه پورې د ستن له خلاصولو څخه ډه ډه کوي ځو چې د کور د ښځينه مشرانو څخه يې نغدي ډالۍ تر لاسه کړې نه وي. د دې لپاره چې په ستن باندې په دې وروستيو کلونو کې د نغدو پيسو ټينگول زموږ په ټولنه کې رواج شوي دي نو له ستنې څخه لاندې يو ښکلی او لوی دسمال په دبوال ځړول کيږي او د ستنې د راوړلو سره سم هغه دوستان او خپلوان نغدي روپۍ پرې

---

• (۴) ۱۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټېنګوي چې له ستني څخه ليدنه کوي او په دې سره د خپلې خپلوۍ او خوښې ولولې د پېښې له خاوندانو سره شريکوي.
په وردګو کې کله چې په کوم کلي کې مړی وشي نو له يوې مياشتې څخه نيولی تر دريو مياشتو پورې د مړي له کورنۍ سره د غمرازۍ، همدردۍ، غمشريکۍ او مړي ته د احترام په موخه په کلي کې هستوګن وګړي يا کليوال خپله خوښي په داسې توګه نه ښکاره کوي چې غم ځپلې کورنۍ او يا نور کليوال يې د ساز يا سندرو غږ واوري او يا د خوښۍ ډزې وکړي. حتی په همدې وخت کې خبره تر دې حده رسېږي چې که کومه کورنۍ و غواړي د خپلو عزيزانو په واده هرو مرو سيل جوړ کړي نو له غمجنې کورنۍ څخه رسماً اجازه غواړي او بيا خپله خوښي کوي خو بيا هم نور کليوال دغه عمل ته په ښه سترګه نه ګوري. له همدې کبله د نوې خپښې په مناسبت د وردګو په کليوالي سيمو کې هغه وخت ډزې کېږي چې په کلي او ګاونډ کې په نږدې وختونو کې مړی نه وي شوی او دغه ډول ډزو ته ښادنامې هم ويل کېږي او د جهاد پر مهال خو داسې رواج هم په کليو کې دود شو چې د همدې کورنۍ د کلا په مخکې به يې ګڼو خپلوانو او دوستانو هم د خوښۍ ډزې او ضربې کولې او که به يې دوست جهادي کوماندانوو نو بيا خو د يوې پوره جګړې کارتوس په هوايي ډزو کې مصرف کېدل.
مبارکي په وردګو کې هغې مرحلې ته وايي کله چې د هلک د کورنۍ خپلوان، دوستان او کليوال په نوې دوستۍ خبر شي نو د نارينه او ښځينه وو ډلې همدغې کورنۍ ته د مبارکۍ په موخه را ماتې شي، په کلي، جومات، حجرو، سپاڅو او پېټاوونو کې د مجلسونو او بانډارونو پر مهال هم د دې کورنۍ غړو ته د خپلو کليوالو له خوا مبارکي ويل کېږي. همدارنګه ټول کليوال او په ځانګړې توګه ښځينه طبقه خو دغه دوستي د ټول کلي دوستي ګڼي او د نوموړې کورنۍ له غړو سره په هغو خوښيو، سندرو، اتڼونو، نڅاوو، درياوو او خوشحاليو کې هراړخيز ګډون کوي چې د څو ورځو لپاره د همدې کورنۍ په چاپېريال کې ادامه پيدا کوي.
خو د نجلۍ پلار يا کورنۍ ته په پخوا وختونو کې د هېچا له لوري هېڅ ډول تبريکي نه ورکول کېده خو اوس مهال چې د خلکو د ځير ساحه د ورځې په تېرېدو سره د پراخېدو په حال کې ده نو رواجونه هم ورسره بدلون مومي خو لا هم دغه ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلون عام شوی نه دی بلکې په سیمه دا سې فضا حاکمه ده چې د همدې کورنۍ له ډېرو نږدې او محدودو کسانو پرته څوک د نوې خېښۍ په هکله مبارکي نه ورته وايي بلکې د خېښۍ په لومړیو ورځو کې د همدې کورنۍ غړي له خپلو کلیوالو او دوستانو څخه د يو ډول شرم احساس کوي او د نوې دوستۍ په هکله هېڅ ډول خبرې خوند نه ورکوي. همدارنګه د خپلې خور یا لور د برخلیک، د نوو خېښانو سره د دوستۍ د پاللو او د زوم د شخصیت په هکله په فکرونو کې ډوب وي.

د نوې خېښۍ له اعلان سره سم د پېغلو په ټولګي کې په ورکړې پېغله او د ځوانانو په ټولګي کې په هلک هم ډول ډول ټوکې کیږي او دوی دواړه په خپلو خپلو کورنیو کې د مشرانو، همزولو او ملګرو دغه راز ټوکې په سړه سینه زغمي، ورکړې نجلۍ د هرې ټوکې په مقابل کې له خوږې موسکا سره یو ځای د شرم احساس کوي خو نامزاد شوی هلک یې بیا دومره پروا نه لري بلکې د خپلو همزولو، ځوانانو او مشرانو له ټوکو سره ځانګړې مینه او موسکا څرګندوي.•

• (۲) ۱۹- ۲۰ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دعا

په وردګو کې د دوو کورنیو تر منځ د خپښۍ او دوستۍ اعلان په دعا سره د هغې مبلمستیا په لړ کې کیږي چې د ټاکلې نېټې له مخې د پېغلې د کورنۍ له خوا د هلک د کورنۍ رویبارانو ته چمتو شوې وي. د دې رویبارانو په ډله کې کېداى شي د ځوان هلک پلار، کاکا، ماما، د کلي ملا امام، ملک او د کورنۍ د مشر کوم نږدې او هوښیار دوست هم راغلی وي او ټولټال یې شمېر له پنځو یا شپږو کسانو څخه نه زیاتیږي. کله کله داسې هم پېښیږي چې د دعا په مجلس کې د هلک له خوا یوائې د هغه پلار، کاکا او مشر وررور ګډون ولري.
د دعا په مجلس کې د دواړو لوریو له خوا له یو بل سره د دوستۍ ځانګړې علاقه څرګندیږي، په تودو دوستانه الفاظو یو بل مخاطب کیږي او خبره مخکې له مخکې معلومه وي. دغه راز مجلسونه د هغو کورنیو تر منځ ژر نتیجې ته رسیږي چې اقتصادي وضعیت یې ښه وي، د سواد کچه یې لوړه وي، د نظر ساحه یې پراخه وي، عادي څیزونو ته کوم اهمیت نه ورکوي او د خپښۍ په ټولو رمزونو پوهیږي. خو د هغو کورنیو تر منځ د دعا مجلس ډېر اوږدیږي او سترونکې بڼه غوره کوي چې اقتصاد یې کمزوروي، د افرادو د څیر ساحه یې محدوده وي، ډېرو وړو مسایلو ته اهمیت ورکوي او د خپښۍ ټول بې مورده او فرعي مسایل په لویه کچه مطرح کوي. حتی داسې هم پېښیږي چې د ځارویو په څېر د پېغلې د ولور (مهر) په هکله له یو بل سره اوږدې او بې ګټې خبرې د دعوو په شکل تبادله شي او هغوی ورته ووایي چې د پلانکي په روی لړ لمن را پرېږده مانا دا چې د ولور او لګښتونو په برخه کې مراعات راسره وکړه. لمن پرېښودل هغه مبلغ ته ویل کیږي چې پلورونکی اړخ یې اخیستونکي اړخ ته د یو شخص او یا یو مناسبت په هدف پرېږدي او نه یوازې د ولور بلکې د پلورلو او اخیستلو په زیاتو لویو معاملو کې مطرح کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دعا څخه د مخه د پېغلې د ولور یا مهر، د شیریني خورۍ پر مسایلو چې ګواکې ستن وي او که ناسته، چغلبازیو او د زوم په پرېښودلو یا نه پرېښودلو، پښه وازي، د واده پر مسایلو او لګښتونو په بشپړه توګه خبرې کیږي او دواړه اړخونه موافقې ته پرې رسیږي. پخوا به دغه مسایل یوازې د شفاهي موافقې په توګه د دواړو لوریو تر منځ پاتې کېدل خو په دې وروستیو وختونو کې یې لیکنه هم رواج شوې او د په دې اړوند د لیکلي سند په پای کې دواړه لوري لاسلیک کوي.
کله چې رویباران او د نجلۍ د کورنۍ مشران په ټولو اړوندو مسایلو توافق ته سره و رسیږي نو بیا د نجلۍ د پلار له لوري د خپښۍ د نښې په موخه یو عادي څونډۍ، برابر د سمال او یا ګل راوړل کیږي او په منځ کې ایښودله کیږي.
په دې وخت کې د مجلس د ګډونوالو څخه یو مشر د قرآن کریم څو ایتونه لولي او که یې ایتونه نه وي زده نو په عادي ډول د دعا لاسونه پورته کوي او د دواړو کورنیو د همېشنۍ دوستۍ او روښانه خپښۍ په هکله دعا کیږي. کله چې دعا پای ته و رسیږي نو د مجلس د لوري لومړی د هلک د کورنۍ مشرانو او بیا د نجلۍ د کورنۍ مشرانو ته د دې دوستۍ په هکله د مبارک مو شه په لفظ سره مبارکي ورکول کیږي او د دعا له پای ته رسېدو وروسته د خپښۍ د نښې څونډۍ، ګل او یا د سمال رویبارانو ته وړاندې کیږي.
که په دې کلي کې په نږدې وختونو کې مړی نه وي شوی نو په وړدګو کې پخوا داسې رواج و چې د هلک د کورنۍ مشران به چې د نجلۍ له کور څخه ووتل نو سمدلاسه به یې د ټوپک یا تمانچې څو ډزې کولې او د همدې ډزو په کولو سره به د دواړو کورنیو تر منځ خپښي په رسمي توګه اعلان شوه.
باید وویل شي چې د پېغلې د کورنۍ ښځې د پېغلې په شمول د دروازې تر وړو سوریو او یا کوم پټ ځای څخه د دې ټول مجلس بهیر څاري، د دواړو لوریو خبرې اوري او د مجلس په پایله باندې ځانونه پوه کوي. کله چې پېغله د خپلو ورکولو یا کوزدې څخه خبره شي نو که په زړه باندې هر څومره خوشحاله او له نوې دوستۍ څخه راضي وي خپل لومړی غبرګون په ډېرو حالاتو کې په ژړا سره څرګندوي.
که کومه ښځه ورته ووایي چې پلانکي ته یې ورکړې نو پېغله وایي: (نو زه څه وکړم چې ورکړې یې یم). همدارنګه ورکړې نجلۍ هڅه کوي چې چاته په مخه ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه شي، د دعا په لومړيو شېبو کې تر نامعلوم وخت پورې له عام منظر څخه پټه وي او يوازې خپلو کوچنيو ورونو او خويندو ته ځان ور ښودلی شي. خو د پېغلې مور د مشرانو لونو په ملتيا د خپلې تجربې له مخې هڅه کوي چې نوې کوزده شوې نجلۍ پيدا کړي، دلاسا يې کړي او د مورنۍ مينې په الفاظو يې و نازوي او په دې حقيقت پوه کړي چې خور او لور آخر د پردي کور ده. همدارنګه له دې سره جوخت ډېر ژر په لرې او نږدې کليو کې د نوې خبښۍ په هکله اوازه خپره شي او د کلي ښځې يې په دې الفاظو سره يادوي: (اخی نامينده کی نه شې خبره يې که نه، پلانکۍ پېغله يې د پلانکي زوی پلانکي ته ورکړې ده).•

• (۲) ۱۰- ۱۱- ۱۲ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایجاب او قبول

ایجاب او قبول د وردګو په سیمه کې له دعا وروسته کیږي یعنې کله چې دواړه خواوې راضي شي نوله دعا وروسته د لویې ستنې یا ګل وړلو نېټه ټاکل کیږي چې د کلي د امام یا د سیمې د یو عالم لخوا د ایجاب او قبول مراسم د دیني اساساتو له مخې ترسره کیږي، ایجاب او قبول ته ځکه ارزښت ورکول کیږي چې که له واده د مخه هلک او نجلۍ سره نږدې وویني نو په اصطلاح کوچنۍ نکاح یې تړل شوې ده نه ګنهګاریږي دویم دا چې د خسر، خواښې او د زوم د نورو خپلوانو محرمه او خپله ګرزي چې د راتلو پرمهال یې لیدلای شي او لیدل یې د محرمو اشخاصو لپاره شرعي او قانوني ګرځي، دا چاره د وردګو د ټینګې اسلامي عقیدې او د اسلام پر اساساتو د ولاړ فرهنګ ښکارندويي کا.

ایجاب او قبول معمولا تر دعا وروسته د یو لړ ځانګړو مراسمو پر مهال کیږي، په دې مراسمو کې د زوم پلار مور کاکا او نور نږدې خپلوان د پېغلې کورته راځي، د نجلۍ د کورنۍ له خوا د ډوډۍ ځانګړي ترتیبات نیول کیږي، د زوم سره راغلو دوستانو ته د نجلۍ د کورنۍ لخوا ډالۍ ( جامې ) ورکول کیږي او د زوم خپلوان نجلۍ ته پیسې اچوي، که زوم راغلی وي نو زوم هم خپله ونډه اچوي او تر نورو ډېرې پیسې اچوي، د پیسو اچول بېلا بېلې طریقې لري، یو شمېر ځوانان یې خپلې خواښې ته ورکوي، یو شمېر نور یې خپلې کوژدنې ته ورکوي او زیاتره یې په هغه د سترخوان کې اچوي چې ډوډۍ یې پکې خوړلې وي، دا پیسې اچول د زوم تر اقتصاد پورې اړه لري که د زوم مالي توان کم وي کمې پیسې اچوي او که مالي توان یې زیات وي زیاتې پیسې اچوي خو معمولا دا پیسې له زر افغانیو نیولې تر شل او دېرش زره افغانیو پورې وي.

په وردګو کې د شیریني خورۍ د مجلس پر مهال که هغه ناسته وي او یا ستن وي نو له ډوډۍ خوړلو وروسته د هلک او نجلۍ د شرعي وکیلانو تر منځ د ټاکلي ملا صاحب په منځګړیتوب د ایجاب او قبول مراسم تر سره کیږي. په دې ډول چې د نجلۍ له لوري د نومورې پلار یا کاکا او هلک له لوري د هغه پلار، کاکا، ماما یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل سرپرست د ولي يا شرعي وكيل په توګه ټاكل كيږي او له دې مرحلې څخه وروسته ستن يا دسمال په يوه لويه مجمه كې د وچې مېوې او د سمالونو په سر د مجلس منځته راوړل كيږي او د دواړو لوريو شرعي وكيلان د ملا صاحب خواته ورځي. شرعي وكيلان ملا صاحب ته په غوږ كې پټ څه وايي چې ګواكي ملا صاحب د ايجاب او قبول د تړون پر مهال د مهر يا ولور د كميت يادونه وكړي او كه يوازې دومره ووايي چې مهر مسمى؟ همدارنګه د ايجاب او قبول په طريقه كې د يادولو په موخه د نجلۍ او د هغې د پلار نوم په بشپړه توګه ملا صاحب ته په همدې وخت كې ور ښودل كيږي.
كله چې ملا صاحب له وكيلانو څخه د خپلې پوښتنې ځواب تر لاسه كړي بيا نو د هلک او نجلۍ شرعي وكيلانو ته مخ وراړوي او د نكاح په مخصوصو جملو د ايجاب او قبول مراسم سر ته رسوي. د قبول ايجاب دغه طريقه د دريو ځلو لپاره د داړو لوريو تر منځ په مخصوصو الفاظو تكراريږي او له دې طريقې وروسته د هلک په پلرګنۍ، ښځينه او شرعي وكيل د مباركيو باران جوړ شي. پخوا به د نجلۍ پلرګنۍ ته مباركي نه وركول كېده او هغوى به په دې وخت كې ځانونه ډېر عاجز او څه نا څه شرمګير احساسول خو اوس مهال د خلكو د ځير ساحه پراخه شوې او دواړو لوريو ته له دې طريقې وروسته مباركي ويل كيږي او داسې الفاظ استعماليږي چې دواړو لوريو ته دې دغه ښادي او خيښي مباركه وي. د مباركۍ په ويلو سره بيا نو د نجلۍ د كورنۍ يا كلي كوم بيدار او مخور شخص چې مخكې له مخكې ټاكل شوى وي را پورته كيږي ملا صاحب ته لونګۍ، چپنه يا پټو او په ورا كې ټولو راغليو نارينه لويانو ته په پلاستيكي خلتو كې پاكټ شوي كالي په مخكې ږدي او هغه دسمالونه ورويشي چې په منځ كې يې وچه مېوه، نقل، پتاسې، چاكلېټ او داسې نور خيزونه ګنډه شوي وي. په همدې توګه د ښځو په مجلس كې بيا ټنګورو ته ورته ډالۍ او كالي اېښودل كيږي. ځينې كورنۍ چې اقتصاد يې ښه نه وي بيا نو په دسمالونو كې توت، نينې، د بنګو دانې او داسې نور څيزونه ورته ږدي او د مجمې پاتې مېوه هغو كسانو ته ورويشي چې په دې مجلس كې له دسمال څخه پاتې شوي وي او غالبا د نجلۍ د كورنۍ مېلمانه يا كليوال وي. همدارنګه د مجلس په پاى كې د هلک د كورنۍ د كوم يوه مشر له

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوري ملاصاحب او ډم ته نغدي پيسې ورکول کېږي او د دې خبرې يادونه هم اړينه ده چې پخوا به د ورا ټولو کسانو ته کالي نه ورکول کېدل او له ډېرو نږدې خپلوانو پرته به نورو ته يوازې د اسې د سمالونه ورکول کېدل چې مېوه به پکې ګنډه شوې وه.
کله چې کالي، مېوه او دسمالونه ووېشل شي نو د هلک پلار او يا مشر ورور د ټاکل شوي ولور يوه برخه چې په کاغذي پاکټ يا دسمال کې يې اېښول شوې وي د مېوې په پتنوس کې ږدي او د خپلو خېښانو باوري شخص ته يې سپاري. له همدې سره خېښان رخصت اخلي، ستن د يوه نوي ځوان په خولۍ او يا اوږه باندې ور ټينګوي او ورا د نارينه او ښځينه په شمول د نجلۍ له کلي څخه د هوايي ډزو، درياوو او سندرو په بدرګه وزي او د هلک کلي ته ځان رسوي.•

---

• (۲) ۱۷- ۱۸- ۱۹ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ګل راوړل

د ګل وړل د کوژدې ترټولو مهم وخت دی، کله چې ګل راوړل شي نو زوم او د زوم خپلوان سل په سلو کې ډاډه شي او د ښځې پړې د دواړو کورنیو ترمنځ کلک وتړل شي.

یو شمېر خلک چې ترمنځ واټن زیات وي یا هوا ډېره یخه وي یوازې په همدې یو ګل بسنه کوي او دا د هلک او نجلۍ د کورنیو ترمنځ د خپلوۍ یا بنادۍ پیل او اساس بولي، دلته نو نه یوازې داچې هلک او نجلۍ سره خپل شي بلکې د دواړو کورنیو ترمنځ د مړي ژوندي دود او تګ راتګ زیات شي.

په ورځو کې ګل د هلک د ورور، کاکا ماما یا بل نږدې نازولي خپلوان پر اوږو وراچول کیږي، چې د راوړلو لپاره یې د کلي ماشومان او نور خپلوان د ګل تر راوړلو ساعتونه ساعتونه دوام کوي، داچې اوس د ورځو په زیاترو سیمو کې د ټلفون اسانتیاوې شته نو د دغه انتظار موده یې کمه کړې ده خو مهمه داچې کله دا ګل راوړل شي د هلک د مور، خور یا عمه او خاله لخوا یا هم د هغه د انا (نیا) له خوا د ګل راوړنکي شخص له اوږو څخه کوزیږي ډېری وختونه دغه نفر ترهغې ګل نه سپاري څو یې چې شیریني (پیسې) نه وي اخستې، په ګل کې اینه، دسمال، غنم، پچې، لونګ، کلمه داره روپۍ او داسې نور د شاګوم په توګه پیلي وي.

کله چې ګل ښکته شی نو ډېر وختونه په کورکې په یوه مناسب اتاق کې ځوړند وي د هلک خپلوان راځي او په دې ګل کې د شاګوم د دود په توګه د خپل وس مطابق پیسې بږدي، دغه پیسې وروسته نجلۍ ته په یو ځای ور لیږل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناسته

ناسته د کينولو يا درنولو په مانا ده، يعني په ناسته کې د هلک د کورنۍ له خوا د نجلۍ مور پلار، خويندې، وروڼه او نور نږدې خپلوان د هلک د کورنۍ لخوا کېنول کيږي.

کله چې خبرې وشي، نو د نجلۍ کورنۍ او خپلوان ځينې تشويشونه کوي، چې د زوم يا د خپلې لور ژوند او کورګی به څه ډول وي، اقتصاد به يې ښه وي که بد، د کور سرشته به يې ښګه وي، کور به يې څه ډول وي... دا ډول تشويشونه د نجلۍ د خپلوانو سربېره د کوژده شوې نجلۍ سره هم وي، خو کله چې د زوم کورنۍ وخت او پيسې پيدا کړي د نجلۍ ټول دوستان رابولي چې شمېر يې له ۱۵ تر ۴۰ تنو پورې رسيږي، په ناسته کې د زوم د کورنۍ له لوري ځانګړې ترتيبات نيول کيږي او هڅه کوي څو خپلو خبرانو ته خپل ژوند او سرشته لوړ وښيي، د نجلۍ د کورنۍ لخوا ځينې کسان هغه د چاخبره خبرو ټولو ته راغلي وي ځکه نو زوم خپل هڅه کوي چې کومه ستونزه رامنځته نشي او د مېلمنو له راتلو د مخه د خپل کور ماشومانو ته وايي ګورۍ چې سر (پټ راز) مو افشا نه کړئ، په ادب چلېږئ او داسې کار ونه کړې چې دوستانو ته کم راشو.

په ناسته کې د خوښې مجلسونه ډېر تاوده وي کله چې مېلمانه روخصتيږي د زوم د کورنۍ له خوا ټولو ته د درنښت په موخه ډالۍ (چپنې، لونګۍ، جامې، پټوګان، ټيکري... مناسب لباسونه) ورکول کيږي، نجلۍ هم غوږ نيولی وي چې له پلارګنۍ سره يې خسرګنۍ څه ډول چلن کوي او څومره يې درنوي، که د هلک د کورنۍ لخوا مناسبې ډالۍ ورکول شوي وي او ډېر درنښت يې شوی وي نو نجلۍ خوشحاله وي او که کورنۍ خوښه نه ښکاري دا هم خپه کيږي. نجلۍ له خپلو خويندو يا نورو هغو نجونو پټې، پټې پوښتنې کوي (کور يې ښګه و، سرشته يې ښګه وه، ستاسو قدر يې ډېر وکړ که لږ... درلودل که نه.... ، ټنده خوبه يې تروه نه وه، کور يې پاک و که نه.... که چېرې دغو پوښتنو ته مثبت ځوابونه پيدا کړي نو نجلۍ خوشحاليږي او که کومه ناسمه خبره واوري خپه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر صورت ناسته د وردګو په سیمه کې د یو مهم دود په توګه راپاتې دی، چې موخه یې د خېښانو درندول، معززول او د یو بل سره سم پېژندل وي. •

## بوله

بوله د خېښۍ یا کوزدې د دود یو بل مهم اصل دی چې له ستنې وروسته ترسره کیږي، کله چې
د هلک کورنۍ له ستنې وړلو څخه وروسته یو څه پیسې برابرې کړي نو د نجلۍ د پلار یا مشر ورور او یا د کورنۍ د کوم بل مخور او واکمن شخص سره خبرې کوي او د نجلۍ د پلار په موافقه د خپل زوی پښه د خسرګنۍ کره خلاصوي چې دې ته په وردګي اصطلاح کې د پښې خلاصول یا پایوازي هم وایي دغه ناسته وروسته له ۲ – ۷ میاشتو پورې چې ستن یو سي صورت نیسي.
په ناسته کې له دوو څخه تر شپږو جوړو کالي د ولور دریمه یا څلورمه برخه او د ناستي ټول لګښتونه د هلک د کورنۍ له خوا کیږي، او د نجلۍ د خپلوانو د ښځو لپاره یو یو کمیس او یا ټکری شامل وي. په ناسته کې د دواړو خوا وو کورنۍ او خپلوان او د کلي مشران ګډون کوي د ناستې لپاره د نجلۍ او هلک پلرونه یوه ورځ ټاکي بیا نو په ټاکل شوې ورځ د هلک د کورنۍ او خپلوانو څخه تقریبا ۱۰ - ۱۵ تنو پورې د نجلۍ کور ته ورځي او د هغو له خوا هم ځینې خپلوان را درومي او د دغو خلکو ډوډۍ او نور لګښتونه د هلک د کورنۍ له خوا برابریږي.
کله چې ډوډۍ او چای وخوړل شي بیا د ډم له خوا د نجلۍ له کوره په پتنوس یا مجمه کې له سور رخت څخه نجلۍ په لاس جوړ شوي د سمال چې ښکلي ځونډي او ستارې. . شیان په کې ټینګ وي مجلس ته راوړل کیږي بیا نو په دغه وخت کې د ملا له خوا د هلک او نجلۍ نکاح تړل کیږي دعا کوي او له دعا نه وروسته هغه د سمال د هلک د ورور او یا د کاکا د زوی په سر کې ټینګوي او خلک د هلک پلار ته مبارکي وایي.

---

• (۲) ۲۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه دې وخـت کـې د نجلـۍ د کـورنۍ لـه خـوا نويـو خپـلـوانو تـه لنګـۍ، چپنـې او دسمالونه ورکول کيږي. خلک رحصتيږي په دې وخت کې ډم د هلک د پلار يا ورور څخه له زرو نه تر دريو زرو افغانيو پيسې اخلي دا په دې خاطر چې د هغه د زوی د شريني خوړلو په وخت کې يې ډېر زحمتونه ګالي او د خلکو خبرولو حق الزحمه ده. په ناسته کې هغه ښځه چې د هلک له کوره د نجلي کره ورشي خپښې يا ټنګورې نوميږي دغه خپښې ته هم د نجلۍ د پلار له خوا ټکري او يا کميسونه ورکول کيږي، د خپښو شمېره له يوې څه تر پنځو پورې وي اما د نارينه و شمېر له ۱۰ نه تر ۱۰۰ پورې رسيږي، له ډېرو خوښيو سره د هلک د کور په خوا روانيږي. کله چې د هلک کور ته نيږدې شي ډزې کوي ډولونه وهل کيږي او د کلي خلک خپلوان نڅاوې او خوشالۍ کوي. د دسمال په ليدو ښځې دا سې سندرې وايي:

د پاسه په باغ ګډه شوم نارنج مې راوړو
د پلانکي په کورو ورګډه شوم سور ګل مې راوړو

لـه دې خوښيو وروستـه زوم د نجلـۍ کـور تـه ورځـي د شپې د ډوډۍ خوړولـو نـه وروستـه نجلـۍ د هلـک ښـۍ خـوا تـه کښـېنوي او خپـل زنګـون د زوم پـر زنګـون د پاسه ږدي، دا په دې مانا چې زوم د نجلۍ تابع وي، بيا شربت راوړي نيم ګيلاس زوم نـيم ګـلاس نجلـۍ څښـي، وروسـتـه تـر دې زوم او نجلـۍ يـوازې د ويـده کېـدو لپاره په کوټه کې پرېږدي.

سهار زوم هغه چا ته چې ده ته يې بستره اچولې وي لږ او ډېرې ۵۰۰ پيسې ورکوي او توان په اندازه د نجلۍ خويندو او خوانبې ته پيسې ورکوي، هلک دوه يا درې شپې د خسر کره تېروي او تر دې وروسته د هلک ورتګ د نجلۍ کره کوم ممانعت نشـته، ځينـې خلـک ناسـته نـه کـوي او هلـک تـر واده پـورې د نجلـۍ کـره نـه شـي ورتللی او په دې صورت کې هلک کولی شي په غلا د نجلۍ کور ته ولاړ شي که کله ګير شي د خلکو له خوا ښه وهل کيږي.*

---

* (۲) ۲۹- ۳۰ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوروزي

نوروزي لکه چې له نامه څخه يې له ورايه ښکاري د کال په پيل کې د نوروز په درشل کې د زوم له خوا د نجلۍ کورته د پوښ په ډول جامې او اړوند سينګاري ثيږونه ورل کيږي، چې نوروزي يې بولي دا چاره په دې وروستيو کې په وردګو لايت کې عامه شوې په تېره بيا په هغو سيمو کې ډېره دود ده چې کابل ته نږدې وي، ښا يي د وردګو يو زيات شمېر خلک په عقيدوي لحاظ د نوروزي د وړلو سره مخالف وي او ډېرې دا سې کورنۍ شته چې تر اوسه يې دا دود نه دی عملي خو په ځوانانو کې د نوروزۍ د وړلو دود ورځ تربلې عاميږي او دا خوښوي چې بايد په نوروز کې چې د کال نوی موسم دی، هرڅه نوي کيږي بايد خپلې نامزادې پېغلې ته نوي کالي او نوي بوټان او جوړې ور وليږي، همدا راز نجونې هم په دې تمه وي چې د نوي کال په را رسېدا ورته بايد خسرګنۍ لخوا نوي کالي او نور شيان (نوروزي) وروړل شي.

د نوروزي وړلو دود د عام کېدلو مهم لامل د پلازمينې کابل سره د وردګو د جغرافيې نږدې والی او په کابل کې د وردګو د ګڼو کورنيو مېشتېدل دي، چې له خپلې سيمې وردګو سره هم اړيکې لري او په دوديزو مراسمو کې تګ راتګ کوي، دا چاره د دې لامل شوې چې د نوروزي په څېر ځينې دودونه په وردګو کې هم کرار کرار د يو سيمه ييز دود په توګه ځای ونيسي.

له پورته فکتورونو او لاملونو سره سره د وردګو خلکو خپله ژبه ساتلې او په خپله ځانګړې سليقه او رواج د نوروزي وړلو په څېر ځينې دودونه تر سره کوي.

په نوروزي کې نجلۍ ته په ځانګړي لباس لېږلو سربېره د هغې د کورنۍ ځينو غړيو ته هم جامې او نور توکي د نوروزۍ سره لېږل کيږي، خو اړينه او لازمي نه ده چې ولېږل شي.

د يادونې ده چې يو شمېر کورنۍ چې اقتصاد يې ښه وي په نوروزي کې نجونو ته ځينې قيمتي ګاڼې لکه طلا ، نقره . . هم د ډالۍ په توګه وروړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پوښ وړل

په وردګو کې به پخوا پوښ په یوه او سپنیز صندوق یا ښایسته یخدان کې ځای پر ځای کېده، مېوه او نور اړوند ﺜیزونه به په بوجۍ، خورجین یا ﺜټه کې اېښودل کېدل او هغه مهال چې د موټر په څېر نقلیه وسیلې نه وې او یا محدودې وې نو د ۲۰ یا ۳۰ کسانو چې زیاتره به یې نارینه وو او لږ شمېر به یې ښځینه ټنګورې وې، د خرو په وسیله به د نجلۍ کلي او کور ته انتقال کېده. البته دا په هغه صورت کې چې د نجلۍ کلی به لېرې و او د ورا د دویم ځلي ورتګ به ستونزمن و نو دا ټول کار به په یو ځلي صورت موند او ټنګورې به هم په خرو باندې سپرېدلې خو کله چې موټرونه پیدا شول نو دا کار بیا زموږ په ټولنه کې د موټرو په وسیله پیل شو. د پوښ څرنګوالی اوس په بشپړه توګه بدلون موندلی دی ځکه چې اوس نه یوازې یو اوسپنیز بکس بلکې دوه یا درې چرمي بکسونه د ناوې لپاره اخیستل کیږي. پخوا به د ناوې د جامو شمېر ډېر محدود و خو اوس مهال د ناوې د جامو شمېر هم ډېر شوی او د شیریني خورۍ د ځانګړو شین رنګو ګنډل شوو جامو په شمول زیات ﺜیزونه ورته اخیستل کیږي. په ګاڼه او داسې نورو ﺜیزونو کې هم پخوا ډېر محدودیت موجود و خو اوس هڅه کیږي چې پېغلې ته په ډول ډول ګاڼو سربېره یوه اندازه سره زر یا طلا هم واخیستل شي او هغه پوښ ډېر درونند او د یادولو وړ ګڼل کیږي چې د طلا اندازه یې زیاته وي. پخوا به په پوښ کې د ناوې د ټولو خپلوانو لپاره کالي نه اخیستل کېدل او یوازې د هغې د والدینو لپاره به کالي برابرېدل خو اوس دغه رواج بدلون موندلی دی او هڅه کیږي چې د پېغلې د کورنۍ ټولو نږدې خپلوانو ته هم جامې پکې ور وړل شي.

د پوښ د وړلو په هکله به هم داسې کېدل چې پوښ به د دوو نارینه او دوو ښځینه وو په ملتیا د ورا د تګ څخه د مخه انتقال شو او د مخکیني توافق له مخې به نور کسان د ستن یا دسمال د وړلو په ټاکلې ورځ د نجلۍ کلي ته ورتلل او پوښ به مخکې له مخکې کتل شوی و. کله به چې پوښ یوړل شو نو له پوښ سره تللیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټنګورو به سندرې ویلې، درياوې به يې وهلې، يا به يې له ځان سره ورې ټيپ ریکارډر ته فيته ور اچولې وه او اتڼ به يې ورته کاوه.

خلاص کې خلاص کې د اصيل يخدان کلپونه
ځينې را وباسی د پلانکي د لاس پوښونه

په همدې وخت کې به په هوا کې د ټوپکو او په وروستيو وختونو کې د ډول ډول ماشيندارو د ډزو باران جوړ و او هغه شخص به له نورو څخه زياتې ډزې کولې چې نوم به يې د ټنګورو له خوا په سندرو کې ياد شوی و.•

مثلا دغه ډول سندرې:

اوس به د فلفل پاڼې منې وکا — اوس به د پلانکي ټوپک شغلې وکا
زمونږ ځوانان خيالي دي خيال به وکا — اوس به ماشيندارو ضربې وکا

## د اختري ورځ

اختری يا د کوژده شوې نجلۍ لپاره د اختر پوښ ورل د وردګو د قوم يو بل رواج دی، ددې لپاره چې د اختر لمانځلو دود د ټولو مسلمانو يو ستر مذهبي دود دی او خللک د اختر د خوښيو لپاره خپلو ماشومانو او د کورنۍ غړو او ځانونو ته نوې جامې کوي نو په همدې اساس نوې کوژده شوې نجلۍ ته چې د دوی د کورنۍ يو غړی په راتلونکي کې تشکيلوي هم جامې او نورو سينګار ډوله اړين توکي وروړي چې اختری يې بولي.

د اختري يا اختر د جامو وړلو دود د نوروزي تر دود ډېر پياوړی دی چې د وردګو په ټولو سيمو کې دود لري او له ډېر پخوا را پاتې دود دی. د دې دود د پياوړتيا ډېرلاملونه شته خو مهم يې هغه د مسلمانانو مذهبي او کلتوري ورځو ته دوردګو د ولس خاص درناوی کول دي.

---

• (۲) ۱۵- ۱۶ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختري ته اوس هم ډېر خلک د اختر پوښ وايي چې د دري ژبې د پوشاک او لباس ځخه اخيستل شوې ده. په دغه پوښ کې له دوو ځخه تر پنځو زياتې جامې ځوک د نجلۍ کره نه وروړي. له دې جوړو سره مېوه او نکريزې هم اړينې دي خو دومره کسان نه ورسره ځي يوازې د هلک مور يا خور ورځي، او د نجلۍ پلار هغو کسانو ته جامې يا نورې ډالۍ ورکوي.

د يادونې ده چې د اختر د پوښ د وړلو سره د ديني عالمانو له خوا هم کومه ستونزه نشته او دا دود په ټولو وردګ مېشتو قومونو ا و خپلونو کې يو ډول دوام لري.•

---

• (۲) ۳۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د واده لپاره تیاری (چمتو والی)

د وردګو خلک له کوژدې وروسته هڅه کوي څومره چې ژر وي واده وکړي، خو په دې لاره کې ډېر وختونه اقتصادي ستونزې او د نجلۍ د مور او پلار نازونه ددې لامل کيږي چې د کوژدې او واده ترمنځ یو څه وخت ونيول شي، په هر حال کوم وخت چې د هلک کورنۍ وغواړي واده راوړي نو د ټولو نه مخکې یو تن د نجلۍ د پلار کره ورځي او جوړښت ورسره کوي چې په دې جوړښت کې د واده د وړلو ورځ، اوړه، غوايي، پسونه، وريجې... او نور لګښتونه ټاکل کيږي. چې دغه نومړي شيان په لوی پوښ کې شامل دي هغه ښځې چې د پوښ سره راځې هغو ته ټنګوري وايي ډېر ځله داسې هم پېښ شوي دي چې د واده د ډېرو پرېکړو پر وخت کې د نجلۍ پلار د ځينو خلکو په لمسون په خپل لومړني قول او لوز کوم چې لومړي وخت د هلک له پلار سره کړی وي نه دريږي زيات ولور او ډېر شيان غواړي.

د پوښ په وړلو کې نر او ښځې ګډون کوي دريا وهي اتڼونه کوي او اوازونه وايي د پوښ ستاينه په ځانګړو بدلو کې داسې کوي:

زموږ د ناوې شين شال څلور يې چاپه
(پلانکي) ورته راوړي له کندهاره

په دې ترتيب سره ښځې خپلې بدلې وايي درياګانې وهي او خوشالۍ کوي نارينه کسان د ډوډۍ تر خوړلو وروسته بېرته درومي او خپښانې همدلته د ناوې کره پاتې کيږي.

په دغو بدلو کې کله ناکله خپګان هم رامنځته کيږي ځکه چې دغه بدلې ډېرې پخې او کله نا کله د پېغور په بڼه هم وي چې زموږ په معاصر ادب کې ورته کنځاکۍ يا د ناز او خوښيو کنځاوې هم وايي چې د ښځو او نجونو له خوا يو بل ته ويل کيږي دا بدلې د وردګو پر سيمه سربېره د غزني، لوګر، پکتيا او نورو سيمو کې هم دود دي چې دلته موږ د وردګو د سيمې د څو کنځاکيو سندرو بېلګې چې ددې سيمې د ولسي ادب په ځانګړې توګه د ښځينه ولسي ادب يوه برخه ده راوړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې سندرو کې د مېرمنو له خوا د واده سندرې د کنځاکيو او ببولالو او ستاينو په بڼه څنګه چې واده د خوښيو او سندرو ځای دی، خو کله کله په واده کې د ځينو لاملونو له کبله ستونزې او خپګانونه رامنځته کېږي چې د ميرمنو يا ښځو له خوا په سندريزه ژبه مطالب افاده کيږي، د واده پر مهال د دغو ګيله ييزو، يا خو ښيو او کنځاکيو سندرو ويل په وردګو کې يو دود او کلتور ګرځېدلی چې ممکن د پښتنو په ځينو نورو سيمو کې هم د پټه ورته کلتور موجود وي، خو موږ دلته د واده د دغو کلتور څو بېلګې راوړو، چې د مېرمنو سندرې دي څنګه چې د واده لپاره د نارينه وو په پرتله ښځې او ماشومان ډېر خوشالېږي، د وردګو په ودونو کې هم ښځمنې تر ډېره د واده ببلا ببل پړاونه په خپلو سندرو ښايسته کړي دي او د سيمې د کلتور بڼه يې نيولې ده.

چې پر کلتور سربېره د يادو ميرمنو د فطري استعدا ځرګندونه هم کوي دغو نالوستو مېرمنو په خپل فطري او هنري ذوق د خپلو سويو احساساتو پرمټ په شفاهي ډول داسې سندرې پنځولې چې ساری يې د نړۍ په ادبياتو کې نه شو موندلی.

دلته موږ د ښادۍ سندرې او د ښاديو سندرو يوه برخه هغه کنځاکۍ د بېلګې په توګه را اخلو چې د وردګو په ډېرو سيمو کې د واده پر مهال په ځانګړې توګه د ناوې ورلو، ورا، د ناوې کوزولو، خينې، ناوې جوړولو... په وخت کې د هلک د خپلوانو پېغلو او ښځو له خوا د نجلۍ کورنۍ ته ويل کيږي، ددې سندرو چې کنځاکۍ سندرې دي او پنځوونکې يې هم ولسي مېرمنې او نجونې دي د پنځ لامل يې تر ډېره د کوزدې وروسته د هلک او نجلۍ د کورنيو ترمنځ اختلافي مسايل او زړه بدۍ دي، دا اختلافونه تر ډېره د ولور په سر يا د ولور زياتولو، يا خلتيو او تويانې زياتولو او ځان غوښتنو له امله رامنځته کيږي چې ډېر وخت د دغو ستونزو له کبله د نجلۍ ژوند د هم له ستونزو ډکيږي، په هر حال کله چې د نجلۍ پلار يا مشر ورور د زوم له کورنۍ څخه ډېر ولور اخستی وي يا يې بابيرۍ پرې کړې وي او د زوم کورنۍ په مالي لحاظ ځپلې وي نو د ناوې ورلو پر مهال د ناوې کورنۍ ته په سندريزه ژبه پېغور ورکوي او په اصطلاح سوځوي يې لکه:

موږ به ناوې يوسو له ډولو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې خاورې باد کړئ له ایرو سره

یا داسې سندره: پلانکی ولاړ دی ولور په ملا کې- فلانی ولاړ دی سترګې یې ډکې، دلته په لومړي ځل د زوم د پلار یا د هغه وړور یادونه کېږي چې ولور یې په ملا پورې تړلی وي ځکه په ورد ګو کې بیا ولور دومره ډېر دی چې په جېب کې نه ځایېږي او په ملا پورې یې په دوسمال کې تړي د ناوې پلار ته یې ورکوي چې ډېری وختونه د ناوې د پلار سترګې د ژړا ډکې وي خو له شرمه ژړلی نه شي.

یا داسندره چې د زوم خپلو له خوا وویل کېږي:

د کورمې باده د غرو شماله طلا یې نشته د خدای لپاره

د ناوې خپلو له خوا:

زموږ ناوې لکه چینار ودرویه! زومکی لکه سپرلی ترې جارویه!

د زوم خپلو لخوا:

شنه پټې مې ګرو شو له باغچو سره ناوې تندی د مات شه له خالو سره

د ناوې خپلو له خوا:

زموږ ناوې چې ځي حوره سرداره ده فلانۍ یې چلمچي دا یې واکداره ده

دلته د خواښې نوم اخلي او د چلمچي په توګه یې یادوي خپله ناوې هوښیاره او واکداره ښیي چې ډېری وختونه دا سندره سم انعکاس نه پیدا کوې او د خواښې او انګور ترمنځ د کور پر واک شخړې را منځته کوي.

خواښې وایي:

ولور دې په جو پو چو پو ټولیږي اوس به د سور کور را معلومیږي

دلته د سور کور نه موخه د ناوې لپاره جیز او د کور سامان دی اکثره پلرونه په دې پلمه ولور اخلي چې خپلې لور ته سور کور یا سم کور ورکړي خو ځینې وخت دا کور معمولي وي.

خواښې داسې هم وایي:

د اس تر ګېډه ولو بدې رسی په څه نا وخته راغلې پرد بسی

یا داسې وایي:

شین موټره بریک وهه چلېږه زموږ ناوې قدم وهه سپرېږه

یا داسې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

شین موټر په شګو کې پنچر دی ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ موړ ته ناوې راکړئ مازدیګر دی

د ښادۍ سندرې بېل بېل ډولونه د واده د مراسمو ځانګړې سندرې دي. او لکه لنډۍ د خپل ساده جوړښت له امله په عام ولس کې ځانګړی ځای لري. چې له لومړنۍ هوکې نیولې د کوژدې او واده په بېلابېلو مراسمو کې د پښتنو سیمو د بېلا بېلو دودونو له مخې د ښځمنو له خوا په ځانګړي لحن سره ویلې کېږي، لکه دغه سندرې چې د مالګې یا لفظ د وړلو او کوژدې په مراسمو کې ویلې کېږي:

د زرو ډک منګی مې دروړ چپه یې نه کړې
پلانکی مې در لېږلې خپه یې نه کړې
راغی رومال راغی رومال پټ دی په قبو کې
د پلانکی په سر ابښی سر لوړ دی په تربورو کې

دغه سندرې په دوو برخو وېشل شوي دي یو ډول د خوښي سندرې دي چې بابولالې د یوې برخې په توګه را ځي چې د وردګو سربېره د هېواد په سهیلي، مرکزي او ځینو نورو سیمو کې د واده په مراسمو کې ویل کېږي او بل ډول یې کنځاکۍ یا سندریزې نانداري دي. د جوړښت له مخې دغه سندرې له دوو مسرو دربیو مسرو او کله تر دې زیاتو مسرو څخه جوړې دي. چې ځینې یې غیر مقفع دي چې د مسرو وزن یې سره برابر نه دی او د شعریت له مخې ډېرې ساده دي. لکه:

ګل ناوکۍ قدم په ورو ږده
قدم په ورو ږده جینکۍ درسره ځینه

خو ځینې یې مقفع دي چې ښکلي ادبي صنایع پکې راوړل شوي دي او لوړ هنري ارزښت لري.

د بېلګې په توګه:

اسپه چې خوله تیټه کړې لونګ اخلي
موږ داسې ناوې راوړه د زړه زنګ اخلي

پورته سندره بیا د زوم کورته د رسېدو په وخت چې کله ناوې د خپل بخت کورته راورسي د ناوې د کوزولو پرمهال د زوم خېلو له خوا ویل کیږي په دې سندرې سره نورو دوستانو او د کلي او سیمې څخه راغلو ښځو ته د ناوې ستاینه کیږي او په اصطلاح زور ورته ښودل کیږي چې ګواکې ښکلې ناوې یې راوړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنځاکۍ یا کنځلو ته ورته سندرې په ځينو سيمو کې د کنځلو په نوم هم ياد ېږي چې جوړښت له مخې له دوو مسرو څخه جوړې دي. د کنځاکيو موضوع په ټوليز ډول ګيلې، شکايتونه، مينه ناکې ځورونې هم کېدای شي چې په غېر مستقيم ډول د ځينو غوښتنو پوره کول دي چې د کنايې په ډول د زوم او ناوې د خپلوان به خاصه توګه د ښځينوو له خوا يو او بل ته ويلي کېږي. دغه مينه ناکې ناندرې کله کله په وادونو کې په يوې ګرمې مشاعرې واوړي چې دواړې خواوې يې د ګټلو هڅه کوي، خو ځينې وختونه په دغو ناندريو کې د کلام عفت ماتېږي چې په خفګان او جګړې اوړي.
د ببلګې په توګه په ببلا ببلو مراسمو کې د دواړو خواوو تر منځ دغه ناندرېزې سندرې:
د ډوډۍ خوړلو په وخت کې:
زوم خپل وايي:

د سپينو وريجو څه شورما شور دی
موږ يې نه خورو چې خيال مو زور دی
د ناوې ورور دې وخورې چې شفتل خور دی

د ناوې خپلو ځواب:

شفتلګيو ګل ايستلی شفتلګيو ګل ايستلی
زموږ د سترخوان ډک اوس ولې زور درکړی

د زوم خپلو ځواب:

نوم دې په کابل لګيږي
د غوښې دې درک نه مالومېږي

د ناوې خپلو ځواب:

وريجې غوښې نه خورو نازولې يو
مونږه د زمزم په اوبو وللې يو

همدارنګه د دواړو خواوو تر منځ د زوم او ناوې د ښوالي دغه په زړه پورې ټوټې:

ناوې مو کمکولۍ ده خوښه مو نه ده
ونه يې د زوم تر زنګانه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب د ناوې خېلو ځواب:

میرزایي قدم راواخله قسمتونه دي
د پلاني لایقه نه وې قلمونه دي
مورې داسې زوم درکړې
لکه تار د زر تار

ځواب:

مورې داسې ناوې درکړه
لکه ونه د چېنار

د ناوې د جوړولو او خپله خوښه په نکریزو د لاسونه نه سره کولو او سینګار په نه کولو د همزلو له خوا د نکریزې په شپه ناوې ته دغه سندره اورول کېږي، چې په زور سره د ناوې دلاسونو د سره کېدو او سینګارولو انځور رانښيي.

هغه ټنګورې چې یوه ورځ مخکې د ناوې کور ته ورځي داسندرې وايي ورته:

اوس به دې امېل دانېدانې کړمه
سبا به دې دا سپیني پایځې سرې کړمه

د زوم په کور کې چې ناوې ښکته شي داسندره ورته وايي:

پرون دا وخت د سیند مېلې ته تللې وې
نن مو نظر بنده کېښنولې یې

د ناوې جوړولو پر وخت سندره:

د سلایي لاره مو جوړه په تندی کړله
د پلانکی ناوې مو جوړه کاغذي کړله

همدارنګه د ناوې خپلوان د ناوې د وړلو په وخت د دغو کنځاکیو په ویلو سره د زوم خېلو لخوا ځورل کېږي:

ناوۍ مورې سرې کال کله ودولې
ابا خو دې لمنې ګرځولې
زمورې ناوې چې ژاړې ګرمه نه ده
نن د پلار په کور کې مېلمنه ده
ناوۍ په مخ دې اوښکې غټې غټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور په زړه دې کېښودې سکروټې

په کنځاکيو کې د بېلا بېلو سيمو د ښو او بدو دودنو يادونه کېږي. د ناوړو دودونو پلي کول په کنځاکيو کې د پېغور په توګه بيانيږي چې مثبت پيغامونه او مثبتې پايلې لري.

د بېلګې په توګه د خسر کورته د رسېدلو په وخت ناوې په دغو کنځاکيو ځورل کېږي:

ښه شوې چې تر شنو ونو مو تېره کړې
پلار دې په ولور شو ته يې هېره کړې
د سحر ستر ګو ناري کړې چې وی وی د خوبه يم
ناوی، مور ته دې وايه چې وی وی ورکه دې کړم

کله چې ناوې وړي دا سندره هم ورته وايي:

ولور دې په لکو لکو ټولېږي
اوس به د سور کور رامالومېږي.

کله چې ورا د ناوې کورته ځي مخکې تللې ټنګورې ناوې ته وايي:

ناوی، ورک دې شه خېرن خېرن تربرونه
اوس به راښکاره شي ستا خيالي خيالي لېورونه

دغه د ښادۍ سندرې يا کنځاکۍ د وردګو د سيمې د مېرمنو د ښکلي هنري ذوق ښکارندويي کوي چې د بې سوادۍ سره يې دغه ذوق نه دی مړاوې کړی او د وردګ د سيمې د واده د کلتور يوه برخه ده چې مور يې ځو بېلګې درته په لنډو سندرو کې وړاندې کړې.•

---

• (۲۳) ۱۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د واده دود

د واده په اړه مو مخکې هم لږ او ډېرې خبرې وکړې، دلته د وردګو د واده په دود او طریقه باندې را څرخیږو:

که څه هم واده او کوژده سره جوت توپیر لري خو په وردګو کې د کوژدې کړلو ته هم واده کول وایي یعني کله چې یو څوک کوژده وکړي داسې وایي:(( پلاني ته یې واده وکړ، یا پلاني یې زوی ته واده وکړ )) خو په خپله واده ته هم واده وایي خو توپیر یې په دې کې دی که څوک واده کوي وایي: ((پلانی واده وړي )) یا پلاني واده یوړلو...

په وردګو کې واده کول په لاندې ډولونو تر سره کیږي:

د واده تعریف: واده یوه طبیعي اړتیا او د ټولنیز ژوند لوی شرط دی پرته له واده څخه د ټولنې ژوند ستوزمن دی واده د کورنیو تر منځ د مینې پیوند او نېږدېوالی منځ ته راوړي. او د ټولنیز ژوند اړیکې پیاوړې کوي د واده دودونه په هره سیمه او ټولنه کې ځانته بېلې ځانګړتیاوې لري.•

## لومړی عادي واده

په عادي واده کې د واده دودونه داسې پیل کیږي، لومړی د هلک د کورنۍ له خوا یوه نجلۍ په نښه کیږي کله چې نجلۍ وټاکل شوه د هلک د کورنۍ له خوا د هغه پلار مور او یا کوم بل نیږدې خپلوان په یوه پلمه د نجلۍ کورته ورځي څو وکولی شي په خپله نجلۍ او د هغې د کور پاکوالی، سرشته او څېره وګوري. البته هلک نه شي کولی د کوژدې کولو په نوم له یوې نجلۍ سره مخامخ وګوري که د کومو خپلوانو کورنیو ترمنځ دا لیدنه په کومه پلمه شوې وي بېلګې یې ډېرې کمې لیدل شوې.

---

• (۲) ۳۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته د هلک خوښه تر یو ځایه په پام کې نیول کیږي خو د لیدو دنده د هغه د مور او نورو دوستانو ده. داسې چانسونه به ډېر کم وي چې د هلک لپاره دې زمینه برابره شوې وي څو هغه نجلۍ په خپلو سترګو وګوري او خوښه یې کړي چې دی کوژده ورسره کوي، که دا لیدنه د خپلوۍ له کومې بلې لارې شوې وي جلا خبره ده خو د کوژدې په نوم نجلۍ او هلک یو بل نشي لیدلی.
یوازې او یوازې د هلک په ټاکلو کې د هغه مور او پلار ډېره برخه لري او د نجلۍ لپاره دا حق نشته یا ډېر کم دی چې ووایي زه پلانی هلک نه خوښوم او پلانې زما خوښ دی هغه کړم.
همدا چې د هلک د مور او پلار نجلۍ او د هغه کور خوښه شوله نو څو تنه خپلوان سپین ږیرې د نجلۍ د پلار کره ورځي او د هغه څخه نجلۍ غواړي چې دغه حرکت د «خېښې» کولو په نامه یادیږي.
ریباران دوه دری ځلې د نجلۍ د غوښتلو لپاره د نجلۍ لپار کور ته ورځي او د دواړو خواوو د موافقې په صورت کې په دې تګ او راتګ کې د ولور اندازه د واده د لګښت، خلتې، ټکري، او کمیسونه د همدارنګه د توی اندازه او نور لګښتونه ټاکي. وروسته تر یو لړ مراسمو بیا لویه ستن یا ګل د هلک کور ته راوړل کیږي.
څنګه چې واده د اسلام په سپېڅلي او معتبر دین کې یو روا او ثوابي کار ګڼل شوی د وردګو د سیمې خلک هم د دغه شرعي کار د ارزښت له مخې د خپل زوی او لور واده ته په خپل وخت ارزښت ورکوي، مور او پلار او د کورنۍ مسوول کسان تل په دې هڅه کوي څو خپل زوی او لور د ځوانۍ په مناسب وخت کې واده کړي، په وردګو کې معمولاً د هلکانو لپاره له شل کلنۍ تر ۲۵ کلنۍ پورې د عمر په اوږدو کې واده کوي، خو دا عمر قید نه دی، بلکې داسې کورنۍ هم پیدا کیږي، چې خپل زوی ته له شل کلنۍ وړاندې او یا هم د اقتصادي ستونزو له امله له ۲۵ کلنۍ وروسته د واده چانس برابر کړي. د وردګو ولایت صنعتي ولایت نه دی، ځوانانو ته د کاروبار زمینه سمه نه ده مساعده همدا لامل دی چې د دې ولایت ډېر شمېر هغه ځوانان چې زده کړو او لوړو زده کړو ته لاس رسی و نه لري د کار پیدا کولو په موخه ګاونډې هېواد ته ځي. په وردګو کې ولور له ۴ لکه افغانیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر شپږ لکه افغانیو پورې دی او نږدې همدومره نور لګښت یې په طوی، پوښ او خلطیو هم کیږي ځکه نو ځوانان په تېره بیا ډېری هغه ځوانان چې اقتصاد یې کمزوری وي او د ګټې لپاره مناسب مشر ونه لري او یا هم بې پلاره وي اړ دی، چې په خپله د غه لس یا دوولس لکه افغانۍ پیدا کړي او ځانته واده وکړي.
د وردګو خلک معمولا یو واده کوي، خو کم خلک دوه، درې یا د شریعت مطابق بنایي څلور ودونه هم وکړي، د واده کولو لپاره باید مخکې له مخکې د هلک او نجلۍ د کورنیو مشران وخت وټاکي او په دې سلا شي چې په کومه نېټه واده وکړي، د نېټې د ټاکلو پر مهال چې جوړښت ورته وایي د واده په لګښتونو او ځرنګوالي هم خبرې کیږي، په واده کې د هلک پلار اړ دي چې د نجلۍ د کورنۍ غوښتنې ومني، له واده مخکې چې د نجلۍ د کورنۍ له خوا د لګښتونو کوم لېست د هلک کورنۍ ته ورکړل شوی وي، د جوړښت پر مهال پرې یو ځل بیا بحث او خبرې کیږي که د هلک اقتصاد کمزوری وي داسې پلرونه هم شته چې د واده ټاکل شوی ولور او نور خوراکي توکي، خلعتي... کم کړي، خو دا ډول خلک د ګوتو په شمېر پیدا کیږي ولې داسې خلک هم شته چې نه څه کموي او نه څه زیاتوي، خو د داسې خلکو هم کمی نشته چې د واده پر مهال د زوم پر کورنۍ له ټاکل شوو شیانو زیات غواړي، چې د غه کار ته بابېری وایي او ډېر ځله دا چاره د دواړو کورنیو ترمنځ خپګان هم رامنځته کوي، چې ان د نجلۍ او هلک خوږ ژوند متضرر کوي او ناوړه اغېزه پرې کوي.
د وردګو خلک هڅه کوي چې خپله لور لوستي او د کور او هېواد خدمتګار ځوان ته ورکړي، یعنې کله چې د دوو کورنیو ترمنځ خپښي کیږي، تر ټولو د مخه د هلک په تعلیم او زده کړو خبرې کیږي ورپسې نور معیارونه په پام کې نیول کیږي.•

---

• (۲) ۷۶مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خلعتي ( خلتي )

مخکې له دې چې د خلتيو په دود خبرې وکړو اړينه بولم چې خلعتي لنډ تعريف کړو:

خلعتی يا خلتي د عربي ژبې د خلعت له کلمې څخه اخيستل شوې کلمه ده، چې د جامې (لباس) په مانا ده، ځينو قاموسونو بيا خلعت د قېمتي يا غوره جامې په نوم مانا کړی دی چې چپنه.. ترې مراد ده، خو په وردګو کې خلعتي بيا هغو جامو ته وايي چې د هلک د کورنۍ لخوا د نجلۍ د خپلو خپلو خپلوانو لپاره وروړل کيږي.

خلتي د واده کولو يو بل مهم شرط دی، کله چې يوه نجلۍ ودېږي د هلک د کورنۍ له خوا د خلطيو په نامه جوړې د نجلۍ د پلار کورته د پوښ سره وروړل کيږي، خلتي د کوژدې د کولو او ولور د ټاکلو پر مهال د نجلۍ د پلار يا نورو خپلوانو له خوا غوښتل کيږي.

که د هلک پلار د ډېرو خلتيو د و اخستلو توان ونه لري او د نجلۍ کورنۍ ته نه يا نو ووايي نو د نجلۍ پلار يا مشر ورور ورته وايي، زه قوم قبيله لرم، تربرونه او دوستان لرم، خپل او خپلوان لرم د خلکو مې اغوستي مجبوريم چې د خلکو دا پور ور ادا کړم او ته به ضرور دا خلتي راوړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خلتيو ډولونه

خلتي معمولاً درې ډوله دي: اعلی، متوسط او ادنی، چې د هرې کټګورۍ شمېر ټاکل کیږي.

اعلی خلتي (غوره خلتي) دا هغه خلتي دي چې د نجلۍ نږدې خپلوانو او کورنۍ ته د هغوی د شمېر په اندازه راوړل کیږي لکه عمه، خاله، خور، مور... اعلی خلتي قېمتي بخملي ټوکر یا نور هغه ټوکر دي، چې په بازار کې تر ټولو لوړه بیه ولري.

متوسط خلتي نه ډېر قېمتي وي نه ډېر ارزانه دا خلتي دویمه درجه یا لږ لېرې خپلوانو ته ورکول کیږي.

ادنی خلتی بیا هغه خلتي دي چې لېرې خپلوانو ته ورکول کیږي او دومره قېمتي نه وي، ددې خلتیو اخیستل د هلک کورنۍ ته د اعلی خلتیو په څېر ګران نه تمامیږي، دغو خلتیو دودي یا دودیز خلتي هم وایي.

د خلتیو شمېر: خلتي له شل جوړه څخه نیولې تر شپېتو جوړه پورې وي، د هلک کورنۍ مجبوره ده چې د مخکینۍ هوکړې له مخې د ټاکل شوي شمېر مطابق خلتي د نجلۍ کورنۍ ته ورکړي، هغه نجونې چې ولور یې لوړ ټاکل شوی وي، د خلتیو شمېر یې هم ډېر ټاکل کیږي او هغه نجونې چې ولور یې نسبتا کم وي خلتي یې هم کم ټاکل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# طوی

طوی د واده ډوډۍ ده چې ټول افغانان يې په همدې نامه يادوي، خو په وړوکو کې د واده ډوډۍ د يو شمېر نورو سيمو څخه توپير کوي، معمولا د وردګو په ډېرو سيمو کې له واده يوه ورځ وړاندې د هلک او نجلۍ په کليو کې غوايان او پسونه حلاليږي، دغه څاروي د طوی يا طوياني په نامه يادیږي.

د کوژدې او واده د جوړښت پر مهال د دواړو کورنيو له خوا په طوی هم خبرې کيږي يعنې دلته د طوی د غوښو پر اندازه خبرې کيږي، که هلک او نجلۍ د يو کلي څخه وي نو د کلي په منځ کې يو طويي حلاليږي او که د هلک او نجلۍ کلي جلا وي د هلک کورنۍ اړ ده چې د دواړو کليو خلکو ته طوی برابر کړي. •

## د طوی طريقه

مخکې مو يادونه وکړه چې طوی د واده ډوډۍ ده، چې په وردګو کې هم د يوه مهم دود په توګه د غوښو په وېشلو او پخولو سره ترسره کيږي.

له واده دوو يا دريو ورځو وړاندې د نجلۍ کورته هغه غوايي ورليږل کيږي چې له واده يوه ورځ د مخه بايد حلال شي، د طوی غوايي د هلک د خپلوانو يا هم د کلي د خليفه په لاس د نجلۍ کورته ژوندی ورليږل کيږي، د طوی د حلالېدو پر وخت د کلي خلک چې مخکې له مخکې د کلي د خليفه (ډم) په وسيله خبر شوي وي راټوليږي، غوايي ذبح کيږي او غوښې ټوټې کيږي. مهمه خبره دا ده چې د طوی پرمهال د کلي د يو تن لوستي کس يا د کلي د امام سره يو ليکل شوی ليست وي چې له مخې يې د هرې کورنۍ د شمېر پر بنسټ هرچا ته د في نفر پر سر نيم پاو غوښه ورکول کيږي د بېلګې په توګه که يوه کورنۍ ۸ غړي ولري نو د څلور پاوه يا يو چارک غوښې مستحق دی او دا غوښه بايد د يو قرض په څېر په پراخه تندي له احسان اچولو پرته هرچاته ورکړل شي، اړينه نه ده چې في نفر ته بايد هرومرو يو پاو غوښه ورکړل شي البته دا د کلي په دود پورې اړه لري په يو شمېر کليو کې

---

• (۲) ۴۱- ۴۲ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ممکن د غوښې اندازه له نیم پاو کمه یا زیاته شي، چې د کلي د مشرانو پرمخکینۍ پرېکړه او نفوس پورې اړه لري.
د طوی غوښه هم باید د کوژدې پر وخت د نجلۍ د پلار د غوښتنې او د کلي د نفوس مطابق تاکل شوې وي، یعنې شل منه، **۲۵** منه، **۳۰** منه یا **۳۵** منه غوښه د کلي د نفوس مطابق غوښتل کیږي.

## د طوی ډولونه

په وردګو کې دوه ډوله طوی دود دی (خام طوی او پوخ طوی) خام طوی هم هغه د خامې غوښې ویشل دي چې د کلي ټولو کورنیو ته د فی نفر پرسره په تله ورکول کیږي، د دې ارزښت دا دی چې د کلي ټولو افرادو نرو اوښځو، بډایو او مسکینانو ته غوښه په خپل کورکې رسیږي او د کلي او سیمې هر فرد وکولای شي غوښه وخوري او د واده له خوړې ګټه پورته کړي.•

### خام طوی:

خام طوی د کلي ټولو ولسونو ته په یو ډول ویشل کیږي، په دې ویشلو کې غوښې اخستونکی پرته له احسان څخه د خپل کور دنفوس مطابق خپله غوښه وړي ، یعني په دې طوی کې د کلي خان او غریب یو ډول ونډه لري او هیڅوک له غوښې نه پاتې کیږي ، خام طوی د هغو خپلوانو کورونو ته هم لیږل کیږي چې په لېرې پرتو کلیو کې موقعیت لري.
د وردګو د سیمې د یخې هوا له امله غوښه د یو اړین غذایي توکي په توګه تر ټولو غوره او منل شوې خوراک دی، چې د ښاري واټن د لیرې والي له امله هر وخت نه پیدا کیږي خو دا چې په واده کې ټولو کورنیو ته او ټولو افرادو ته یو ډول ورکول کیږي هرسړی کولای شي له دې خوړو څخه یو ډول استفاده وکړي. یعنې د واده په شپه د کلي په ټولو کورونو کې د طوی غوښه د هرچا د سلیقې سره سمه په هر کور کې پخیږي.

---

• (۲) ۶۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوخ طوی

په وردګو کې د خام طوی ترڅنګ پوخ طوی هم ورکول کیږي سره له دې چې د ورځې له خوا هر کور ته خام طوی ورلیږل شوی وي د بیګا لپاره هم د کلي مشران او نږدې خپلوان د ډوډۍ لپاره رابلل کیږي او د بیګا د ډوډۍ ترڅنګ د سبا غرمې لپاره هم عام تام طوی ورکول کیږي.

د بیګا له ډوډۍ خوړلو وروسته د کلي ځوانان خپله محلي موسیقي غږوي او یا هم د منګي او رباب په وهلو سره خپل مجلس ګرموي، د ماخستن څخه د سبا د غوښو پخولو چمتو والی هم نیول کیږي یعنې سبا ته چې د ناوې وړلو یا راوړلو ورځ ده باید عام طوی پوخ ورکړل شي، د طوی غوښه ډېره پخه شوې وي او آن ټوله شپه په اور ایښودل شوې وي ځکه نو د طوی غوښه ډېره خوندوره وي او د روغتیا لپاره د نورو غوښو په څېر زیان اړونکې نه وي.

# د نکریزو شپه

د ناوې له وړلو مخکې شپه د نکریزو د شپې په نامه یادیږي، په دې شپه سره له دې چې مهمانخانې یا میلمستون کې د کلي مشران او نارینه را ټول وي د ننه په کورکې د ناوې جوړولو لپاره نږدې ښځینه خپلوانې هم راټولیږي، نارینه د ننه کورته د تګ اجازه نلري یوازې محرم او د کور هغه نارینه د اړتیا په خاطر کورته ورځي چې د اکثرو لپاره خپل او محرم شخص وي. په دې شپه سره له دې چې د ناوې سر اړول کیږي او سینګاریږي په لاس او پښو یې نکریزې هم ایښودل کیږي، دغه نکریزې یوائې ناوې ته نه بلکې د کلي ټولو ښځو ته چې دلته په کورکې حضور ولري په یو لوی لوښي کې جوړیږي او ټولې ښځې د خپل ذوق مطابق پخپلو لاسونو او پښو نکریزې ږدي، له همدې امله دغه شپه د نکریزو شپه بولي چې په عامه توګه نکریزې استعمالیږي.

کله چې خاروي حلال شي غوښې ووېشل شي نو د نجلۍ مور د ناوې د جوړولو تیه نیسي او د کلي پېغلې، زړې او نجونې راغواړي تر څو د ناوې سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړ کړي هغه نجلۍ چې ناوې کېږي د خپلو همزولو په بدرګه کولو سره له خپل کوره د ګاونډي یا نورو خپلوانو کره ځي او هلته په داسې حال کې چې له بدرګه نجونو اوناوی پرته نور څوک هم نه وي. ناوې کوونکې نجونې یې سر وربانديې کوځۍ کوي د ناوې لپاره چې هلته د مېلمنو بیروبار نه وي هلته یې بیایي که چېرته د ناوې کېدونکې نجلۍ د پلار کوټې زیاتې وي او ډېر بیروبار پر نجلۍ باندې دنورو نجونو جوړ نه شي په خپل کور کې یې سر ورجوړوي تر ما زدیګره پورې کار خلاصېږي اوله نمازدیګر وروسته د ناوې جوړولو تر تیبات نیسي او د کلي له ښځو څخه یوه ښځه چې هغه ښه ږوند ولري او په زړه پورې دینداره وي د ناوې د جوړولو لپاره ټاکل کېږي او د نجلۍ نورې ټولې همزولې ورسره ملتیا کوي.

د ناوې د جوړولو څخه مخکې او د ډوډیۍ خوړلو څخه وروسته د ناوې مېږه یعنې زوم او د ناوې خوابښې یا ندرور راځي او د ناوې موټې پرې خلاصوي له زوم سره دلسو څخه تر شلو پورې خپلوانې نجونې هم ټنګورې راځي کله چې زوم ورشي نو دکور خلک یوه کوټه د زوم لپاره خالي کوي تر څو زوم او ناوې په هغه کې سره ووینې او راغلې مېلمنې نجونې او پېغلې ورسره تر اخره ملتیا کوي.

کله چې زوم د خسر کورته ننوځي نو په دروازه کې د نجلۍ کاکا ناوې او یا ماما ناوې خاله یاعمه ولاړه وي او وینه یې په یوه لوښي کې اچولې وي په هغه باندې د زوم پښه سره کوي او هغه ته د خالي کوټې لارښوونه کوي. زوم ټاکل شوې کوټې ته د خپلو ټنګورو سره یو ځای ننوځي او د خسرګنۍ نجونې ورته ناوې راولي کله چې ناوې راولي بیا د کوټې په دروازه کې ټوخی کوي او زوم هم د ټوخي په اورېدو نېغ درېږي تر څو ناوې د ده تر څنګ و دروي کله چې زوم او ناوې دواړه څنګ پرڅنګ ودروي، د زوم سره راغلې مېلمنې پېغلې دریا وهي او سندرې وايي کله نا کله اتڼ هم کوي نیم ساعت وروسته زوم او ناوې په یو وار په یوه تخت چې هغه هم د دوی لپاره جوړشوی وي کښېنوي او په یوه ناشکند قاب کې ښېلی راوړي لهزوم څخه خپلې خوابښیګانې او ښمینې تاوېږي او هغه بیا نجلۍ ولاړه وي او د نجلۍ موټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې خلاصوي. کله چې دا کار هم تر سره کړي نو بيا زوم خپل کورته ځي او ورسره راغلي نجونې هم ملتيا کوي. له دې مراسمو څخه وروسته د ناوې پښې او لاسونه سره کوي د لاسونو سره کول يې د هغه ښځې پرغاړه دي چې د ناوې د مور لخوا ټاکل شوې وي. کله چې لاسونه او پښې ور سرې کړي نو بيا د ناوې په دنې (دړې) اېښودلو پيل کوي او دنې (دړې) ورانيږي او بيا ناوې خپلې همزولې يوې داسې کوټې ته بيايي چې هلته په ارامه ودېده شي•.

## د ناوې جوړول

د وردګو خلک د ناوې د پلار په کور کې خپله ناوې جوړوي، په وردګو کې نه سينګارتونونه شته او نه څوک دا غواړي چې ناوې د د خپل پلار له کوره دباندې د چا په کور يا دوکان کې د سينګار کوونکو ښځو له خوا جوړه شي، بلکې د عام دود له مخې په وردګو کې د واده او مړي ژوند دودونه درانه دي او ډېر خلک د واده په مراسمو کې برخه اخلي.
که څه هم چې د وردګو خلک د ستر يا پر دې له امله خپلو ښځو ته د بيرون تګ اجازه نه ورکوي خو د دې لپاره چې په ودونو کې د ښځو او نارينه وو ځايونه په بشپړه توګه جلا وي نو د کلي او سيمې ګڼ نر او ښځې په ودونو کې ونډه اخلي، په ونډه اخستونکو ښځو کې هرومرو داسې ماهرې ښځې هم کمې نه وي چې د ناوې جوړولو ښه استعداد لري، د ناوې خپلوان او نږدې ملګرې (خورلڼې) په هغه چا د ناوې سينګار کوي چې ترټولو لايقه او خپلوانه يې وي، خو په دې جوړولو کې د سينګاروونکې ښځې ترڅنګ نورې همکارې ښځې هم وي، کوښښ دا کيږي چې داسې ښځه ناوې جوړه کا چې د پورته شرطونو ترڅنګ بختې ښځه هم وي يعنې داسې ښځه وي چې ښه کور، لايق خاوند او ښه اولادونه ولري ترڅو د ناوې ژوند د

---

(۲) ۴۶ مخ •

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې له برکته نیکمرغ شي. هغو ښځو چې ناوې يې جوړه کړې کومه اجره نه ورکول کيږي د جوړونکو ښځو ګټه دا ده چې په هغې د دومره لوی او نيک کار باور شوی او د هغې استعداد تر نورو لوړ ګڼل شوی دی. خو د ناوې د خپلوانو له خوا د دود په ډول يو څه نغدې پيسې د دوستۍ په نوم ورکول کيږي.
پخوا به د ناوې په جوړولو کې له ډېرو څخه کار اخستل کيدو ، خو اوس دا دود کم شوی او په ډېرو سيمو کې له منځه تللی، نو هڅه کيږي چې ناوې په ساده ډول يا د ښار د ناوې په څېر له ډېرو او زرورکو پرته جوړه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ناوې راوړل

یادونه مو وکړه چې له واده یوه ورځ مخکې ټولو خلکو ته خام او یوه شپه د وروسته ټولو خلکو ته پوخ طوی (خوړه) ورکول کېږي خو په دې شپه د ناوې یو یا دوه تنه خپلوان او څو تنه ښځینه خپلوانې چې د زوم سره د خپلوۍ نیږدې اړیکه ولري د ناوې کور ته د درنښت لپاره له واده یوه شپه مخکې ورځي څو هلته د ناوې د جوړولو په چارو کې له نورو سره همکاري او مشوره وکړي او د ناوې سره چې سبا د دوی کورته راځي بلدیت پیدا کړي، په دې ښځو کې هڅه کېږي د زوم مور، خور، عمه یا خاله ولېږل شي، دغه دوې یا درې ښځې د زوم د کورنۍ په استازولۍ هلته د سفیرانو په څېر رول لوبوي ځکه نو هڅه کېږي چې چالاکې، تجربه دارې او هوښیارې ښځې ولېږل شي.

سبا ته د ناوې راوړلو په موخه د کلي ګڼ خلک چې ورا یې بولي په ورا پسې ورځي او ناوې راوړي، په ورا کې ګڼ نارینه او ښځینه شامل وي، ښځې هلته د خوشحالۍ بدلې بولي او کله کله د پېغور په ډول د ناوې د راوړلو پر وخت داسې سندرې وایي چې د ناوې د کورنۍ د خپګان لامل کېږي، دلته یو ازې یوه سندره د بېلګې په توګه راوړو د دغو سندرو نورې بېلګې به د وردګو د واده سندرې تر سرلیک لاندې په یو ځانګړي سرلیک کې راوړو.

شین موټر په شګ کې پنچر دی = مورې ته ناوې راکې مازدیګر دی.

## د ناوې مخ کتل او مخرونې

د نکاح په سبا د غرمې له ډوډۍ څخه وروسته د ټول کلي ښځې د ناوې د کتو لپاره راځي او ناوې ته د مخ دیدنې په نامه یوڅه شی ورکوي او بیا بېرته د ځای ښځو او مجلس وروسته خپلو کورونو ته ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کار له دې ورځې څخه پیل بیا تر دریېو ورځو پورې دوام کوي تر څو د ټول کلي ښځې ناوې وګورې او خلاصې شي. کله چې د کتلو لپاره د ښځو تګ راتګ خلاص شي نو د کور ښځې د کلي د ښځو د پیسو په مقابل کې د ناوې له پوښ څخه یو دسمال د کلي په ښځو ویشي. د یادونې وړده چې د نکاح په سبا د ناوې لاس د خاښې لخوا لومړۍ په اوړو او بیا په غوړیو کې خلاصېږي او په همدې ترتیب ناوې وروسته د کور په کار پیل کوي او لومړی یو من اوړه پرناوې خوشتوي او ډوډۍ پرې پخوي او بیا ورو ورو دکور نور کارونه هم کوي•.

---

• (۲) ۶۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د وردګو د واده بدلې

که څه هم چې د پښتنو ژبه يوه ده او ډېرى پښتانه يو ډول او سره ورته بدلې لري چې د ټولو پښتنو د ادب يوه مهمه برخه جوړوي او کوم خاص قوم يا سيمې ته يې نشو منسوبولى، خو دا بايد ومنو چې د پښتنو هره سيمه داسې دوديزې بدلې هم لري چې د ټولو پښتنو په سيمو کې دې موجودې وي که موجودې هم وي په يو ډول او يو طرز کې به نه وي او خامخا به لږ او ډېر توپير د نورو پښتني سيمې د ولسونو سره لري په دې ځاى کې موږ هغه سندرې راوړو چې د وردګو په ودونو کې دود دي.

د پښتنو ژبې نوموتي ليکوال او ژورنالست احسان الله آرين زي په دې اړه پخپل کتاب (د وردګو د واده بدلې او دودونه) کې ډېرې داسې سندرې راوړې چې يوازې او يوازې د وردګو سيمې ته منسوبې دي.

د وردګو خلک په ودونو کې خپلې ځانګړې سندرې وايي چې د هغوى د ولسي ادب، احساساتو او سيمييز کلتور ښکارندويي کا. په دغو سندرو کې داسې سندرې هم شته چې ډېرې يې د سيمې د بې سواده ښځو له خوا جوړې شوي او د يو دود په توګه خوله په خوله نقل شوي او دواده د سندرو ځاى يې نيولى، د دې لپاره چې د واده چاره يوه لويه چاره ده دنجلۍ کورنۍ هڅه کوي څو د خپلې لور او خور واده په غوره او شانداره مراسمو تير کړي، د دوى ناوې ته تر نورو ناويانو ښه لباس، ښه کور برا رشي، ورا يې تر نورو ناويانو زياته وي، طوى يې تر نورو ناويانو ښه وي... چې دا ټولې چارې د يو بډاى اقتصاد پورې تړاو لري و کله دا چاره د دې سبب کيږي چې د نجلۍ او هلک د کورنيو ترمنځ د هغوى د غوښتنو د نه عملي کيدا له امله ژورخپګان رامنځته شي، چې دا بيا د ښځو له خوا په سندرو کې منعکس کيږي، هغه چې خوښ دي، د خپلې خوښۍ احساس کوي او هغه چې ناراضه وي د خپلې اتلولۍ او د مقابل لورې د کمزورۍ خبرې په سندرو کې راوړي چې ستاينې هم ورته وايي، دا ستاينې د کنځاکيو په څېر سندرې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د واده د حالاتو څرنګوالی بیانوي یعنې ښه والی او بدوالی، مثبت او منفي اړخونه ټول پکې راوړل کیږي لکه څو لاندې سندرې:

زمو نږ ناوې تر ګټو ونو تیـره شوه
پلار یې په خیشتو شو لور یې هیـره شوه
ناوې لا سو نه غبرګ په تندې کیـږده
زغالی یې په شکاره کې ورته پر یـږده
که یې کور نه وې ورکړی داسی ورته وایې:
سمه سیخه کینه چې کږه نه شی
د شا تکیه دی نشته خمتتمه نشی
ناوې ته وایې:
ناوکۍ ستر ګې توروه په سلا یې با ندې
د پلا نکې خان مو ټر ولاړ په دوراهی باندې
د زوم خو یندی په ډیر و تودو احسا سا تو له کوره وځی در یاوې وهی خپل ورونه ، د خپلې کور نۍ څرنګوالی او ستا ینه په سندرو سره بیا نوې او نارینه او پسی روانې وې او داسی سندرې وایې:
چهار ګل دی پره دار په پوزه کړی دی
ناوې د پلا نکې خیلو مهر ورکړی دی
هلکه یو دی کرچ بل دی خنجر دی
په مو نږ کې پلا نکې خان د ورڼو سر دی
خو کله چې د ناوې کور ته ر سیږی په دغه وخت کې په واده پسی تللې ښځې کو ښنښ کوی ، چې ښې سندرې ووایې ، او ښه اتڼ وکړی ، تر څو چې مقا بل لوری ونه وایې چې داسی ښځې را غلی وې په هیڅ نه وې خبرې ، نو په دغه وخت کې دا سندرې وایې:

ښیخه سرای دی فرش کړه په مر مرو
پلا نکې خان ته څوکۍ کیږده د سرو زرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پس له اتڼ څخه د کور ښځې هر کلې ورکوي ، خو په دغه وخت کې دوه حالته منځ ته راځي یا به د ناوې پلار او نور وکداران ښه چلند کوي. د ځوم میلمانه په خو ښې سره له کوره وباسي ،که چیرې د خیښانو سره ښه رویه وکړي او دوی ورځنې خو ښ وي ،نو بیا یې داسې ستایي:

مه ژاړه ناوې تا دې خدای نه ژړوي
پلا نکې خان که په وطن و تا به بیا راولي

د سپارښتنې په ډول د ناوې خویندې زوم ته دا سندره وایي:

زومه چې په لاس کې دې قران دی
زمو نږ د خورې لاس د تا ګرېوان دی

خو یندو خلاص کړی د اصیل صندوق قلفونه
ښکاره کړئ د پلا نکې د لاس شالونه
ناوې پر بام راګوره بردې کلې دې
امیل یې طلایې درته راوړی دی
ناوې جوړ کړه ګلدوزی سبین دسمالونه
د پلا نکې خان تر برونه ډیر دي دربه شینه.•

---

• (۱) ۲۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورا

ورا د هغو خلکو مجموعې ته وايي چې د زوم له کور او کلي څخه د ناوې کلي ته د ناوې د راوړلو په موخه په مجموعي توګه ورځي.
په ورا کې اکثراً ځوانان ډېر وي خو د زړو نارينه و اوزړو ښځو پرتګ هم بنديز نشته دی.
د ورا خلک د تګ پرمهال ځانګړې خوشحالي کوي، چې ډولونه اتڼونه د ټوپکو ويشتل او آوازونه ساتېری، پکې شامل دي هغه وخت چې د ډول وهلو آواز د ناوې کور ته راورسيږي نو د کلي ښځې بامو ته خېژي او د ورا سيل کوي.
ښځې وروسته له بامو را کوزيږي او زوم کور ته راولي او په يوه ځانګړې کوټه کې يې د خسرخېلو له خوا ورته جوړ کړي کالي وراغوندي او د ډوډۍ ترتيبات ورته نيول کيږي خلک ډوډۍ خوري وروسته تر ډوډۍ د ښنې په ويشتلو پيل کوي. خو اوس د بدلونونو له وجې د ټوپکو په ويشتلو بنديز لګېدلی ډېر کم خلک دي چې د ټوپک ډزې کولای شي.
هغه وخت چې د نجلۍ او هلک د کورونو تر منځ فاصله کمه وي بيا نو ډوډۍ د هلک کره خوري او يوازې چای د نجلۍ کره څښي او ښنه به د خلکو لخوا حتمي ويشتل کيږي که چېرې ښنه ونه ولي ناوې نه ورکول کيږي او دا تر هغه وخته چې څو يې دا شرط پوره کړی نه وي ادامه لري.
په يوه ګوښه ځای کې د هلک پلار يا بل نيږدې خپلوان د ناوې د راويستلو نه مخکې مجبور دی چې د ناوې د ولور پاتې برخه ورکړي. د ناوې د جوړولو په وخت کې خېښې دا سې بدلې بولي.
په موټر کې د ناوې نرۍ ژړا ده
په ورا کې د پلاني د ټوپک غږ دي
همدا سې چې زوم کالي واغوستل د ناوې سره څنګ په څنګ کېني دا ځکه چې په ډېرو پښتنو کې دا عادت دی. •

---

• (۲) ۴۲-۴۳ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ناوې راویستل

مخکې له دې چې ناوې له کوټې څخه راوباسي درې ځله یې په ټوپک لټوي او کښنوي د ناوې ټکری یا شال کلابي او زرغون رنګه وي پرې اچوي بیا نو د خیره یوه دعا کوي ورور یا پلار یا ماما یې تر مټ نیسي او د کوټې څخه یې راوباسي د وره په سر یې قران کریم ورته نیولی وي او په دې وخت کې د هلک د کورنۍ له خوا داسې بدل ویل کیږي.

د دبوال تر خوا ولاړې ته پوهیږې که نه

د زوم کالي د نشته ته شرمیږې که نه

د ناوې د وړلو لپاره موټر آس او کجاوو نه کار اخیستل کیږي همدا چې ناوې د وړلو د حرکت شیبه وي د نجلۍ پلار خپښو ته ټکري د ناوې لپورو ته لونګۍ د آس یا موټر لپاره د ګردي د سمالونه ورکوي.

نجلۍ ته د پلار له کوره یوه جوړه چلمچي او کوزه یوه بستره دوې درې جوړې جامې..... داسې نور د کور ټول لوازم ورکول کیږي. په موټرو کې خلک سپریږي او ډولونه وهي اتنونه کوي د هلک کور ته په رارسېدو داسې بدل وایي:

موږ داسې ناوې راوړه   مخ یې لمر ښت یې سپوږمۍ ده

د غره په سر سپوږمۍ رڼا راغله   پلانکۍ مې ښه توپچې ناوې یې راوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ناوې رارسول

دا چې ناوې د کور خولې ته رارسیږي نو اس یا موټر هر څه چې وي دروي يې او ناوې ته وايي چې راکوزه شه مګر ناوې په دې خبره نه راکوزيږي ناوې هېڅ غږ نه کوي هغه سړی چې د ناوې سره راغلی وي هغه د هلک پلار ته وايي چې ناوې کور غواړي نو د هلک پلار ورته وايي چې زما په کور کې يوه کوټه دې او په نورو ټولو شيانو کې د راسره شريکه وي نو وروسته له دې څخه ناوې راکوزه شي او د کوزېدو په وخت کې شاا وخوا ښځې د پردې په شکل د خپلو انو له خوا نيول کيږي په دې خاطر چې پردې خلک ناوې ونه ګوري او د کور تر خولې پورې دواړو خواو ته ورته ښادرونه نيول کيږي.

په دې وخت کې په ناوې اوبه، روپۍ، مېوه... ورشنل کيږي ناوې چې کوټې ته ننوځي د دروازې په تادرۍ باندې يوه کوکه (مېخ) ټک وهي بيا په کوټه کې هغه د سمالونه چې په خپلو ګوتو يې کړي وي هغه په دبوالونو باندې ځړوي، د کلي ښځې د ناوې کور ګوري او مخ رونې يا مخ ديدني ورکوي او په بدل کې يې هغه د سمالونه چې د ناوې په ګوتو جوړ شوي وي د کلي ښځو او مېلمنو ته ورکول کيږي د لرې ځايونو مېلمانه پاتې کيږي او کلي ښځې خلک خپلو کورونو ته ځي.•

---

• (۲) ۵۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نکاح شپه

د نکاح شپه له هغې شپې څخه عبارت ده چې د ناوې او زوم تر منځ بیا د قبول او ایجاب نوی توب کیږي یعنې ناوې هم یو تن ځانته د وکیل په حیث نیسي او زوم هم. په دې شپه د کلي څخه یو تن د کور په سر د ډوډۍ او د نکاح لپاره راغوښتل کیږي نکاح د ډوډۍ د خوړلو نه وروسته تړل کیږي. •

## د نکاح پلار

همدا چې ډوډۍ یې وخوړله د کلي خلک د جومات ملا دوه تنه شاهدان ټاکي او ناوې ته یې ورلیږي. دغه شاهدان له ناوې څه پوښتنه کوي چې د نکاح پلار څوک نیسې، شاهدان څو څو واره ناوې ته ورځي چې څوک ټاکي مګر ناوې ژر تر ژره د نکاح پلار نه ټاکي دا ځکه په هره پلا چې شاهدان د ناوې د راې اخستلو لپاره هغه ته غوږ ورنیږدې کوي نجلۍ له شا څخه تور څړی پرې ور ګنډي کله چې دغه سړی یا نارینه د کوټې مجلس ته ورننوځي نو خلک ورته خاندي په دې توګه دغه مجلس ډېر خنداور مجلس وي. په څلورم یا پنځم ځل چې شاهدان ناوې ته ورشي هغې ته زارۍ کوي او ورته وایي چې خلک ډېر ستړي او ستومانه دي خوب ورځي نو ژر شه د نکاح پلار دې وټاکه تر دې وروسته ناوې شاهدانو ته وایي زما د نفس وکیل یا د نکاح پلار (پلانی) دی.

د شاهدۍ تر ادا کولو وروسته چې ایجاب او قبول وشي د کلي ملا هغه شربت چې په یوه پاک لوښي کې راوړل شوي وي او مخې ته یې ایښی وي د قران کریم څو آیتونه لولي او پر شربت یې چوف کوي او دا شربت بیا دوه ځایه کیږي یوه برخه یې ښځو ته ورسیږي او بله برخه یې همدلته د خلکو لپاره پریږدي، لومړی غړپ ناوې او بیا یو یو غړپ د کلي ښځې څښي همدا شان له بلې برخې څخه لومړی غړپ زوم او بیا نور کلیوال یو یو غړپ څښي د شربت څښل چې پای ته ورسیږي بیا نو یو

---

• (۲) ۶۳- ۶۴- ۶۵ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټی مېوه د خلیفه له خوا وېشل کېږي او بیا وروسته د نکاح په مجلس کې هغه وخت چې ملا په لوړ آواز دا ټکي بیانوي، دغه پلانکۍ نومې نجلۍ چې د پلانکي خان د پلانکي زوي دی او بله لور په دې نامه سره نه لري په نکاح صحیح و شرعي سره د پلانکي خان زوی پلانکي خان نومي لپاره چې بل زوی په دې نامه نه لري ورکړې د نجلۍ وکیل ورته وایي هو، ما نومړې ته ورکړې، ورکوم یې، ورمې کړه.
ملا همدغه کلیمې د هلک وکیل ته تکراروي او وایي چې نوموړې نجلۍ تا قبوله کړې وه او قبوله د کړه.
هغه هم ورته وایي هو ما قبوله کړې وه او قبوله مې کړه دغه عمل ته قبول او ایجاب وایي. په دغه وخت کې د هلک ورور یا کوم نږدې خپلوان بیاتي پلاس کې پټه نیولې وي او داسې یې خوځوي لکه چې یو شی ورباندې پرېکوي او یا یې لندې لښتې راوړې وي او هغه پر چاقو پرې کوي یا په خپله زوم دغه عمل کوي په دې خاطر یې کوي که په دې مجلس کې څوک په نجلۍ او هلک یا د دوي په پیوند باندې څه جادو کړی وي چې له منځه یې یوسي.
یعنې جادوګر هر ډول جادو دم او نوشته چې کوي په بیاتي او چاقو یې پرې کوي د نکاح د مجلس په پای کې ملا یوه دعا کوي او مجلس ختمیږي او داسې هم پېښنه شوې ده چې نکاح د نجلۍ په کور کې وتړل شي.

## کردار راوړل (بوخڅه)

بوخڅه یا کردار د پېغلې نجلۍ یو بل مسولیت دی، ډېری پېغلې له نامزادۍ د مخه په کور کې د ګوتو کار کوي، په وریښمو او وونو سره لاسی دسمالونه، د یخن غاړې، د کوټې لپاره د پردو جوړول، د دریشۍ د پوښونو جوړول، دسترخوان جوړول، جاینماز جوړول، د تکیو د پوښتیو جوړول... کوم چې د دې سیمې د خلکو د لاسي صنایعو یوه برخه ده د خسر کورته د بوخڅې په توګه وړي، د ناوې خسر، خواښې، لیورونه، ماما خسر، کاکا خسر او نورو دوستانو ته د ډالۍ په توګه وروړي، بوخڅه چې د نجلۍ د لاسي صنعت او کمال څرګندویه ده که چېرې په ښه توګه چمتو شوې وي نو د نجلۍ او د هغې د پلار د کورنۍ په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې کيږي که چيرې د نجلۍ په بوخښه کې کمی وي نو خلک وايی بوخښه يې کمزورې ده، د بوخښې دود د وردګو په سيمه کې يو مهم او لرغونی دود دی، چې اکثريت نجونې پرې کلونه کلونه زحمت وباسي، خو اوس دغه دود کرار کرار له منځه تلونکی دی، ډيرې نجونې چې وديږي د خسر کورته د بوخښې د دود پرځای ښاري توکي لکه ګلدوزي شوي شيان وړي او يا هم بوخښه د سيمې د هغو ښځو څخه د پيسو په مقابل کې اخلي چې د هغوی ورځنۍ چارې لاسي صنايع وي او د بې وزلۍ له امله يې د غاړو ګنډل او د سمالونه جوړول کسب وي، د وردګو ښځې کلک ستر او حجاب له امله له کوره نه وځي، که کومه ښځه کونډه شي يا يې خاوند د کار کولو توان ونه لري نو د ناويانو لپاره لاسي صناعتي توکي په خپل کور کې اوبدي او بيا يې د پيسو په مقابل کې په هغو نجونو پلورې چې وديږي.

## د ماشوم د پيدا کېدو دود

ماشوم پيدا کيدل که هلک وي که نجلۍ د اسلام د سپيڅلي دين له نظره ښه کار دی، د وردګو د سيمې ميشت قومونه هم د اسلام دين ته د زياتې عقيدې لرلو له امله د هلک او نجلۍ پيدا کيدلو ته خوشحاله کيږي يعني کله چې ماشوم ښځينه وي که نارينه پرې خوښي ښرګندوي که ماشوم هلک وي وايی د خدای رحم دی چې زموږ کورته يوبل ګل هم را زيات شو اوکه ( نجلۍ ) وي وايی شکر دی چې خدای زموږ په کورنۍ ورحميدا او يوګل يې را ولوراوه، خو په يو شمير کورنيو کې چې هلکان نه لري يا هلکان کم وي د هلک د پيدا کيدلو وروسته ميلې او ساعت تيري جوړوي او خپل خپلوان راټولوي.•

---

• (۲۳) ۵۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ماشوم په غوږ کې اذان

ماشوم چې کله وزیږي نو کورنۍ یې لیواله وي چې په غوږ کې یې اذان وکړي. په وردګو کې دا اصطلاح عامه ده چې ماشوم ته باید ژر په غوږ کې اذان وشي څو پوه شي چې مسلمان دی او د خپلې مسلمانۍ څخه خوند او لذت واخلي.
د وردګو خلک اکثرا پخپله ( د ماشوم نیکه، پلار، یا بل متدین کس ) د ماشوم په غوږ کې اذان کوي او که په کوم کورکې دا ډول کس نه وي بیا د دوستانو له کور څخه یا هم د مسجد ملا امام راولي څو د ماشوم په غوږ کې اذان وکړي.
کله چې د کلي امام یا بل متدین کس د ماشوم په غوږ کې اذان وکړي نو د ماشوم د کورنۍ له خوا ورته په د سمال کې میوه غوټه شوې وي ورکول کیږي، یا هم د شیرینیو یو پاکټ یا نغدې پیسې ورکوي، د دې کار موخه داده چې هغوی هیله لري ماشوم یې د نیکو اخلاقو او اسلامي لارښوونو پابند وروزل شي، بله موخه یې داده چې د وردګو خلک دیني عالمانو او متدینو خلکو ته ځانګړی درناوی لري او هغه عالم یا متدین شخص چې د دوی کورته ورځي د درنښت او ماشوم ته د خوشحالۍ له امله هغه ته میوه ( شیریني ) ورکول کیږي یعني د اسلامي او پښتني دودونو له امله په وردګو کې د میلمه ، دیني عالم، ا متدینو اشخاصو پالل یو لرغونی دود دی.

## سنتې

هلک تر زیږون وروسته په اوومه یا دریمه ورځ د کلي د نایي یا سیمه ییز روغتیا پال له خوا د اسلامي دین د حکمونو سره سم د ابراهیمي سنتو په رڼا کې سنتیږي، کله چې ماشوم سنتیږي د کلي نایی (خلیفه ) د کور د مشر له خوا راغوښتل کیږي د خپلو خپلوانو، د کلي د مشرانو نومونه ورښودل کیږي د ټاکلي وخت سره سم راغوښتل کیږي، ډیری خلک د سنتۍ په ورځ، خوسی یا پسه ذبح کوي او د خوښۍ په نیت د کلي مشران او خپلوان راټولوي، د قرانکریم ختم کوي ، ډوډۍ خوري او د ماشوم د خیر او برکت لپاره دعا کوي، په دې ورځ په کورکې د ښځینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو لـه خـوا دريـا هـم وهـل کيـږي او د ماشـوم د پيـدا کيـدا لـه املـه پـتهې يـا ښـکاره سندرې وايي.

## نوم ايښودنه

نوم دماشوم د کورنۍ د مشر يا بل کوم پوه او لوستي کس له خوا ټاکل کيـږي ، کـه ماشوم هلک وي د ختم په ورځ ملا امام ته ويل کيږي چې دوی پر ماشوم( فلانـی ) نوم ايښی دی، ملا امام يا موافقه کوي ورسره يا يـو بـل معـادل نـوم چې شرعي او ادبي صبغه ولري ورښيي تر خبرو وروسته په يو نوم موافقه کيږي او هغه خلکو تـه ويل کيږي، د نوم ايښودل ډير وختونه د ختم په ورځ وي خو کلـه ناکلـه د خـتم څخـه وړاندې يا وروسته د ماشوم د کورنۍ د غړيو له خوا ايښودل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مړي دود

پە وردګو کې د مړي دود ډیر درووند دی او لە نورو سیمو توپیر لري د مړي مراسم چې پە تفصیل یې دلتە بیانول ناشوني دي لە نورو پښتني قومونە سرە زیات توپیر لري، یوازې د مړي د تدفین او تکفین مراسم یې کاملا د شرعي اصولو پر بنا تر سرە کیږي چې دا تقریبا پە ټولە اسلامي نړۍ کې ورتە والی لري نو ځکە د وردګو لە نورو پښتني قومونو سرە دا مراسم یو شانتە دي او نور رسم او رواجونە یې بیا د سیمە ییزو دودونو پە بنا د نورو پښتني قومونو څخە د ځانګړیو مقرراتو پە بنا د ډیر توپیر درلودونکې دي.

کلە چې مړی وشي د کلي ټول خلک سهار وختي جومات تە راځي ، ټول کلی د سهار چای جومات تە راوړی او ښځې د مړي کورتە ورځي، د کلي ملاامام، خلیفە او ... کسان راټولیږي، د مړي د خښولو لپارە تدابیر نیول کیږي، روقعې لیکل کیږل او د مشرانو لە خوا پریکړە کیږي چې څوک راوغوښتل شي څوک راونە غوښتل شي ځکە ځینې سیمې ډیرې لیرې وي چې د خلکو خبرول او مړي تە رارسیدل ستونزمن او یا هم کلە ناکلە د ژمي پە موسم کې ناشونی وي، مخکې بە دا خلک د کلي د دلاک پە واسطە خبریدل خو اوس چې د وردګو پە سیمە کې نیم او نیم کلە مخابراتي اسانتیاوې موجودې دي وولسونە د تلیفون لە لارې خبریږي او د ترانسپورتي اسانتیاوو لە املە د مړي پە تدفین کې د لیرې پرتو خلکو ګډون اسانە شوی دی، چې لە املە یې د وردګو پە سیمە کې د مړي د خښولو پە دود کې ډیر درووندوالی راغلی او د زیاتو مړیو پە جنازە کې آن زرګونە کسان ګډون کوي. •

• (۱۲) ۸۰- ۸۱ مخونە

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په مړي پسې خيرات

د وردګو په سيمه کې معمول ده چې خلک په مړي پسې خيرات کوي چې دا په دوه ډوله ده يو يې دادی چې کله مړی وشي د مړي وارث يا د کورنۍ مهم کسان يو يادوه غوايان اخلي او حلالوي يې ، ترڅو هغه ميلمانه او خپلوان چې د مړي د خښولو په موخه له لرې ځايونو راغوښتل شوی را ورسي او د جنازې لپاره راغلي کسان او د کلي او سيمې اوسيدونکي د خيرات په مراسمو کې ګډون وکړي، دا کار دوه لامله لري يو دا چې خلک وايي مخکې له دې چې مړی دفن شي خيرات يې وشي د ده لپاره به د قبر د سختيو په اسانۍ کې مرسته وکړي، دويم دا چې دوردګو سيمه ستړې درې او او جګ جګ غرونه لري وولس يې تيت پرک پروت دی، د موټرو او نورو وسايلو اسانتياوې پکې کمې دي او د مړي خښولو دود يې دروند دی ځکه نو ډير لرې خلک له سختو مزلو سره سره د مړي خښولو ته ورځي، د مړي په کور کې په سلګونه کسان راټوليږي چې په خيرات کې هم ګډون کوي او له خيرات وروسته مړی خښيږي، خو اوس ډيری خلک د دې دود خلاف د مړي له خښولو وروسته په مړي پسې خيرات کوي ځکه په دې وروستيو کې لارې سړکونه جوړ شوي دي او اسانتياوې رامنځته شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مېلمه پالنې دود

په وردګو کې خلک د مړي او ژوندي دود ته په ډېره درنه سترګه ګوري د دې سيمې خلک د هېواد د ځينو نورو پښتنو په څېر مېلمه ته زيات درناوی کوي په خپله په ځان هر ډول کړاو او سختي راولي خو هڅه کوي څو مېلمه ته په دسترخوان ببلابېل خواړه چمتو کړي. د وردګو خلک هغو خلکو ته چې له مسافرۍ راځي يا ورسره دوستي او ملګري لري وخت ناوخت ورته مېلمستيا وې کوي په دې سربېره که کوم مېلمه د چا کورته ورشي نو د کور خاوند يې په ورين تندي هرکلی کوي او تر ټولو غوره خواړه ورته چمتو کوي، د وردګو خلک په اخترونو کې درې شپې سر په سر يو بل ته مېلمستياوې کوي.
د مېلمستيا دود پکې دومره پياوړی دی چې په دېرو سيمو کې هوټل نه ليدل کېږي او نه ورته بېروني مسافر اړتيا لري ځکه د دې سيمې خلک د خپلو ديني او پښتني ارزښتونو له مخې مېلمه ته ډودۍ ورکول خپل درونډ مسئوليت ګڼي. •

## مېلمه ته ډالۍ

ډالۍ زموږ د هېواد د درناوي او تفاخر يوه تر ټولو لوړه ملي او تاريخي عنعنه ده او نه يوازې د عام ولس ترمنځ تبادله کېږي بلکې په دولتي کچه هم لوړې ډالۍ رواج لري، دډاليو معمول نه يوازې په افغانستان کې بلکه د نړۍ په اکثره هېوادونو کې هم ديوې ملي عنعنې په عنوان رواج لري او عزتمندو ميلمنو ته ورکول کېږي.
زموږ په هېواد کې ډالۍ په ملي اوګړنيزه کچه اکثرا د چکمنې، پوستين، لنګۍ اوکاليو په بڼه رخت وي خو استعمال يې له ډېرو پخوا زمانو څخه رواج لري د ډالۍ پواسطه ملي او فردي ميلمه ته په لوړه کچه درناوی مراسم په ځای کېږي او هغه ته د اخلاص وروستی مراتب پرې څرګندېږي آن تردې چې د

---

• (۱۲) ۷۷- ۷۸- ۷۹ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریعت په بشپړ چوکاټ کې او د انساني معیارونو په رعایت سره ځیني وختونه د ډیرګران میلمه یا د میلمنې زوی ته لوړهم ورکول کیږي چې هغه بیا د ناوړه رواجونو لګښتونه نلري او دا نجلۍ لوړه بختوره وي په هرصورت هغه ډالۍ چې د عام ولس او کورنیو ترمنځ رواج لري اکثرا یې د کورنیو په اقتصادي توان پورې هم اړه لري ځکه هغه کورنۍ چې اقتصادي یې قوي وي خپل ګران میلمه ته چکن پوستین ډالۍ کوي او له هغه را روسته زرینه چکمنه او وریښمنه لنګۍ ورکول کیږي او د کالیو رخت بیا وروستۍ او ټیټه ډالۍ ده چې میلمه پرې نازول کېږي.

له بل پلوه ډالۍ نه یوازې نارینه ته بلکې ښځو ته هم ډالۍ ورکول رواج لري خو د ښځو ډالۍ یوازې پرکمیس او ټکري پورې محدودې وي ، ددغه ډالیو وخت هم معلوم وي تل او هر وخت چاته ډالۍ نه ورکول کیږي داچې کومو کسانو ته ډالۍ ورکول کیږي او په کومو مواردو کې ورکول کیږي البته دلته موږ له هغه کسانو یادونه کوو کومو ته چې ډالی ورکول کیږي اودا رواج یوازې دډالیو په ارتباط را څیړو او په نورو ابعادو یې کار نلرو.

۱ـ د نویو خیښانو ترمنځ په پیل کې ډالۍ ډیرې معمول وي او که درواغجن نشم یو دبل بیخ په لومړنیو ډالیو وباسي ځکه هر یو زیار باسي چې ځان تر مقابل لوري لوړ وښیې.

کله چې یو ځوک چیرې خیښي وکړي لور ورکړي نو له یو څه مودې وروسته د زوم پلارینه دنوې کوژدن کورته پوښ راوړي چې په ناوکۍ سربیره د ټولې کورنۍ غړو ته جامې پکې شاملې وي خو اصله خبره داوه چې پوښ را وړونکو ته که نارینه او ښځینه د تللو پروخت کې د جامو رخت ورکول کیږي چې دغه رخت ته ډالۍ ویل کیږي.

۲ـ له یو څه مودې وروسته دزوم د کورنۍ لخوا د نجلۍ دکورنۍ غړو ته میلمستیا کیږي او له میلمستیا وروسته دوی په ښو ډالو لمانځل کیږي چې (خسرشریف) ته د امکان په صورت چکن پوستین او د کورنۍ نورو غړو ته جامې او نورې ډالۍ ورکول خو پاته دې نه وي چې دغه رواجونه سخته منفي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیالي ده او ورځ د بلې په پرتله نوي رواجونه پکې زور اخلي او په اصتلاح د سیالۍ او شریکي په بنا ملا ماتونکی لګښتونه را منځ ته کیږي.

## د خیښانو د کورنیو ترمنځ نورې ډالۍ

له واده وروسته که چیرې دناوې ماما ، کاکا ،ورور، خاله، عمه چې د عمومي میلمستیا پرمهال د زوم کره نه وي تللي او له واده وروسته د زوم په کور ورپیښ شي نو د تللو پر وخت رواجي ډالۍ ورکول کیږي او همدارنګه د ناوې کورنۍ هم دزوم د کورنۍ د پورتنیو مشخصاتولرونکو کسانو ته د ډالۍ په ورکولو مکلف دي.

## متفرقه ډالۍ

دا ډول ډالۍ زښته ډیر مستحقین لري یاني که چیرې لیرې او نیږدې خورځوی تربور د خیښانو، خیښ او په دې لړ نور خپل او پردي له چا کره په لومړي ځل ورشي نو میلمه د تلو پرمهال له دروازې نه د هر را ننوتونکي کس تخرګ ته سترګې نیولې وي چې ګویا ډالۍ به یې را وړې وي خو دا ډالۍ خدای وس اختیاري دي که یې ځوک چاته ورنکړي هم ځوک دګیلې حق نلري په متفرقه دالیو کې جرګه مارو ته هم ډالۍ هم شاملې وي

## مږیخي

یو بل ډول ډالۍ بیا (مږیخي) ده چې دا رواج اوس تقریبا تت او له منځه تللی دی هغه به په دې ډول و کله به چې د نوې ناوې لومړی او لاد دناوې د پلارکره ولاړ نو د ناوې پلارینې به د مږیخي په نوم یو حیوان (پسه یا خوسکی ) دخپلې لورنوي زیږدلي ماشوم ته ورکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دود یزې مېلمستیاوې (اختر، مسافري، خپښي... )

خپلو خپلوانو او کلیوالو ته دوډۍ کولو ته میلمستیا وایې چې فردي او ډله ییزې میلمستیاوې پکې شاملې دي او د میلمستیا موارد هم معلوم دي، ځکه ځینې میلم ستیاوې جبري او ځینې اختیاري وي چې د جبري میلمستیاوو په ډله کې اکثراد اخترونو او نورو داسې ورځو میلمستیا شامله وي چې د کلي هرکور به د ډوډۍ په کولو مکلف وي خو اختیاري میلمستیا ترجبري هغه بیا خوندوره وي، که یو څوک له مسافرۍ نه راشي نو نیږدې خپلوان یې ورته میلمستیا کوي او که چیرې څوک له بندیخانې را خلاص شي او یا هم کوم حاجي له حج نه راشي نو بیا درنده میلمستیا ورته کیږي او پخوا پورې یې نور سپین ژیري او مخور هم کښینول کیږي.

او همدارنګه د خپښانو لپاره هم میلمستیا دود ده کله چې څوک له چا سره خپښي وکړي نو په لومړي ګام کې د مړي ژوندي د پاللو لپاره ددوی ترمنځ یو بل ته میلمستیاوې کیږي خودا چې په ځینو میلمستیاوو کې میلمنو ته ډالۍ ورکول کیږي.

## د اختر دود

اختر که څه هم د ټولو افغانانو او ټول مسلمان ملت د خوښۍ ورځې وي خو په وردګو کې دې ورځو ته ځانګړي مراسم نیول کیږي، د اختر په لومړۍ ورځ ټول خلک ( نارینه سړي او کاشومان) سهار وختي جومات ( مصدق) ته ځي ، هلته چایونه څښي او تر چای څښلو وروسته له یوبل سره د اختر مبارکي کوي، له جومات بهر یا د جومات په څنګ کې د ډوډۍ د مراسمو په اړه ترتیبات نیول کیږي او د مهال ویش سره سم پر یو وخت ۵ یا ۲ کوره ټول کلي ته ډوډۍ کوي او دا دود په ډلییزو میلمستیاو او خوښیو لمانځي، ماشومان بیلابیلې لوبې کوي لکه د هګیو جنګول، د غوزانو ګټل...

ماشومان په ډلییز توګه د یو بل کورونو ته د مبارکي ورکولو لپاره ورځي او هغوی ورته میوه یا نغدې پیسې یا ایشیدلې هګۍ د عیدي په ډول ورکوي. لویان

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د خپلو خپلوانو کره البته چې محرم یا نږدې خپل یې د اختر مبارکي په خاطر ورځي، او ښځې هم د خپلو نږدې خپلوانو لکه ماما ، کاکا ، ورور، خور او ... خپلوانو کورونو ته د اختر مبارکۍ لپاره ورځي.
په مخکې وختونو کې به د اخترونو پر مهال د ټوپکو ډزونه کیدل، نارینه وو به د غره په لمنو کې اتڼونه کول او ډولونه به وهل کیدل، نجونو به هم په یو ځانګړي او مناسب ځای کې چې هلته به نارینه نه وو ډله ییزې اخترې میلې لکه د ټال وهلو لوبه او داسې نور ترسره کول خو اوس دا دودونه کم شوي او د له منځه تللو په حال کې دي.•

## (۴) د وردګو سیمه ییز خواړه

هرهېواد خپل دخوړو ځانګړي ډولونه لري چې دهغوی دا خواړه د خپلو ګاونډیو هېوادونو له خوړو سره بیا تر یوه بریده شباهت لري او یو شان ته وي خود لیرې پرتو هېوادو نو نه بیا بشپړتوپیرلري مثلا د امریکایانو په کورنیو او هوټلونوکې خواړه دافغانستانرد کورنیو او هوټلونو له خوړو سره ډیر تو پیر لري هلته ښايي چیکړې، کروټ او شکنه څوک ونه پیژني او هغه خواړه چې هغوی یې خوري که موږ ډیر وړې هم شو نه یې خورو ځکه موږ یې نه پیژنو او موږ ته کیفیت هم نلري دامریکا د خلکو تر ټولو ډیر ښه خواړه (پیزه) ده خو موږبیا پیزه میزه نه پیژنو .
په هرصورت لکه د مخه چې وویل شول هرهېواد د خوړو د ځانګړیوډولونو درلودونکی دی ځیني هېوادونه یو نبات ډیر استعمالوي او ځیني نوربیا بل ، غنم په افغانستان کې د نړۍ ترنورو هېوادونو په پرتله زیات استعمالیږي ځکه د خلکو عمده خوراکي توکی یې غنمینه وچه ډوډۍ ده ، ځیني هېوادونه لکه بنګلدیش سیلون او برما بیا وریجې تر نورو هېوادو زیاتې استعمالوي هلته تربل هرڅه زیات وریجې استعمالیږي زموږ په ګاونډي هېواد پاکستان کې دال ډیر استعمالیږي د پاکستان دال او چپاتي نړیوال نوم لري د اسلامي انقلاب پر

---

• (۱۲) ۶۱- ۶۲ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهال بـه کمونیسـتي مـډیا ګـانو افغـان کـډوال او مجاهـدین دال او چپـاتي خوړونکي بلل ، تریخ دال او وتودو چپاتیو ځانګړی خوند درلود .
هغـه خـواړه چې پـه افغانسـتان کې معمـول دي او تـرې ګتـه اخیسـتل کیـږي پـه لاندې ډول دي.•

## لاندی

د افغانستان په ټولو قومونو کې لاندی لـږ ډیر رواج لـري خو پـه وردکو کې د لاندي رواج له ډیرو پخوا زمانونه تر نورو قومونو ډیر معمول وه .
د لاندي لپاره عمو ما ښه چاغ پسه او یا کوم بل حیوان لکه غوایې یا او ښ ټاکل کیږي خو وزه هیڅکله ځوک نه لاندی کوي د لاندي مال بزګران د اوړي په موسم کې ښه ساتي اوربشي او نوري غلې داني ورکوی تر څو ښه چاغ شی.
لاندی لکه د مخه چې وویل شول په وردکو سربیره د هېواد په نورو ولایتونو کې هم معمول دی آن تر دې چې د هیواد په سهیل لو دیځ کې ځینې شتمني کورنۍ بیا د کورنۍ د هرغړي په سریو پسه حلالوی. خو د لاندي غو ښه یوازې د ژمي په موسم کـې اسـتعمالیدای شـې او لـه څرمـوني وروسـته یـې اسـتعمال جـانبي عوارض لري ځکه لاندی ډیرګرم وی.
د لاندي لپاره عموما پسونه ټاکل کیږي ځکه پسـه تربـل هرحیـوان ښـه او ژرچا غېدای شي لم یې ښه غټیدای شې اوغوښه یې هم دومره نازکه وی چې د ښـه چا غوالې په صورت کې یې پوست هم د غو ښې په حساب اوړي.
لاندۍ د وردګو د ناز د خوړو پـه حسـاب دی کله چې پـه ژمـي کـې لـه چا کـره ښـه نازولې میلمه ورشي نو لاندي ورته پخوی او که ترهغه هم لا ښـه نـازولې وی نـو ( لانـدي پلـو ) ورتـه پخیـږي اوتـردی نورپورتـه د نـازخواړه نشـته ، لانـدي زمـوږ د هېواد په هوټلونو کې نه پخیږي او یوازې کورني خواړه دي.
لاندی لـه ډیـرو پخـوا زمـانو څخـه زمـوږ پـه ټـول هېـواد کـې معمـول وه او ښـایې تاریخچه یې لرغونو انسانانو او آن د ښکار له زمانورا پاته وي ځکه کلـه بـه چې

---

• (۲۳) ۱۴۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړنیو انسانانو په غرونو او ځنګلونو کې حیوانات ښکار کړل نو د هغه غو ښه به یې په وار نشوای مصرفولای او وچوله به یې چې د هغوی دا کار د ننۍ زمانې له لاندې سره کټ مټ ورته والې لري.

## ښوروا

هغه ښوروا چې نوم لري له تازه غوښې نه پخیږي ځکه د تازه غوښې ښوروا بیله مزه لري په دې شرط چې د ښوروا د ښې ښوروا په اصولو پخه شي ښوروا هم په څو ډولونو پخیږي که چیرې غوښه د پسه وي نو غوړي ( تبی )او نورضمایم نه وراچول کیږي او سپینه ښوروا چې د لم ټوټې هم پکې پرتې وي د وریي نس ټکور ده او د غوا یه ښوروا که ښه چاغ وي نو بیا غوړي او تبی نه غواړي خو که چیرې ډنګر وي او غوښه یې غوړونلري نو بیا د تبي په نوم پیاز داغ ورته جوړیږي او وراچول کیږي خو تازه غوښه نه یوازې د ښوروا به شکل پخیږي بلکه له هغه نه قورمه هم پخیږي چې په ښارونو کې دو پیازه او کباب هم تري جوړیږي په پخوا وختو کې په وردګو کې غوښه یوازې د ښوروا او قورمې په بڼه استعمالېده خو اوس هر ډول کباب دیګي په وردګو کې هم رواج شوي دي.

## پلو

په پخوا وختونو کې په وردګو کې پلو یوازې له لوکو وردګي وریجو نه پخېده او زیرغوړي به پکې استعمالیدل چې ښه ذایقوي کیفیت به یې درلود ، هغه وخت اوسنی بازاري وریجې چا نه پیژندلې او د وردګو لوکو وریجو به ښارونو او په تیره بیا د کابل په ښارکې ځانګړی نوم درلود او هراخیستونکي به ځان به دې باوري کاوه چې له بازار نه یې وردکي لوکې وریجې اخیستې دي د لوکو وریجو بوی به نرم او ځانګړې عطرجنې وږمه به ترې خوریدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شیربرنج

دا هم د وردګو له پخوا زمانو نه یو معمول کورنی خوراک و چې د لوکو وریجو له میدګی نه به پخیده شیربرنج ته به لږې اوبه او ډیرې شېدې وراچول کېدې اومزه اوکیفیت به یې د شېدو له اندازې سره تړلې و خو ډیری هغه کسانو چې د معدې ستونزه به یې درلوده شیربرنج نشوای خوړلای ځکه په معده کې به یې جګړه پیل کوله.•

## چیکړی (کیچړی )

چیکړی هم د لوکو وریجو له میدګی، څخه یوازې په اوبو کې پخیږي اوکله چې پوخ شي او په قابونو کې تقسیم شي نو بیا یې په منځ کې کروت وراچول کیږي کیچړی، با کیفته خواړه دي زښته ډیرخوړل کیږي اوهیڅ جانبي عوارض نلري که هر څومره ډیر وخوړل شي معده پرې زوروره ده او ژر یې هضموي

## کورت

کرت دوه ډوله دی لومړی، وچ کرت چې زدویل کیږي بیا تبی ورته کیږی او د وړې شوې ډوډی، په سر اچول کیږي او دوهم لانده کروت دي چې چکه نروبه او توده کړي او بیا یې له پیاز داغ سره د وړې شوې ډوډی، په سر وراچوي خوکرت په دواړو صورتونو کې ډیر غوړي غواړي هغه څوک چې چربې ډوډی، خوري نو له کروتوسره یې جوړه وي پخوا وختونو کرت ډیر رواج درلود زیړو غوړیو او کروتو به ځانګړې مزه درلوده ، کرتو خپل رواج اوس هم له لاسه نه دی ورکړی اود سیمه ییزو خوړو په دود یې خلک خوري.

---

• (۲۳) ۱۵۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شکنه

شکنه اوس څوک نه خوری او پرې شرمیږي ځکه غریبانه خواړه دي خو شکنه ډیرنرمه او د معدې لپاره اکسیر شی دی له یوه وزیرنه د کوم تلویزیون خبریال وپو ښتل په خوراکونو کې د څه خوښیږي وزیربې له ځنډ پرته ورته وویل: شکنه ، خبریال وخندل خو وزیر ورته وویل: تر اوسه ماشوم یې او د شکنې په اهمیت نه پوهیږي کله چې ماغوندې سپین ژیری شي نو بیا به پخپله شکنه غواړي.

## اوګره

اوګره نرم خو قوي خواړه دي د غنمو له دلدې (ورغاستیو ) نه جوړیږي هغه څوک چې د هډوکو د خوږو ستونزه ولري نو اوګره پرې ښه لګیږي اوګره له ډیرو پخوا زمانو څخه د وردګو په کورنیو کې پخېده او ډیري وختونه به د عاشورا په مراسمو کې اوګره پخیده او په کورونو به ویشل کېده د اوګرې خام مواد لکه د مخه چې وویل شول معمولا د غنمو دلده ده او کله چې پخه شي نو بیا تبی ورته کیږي دا خواړه ملي خواړه هم دی او په رسمي کچه پخیږي

## سمنک

د کره روایاتو په بنا (سمنک ) له میلاد وروسته له ماورای النهر څخه اوسني افغانستان ته را غلی دی او اصل ځای یې اوسنی ازبکستان تاجکستان او ترکمنستان دي سمنک حلوا ته ورته خواړه خواړه دي خو کیفیت یې حلوا ډیرتو پیرلري د سمنک خوږوالي د غنمو له تعامل نه دی یانې دا چې لومړی یو چارک لږ یا لږ ډیرغنم په یوه لوښي کې له معین مقدار اوبو سره اچوي او کله چې غنم را شنه شي نو سپینې ریښې یې یو تر بل تیرې شي او ځوکې یې دیوه شنه فرش په شان یو پر بل کې ننوتلې یو چم را شنې شي بیا دغه د شنو غنمو کلوله له لوښي را چپه کړي او په یوه ماشوم یې تارپه تار کړي وجه یې داده چې د راشنه شویو غنمو ګډ وډ کول ښایې کومه ګټا ولري او په ماشوم پسې ګټا نه حسابیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اړوب

سمنک ته ورته خواړه دي چې یوازې ښځې یې خوښوي او پخوي لومړی اوړه په اوبو کې واچوي او بیا یې د وریجو یا اوګرې په شان پخوي خو اړوب له پیل نه د یوه ځمځې او یا ورته لرګي په واسطه یو مخ لړل کیږي او کله چې ښه پوخ شي نو بیا یې زیږغوړي په منځ کې واچوي او په مزه مزه یې خوري ، اړوب د خوړلو پر وخت په خوله کې پر تالو ډېر موښلي نو ځکه هغه څوک چې مخکې یې اړوب نه وي لیدلای اړوب نشي خوړلای تالو او خپله خوله ټوله پرې لړي او ککړوي یې.•

## حلوا

نرم او خواږه خواړه دي او خوږوالی یې د بورې او ګوړې په واسطه دی پخوا به د وردګو خلکو د مړي د ښخولو په مراسمو کې د مړي د (څوري ) په نوم حلوا پخوله ، پخوانۍ حلواوې له ګوړې او دغنمو له اوړو څخه پخیدلې خواوسنۍ حلوا له سوجي او بورې نه پخیږي او اوس اوس له حلوا سره نورمغزیات هم اچول کیږي چې ځانګړی خوند لري.
د سوجي حلوا اوس په کلیو او ښارونو کې د سهار له چای سره ډیره معمول ده

## پیرکی

اوس مهال په ښارونو او کلیو کې د پیرکي استعمال زښته ډیردی په دري ژبه ورته بولاني وايې پخوا وختونه به پیرکۍ یوازې په کلیو کې په تناره پخیدل هغه هم له شفتلې او یا نورسابو څخه او آن تردې چې کورنیو به ښارونو ته هم را وړل ، خو اوس پیرکي په تناره برسیره په ښارونو کې په طبخې هم پخیږي او استعمال یې دومره ډیرشوی چې هرځای د سړک پر غاړه په غوړیو کې پخیږي او ښاریان یې له دوړوسره یو ځای نوش جان کوی په ښارونو کې اوس له کچالو نه ډیرپیرکي پخیږي او په کچالو پسې په دوهم ګام کې ګندنه ده چې دا دوه

---

• (۲۳) ۱۶۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

توکي د ښاري پيرکيو مهم لومړني مواد ګڼل کيږي خو په زړه پورې داده چې اوس پيرکيو د کابل ښار نانوايي ګانو ته مخه کړې ده او په ځينو نانوايې ګانو کې دډوډۍ تر څنګ پيرکي هم ليدل کيږي.

## شنالغه

پخوا امکانات محدود وه داسې راحلې چې غلې داني له يوه ځايه بل ته ورسوي نه وې موجودې که به کله په يوه سيمه کې وچکالي را غله نو خلک به له کلکو ستونزو سره مخ کېدل او د ژوندي پاته کېدو لپاره به يې دهرهغه څه خوراک ته لاس اوږداوه چې دنرموالي له وجې به د خوراک وه چې يوه هم له دغه خوراکونو نه شنالغه وه لکه څنګه چې له نامه يې معلوميږي شنالغه له (شنې ) څخه تسميه شوې ده کله به چې قحطي را غله نو خلکو به يوه برخه اوړه او دری نورې برخې هغه شينلي چې د خوراک وړ به وه لومړی ښه ( وورژنل ) او وروسته به يې له خيشتو اوړو سره ګډول او بيا به يې په تناره پخول ترڅو اوړه صرفه شي د شنالغې ترټولو ښه او معمول خام مواد (تبرغوان ) و چې دا بوټۍ اوس هم به وردګو کې شته او ځيني وختونه يې خلک خام هم خوري، شنالغه پخول د نيستی او فقرتر ټولو لوړه علامه وه خو نوی نسل اوس د شنالغې په نوم کوم شی نه پيژني.

## چيشپيرې

دې خوړو ته په ښارونو کې منتو ويل کيږي خوچشپيرې په جسامت کې له منتونه لويې وې او معمولا به هغه د ښځو ترمنځ دښځينه ميلو په ترڅ کې پخېدې له چشپيرو سره به يې چکه هم استعمالوله چې بيا به يې ځانګړی خوند درلود.

## شين تاړ

دا هم د نيستی خواړه وه هغه شينلي چې انسانانو به سابو او يا پيرکيو کې استعمالول په شين تاړ کې به هم ترې ګټه پورته کوله شين تاړ داسې پخيده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړي به يې اوبه جوش کړي بيا هغه شينلي چې شين تار ته به يې وراچول ښه ميده (وورژنل) او بيا يې هغه ديګ ته چې غوړي او مالګه به هم وراچول شوي و ، وراچول شول ، چې ښه به پاخه شول نو سوپ ته ورته يو خوراک به تري جوړشوي و چې خلکو به ورته شين تاړ وايه او د معدې لپاره هم ښه ملين و.•

## ښيلی (ماليده )

دا د منډې او چريکي خواړه دي کله چې د يوه ګران ميلمه لپاره د نورشي د پخولو لپاره وس ونه رسيږي نود زيړو غوړليو نه ښيلی ورته پخوي او ښيلی دا سې پخيږي چې لومړی زيړ غوړ ښه تاوده کړي او بيا ډوډۍ ورته وړه وړه کړي او په غوړيو کې يې کباب کړي خو ښيلی دا يو شرط لري چې ټول خلک يې نشي خوړلای ځکه سخت تند او ستوغ وي.•

## کوچه

کوچه هم د هوس خواړه دي هم د مجبوريت د هوس ځکه دي چې هرڅوک د نورو شيانو له خوړلو نه ماړه شي نو هوسانه يې د با قليو ، نسکو ، جوارو ، ميو او موشنګوله دانو نه پخه شوې کوچه وي د غنمو او نسکو په کوچه کې چې يوه ټوټه لاندی واچول شي نو بيا شا هانه خواړه تري جوړ شي په ښارونو کې يوازې ( ګرم داغ با غولا ) کوچې ليدل کيږي او يا هم شور نخود چې کليوالي ځوانان د ښارونو شور نخود نه خوښوي او کله نا کله د ښارونو ګرم داغ موشنګ خوري او د مجبورت په صورت کې به ځکه کوچه پخېدله چې له غنمو او جوارو پرته نورې غلې دانې نه اوړيدې او ډوډۍ نه ترې پخېدله او باقلي هم د ډوډۍ په ښه سوچ نه خوړل کېدل نو بېوسه کورنيو به له هغه غلو دانو چې ډوډۍ به ترې نه جوړيده کوچه پخوله کوچه ډير پخوانی نوم دی هزاره ګان د دلدې او ګرې ته کوچه وايې.•

---

• (۲۳) ۱۵۸ مخ
• (۲۳) ۱۵۷ مخ
• (۲۳) ۱۶۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۵) ولســــــي لــــــوبې

د وردګ ولایت په هر کلي او ولس کې په لسګونو ډوله د ماشومانو، نجونو، ځوانانو او لویانو لوبې رواج دي چې ځینې یې دایمي شکل لري او ځینې نورې بیا موسمي دي. لازم ګڼل کېږي چې په دې ځای کې د ځینو هغو لوبو یوازې نوم واخیستل شي چې د وردګو په کلیوالو سیمو کې رواج دي او نومونه یې د دې اثر لیکوال ته معلوم دي. دغه نومونه په دې ډول دي: چنګوړس یا چندی، سرشکوونی، ځلورپچی، دولس پچی، کتار، توپ بازي، توپ ډنډه، سپېنتیې یا بجلې، شیطان غویې، ډمې ویشتل، لالا وار، تیره اچول، غېږې نیول، منډې وهل، رسۍ کش کول، پټ پټونی، وزه او لېوه، ډنډه او کاکی، مرده کۍ، چارمغز، خیښې، خستکه، جفت او طاق، ګاټې، مندکې او خولۍ، وزه او لېوه، زانګو اچول، په واورو ښویېدل، صدره یا ښه شپه، بنډار، کیټې، لاډو، کرمبول، ټک او لوبشت، ټوپ وهل، ډاډه کول، خوسی، نښه ویشتل، نېزه وهل، چندل وهل، جاسفه وهل، پختکه والوته، چوب بازي یا لرګي لوبه، زانګو اچول، منډې وهل، ګوډه چرګه، پټ خاک، ککۍ، غل پاچا، انګړې بنګړې تې، ډمډومکه، ټیکلۍ، مړګک، ارغونجک، لوځکې جوړول، ټوپوهنه، تېره اچول، د لاسونو پهلواني، کچه او داسې نور. د وردګ ولایت د رسمي شمېرو له مخې په دې ولایت کې د **۲۴** ډول ډول لوبو د اجرا په ترکیب کې **۲۵۲** ټیمونه فعال دي چې په هغه کې **۴۲۲۱** لوبغاړي شمولیت لري. د دې ولایت د رسمي لوبو نومونه دا دي: والیبال، فوټبال، کراته، کاتفوترا، بکسنګ، اندام روزنه، هاکي، بایسکېل ځغلول، ووشو، منډه وهل، فوتسال، میني والیبال، د معیوبینو پارا المپیک، تکواندو، وزن پورته کول، سطرنج، کیک بکسنګ، پېنګ پانګ، کبډي، باتوراندود او هنډبال•.

---

• (۳) ۵۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غبشی ویشتل

غبشی ویشتل څه اوسنۍ لوبه نه ده په ولسونو کې د غبشي ویشتل له ډېر پخوا راهیسې دود دي د ځینو په وینا غبشی او نېزه لوبې د سکندر مقدوني له وخت نه را په دېخوا دود پیدا کړ په هغه وخت کې غبشي د لښکریانو له خوا د هدف له منځه وړلو لپاره په کارېدل.

ښايي د غبشي او لندې لرغونتوب تر دې هم ډېر وي، په ولسونو کې غبشی ویشتل د ځوانانو د سیالي او لوبې په توګه کارول کیږي په سیالیو سربېره پر غبشي او لنده د آلوتونکو ښکار هم تر سره کیږي. د غبشي جوړښت څنګه دی؟

غبشي په لومړیو وختو کې د سسیې په نامه یو غرنی بوټی دی چې د هغه له لرګي څخه د کم و زیات په یو متر اوږدوالي سره جوړېده د غبشي لنډوالی او اوږدوالی د لوبغاړي په تناسب هم تړاکل کیږي لوی کسان لوی غبشي جوړوي، د سسیې د لرګي څخه یې ځکه غبشي جوړول چې د سسیې د لرګي منځ خالي وي او کلک لرګي لري د لندې په واسطه لرې واټن ته په آسانۍ سره تللی شي، څه وخت چې د غبشي لپاره وړ لرګی تیار شي هغه لومړي ښه ښویوي وروسته د هغه څوکې ته تېره او سپنیزه غوټۍ یا دندانه جوړوي چې (خدنګ) هم ورته ویل کیږي او د غبشي په سر کې یې ځای پر ځای کوي. د سسیې د لرګي سربېره د نورو لرګیو څخه هم غبشي جوړیږي خو اوس مهال غبشي د چین او نورو بهرنیو هېوادونو څخه راځي. لنده د غبشي وارولو اصلي وسیله ده چې غبشی په لنده سره لرې فاصلو ته وارول کیږي لنده هم د غوړشتي له لرګي، بانس لرګی، المونیم، فیبر او داسې نور توکو څخه جوړیږي. د یوې لندې بیه د څلوېښت زرو په شوا او خوا کې ده، لنده د موخې ویشتلو لپاره په ښي او کیڼ دواړو لاسونو کې نیول کیږي په یوه لاس لنده نیسي او په بل لاس غبشی د ځان په لور کش کاږي تر کش کاږلو وروسته یې د موخې ویشتلو لپاره خوشي کوي.

دا لوبه د ماشومانو پر وس نه ده پوره د غبشي مینوال، غښتلي ځوانان او د پاخه عمر لرونکي کسان دي او دا لوبه تر سره کوي. په عامو ورځو کې خلک یاده د غبشي لوبه کوي او کله کله د نوي کال په لومړیو ورځو، اخترو او داسې نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړیو ورځو د غبشي لوبه کوي. غبشی ویشتل په یوازیتوب هم کوي کله پرې ښکار کوي او یا هم پرې ننبه پخوي. په کلیو او لسونو کې ځوانان په ګډه سره په ټولیزه توګه په لنده او غبشي لوبې کوي. خو بیا کله چې لوبه ګرمه شي لوبغاړي پرې سره راشي په دوو ډلو وېشل کیږي او غبشی ویشتل تر سره کوي. د لوبې ګرموالي پر وخت غبشي په دوو مساوي برخو ویشي او یو تن غبشي تر شا پټ نیسي یوې لوبډلي ته وایي د ښي یا کیڼ لاس غبشي نیسي چې د کوم لاس غبشي ونیسي هغه نور بلې ډلې ته ورکوي، د ۳۰ – ۵۰ مترو په فاصله د موخې ویشتلو لپاره یوه ننبه جوړوي خو ننبه څه شی دي؟ ننبه یا د هدف ویشتلو ځای دی چې ۲×۷ سانتي مترو په اندازه وړه د لرګي ټوټه جوړوي همدا د لرګي ټوټه په او سپنه کې ږدي چې (سخوری) ورته وایي. څه وخت چې ننبه په سخوري کې ځای پر ځای شي په ټاکلې فاصله هغه د مال پر سره کې ږدي د مال د سرې شا اوخوا پستې خاورې اچوي دا کار ځکه کوي چې غبشي د لګیدلو پر وخت مات نه شي، له دې وروسته لوبډلې په نوبت سره په ننبه د غبشي وارونه کوي کومې لوبډلې چې ننبه د غبشي په واسطه ډېر ځله وویشتله هغه لوبډلې دا غبشی ویشتنه ګټلې ده. په غبشي باندې د دوو تنو تر منځ هم سیالي کیږي او دوه کلي یا ډېر کلي هم د غبشي ویشتلو په سیالۍ کې برخه اخلي او د غشو سیالیو ته (تور) وایي. یاده دې وي چې غبشي ویشتل د وردګو ولایت د چک په ولسوالۍ کې ډېر مینوال لري او د همدې ولسوالۍ د لنګرډاګ، بابا قلعې، برخوات، آدم خېل، دوران خېل... کلیو کې خلک د غشو ویشتلو سیالۍ کوي.•

---

• (۱۸) ۶۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# واليبال

واليبال چې د ايران ملي لوبه ده زموږ په ولسونو کې تر نورو لويو لوبو ډېره کيږي له بهره راغلې دود لوبه زموږ په ولس کې هم د ډېره راهيسې د يوه هوا لرونکي توپ په وسيله تر سره کيږي واليبال په يوازيتوب نه کېږي دوه ډلو ته په کې اړتيا شته ځکه سيالي ددو ډولو تر منځ کېږي ګټل او بايلل لري له سرو او يخنيو پرته د کال په ټولو فصلونو کې کيږي د پسرلي په موسم کې چې ښکلې او مناسبه هوا وي ډېر تورنمنتونه او لوبې کيږي، دا توپ په وزن کې نظر د فوټبال توپ ته سپک او د لاسونو وهلو لپاره جوړ شوی دی لويوالی يې نبږدي د انسان د سر په اندازه دی دوه برخې لري چې يوه ته يې (کوور) ويل کيږي او بل ته يې د هوا ټوپ (بېلډر) چې د کوور په د ننه برخه کې وي د پمپ يا بلې وسيلې په واسطه د خوښې وړ هوا ورکول کيږي، د سوري کېدو په صورت کې هوا ترې وځي او پنچريږي.
ياده لوبه يوې هموارې ځمکې ته اړتيا لري چې په هغه کې د ميدان په نامه ځمکه د (۱۸) مترو په اوږدوالی او (۹) مترو په سور له کوم جګوالي او ټيټوالي پرته هموار سطحه جوړوي تر دغه ځمکه يو مستطيل خط راکاږی چې د ميدان احاطه څرګنده شي دا احاطه په سپينو کرښو ګچ، چينه، تيږو او نور توکو په نښه کوي، د ميدان په وسط کې دوې او سپنيزې يا لرګينې ستنې (پايې) پر ځمکه کې عمودي خښوي چې د لوبې کولو په وخت په ځمکه کې و نه خوځيږي کنه د لوبې مزاحمت به يې کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په وردګو کې د واليبال يو انځور/ عكاس محب الله شريفزی/ د ودرګو د اطلاعاتو او فرهنګ رياست له آرشيف څخه**

د دواړو ستنو تر منځ يو جال تړي د جال لوړوالی او تيټوالی د دوی په خپل لاس کې دې خو د دوو مترو نه يې په پورته هوا کې تړي جال او سپنيز نه وي او د نرمو تارونو څخه جوړيږي.

دا لوبه ښه قوانين لري هر لوبغاړی په ځانګړي نوم لوبول کېږي دا لوبه له دوو تنو نه نيولې چې يو په يو به لوبه کوي تر شپږو قانوني لوبغاړو او تر هغه زيات هم کولی شي په دې لوبه کې برخه واخلي خو معمول شپږ تنه په يوه ميدان کې او شپږ تنه په بل ميدان کې ودريږي چې ټول دولس تنه کيږي لوبه کوي د لوبغاړو نومونه په دې ډول دي سرويس چي، سنټر، پاسټر، ښی شوټر، کيڼ شوټر او ټيټ شوټر يا بخچ شوټرهر يو بېلې بېلې دندې لري، کله چې څارګر يا امپاير توپ هوا ته واچوي او د جال نه يوې او بلې خوا ته توپ پر ځمکه پريوت هغه بلې خوا توپ ګټلي دی چې د کړنې ته تبديل وايي او په خپلو منځو کې سره وايي سرويس يا توپ تبديل شو.

د لوبې په پيل کې توپ سرويسچي اخلي او له جال نه يې هغه بلې خوا ته اړوي په دې صورت چې توپ په جال ونه لګي او يا به لګيدل هم سم ګڼي که د توپ لګېدل په جال سم ونه ګڼي په دې صورت کې توپ ته نبټ وايي، توپ تبديل او د سيال لوري کيږي. او يا هم کله چې لوبغاړي د لوبې کولو پر وخت پر جال ولګي دې ته (پوول) وايې په دې عمل توپ د مقابل لوري کېږي او پوول ويل به د

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څارګر(ریپري ) له خوا ویل کیږي د تبدیل بل حالت پـه دې ډول دی چې سرویس د خط نه د باندې ولګي بیا هم توپ تبدیل کیږي ، بل ډول تبدیل دا سې دې چې شوټر شوټ وکړي او د مقابل لوري نه دفاع شي او تـوپ د ټاکلي خط نـه د بانـدې ولګـې توپ د شوټر د خوا کیږي، او که تـوپ د خط د ننه ولګېد بیا تـوپ د مقابـل لـوري کیږي بل ډول په دې توګه دی چې د یوه لوري نه شوت وشي او په مقابل میدا ن کـې ولویږي او یا ورو توپ په مقابل میدان کې واچوي چې دې عمل ته چانس وایي پـه دې سره یا به نمره اخلي او یا به توپ تبدیل کیږي په همدې کړنو یا نمره اخلي او یا سرو بس تبدیلیږي.

کله چې سرویس وشي د سنټر دنده ده چې هغـه پاسـتر تـه ورکـړي او پاسـتر یـې د شوټر لپاره پاس کوي او شوټر هم د لاس په ټوله زربه سره شوټ کوي چې د سیالـې لوبډلې له خوا نه د هغه دفاع کیږي البته شوټ او دفاع به د جال لـه پاسـه کېـږي، دا لړۍ به دوام مومي تر څو چې نمره پای ته نه وي رسېدلې. د دې لـوبې د ګټلـو لپـاره هدف ټاکل کېږي هدف میدان ګټل دي یو میدان اکثراً له یوه نـه تـر پنځلسـو نمـرې لري چې څوارلسمې نمرې ته (لاس پنج ) او پنځلسمې نمرې ته (خلاص پـنج ) وایـي چې پنځلسـمه نمـره واخیسـتل شـي میـدان خلاصـیږي او میدانونـه سـر بـدلیږي لوبغاړي یوې اوبلې خوا میدانو ته ځې او پنځلسمې نمرې اخیستونکي بـه میـدان ګټلی وي. سیالي به یا یو میدان وي یا له دریو نه دوه میدانه ګټل، او دریـم ډول لـه پنځو نه درې میدانه ګټل دي چې هر لوري درې میدانـه وګـټل سیالي همغـه لـوري ګټلې ده، څلورم ډول د پنځلسو نه پورته تر دیرشو نمرو هدف ټاکل کیږي هر لـوري چې دا هدف پوره کړ همغه لوري ګټلې ده.

کلـه نـا کلـه د څـو ټیمونـو تـر مـنځ سـیالۍ کیـږي ټاکلي ټیمونـه د رقعـو پـه واسـطه راغونېتل کیـږي چې دې تـه تورنمېنټ وایـې د هـر ټـیم نـه د سـیالۍ پـه ورځ ټاکلـې اندازه پیسې اخلي او په پایله کې لومړي دویم او دریم ګټونکو ټیمونو ته ډالۍ او کپونه اخیستل کیږي دا کپونه او ډالۍ به د بریا پر وخت لـه ځـان سره وړي، لـه دې سیالیو پرته دوستانه لوبې هم کوي چې د یوه کلي د وګړو تر منځ کیږي دا لوبه ډیر مینـه وال او ډېـر لیـدونکې لـري ددې لـوبې لوبغـاړي ماشـومان، ځوانـان او ځینـې ځینې د پاخه عمـر کسـان دي. لوبغـاړي ډېری وخت ګډ ودریږي یا ځینې وختونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوبغاړي د عمر او بدني جسامت له اړخه سره لوبې کوي په دې لوبه کې لوبغاړي مازديگر مهال سره لوبيږي د ولسي لوبو يوه په زړه پورې ببلګه ده. •

## توپ ډنډه

توپ ډنډه د ولسي لوبو يوه په زړه پورې لوبه ده په بېلا بېلو مسمونو کې تر سره کيږي په کليو او بانډو کې ډېر مينه وال لري دې لوبې کولو ته څه نا څه لوی ځای ته اړتيا شته ځکه توپ د ډنډې په واسطه لرې ځي او پراخه ځای غواړي په دې لوبه کې يوه لرګينه ډنډه او يوه وړوکي توپ ته اړتيا پيدا کيږي، توپ به وړوکې او د يوې متوسطې منې په اندازه به وي ښايې دا توپ د ټوکر، ربړ او يا کوم بل څيز نه په دايروي شکل جوړ شوي وي بل ډول توپونه هم شته چې د ډنډې په مقابل کې کلک او منځ يې د هوا نه ډک وي د نورو لاسي جوړ شوو توپونو په پرتله د ډنډې په واسطه ډېر لرې نه ځي.



لرګينه ډنډه به د يو متر په شا اوخوا کې وي چې د هغه په واسطه به توپ وهنه کوي خو دا توپ ډنډه د کرکټ برعکس وړه او په يوه لاس نيول کيږي. لوبه داسې پيليږي دوه کسان يا د عمر او يا د وړتيا په حساب سره په دوو خواو ويشل کيږي چې دغو کسانو ته مير يا مشر ويل کيږي هر يو مير به په خپل وار سره يو يو کس نيسې د کسانو نيول په خپله خوښه دي. بله طريقه داسې ده چې هر يو مير به ځان ته بېل نوم غوره کوي د بېلګې په توګه: ګل او بورا دا د ميرانو نومونه دي چې کله کسان راځي او لوبه کوي دوه دوه کسان چې کله راځي نو ورته وايې به چې ګل

---

• (۱۸) ۶۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیسي که بورا ؛ که یې وویل بورا دغه کس د بورا په نامه د همغه مشر کیږي چې هر یو نوم یې وټاکه راغلي کسان به د ویل شوي مستعار نوم لرونکي مشر کیږي. دریمه طریقه دا سې ده چې کله کسان سره تقسیم کیږي دوو دوو کسانو ته ویل کیږي چې راومیلې. دا په دې اساس وو چې د کسانو په وېشلو کې درغلي ونه شي مېلل دارنګه تر سره کېدل چې دوه دوه کسان به د لوبډلې مشرانو ته راتلل دغه دوو کسانو به په خپلو کې ځانونه پټ په وچ او لندو نومول د لوبډلو مشرانو ته به یې ویل څه نیسي وچ او که لنده؟ چې میر به وویل وچه، همغه کس به وویل درغلم په پچه او که به میر وویل لنده هغه بل کس به وویل درغلم په بنده په دې اساس به د څلورو نه پورته تر شلو دیرشو کسان په دوه ډلو وویشل شول.
لا تر اوسه لوبه نه ده پیل شوې په مناسب ځای کې دری نښې ږدي چې (پته) ورته وېل کېږي له لومړۍ پتې نه توپ وهنه کوي دویمې پتې ته تېروونکي وېل کیږي، دریمه پته د ځغاستې د پوره کیدو پته ده، د لومړۍ او دریمې پتې تر منځ فاصله د پنځلسو نه پورته تر دریشو، څلوېښتو مترو پورې ټاکل کیږي دغه ځایونه چې وټاکل شي نو بېله خبره د نوبت یا وار ده چې د دوو لوبډلو تر منځ به لومړی د توپ وهنې وار د چا وي په دې وخت د لوبډلو د میرانو تر منځ د شپر و خط یا وچه و لنده په وسیله فیصله کوي، چې هر چا نوبت وګټه هغه بله لوبډله به د دوي حریف جوړیږي د دریمې پتې شا اوخوا به په تیت او پرک ډول ودریږي د نوبت لوبډلې توپ به رانیسي د وار لوبډله په توپ وهنه پیل کوي او په دوو توپونو کې به تر دریمې پتې ځغلي او راځغلي چې ډک یا بند نه وي که په ډنډه یې د توپ دوه واره ونه لګیدل دغه لوبغاړی بند دی یا په بله اصطلاح خالي دی چې وروسته د بل لوبغاړي په توپ وهنه منډه کوي او ځان ډکوي د لوبډلې ټول کسان دوه دوه ځلي د توپ وهنې حق لري او میر بیا د توپ وهنې درې واره لري. په ډېرو ځایو کې میر نشته ټول لوبغاړي دری ځله توپ وهلی شي.
تر کومه به یوه لوبډله د توپ وهنې لوبډلې په مقابل کې ولاړه وي دا څو شرطونه لري.
لومړی: د توپ وهنې لوبډلې ښيي او کیڼ لوري ته په لرې فاصلو ځایونه ټاکل کیږي چې که توپ له دغه ټاکل شوی ځای نه هغې خوا ته ووا ښت دې ته (توس) یا توی وایي په دې حال کې وار د مقابلې لوبډلې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم: توپ په هوا کې نيول (کف )يا کېچ هم ورته وايي په ډنډه چې توپ پورته په هوا کې ووهې او د مقابلې لوبډلې له لوري په هوا کې ونيول شي نوبت د مقابلې لوبډلې کيږي.

دريم: چې کله د لومړۍ او دريمې پټې تر منځ د لوبغاړي منډې وهې را وهې که د مقابلې لوبډلې له لوري په توپ ولګيد او د سيال لوبډلې يوه لوبغاړي لومړي پټې ته ځان رورساوه او دغه کس به توپ وهنه کوي خپل ټول لوبغاړي به لومړۍ پټې ته رارسوي په دې حالت کې هم وار د سيال لوبډلې کيږي.

ځلورم: له لاس ځينې د ډنډې خطا کيدل دې که د لوبغاړي له لاس نه ډنډه خوشې شي وار د مقابلې لوبډلې دی.

پنځم: د ټولو لوبغاړو بنديدل يا خالي کيدل دې چې ټول توپونه يې خطا ولاړ شې او کوم ډک کس يې نه وي پاتې نوبت د هغه بلې لوبډلې کېږي.

شپږم: ډول که له دواړو پټو څخه کوم لوبغاړي لرې تللی وي او ويلې يې نه وي چې (پټه پوخ توسپی مې نه ) په دغه وخت کې که د مقابلې لوبډلې د کوم لوبغاړي له خوا کوم لوبغاړی په توپ سره ولګېد وار د سيالې لوبډلې کيږي د وار اخيستلو لارې چارې په همدې ډول وي.

اخوا کله نا کله دا لوبه ناخوالې له ځان سره لري او ځينې وخت لوبغاړي ټپي کيږي يا د مقابل لوبډلې نه په تېزۍ سره په توپ ويشتل کيږي پر ځمکه پريوتل را پرځېدل او په ډنډه باندې لګيدل د ټپي کېدو لامل ګرځي، زړه راښکونکې لوبه ده په ټوليزه توګه ترسره کېږي. بېلا بېل عمر لرونکي دا لوبه تر سره کوي چې د ډېرو عمرونه له ۱۲ کلنو پورته تر **۲۵-۳۰** کلنو پورې وي، کله کله د دوو کليو تر منځ د سيالۍ په توګه هم لوبه تر سره کوي. دا لوبه تر هغه دوام مومي چې تر څو کومې لوبډلې د لوبې د پرېښودو هوډ نه وې کړی او هره لوبډله چې لوبه پرېږدي مقابل لوبډلې ګټلې ده او بيا ورته وايي چيغې پسې وهي ورته وايي سوختيانو ، اډيانو موږ وار غواړو. •

---

• (۱۸) ۷۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تیږه اچول

دا لوبه په ټول هېواد کې په ځانګړي توګه په ختیځو او مرکزي ولایتونو کې ډېره دود ده، ددې لوبې ګډونوال هغه کسان دي چې ځانونه غښتلي ګڼي او عمرونه یې د ۱۵ او ۳۵ کلنو تر منځ وي، ددې لوبې د لوبغاړو شمېره له دوو تنو څخه بیا تر ۱۵ او له هغه نه زیات هم کولای شي په دې لوبه کې برخه واخلي د ګډونوالو په شمېر کې محدودیت نشته د ډېرو کسانو تر منځ دا لوبه لا خوندوره کېږي زیاتره د پسرلي په موسم کې په دې ډول تر سره کیږي.

هغه لوبغاړي چې د لوبې کولو لپاره په یوه ارت میدان کې راغونډېږي ددې لوبې لپاره د میر یا مشر ټاکلو اړتیا نشته په لوبه کې ټول مساوي سهم لري، دا سې یوه ډبره را اخلي چې وزن یې د دوي د عمر او وړتیا مناسب وي تیږه به تقریباً کروي جوړښت لري چې د غورځولو په وخت کې په لاس کې ښه ونیول شي په مناسب ځای کې کرښه راکاږي.

کرښه ځکه پر ځمکه کاږي چې له دې کرښې به لوبغاړی د تیږې اچولو په وخت مخکې پښه نږدي. لوبغاړي ټاکلې تیږه را اخلي او د اوږې د پاسه یې په لاس کې نیسي ښي پښه مخکې کوي او کیڼه پښه لږ څه شاته ږدي یو، دوه، درې وایي او تیږه د مټ په ټول زور مخې خوا ته غورځوي دا لړۍ په همدې ډول دوام مومي او هر لوبغاړی په ډېره باندې وهل شوی ځای په نښه کوي.

په دوو لاسو ډبره غورځول هم دود دي هغه دا سې چې لوبغاړي به په دواړو لاسو تیږه ونیسي او د تیږې اچولو لوري ته به شا واړوي د ځان په لږ ټیټوالي سره چې د لوبغاړي د پښو تر منځ فاصله به د ۵۰ سانتیو په شا او خوا کې وي تیږه د پښو په منځ کې په لاسونو سره نیسي په ډېر زور سره تیږه د شا لوري ته اچوي لوبغاړي خپل ځایونه په نښه کوي په پای کې په دواړو لاسونو او یوه لاس تیږه اچونه کې چې کوم لوبغاړي په ډېره فاصله تیږه وړاندې غورځولې وي همغه دا لوبه او میدان ګټلی دی د لوبې ګټونکې بلل کیږي.•

---

• (۱۸) ۷۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډی (کاک ډنډه)

د ډی لوبې ته ډېری خلک کاک ډنډه هم وايي دا ولسي لوبه په لرې پرتو سيمو کې هم لوبغاړي ترسره کوي خو ددې لوبې لوبغاړي اکثراً د **۵** کلنو پورته بيا تر **۱۵** کلنو عمر لرونکي ماشومان او نوي ځوانان دي ښايي داسې يوه لوبه وي چې د کليو او ولسونو تر منځ پرې سيالۍ ونه شي يوازې د کليوالو ماشومانو تر منځ لوبيږي دا لوبه د کال په مختلفو فصلونو کې ماشومان تر سره کوي د نورو لوبو په پرتله لکه د توپ ډنډې په څېر دومره ارت ميدان ته اړتيا نشته ده.

لوبه په دې ډول پيليږي لومړی دوه ماشومان د لوبې کولو لپاره سره ټوليږي دوی به د لوبې کولو لپاره دوه توکې ولري چې يوه ته يې کاک وايي او بل ته يې کاک ډنډه دا په اصل کې دوه لرګي دي ډنډه د کاک نه لويه او په لاس کې نيول کيږي کاک يو وړوکې لرګی دی چې د کاک اوږدوالی د دوو لوېشتو په اندازه وي، له ډنډې نه يې پنډوالی هم کوچنی وي ښايي د لاس د منځ ګوتې په اندازه کاک وي او کاک تل پر ځمکه پروت وي د لوبې کولو پر وخت کې په لاس کې نه نيول کيږي.

دواړه لوبغاړي په ګډه سره په مناسب ځای کې يو دايروي خط را کاږي او د خط په منځ کې دوه تيږې ږدي چې کاک د هغه ډبرو پر سر اېښودل کيږي او يا به هم د دايروي خط په منځ کې د يو لپې په اندازه ځای ژور کاندي چې کاک د هغه پر سر اېښودل کيږي چې دا ژور شوی ځای د تيږو ځواب ووايي د لوبې د پيل کولو لپاره دواړه لوبغاړي وچه او لنده کوي چې کومې لوبغاړي وچه لنده وګټله کاک ډنډه اخلي او په دايروي خط کې کاک د تيږو او يا ژور شوی ځای پر سر ږدي او کاک د ډنډې پر سر پورته اچوي او وروسته يې د ډنډې په واسطه د دايرې نه لرې وهي کاک چې د ډنډې په واسطه څومره بېرته ولاړ شي همغه فاصله به قدمو کوي چې هر څو قدمه شوه، قدمونه د دوي د نمرې په توګه حسابيږي. د مقابل لوري له خوا نه ورته کاک د يوه لوبغاړي په واسطه بېرته دايروي خط ته اچول کيږي که کله کاک په دايروي خط کې ولويږي چې د هر چا ډنډه په لاس کې وي هغه لوبغاړی سوځېدلی دی او که نه بيا کاک د لرې فاصلې لپاره وهي چې قدمونه (نمرې) يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې شي دا قدمونه يو پر بل ور حسابيږي او په آخر کې يې جمله وايي مقابل لوري کاک تر هغه دايروي خط ته را اچوي چې تر څو يې د مقابل لوبډلې لوبغاړي نه وي سوځولي يا يې ټاکلي هدف نه وي پوره کړی چې کله يو لوبغاړي وسوځيږي بيا وارد دوېم لوبغاړي کيږي او هغه هم همدا کار تر سره کوي په پايله کې چې د دواړو لوبغاړو د قدمونو جمله شمير زيات وي همغه لوبډلې ګټلې ده.

او يا چې هر چا خپل حساب زر پوره کړ بيا له سره لومړې په ښي لاس کاک ورته وهې هر ځای چې پربوت له هغه ځای څخه بيا کاک وهې دريم ځل هم دا کار کوي په دې سره غواړي کاک لرې بوځي په دريم ځل چې کاک هر ځای وو له همغه ځای نه به مقابل لوبغاړي په چندل تر دايرې ځان رارسوي. په دوېم ځل بيا په کيڼ لاس کاک ورته وهي کاک چې هر ځای وو له همغه ځای نه به مقابل لوبغاړي په ناستو ټوپونه وهي او تر دايرې به ځان رارسوي. دريم ځل بيا کاک د پښې په واسطه لرې درې ځله ورته وهې له همغه ځای څخه بيا سيال لوبغاړی خاپوړو تر دايرې راولې په همدې دريو وارو کې د کاک لرګی مقابل لورې ته په خوله کې ورکوي تر څو د هغه لپاره يو جزا وي.

د لوبې کولو پر وخت کې د لوبډلو تر منځ کله نا کله شرط ايښودل کيږي د بېلګې په توګه: په خپلو کې سره وايي چې که هر چا دا لوبه وګټله، د ګټونکې لوبډلې لوبغاړي به تر ټاکلي ځای په شا کوي وړي او راوړي به يې او لوبه په دې ډول پای ته رسيږي.

## نېزه وهل

نېزه وهل له هغو لوبو څخه ده چې له لرغوني زمانې څخه زموږ په هېواد کې دود ده، نېزه د آريايانو په وخت کې وهل کېده له همغه وخت نه تر اوسه د خلکو زړه راښکونتوب ور سره ډېر شو په هغه وخت کې هغوی نېزه د يوې جنګې آلې په توګه استعمالوله، د نېزې لرګی نېږدې دوه متره اوږدوالی او لس سانتي متره پېرړوالی لري. د نېزې ښکتنۍ برخه د اوسپنې په تېره نېزه پوښل شوې وي دا لوبه د تکړه او غښتليو ځوانانو له خوا په قوي او چابکو آسونو تر سره کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې لوبې د سرته رسولو لپاره لومړی ارت میدان ټاکي او بیا د میدان په یوه برخه کې درې ځایه؛ یو یو متر لرې د **۳۵** سانتي مترو په اندازه مېخونه په ځمکه کې ټکوهي او تقریباً له ۲۰۰ مترو لرې څخه په آس سپور ځوان په ډېره چټکتیا د مېخ په لور راځي او کله چې مېخونو ته نژدې کیږي خپل ځان د آس پر شا یوې خوا ته کوږوي او نېزه په خپل ښیي لاس کې د مېخ په لور برابره کړي، تر څو هغه مېخ د نېزې په څوکه له ځمکې نه را وکاږي.
دا وخت دوه تنه ډولچیان ډولونه وهي او هغه مهال چې آس د مېخ په لور رامنډه کړي د ډولونو غږ د هرې شېبې په تېرېدو ډېرېږي او کله چې لرګی د نېزې په څوکه پورته شي د ډولونو شور لا ډېر مست شي او که چېرته لرګی ترې پاتې شي نو بیا د ډولونو هغه ډېر غږونه، نه بلکې په عادي توګه ډول وهي. په همدې شان یو پر بل پسې خپل وار تېروي یو یو تن څو ځله د مېخ په لور را تللی شي تر څو چې آسونه ښه ستړي شوي نه وي او د ټولو لمبر تېر شي او هغه څوک به نېزه ګټي چې د نېزې لرګي له ځمکه څخه په نېزه سره را پورته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غېږ نیول

غېږ نیول له ډېر لرغوني وخت را په دېخوا په ډېر سیمو کې دود دي له زور او ځواک ډکه لوبه ده په دې لوبه کې چل کول خورا ارزښت لري وړوکې چل کولی شي چې د ډېر زور څښتن په غېږ نیولو کې مغلوب کړي دا لوبه واړه او لویان کوي خو ددې لوبې ډېرې برخه د ۱۵ نه تر ۲۵ کلنو عمر لرونکي ځوانان ترسره کوي دوي په خپلو کې د ځوانی زور آزمايي اخوا دا لوبه د قد او ونې په مناسبت نه ترسره کېږي ښايي غېږ نیونکي د ونې نه یو وړوکې او بل لوی وي، ډېر وخت اندول په نظر کې نیول کېږي یا به د عمر او یا د خوښې اړوند لوبغاړي یو بل ته په غېږ سره ورولي.



په دې لوبه کې د لوبغاړو یو بل ته په غېږو ورتلل په خپله خوښه دي، دا هم کېدای شي چې ددو کلیو تر منځ دوه لوبغاړي یوبل ته په غېږو وروستل شي. کله چې په مناسب ځای کې دوه لوبغاړی د غېږ نیولو لپاره را ووځي یو جوړ جامې په ځان کې پربېږدي او نور توکي له ځان نه لرې کوي وروستنه یو بل تـه مخامخ ودرېږي دواړه لوبغاړي به یو لاس لاندې او بل باندې کوي سینه پر سینه به سره چسپیږي شا او مخ ته تګ، تاوول او راتاوول په کې شته دې دواړه لوبغاړي کوښښ کوي چې خپل سیال پر ځمکه را وپرځوي. ځمکې ته د ښکته کولو پر وخت کې باید یو لوبغاړې ښکته د ځمکې لور ته او بل د هغه د پاسه قرار ونیسي او که دواړه په بغل پر ځمکه را پریوتل دې حالت خره په خره وايي او یوه لوري هم لوبه نه ده ګټلې. بیا دواړه لوبغاړي غېږې له سره نیسي تر څو چې یو لاندې او بل باندې نه شي دا لوبه یو څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطرناکه او یو څه ستونزې را ولاړوالی شي ښايي په لوبه کې د کوم لوري لاس مات او یا زور پېدا کړي او یا هم ټپي شي چې د درد لامل ګرځي له هغه پرته امکان شته لوبغاړی پر ځمکه ډېر محکم ولګي او لوبغاړی ټپي شي دا لوبه بیا بیا ځلې نه تر سره کيږي په یو ځل غبرګ نیولو سره ګټونکې، بايلونکې معلومیږي دې ته د لاسونو غبرګ نیول ویل کیږي.

بل ډول غبرګ نیول د ګنډې غبرګ نیولو په نوم یادیږي کټ مټ د لاسو غبرګ نیولو ته ورته ده خو یوازې توپیر یې په دې کې دی چې په دې ډول لوبه کې به لوبغاړي یو د بل ګنډې نیسي او یا تر ملاوو څادر تاووي او هغه نیسي په لوبه کې پښه ایښودل او لنګرته هم وي چې دا د څملولو یو چل دی په پایله کې چې هر لوبغاړي خپل سیال د ځمکې لور ته ښکته کړ هغه ګټونکې دی او لوبه د هغه په ګټه پای ته رسیږي. •

# د پښې او لاس اړول

د پښې او لاس اړولو لوبې ته ځانګړی موسم او ځای په پام کې نه نیول کیږي یعنې په هر وخت او هر مناسب ځای کې دا لوبه تر سره کیږي په دې لوبه کې د میر، ډلو ټپلو ټاکلو ته اړتیا نشته لوبغاړي په خپله خوښه لوبې کوي چې له هر چا سره یې خوښه وي لوبه تر سره کوي خو دا ماشومانه لوبې نه دي ځوانان او د پاخه عمر کسان دا لوبه کوي چې عمرونه یې د ۱۵ نه پورته تر ۳۰ - ۳۵ کلنو په شا او خوا کې وي. لوبغاړي دا لوبه په سر پټو او چمن لرونکو ځایونه کې ډېره تر سره کوي لوبې ته هغه لوبغاړي ټاکل کیږي چې په قوت کې ځان ته یو څه وایي، په مټو او هیکل کې لوی کسان دا لوبه ښه پر مخ بیولی شي.

دا لوبه به څرنګه پیلیږي؟

د لاس اړولو په لوبه کې دوه لوبغاړي په خوښه سره جوړ راځي نیږدې سره کښېني د لاسونو څنګلې پر ځمکه ږدي د لاس پنجې یو بل ته ورکوي او تر غټه کوته یو بل نیسي د دوی د لاسونو تر منځ به فاصله له ۳۰ – ۴۵ درجو وي دواړه لوبغاړي

---

• (۱۸) ۷۰ مخ


(c) ketabton.com: The Digital Library

کوښښ کوي چې د یو بل لاس ځمکه ته ښکته کړي خو د دوی څنګلي به له ابښودل شوي ځای څخه نه خوځیږي د کوم لوبغاړي لاس چې ځمکې ته را ښکته کړ شو هغه بایللې ده. یو لوبغاړی کولای شي له ډېرو لوبغاړو سره لاس واړوي په دې کې محدویت نشته.
د پښې اړول بیا بل خوند لري په دې لوبه کې مهارت ته ډېره اړتیا شته د ونې نه یو وړو کې کولای شي تر ځان لوی په پښه اړولو کې مغلوب کړي د خندا ډکه لوبه ده.
ددې لوبو په کولو کې هم محدودیت نشته یو لوبغاړی له ډېرو کسانو سره لوبه کولای شي، لوبه داسې کیږي دوه کسان په خپله خوښه سره تیاریږي پر ځمکه داسې پریوځي چې د یوه پښې یوې خوا ته او د بل لوبغاړي پښې بلې خوا ته څنګ په څنګ چې سرونه د دواړو یو د بل د سینې سره برابر وي، لاسونه یو بل ته سره ورکوي. دواړه لوبغاړي په یو ځل سره ښی ـ پښې پورته کوي او کینه پښه به اوږده پر ځمکه غځېدلې وي او هغه له ځمکې څخه نه پورته کیږي تر څو چې یو د بل پښې د پوندو په ساحه کې یو له بل سره ونښلي که چیرې ونه نښلي بیا پښې سره پورته کوي چې کله ونښلي وروسته لوبغاړي هڅه کوي چې یو د بل پښه ځمکې لور ته ښکته کړي د ښکته کولو په وخت ګټونکې لوبغاړي مقابل لوري د خپلو پښو خوا ته را اړوي او همدا لوبغاړی بریالی او ګټونکې ګڼل کیږي.

## بېلوی (سپښتې)

سپښتې هغه هډوکي دي چې د پسونو او وزو له آخرینو دوو پښو څخه را ایستل کیږي معمولاً د لاندې کولو پر وخت کې د سپښتو ګڼل ډېر دود مومي، دا هډوکي (سپښتی) څلور اړخونه لري، چې عبارت دي له لومړی آس چې تر ټول قوي دی دویم خر له آس نه ورسته خر قوي دی دریم پوک او ورپسې چک دی لکه په لاندې انځور کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خبریال محب الله شریفزي له خصوصي آرشیف څخه د سپینتو یو انځور

کله چې سپښتې له دې ځلورو اړخونو نه په بل اړخ یعنې د ولاړیدو په شکل ودریږي هغه ته اوټ وايي او په میدان کې کوم ارزښت نه لري وروسته یې چپه کوي چې په هر اړخ ولویده همغه مني. د لوبو ارت میدان او د ورځې کوم ځانګړي وخت ته اړتیا نه لري د کسانو د ناستې په اندازه دایروي ځای کې ښه لوبه ترسره کیږي.

له پخوا نه بېړی، بېلا بېل نومونه هم لري د بېلګې په توګه: چې ډېره آس ګرځي هغې ته آسینه وايي، پوکینه ده بوتکې دی، غوښینه، بوتی، لنتی، چترینه چې پر څه شی باندې سولول شوې وي هغه ته چترینه وايي یوه ښله سپښتې چې له ټولو نه لوې او ښکلې وي هغه ډېره میدان ته نه اچوي او ورته د (ګروت) سپښتې وايي په ښکلو رنګونو یې رنګوي.

د رنګولو آسانه لاره یې داسې وه په غرونو کې د چېړګي په نامه بوټی وو دې بوټي ته به یې چې کله اور ورته کړ ډېر دودونه به یې کول د همغه دودونو په منځ کې به یې د لنډ مهال لپاره سپښتې واچوله کله به یې چې راواخیستله زړه راښکونکې سور رنګ به یې اخیستی وو.

د لویانو او ماشومانو ګډه لوبه ده د عمر څه زیاتوالی او کموالی به کې مطرح نه دی د لوبې د ګډونوالو شمېر معلوم نه وي، لومړی ګرد کېښني او یو دایروي خط

(c) ketabton.com: The Digital Library

راکاږي د خط پـه د ننه کې دا لوبـه د لاس د ګوتـو پـه واسطه تـر سره کېږي، د يـوه ګډونوال په لاس د ټولو ګډونوالو سپينتې ګډې د ميدان پـه منځ کې پورتـه اچول کېږي او ګوري چې کوم يو يې زورور دی، تـر ټولـو زورور يې آس ورپسې خر بيا پوک او وروسته يې چک وي؛ زورور پدې معنا چې که چېرې په ميدان يـو آس يـو خر او يا هر بل وي نو آس بـه لـومړی نوبت کـوي د خپلې سپينـتې پـه واسطه بـه پـه نـورو سپينـتو حملـه کـوي. کـه چېرې د حملې پـه پايلـه کـې دوه سپينـتې د حملـه کونکي او هغه چې ورسره ولګيده په يوه اړخ وي او که ډيرې هم يو شان اړخ ولـري (چک او چک يا خر او خر يا هر بل) نو حمله کونکې هغه ټولې سپينـتې ګټلي دي او له ميدان څخه يې پورته کوي. په همدې لړۍ کې که چېرې پدې حمله کې کومـه سپينتې د دايروي خط نه د باندې ووځي بيا هم حمله کونکي ګټلې ده. که کله خپله د حمله کونکي سپينتې له دايرې ووزي نو بيا يې بايلوده نوبت او سپينـتې د هغـه چا کېږي چې د حمله کونکي سپينتې پرې لـومړی لګېدلې وي. او همدغـه د حملـه کونکي سپينته هم همغه ګټلې ده.

که چېرې د لوبې په سر کې دوه آسان وي نو بيا زورور خر او کـه بيـا دوه خره وي نـو بيا تر ټولو زورور پوک دی او په همدې ترتيب که دوه آسان وي يوه چک بيـا چـک چليږي او حمله کولی شي؛ ځنې وخت داسې هم کېدای شي چې د ټولـو سپينـتو د اچولو په وخت کې آس خپل همجنسـه چک او خر خپـل همجنسـه پـوک وخوري، البته دا شرط بايد د لوبې په سر کې معلوم شي چې آيا دا ډول خوړل شته او کنه !

يو بل په زړه پورې کار هم لري چې کله ټولې سپينتې په ميدان کې واچوي يا ټول آس وګرځي يا ټولې خر وګرځي دې حالت ته (آورنګ) وايي هر چا چې چور کـړې د هغه کيږي خو په دې صورت کې د سپينتې خاوند يو چانس لري او چور کوونکي ته وايي چې پورته هوا ته يې واچوه چک او پوک يا خر او آس يا آس او چک يـا خـر او پک نيسم که په همدې نيـول شـوو اړخونو کې کـوم يـو شـو نـو سپينـتې ببرتـه د خاوند کيږي. ددې لوبې موسم پـه وردګـو کـې د ژمـې يخـې ورځـې دي، چې زيـاتره وخت يې هلکان د لمر په پېتاوي کې تـر سره کـوي او پـه نـور موسمونو کې دومره ارزښت نه ورکول کيږي. که چېرې پدې لوبه باندې ناڅاپه څوک راشـي او د (چـور) غږ وکړي نو هر شمېر سپينتې يې چې د ميـدان نـه پـه لاس کې پورتـه کـړې د همغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، او که ګډونوالو د هغه د چور په مقابل کې (پخ) ووېل نو بیا دا حق نلري چې سپېنتې له میدان څخه پورته کړي، البته دا پخ وېل به د چور نه مخکې وي. خو یاده د وي چې هېڅ پلار د دې لېوال نه دی چې زوی یې دا شان لوبې تر سره کړي، بلکه هر ماشوم په کراتو کراتو د همدې او یا هم ورته لوبو د تر سره کولو په خاطر ډېر ځله وهل او ټکول خوړلي دي. •

# خستکه خوړل

خستکه خوړل د دې په معنا نه دي چې د یو څه زړي مات کړې او وروسته یې وخوري خستکه ډېر کسان زړو ته هم وايي زړي خوراکي توکي دي خو دا خستکه خوړل د لوبې نوم دی او اصلاً یو کوچنی هلوکي د دې لوبې مرکزي نقش لوبوي دا کوچنی هلوکي د چرګانو او یا هم د حلالو مرغانو د سینې له مخکینۍ برخې یا د جوجورې له لاندې برخې نه په لاس راځي، دا هلوکې نازک او دوه شاخه لري چې د پښتو حساب د اوه (۷) توري سره ورته والی لري. دا یوه ماشومانه لوبه ده چې کوچنیان یې ډېره کوي په ټوله کې دا لوبه ډېرو کسانو ته اړتیا نه لري او په ټولیزه توګه نه تر سره کیږي دوه کسان په خپلو کې دا لوبه کوي د نورو لوبو په شان ځانګړی موسم نه غواړي یاده لوبه په کورونو د او سیدو ځایونو کې تر سره کیږي او له مخکې پخوا وختو څخه را په دېخوا دود ده. د دې لوبه پایله او موخه شرط ګټل دی د دې لوبې په پیل کې یو شرط اېښودل کیږي، شرط په وړو او معمولي څیزونو او ایښودل کیږي چې ډېر ازرښت و نه لري.

کله چې دوو ماشومانو ته دا کوچیني هلوکې په لاس ورشي په خپلو کې سره وايي راځه چې خستکه وخورو او سره وايي که مې خستکه وګټله یو څه به را ته اخلې او یا به یې راکوې او که تا وګټله زه هم دا کار کوم دا د دوي ژمنه وي. په دې ډول پیلیږي چې کوچنی هلوکي یا خستکه راخلي او یوه خوا یې یو ماشوم او بله خوا یې بل ماشوم په ګوتو کې نیسي د ګوتو په زور سره خستکه په دوو برخو وېشل کیږي یو هلوکي یو ماشوم اخلي او بل هلوکي بل ماشوم له همدې ځای نه

• (۱۸) ۵۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خستکه ګتل شروع کېږي او د ګتلو شرایط یې په دې ډول دي یو څه وخت وروسته لومړي ماشوم به دویم ماشوم ته یو څه ورکوي او دویم ماشوم به ورته وایې چې په زړه او وروسته به دویم ماشوم د لومړي ماشوم له لاس نه څیز او شی اخلي، دویم ماشوم هم په لومړي ماشوم دا کار تکراروي لومړی ماشوم به هم دا کار کوي او د شي اخیستلو په وخت کې به ورته وایې چې په زړه د (په زړه) کلیمه د خستکې ګتلو په ضد ده که یې په زړه وویل خستکه نه شي ګټلای که ماشومان ځیرک او هوښیار وي یوه خستکه په ورځو ورځو دوام کوي دوی ټول وخت دې ته پام کوي چې خستکه پر ما وا نهړوي که له دوی دواړو نه هر یوه مقابل لوري ته څه ورکړل او هغه په زړه ونه ویل بیا په لوړ آواز ورته وایي (دربانديږ) او دا کلیمه ورته بیا بیا ځلې وایي دربانديږ دربانديږ.... خستکه مې در باندېږ واړوله. مقابل لوری تر اغېز لاندې راځي او څه نا څه مایوس او خپه ښکاري لوبه او شرط به در باندې واله کس ګټلې وي چې د بایلوونکي له خوا ورکول کېږي.
په حقیقت کې دا یوه ښوونیزه او روزنیزه لوبه ده ماشومان هیښتیا او ځیرکتیا ته ډېره اړتیا لري او د دوی مغز د ودې او پرمختګ په حال کې وي دا لوبه له ماشوم سره په ډېرو چارو کې مرسته کوي مخکې له مخکې یې یوه شي ته آماده کوي ماشوم تل په فکر او پام کې ساتي او ډېره د فکر کولو موقع ورکوي تر څو په کوم ډول او په کومو چارو خپل سیال ته ماتې ورکړي او د ماتې ورکولو لپاره ډول ډول سوچونه کوي. •

---

• (۱۸) ۵۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شم متهې (ډمې ډمې)

شم متهې پـه زړه پـورې لوبـه ده چې زمـوږ پـه وردګـو کـې پـه هر ځای او ځـو نومونـو کـارول کیـږي ولسـي خلکـو ورتـه بېلا بېل نومونـه غـوره کړي، دا لوبـه تـر ډېره پـه دښته، ډاګونو، غرولمنو او له کانو نه په ډکو ځـایونو کـې لوبول کیـږي ځکه ددې لوبې اصلي توکي همدا واړه واړه کاڼي دي چې لوبغاړي پرې لوبه کوي. لـه ۱۰–۱۸ کلنو عمر لرونکي لوبغاړي دا لوبه پر مخ بیایي لوبه دوه پر دوه تر سره کیږي ښایي له دوو تنو څخه ډېر هم په کې ګډون وکړي خو د لوبې اصلي لوبغاړي دوه کسـان وي همدا دوه کسان دي چې په لوبه کې رقابت لري او د ورځې پـه بیلا بېلـو ګړیـو کې لوبه کېږي.
کله چې دوه لوبغاړي د لوبې کولو لپاره صلاح وکړي د کاڼو نه ډک ځای ته تشریف یوسي لومړی په یو څه شرط ږدي د بېلګې په توګه: وایي که هر چا دا لوبه وګټله د ۵۰ مترو په فاصله به یې په شا کوي وړي او راوړي بـه یې دواړه لوري پـه دې سره ژمنه کوي وروسته د خپلې پربکړې پر اساس ۷، ۸، ۹ یا له دې څخه هم زیات تېره تېره کاڼي پر ځمکه کې ټک وهي البته دواړه لوري بـه پـه یو شمېر کـاڼي د لسـو یـا پنځلسو مترو په فاصله یو بل ته ټک وهي په داسې ساحه کې چې یـو د بـل کـاڼي پرته له کوم خنډه ووینې. مثلاً دوي اوه اوه تېره کـاڼي پـر ځمکـه ټـک وهـي کوښښ کوي چې نرې نرې لرګي ته ورته کاڼي پر ځمکه ټک وهي چې د سیال لوري له خوا د نښې ویشتلو په وخت کې زر و نه لګي همدا اوه تېره تېره کاڼي به پـه لنډ ځـای کـې سره دروي چې په خپلو منځونو کې د یوې لوېشتې په اندازه فاصله ولري. د دواړو کسانو د شم متهو تر منځ به ۱۰–۲۰ مترو واټن وي. ددې ټولو تېرو پـه سر کـې مقابـل لوري ته مخامخ به دواړه لوري له نورو تیږو لږ څه کلکه تیږه دروي چې هغـه تـه مـلا وایي، په وار سره یو د بـل شـم متهې ولـې چې دا همغـه درول شـوې تیږې دي دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوبغاړي به دری دری وارنه د لاس په واسطه په شم مته کوي د مقابل لوري شم متې په لویو کانو ویشتل سم نه دي په وړو او مناسبو کانو يې ولې په دې دواړو لوبغاړو کې چې هر چا د سیال لوبغاړي شم متې زر چپه کړې همغه لوبه گټلې ده، که شم مته د کاڼي په گوزار سره ولگي او چپه نه شي دا حالت ناسم دي تر څو چې درول شوي تیره يې چپه کړې نه وي. له دې تولو نه د ملا کاڼي رول په لوبه کې مهم دی چې که لوبغاړي د خپل سیال، ملا کاڼی وویشته او چپه يې کړ د لوبې گټونکې همدا دی دواړه لوري کوښښ کوي چې يو د بل د شم متو ملا زر د تیرې په گوزار سره چپه کړي او د لوبې گټونکې شي. •

---

• (۱۸) ۵۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غولک (غولکه)

غولکه هغه څه دي چې د دې وردګو ولایت حتې د هېواد ټول وګړي ورسره آشنا دي په ماشومتوب کې ټولو دا ساتیري کړې ده دا د آلوتونکو قاتله ساتیري ډېر مینوال لري له ډېر پخوا څخه دود ده ساده جوړښت او د جوړولو قدرت یې له ټولو ماشومانو سره دی، د عمر له لحاظه د پنځو کلنو څخه تر پنځلسو کلنو عمر لروونکو کسانو په منځ کې دا ساتېري ډېره مروجه ده. د غولکې د کارولو موسم د پسرلي له ګلانو او خوږو بویونو سره سم پیلیږي په پسرلي کې بېلا بېل آلوتونکي فصلونو او باغونو ته راځي چې د ددې لوبې موخې په همدو وږو او لویو مراغانو پسې را وتل او ویشتل دي لوبغاړو په غولکه باندې د مرغانو ویشتل د ځان لپاره ویاړ باله.



د غولکې جوړښت په دې توګه وو لومړی به ددوي اړتیا یو داسې لرګي ته وه چې د انګلیسي د ( Y ) توري ته کټ مټ ورته وي د ونو له څانګو څخه به یې دا لرګی را پرې کاوه او هغه ته به یې څانګه (ښاخه) ویله څانګه به ښکلې او ډېره په خواره سره جوړوله ډېره ښویه او کوم خنډ به یې نه درلوده د څانګې سربېره دوه ډوله ربړونه دې ته په کار ول یو ډول ربړونو ته به یې (ټرونکي) او بل ډول ته به یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غـولکي ربړونـه وېـل چـې د خاښـې پـه پورتـه خوا پـورې د تړونکـو پـه واسـطه تـړل کېدل په ښکلي انداز به يې تړونکې تر خاښې تاوول د وړې تيرې د ابنـو دلو لپـاره ځانګړي چرم په کاروو هغه ته به يې (پسـتکې) وايـه. پسـتکې بـه د دريـو ګوتـو پـه سور او يو چامپې په اوږدوالی سره چې د پستکي په داوړو سرونو کې به د ربړونو د تړلو لپـاره دوه سـوري وو پسـتکې بـه د ربړونـو پـه سـر کـې پـه وړو وړو ربـړو تـړل کېدو په دې پستکي که به وړه ګرده تيږه اېښول کېده، ښاخې بـه چا پـه ښـي او چـا هم په کيڼ لاس سره نيوله ډېرو به ښاخې د مخې لـور تـه پـه ښـي لاس کـي نيولـه او پستکې به يې پـه کيـڼ لاس د ځان خوا تـه کشـاوه او د هـدف ويشـتلو لپـاره بـه يـې تياری نيوه چې نښه به يې وتړله بيا به يې ګوزار کاوه تر څو هدف آلوتونکي په لرې فاصله کې له منځه يوسي، چې کله به يې غولکه په لومړي ځل جوړه کړه پـه لـومړي ځل به يې چې هر څه پرې وويشتل د هغه په وينو به يې غولکه سره کولـه دا کـار بـه يې ځکه کاوه چې په راتلونکي کې پرې ډېر آلوتونکي وولي او نښه يې پخه شي.

دوی به يو بل کار هم کاوه چې د هر چا به په ويشتلو کې ښه نښـه پخـه شـوه هغـه بـه (غولک وار) ويشته دوی به يوه وړه تيږه يا کوم بل څه د نښـې ويشـتلو پـه خـاطر د ۱۰–۱۵ مترو پـه لرې والي سره ودرول شرط بـه يـې دا وو کـه هـر چـا دا نښـه اول ځـل وويشته خپله غولکه به همغه ته ورکوي، نښه به يې په نوبت سره ويشـته د بېلګـې پـه توکـه هـر لوبغـاړي بـه دری دری وارونـه کـول چـې هـر چـا بـه پـه لـومړي ځـل نښـه وويشته له شرط سره سم به يې غولکه همغه ته ورکوله چې دې ته به يې غولک وار وېل. هېره د نه وي چې يوه پلار هم خپل زوی ته د غولکې ويشتلو او ګرځولو اجازه نه ورکوله ځکه په دې سره به کله کله د چا سـر يـا ښيښـې ماتيـدلې او دا بـه د دواړو لورو لپاره سرخوږی وو خو ډېرو ماشومانو به دا ساتېرې په پټه کوله.•

---

• (۱۸) ۵۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چڼې منې غاړي (سی یا سی یا )

د چڼې منې غاړي لوبه په دوو تنو هم تر سره کيږي خو که په ډله يزه توګه وي ډېره له خوند نه ډکه او ستړې لوبه ده کله به چې ماشومان د لوبې کولو لپاره سره راټول شول په لوړ آواز او ځوږ سره به يې ويل راځئ چې چڼې منې غاړي وکړو. تر ډېره د کوچنيانو لوبه ده خو دا هم نه وېل کيږي چې ځوانان دا لوبه نه کوي لوبه په کوچني توپ تر سره کيږي د نورو لوبو پر خلاف په دې لوبه کې ډلې ټپلې نشته، په ګډه او ټوليزه توګه تر سره کيږي لوبغاړي په دوه ډلو نه وېشل کيږي او مير ته هم اړتيا نه شته ټول په کې يو ډول برخه اخيستلای شي، خو غښتلي، سرتيري او تکړه ځوانان به دا لوبه ډېره په واک کې لري، په پسرلنې موسم او د خوښيو په ورځو کې دا لوبه ډېر مينوال لري.

لوبغاړو ته چې يو کوچنی توپ په لاس ورشي په يو ځای ټول ودريږي توپ چې د هر چا په لاس کې وو هغه به توپ پورته هوا ته د ۱۰ – ۱۵ مترو په شا او خوا کې اچوي او د توپ اچلو سره وايي: (چڼې منې غاړي) که په راټولو لوبغاړو کې کوم يوه ووېل چې غاړي او توپ يې په هوا کې ونيوه بيا به همغه چې توپ يې له هوا څخه نيولی دی توپ به پورته اچوي او وايي به چڼې منې غاړي که کوم لوبغاړي نه ووېل توپ به بيا پورته اچوي چڼې منې غاړي به وايي که کوم لوبغاړي ووېل چې غاړي او توپ يې له هوا څخه ونه نيوو نو په ګډه سره ټول لوبغاړي همدا يو لوبغاړي په توپ سره ولي دا وېشتل تر هغه وخته وو چې تر څو به دې ټاکل شوي ځای ته ځان نه وي رسولی او يا هم ويشتل د لوبغاړو تر خوښې وخته پورې دي چې د دغه لوبغاړي ويشتل به پای ته ورسېدل بيا به توپ پورته اچول کېده او همدا کار به په وار وار سره بيا بيا کېده.

دا لوبه په ګډه هم ترسره کېده ډېر غال مغال به له لوبغاړو ځينې جګېده، وله وله، درغی، ونيسه ټولې به د همدا کليمې غوږنو اوربدلې. چې کله به لوبغاړي توپ پورته هوا ته واچوه او توپ به پر ځمکه راپربوت هر لوبغاړی به د چې زړه وو پرې ويشتلی د شولی منډې را منډې به په لوبغاړو پسې ډېرې وهل کېدې ځانګړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کس معلوم نه وو چې په توپ د وویشتل شي له ډېرو ویشتلو وروسته به بیا توپ هوا ته اچول کېده تر څو لرې لرې لوبغاړي په یوه ځای سره راټول شي او د ویشتلو لپاره زمینه برابره شي، همدا لړۍ بیا بیا ځلې کوي تر څو ښه سترې شوي نه وي. دا خطرناکه لوبه وه پرته له کوم زړه سوي، ترحم به لوبغاړي په توپ ویشتل کېدل که د بدن په نازک غړي (سترګه) یا نورو غړو به څوک لګېدل ټپي کېدل به له ډېرو نورو ستونزو سره به مخ وو په داسې لوبو کې باید هڅه وشي په نرمۍ، احتیاط، پاملرنې سره لوبه تر سره کړي تر څو مو د لوبې اخلاقي حق پر ځای کړی وي.

# مچنوزغه

مچنوزغه د کوچیانو را پاتې شوې ساتېري او ډالۍ، په لرې فاصله د تېرېږ وارولو وسیله ده. کوچیان چې له یوه ځای نه بل ځای ته کډې کوي څینې ساتېرۍ او لوبې له ځان سره کلیو او بانډو ته لېږدوي د بېلګې په توګه تولۍ او دروی چې په موسیقۍ کې هم کارول کېږي په ولس کې عام دود لري ښايي دا توکي د کوچیانو زېږنده وي ځکه کوچیان په غرونو کې یوازې وي او دا د دوي د یوازیتوب ملګري دي، ډېری داسې لوبې دي چې په ماشومانو را څرخي مچنوزغه بیا د ځوانانو په قشر متمرکزه ده ځوانان د مچنوزغې وارولو قدرت لري ددې مینه وال مچنوزغه تل په جېب کې ګرځوي د کال کوم بېل فصل ته اړتیا نه لري چې په هغه کې د مچنوزغه باندې ساتېري وشي.

مچنوزغه له کلک تار، نري چربل، کلکې تسمې او داسې نورو توکو او یوه پستکي څخه جوړیږي ډېر ساده جوړښت لري ټول یې په جوړولو قادر دي دوې داسې تسمې را اخلي چې اوږدوالی یې له ۸۰-۱۰۰ سانتي مترو پورې وي ددغه تسمو یوه خوا په پستکې پورې کلکه تړي او یوه خوا یې د لاس نیولو لپاره چې په یوه تسمه کې د ګوتې لپاره جوړه شوې حلقه وي جوړوي حلقه ددې په خاطر ورکوي تر څو د تېرېږ وارولو په وخت کې مچنوزغه له لاس څخه خطا نه شي، په پستکي کې تېږه ږدې وروسته مچنوزغه تر سر تاووي د وارولو په وخت کې یوه تسمه له لاسه خوشې کوي او کاڼی په لرې فاصله ځي. څینو به داسې مچنوزغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړولې چې د وارولو پر وخت به يې لوی ټک کاوه دا به د ډارولو په خاطر ډېرې کارول کېدې، په دې کې د غولکې په پرتله لوي ګاټې وارېږي چې لويوالی يې له يوې متوسطې منې سره برابر وي او د مچنوزغې په واسطه لرې فاصلې ويشتل کېږي دا په اصل کې له نورو لوبو ساتېريو ډېره خطرناکه لوبه ده، کومه تېږه چې په مچنوزغه کې ګوزار کېږي خورا ډېر سرعت لري که څوک په دغه کاڼي ولګي د مرګ خطر لري له معمول سره سم په غرونو کې ترې ډېره ګټنه کېږي خو کله کله به چې د دوو کليو د ماشومانو او ځوانانو تر منځ د تيږو ويشتل شول له مچنوزغې نه ډېر کار اخيستل کېده يوه کورنۍ هم خپلو اولادونو ته دا لوبه نه خوښوي او نه ورته د کارولو اجازه ورکوي. •

---

• (۱۸) ۶۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شیطان خانې

له پخوا څخه دود د شیطان خانې په نامه شوخه ماشومانه لوبه ده په ډله یزه توګه تر سره کیږي منډې را منډې ویشتل په کې ډیر دي ماشومان او ځوانان په ګډه دا لوبه کوي ډیری لوبې په میدانونو کې تر سره کیږي دا لوبه هم یوه کوچیني میدان ته اړتیا لري دا لوبه کوښښ او ځیرکتیا غواړي په ځیرکتیا سره باید د لوبې مرکزي نقطه ولوبوي یعنې توپ شیطان خانې ته ډیر واچوي. څنګه ترسره کیږي؟

د یوه کوچیني توپ سره چې کله لوبغاړي ددې لوبې کولو لپاره راټول شي په لومړي سر کې هر لوبغاړي د ځان لپاره په ځمکه کې ژور ژور ځایونه جوړوي چې هغه ته (مایه) یا شیطان خانه وایي البته دا ژور شوي ځایونه به ټول په یوه ځای وي دا ژور ځایونه د لوبغاړو د شمیر په اندازه چې هر ژور شوي ځای د یوه لوبغاړي په نامه وي پر ځمکه کې ژوروي ددې ټولو ژور شویو ځایونو په سر کې له نامه سره سم د شیطان خانې په نامه یو ژور ځای جوړي چې هغه ته شیطان خانه وایي. مخکې له دې څخه چې په توپ اچونه پیل وکړي د ساتیرۍ د لا زیاتوالي په سبب د منډې کولو لپاره د شیطان خانو نه لرې ځاي ټاکې د ژور شویو ځایونو څخه د پنځو مترو په فاصله کې یوه مستقیمه کرښه راکاږي چې له همدې کرښې نه به شیطان خانو ته توپ اچوي، توپ هر یو په خپل وار سره شیطان خانو ته اچوي هر لوبغاړي چې توپ اچونه پیل کړه او توپ یې ژور شویو ځایونو ته واچاوه که یې په خپله خانه کې توپ ولوید بیا به له سره توپ اچوي. او که په یوه ژور شوي ځای کې هم و نه لوید په دې صورت کې به بیا خپل وارونه کوي یعنې دده وار له منځه نه دی تللی، او که توپ شیطان خانه کې ولوید چې اصلي موخه هم د توپ اچولو شیطان خانې ته دي تر ټاکل شوي ځای به نور لوبغاړي منډې وهي او نوبت کوونکې به نور لوبغاړي په توپ سره ولي. که توپ د بل لوبغاړي په ژور شوي ځای کې ولوېد بیا د توپ اچول وار د همغه لوبغاړي کیږي چې توپ یې په خانه کې لوېدلی دی، ددې لوبې هدف همدا دی چې توپ په شیطان خانه کې ولویږي او نور په توپ سره وولي لوبغاړي له دې توپ ویشتلو نه خوند اخلي په دې کې ګټل او بایلل نه شته یوازې یوه ساتیري ده.•

---

• (۱۸) ۶۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مردکۍ (توشلې)

ددې لوبې له الفاظو نه چې ترکومه معلومېږي ښايي د پښتني سميو لرغونې لوبه نه وي ځکه کوم کليمات او الفاظ چې په دې لوبه کې وېل کيږي د پښتو ژبې نه دي او مروج بديل الفاظ په عامه پښتو ژبه کې نه لري اکثريت نو مونه او کليمات يې د فارسي ژبې دي له دې ټولو سره سره له پخوا نه په وردګو ولايت کې مردکۍ دود دي ډېر مينه وال لري چې ددې مينه والو ډېرې قشر ماشومان تشکيلوي ښايي ځوانان هم دا لوبه وکړي خو په ځوانانو کې زياته کچه لوبغاړي نه لري د پنځو او پنځلسو کلنو تر منځ عمر لرونکي ماشومان ددې لوبې مرکزي نقطه لوبوي د کال له پسرلي موسم نه وراخوا د ګرمي تر ډېره وخته دا لوبه د ماشومانو تر منځ کيږي ځانګړو ځايونو او ميرانو ته په کې اړتيا نه شته، په لوبه کې د دوو لوبغاړو څخه بيا تر لسو پنځلسو لوبغاړو کولای شي په کې ګډون وکړي. مردکۍ د لاس ګوتو په واسطه کيږي چې (چوخ)ورته وايي لوبه چې په ټوليزه توګه ترسره شي خوند او ساتېرى يې ډېرېږي.

مردکۍ له ښيښې څخه جوړې شوې ګرد ګرد جوړښت لري چې لويوالى يې د يوې سرکۍ (آلوبالو)په اندازه دى، دوه ډولونه لري يو يې معمولي د ميدان مردکۍ دي او بل ډول يې تير (سانقه)د ميدان ويشتلو مردکۍ دي. د ورځې په ببلا ببلو وختونو کې به چې ماشومان د لوبې کولو لپاره راټول شول خپل جيبونه به يې له مردکېو څخه ډک وو د خاورو او دوړو په ډک ميدان به يې خطونه را وکاږل ددى له لوبې څخه به د غالمغال ځوږ پورته کېده، د مردکيو ګټل ډول ډول دي چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

- مائيه
- خط پراک
- بنډول
- کيج
- بچونې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښايي نور ډولونه ولري مهم او نوم لرونكي ډولونه يې همدا دي په ډېر كم توپير او ورته والي تر سره كيږي د بېلګې په توګه: مايه ماشومانو به چې كله مايه كوله لومړي به يې پر ځمكه كې د لاس د ورغوي په اندازه يو ځاى ژور كړ هر لوبغاړي به خپل تير (سانقه) يوه كس ته وركړل خو دا كس به په ماشومانو كې معلوم او ټاكل شوى نه وو د ماشومانو تيران به ټول د يوه كس سره وو بل ماشوم به د مائيې پر سر خپله د جامو لمن په دواړو لاسونو سره كش نيولې وه تيران به دد غه ماشوم په لمن ور وهل كېدل تر څو مردكى له مائيې څخه لرې لاړې شي د كوم ماشوم تير به چې په ډېره فاصله له مائيې څخه لرې تللي وو ، همغه به لومړى وو اول وار به هم هغه كولو يا به يې په نږدې تير وار كاوه يا به يې مائيې ته اچوو ، ور پسې به چې كومه مردكى دويم په لرې فاصله تللې وه د هغه وار به وو هغه به هم همدا كار كاوه په لوبه كې به بېلا بېلې ګړنې (اصطلاحات) استفاده كېدل او هره اصطلاح په ځانګړي ځاى كې كارېدله د اصطلاحاتو بېلګې په لاندې ډول دى همدا سې وېل كېدې :ګېنټ: په دې سره به لوبه پاې ته رسېدله، روخ مې نې: په دې سره به يې مردكى لرې فاصلې ته بيوله ، پيش مې:غوښتل يې چې مردكى يې مخكې ولاړه شي، پيش د نه: په دې سره به مقابل لوري ته وېل چې مردكى د مخكې ولاړه نه شي، جاى مى جاى: په دې معنا چې مردكى مې ځاى پر ځاى ده خو ځيږي به نه ، جاى د نه: مقابل لوري ته وايي چې بايد مردكى له ځايه وخوځيږي، ضرف: چې كله به يې مردكى مائيې ته اچوله دا توري به يې ويل، روخ د نه: په دې تورو ويلو سره د خپله مردكي لرې نه شواى بېولى، ټك او ضرف: دا اصطلاح په دې كارېده چې هم د بل مردكى ولګي او هم خپله مردكى مائيه كړي، روخ د جاى جايي: يعنې كه مردكى ولې بيا ستا مردكى لرې لاړه نه شي ځاى پر ځاى ودريږي، هردو:چې دوې مردكى سر بله پسې وي او دواړه ولي نو بيا ورته وايي هردو. او دې ته ورته ډېر نور اصطلاحات لرې هرې اصطلاح د ګټې اخيستلو بېل ځاى درلود. يو د بل په ځاى د غه اصطلاح ګانې نه كارول كېدې او ډېر وخت په د همدې اصطلاحاتو په سر د ماشومانو شخړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خط پراک

په لومړي سر کې ګډونوال یو دایروي خط کاږي د خط لویوالی، کوچنوالي په دوی پورې تړاو لري د دایروي خط څخه یوې و بلې خواته د دوو قدمو په اندازه لرې دوه مستقیم خطونه کاږي او پټې ورته وایي چې له هغه ځای نه به په دایروي خط کې د ننه په مردکېو واورنه کوي، په دې ډول مردکیو کې ټول ګډونوال مساوي مردکۍ د دایروي خط په منځ کې قطار ږدي، وروسته په وار سره پټو ته خپل تېران اچوي چې د هر چا تیر چې د پټې د مستقیم خط پر سر کیښوت هغه لومړی دی په همدې ترتیب ټول ګډنوال پټې ته خپل تیران اچوي د پټې خط په سر، نبږدې او لرې سره لومړی دویم، دریم..... وارونه معلومیږي، چې هر څوک لومړی وو هغه په ددایروي خط په منځ کې په مردکېو وار کوي دوی یو قانون هم لري چې ګېنټ ورته وایي په دې معنا چې په مردکیو وار وکړي، مردکۍ ولګي خو له دایروي خط څخه ونه وځي بیا وار دبل کیږي چې دې ته ګېنټ وایي. او که د کوم لوبغاړي وار خطا لاړ شي بیا هم نوبت د بل لوبغاړي کیږي کله چې مردکۍ ولګي او تیر د خط په منځ کې پاتې شو په نورو مردکېو وارونه کوي تر څو چې له دایروي خط نه نه وې وتلی که کله ووځې بیا هم په دایروي خط کې په مردکېو وار کوي تر څو چې وار یې خطا نه شي او که وار یې خطا شو بیا نوبت د بل لوبغاړي کیږي په هر تعداد مردکۍ یې چې له دایروې خط ځینې وویستې همغه ګټلي دي، په همدې ترتیب دویم او دریم.... خپل نوبتونه کوې تر څو چې د دایروې خط په منځ کې مردکۍ نه دي خلاصې شوې چې مردکۍ خلاصې شي میدان هم خلاصیږي.

## بنډول

مخکې مو هم یادونه وکړه چې دا لوبې په ورته والي او ډېر کم توپیر تر سره کیږي پورتنۍ اصطلاح ګانې د لوبو په دې ډول کې کارول کېږي خو له کبج او خط پراک سره یې توپیر په دې کې دی چې خط پراک او کبج لوی دایروي خطونه لري په کبج کې دایروي خطونه نه شته په همغه ډول ټول لوبغاړي مساوي مردکۍ د بنډول کولو لپاره میدان ته اچوي د بنډول لوبې لپاره په میدان کې یو کوچنی مستطیل خط د مردکیو په تناسب کاږي چې د هغه په منځ کې مردکۍ ځای شي، کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مردکۍ په بنډول کې کېښول شوې وروسته د مردکیو پر سر یو لوبغاړی خپله لمن نیسي او بل کس د ټولو لوبغاړو تیران دده په لمن وهي، لومړی او دویم په لرې والي او نیږدې والي سره معلومیږي کوم لوبغاړی چې لومړی وي د بنډول په مردکېو وار کوي مردکۍ به د بنډول له خط ځخه وباسي هغه یې ګټلې ده خو که د لوبغاړي تیر د بنډول خط په دننه کې پاتې شو ټولې مردکۍ په یو ځل سره ګټي که د لومړي لوبغاړي وار خطا وتلو بل لوبغاړي به وار کوي په همدې ترتیب به نور هم وارونه کوي تر څو چې آخري مردکۍ هر چا وویشته او خپل تیر یې لرې ولاړو یا ځای پر ځای پاتې شو نور لوبغاړي به د هغه تیر ولي که یې د هغه تیر وویشته کومې مردکۍ یې چې په دې میدان کې ګټلي هغه به په یو ځل دغه بل لوبغاړي ته ورکوي، د خط پراک او کېج خوندې په دې لوبه کې له خط نه مردکۍ نه ویشتل کیږي په کوم ځای د چې تیر پاتې شو له همغه ځای نه به په بنډول وار کوي. •

## کېج

دا هم د خط پراک په ډول مساوي برخه مردکۍ د دایروي خط په د ننه؛ او پټې لرې له خط پراک سره دوه توپیرونه لري په خط پراک کې پټې ته تیران اچول کیږي لومړي او دویم... معلومیږي په کېج کې بیا له پټو نه دایروي خط ته نیږدې تیران اچول کېږي په دې کې لومړې دویم دایروي خط ته په نبږدوالی معلومیږي د هر چا تیر چې دایروي خط ته نیږدې وي هغه لومړی دی همداسې نور هم... په دې شرط چې تیر دایروي خط ته د ننه نه شي که د ننه شو دې ته کېج وایي په کېج کې دایروي خط د مستقیمې کرښې په واسطه په دوو برخو ویشل کیږي لکه د ځمکې په کره کې د استوا کرښه ، د تیر اچولو پر وخت کې چې د هر چا تیر د دایروي خط د ننه (کېج )شو په دایروي خط کې د مسقیمې کرښې له سر ځخه په خط کې د ننه په مردکېو وار کوي کوم لوبغاړي چې د خط د ننه په مردکېو وار وکړ او تیر یې د خط د ننه پاتې شو تر هغه به نورې مردکۍ له خط وباسي او ګټي به یې تر څو چې له دایروي خط نه وتلی نه وي چې له دایروې خط نه ووځي دده وار پای ته رسیږی کله چې د دایروي خط په منځ کې په ګېنټ یا په لومړي ځل سره مردکۍ ولګي نور

---

• (۱۸) ۶۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوبغاړي بيا د دايروي خط نه په مردکېو وارونه وي او له پټو څخه به يې نه ولي، وروسته نور به په دايروي خط کې مردکۍ ولي تر څو چې خلاصي شوې نه دي چې کله مردکۍ خلاصې شي ميدان هم خلاصيږي. په کبج او خط پراک دواړو کې يو بل قانون هم وو هغه ته يې (مېخ) ويل، په دايروي خط د ننه کې به چې مردکۍ اېښول کېدې تر مردکېو به يو وړوکي مستطيل شکله خط ويستل کيده چې همدا مېخ وو د مېخ ګټه دا وه چې چا به په مردکېو وار وکړ او تير به يې د مېخ په منځ کې پاتې شو ټولې مردکۍ يې په يو ځل ګټلې او له ميدان څخه يې پورته کولې.

## بچوڼي

دا مائيې ته ورته لوبه او په مائيه کې تر سره کيږي په ډېرو کسانو هم تر سره کيږي خو ډېرې دوه دوه ماشومان دا لوبه کوي په لومړي سر کي يو هدف ټاکي په خپلو کې يوه ټاکل شوي ۱۰-۲۰-۳۰.. شمېره هدف ټاکي، د مائيې په څېر چې دوه کسان خپل تيران په لمن سره ووهې د هر چا تير چې لرې تللی وي هغه لومړي کار کوي د ټاکل شوي شمېرې پوره کولو درې لارې دی لومړی چې که د بل تېر وولې، او بيا خپل تير مائيه کړې، وروسته کار ورته وکړي کار په دې معنا چې کله د خپل تير مائيه کړ او د مقابل لوري تير درنه لرې وو د مائيې څنګ ته به نيږدې خپل تيږ ږدې چې دې ته کار ويل کيږي په دې دريو کړنو تا درې نمرې خپلې کړي دي، مقابل لوری هم دا کار کوي چې هر چا ټاکلی هدف ژر پوره کړ له مائيې څخه به مقابل لوري ته لوی قدم اخلي او له هغه ځای نه به مقابل لوري خپله مردکۍ مائيې ته اچوي او دا بل به يې ولي په يو وار ويشتلو سره يو لک بچوڼي کېږي ويشتل شوې مردکۍ چې هر څومره لرې لاړه بيا به يې مائيې ته اچوي لومړی کس به يې بيا ولي په دويم ځل ويشتلو سره دوه لکه بچوڼي کيږي همدا کار بيا بيا کوي او د بچوڼو حساب هم ډېريږي تر څو دويم کس خپله مردکۍ مائيه کړې نه ده، چې هر کله يې مائيه کړه دا ميدان پای ته رسي او بل ميدان په همدې تيب سره پيلوي په لومړي او دويم ميدان کې چې د هر لوبغاړي د بچوڼو تعداد ډېر شو همغه لوبه ګټلې ده.

په لومړيو کې ښيښه يي مردکۍ ډېرې کمې پيدا کېدې ماشومانو به له پلاستيک څخه مردکۍ جوړولې پلاستيک به يې د اور په واسطه نرم کړ چې کله به نرم شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته به يې نرم شوی پلاستيک ګرد ګرد تاو کړ همدا به مردکۍ وې ښايي ماشومانو په وار وار ددې مردکيو په جوړولو سوځېدلي وي، د نشتوالي په صورت کې يو بل ډول مردکۍ چې د (ترخې) مردکۍ يې ورته ويلې په لوبه کې ترې ګټنه کېده، ترخه په اصل کې د غره بوټی وو چې واړه مردکيو ته ورته خيزونه يې کول همدا به ماشومانو راشکول او ګټل به يې، له شوخۍ ډکه لوبه ده اولادونو ته د پلار د مردکيو ګټلو اجازه نه وه کېدای شي ماشومانو په وار وار له خپلو مشرانو څخه وهل ټکول خوړلي وي دا چې د کلي ټول ماشومان په دغه لوبه روږدي وو يوه ماشوم دا لوبه نه پرېښې.

## شونيه

ماشومان تل غواړي وخت په لوبو او ساتېرۍ سره تېر کړي له هر څه نه لوبو او ساتېريو ته ډېر لېوال وي تر ډېره هڅه کوي له نورو ماشومانو سره په ټوليزه توګه لوبې وکړي له دې پرته په يوازيتوب هم لوبې کوي، شونيه ماشومانه لوبه ده په کوچنيو کانو تر سره کيږي البته دا لوبه په يوازيتوب نه کيږي، د ډېرو ماشومانو تر منځ خوندوره لوبه ده. د لوبې کولو لپاره لوبغاړي لومړی کوچينۍ کروي تيږه لټوي تر پيدا کولو وروسته هغه په يو ټاکلې شوي ځای کې ږدي او دغه کروي تيږه د (شونيې) په نوم ياديږي. د شونيې تر اېښودلو مخکې يو هدف ټاکي د ببلګې په توګه وايي: چې هر چا په لوبه کې لومړی شل قدمه پوره کړل هغه د لوبې ګټونکې دی دا شل قدمه به لوبغاړي څنګه پوره کوي؟ کله چې لوبغاړي کروي تيږه يا شونيه له ځان څخه لرې په ټاکل شوې فاصله کيږدي لوبغاړي په نوبت سره هغه په نورو کانو ولي د کوم لوبغاړي په وار چې شونيه له ځايه وخوځېده د شونيې له خپل ځای څخه دا فاصله په قدمو کوي د کوم لوبغاړي قدمونه چې ژر پوره شي هغه دا لوبه کټلې ده.•

---

• (۱۸) ۷۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غوز (چارمغز) کښل

د خوړولو دغې وچې میوې ته په پښتو ژبه کې څو مترادف نومونه لرو اکوړ، مټک، جوز، چارمغز او غوز په معنا کې یو؛ خو په ویلو او لیکلو کې توپیر لري ښايي دا اسمونه د پښتو ژبې په لحجو او بېلا بېلو سیمو پورې تړلي وي پښتو ژبه د وییکو (لغاتو) پر اساس ډېره غني ژبه ده د وګړو په خوله د دغې میوې روان نوم چارمغز دی د څېړنو پر اساس ډېری پښتانه د وردګو ولایت په شمول غوزانو ته چارمغز وايي، چارمغز روغتیا ته د ګټو رسولو سر بېره د ماشومانو او لویانو د لوبو یوه لویه برخه جوړوي د چهارمغزو کښلو په لوبه کې ماشومان، ځوانان او ځینې د پاخه عمر کسان شامل دي په کلیو او بانډو اکثریت ځایونه دي لوبې ته مناسب دي خو په ژوندانه کې د دې لوبې د ډېرښت ورځې کومې دي؟

چارمغز په کال کې دوه ځلې ډېر په خوند او رنګ کښل کیږي په ډېره ولوله او جذبه سره په دې څو ورځو کې په جارمغزو لوبې کیږي د دې ورځو په لړ کې د هېڅوا له خوا نه د چارمغزو په کښلو ممانعت نشته د ولس خلک به په خورا ښکلو، پاکو او نویو جامو مینه وروړلی ښه ورېم سره د کلي منځ ته راووتل تر څو رنګینې، خوندورې د خوښیو ډکې د اخترونو مبارکې ورځې د چارمغز په کښلو لاښکلې کړي چارمغز د اخترونو په شپو او ورځو کې په زیاته پیمانه کښل کیږي، له اخترونو پرته په چارمغزو لوبې کیږي خو د لوبو او ساتېرۍ مهمې ورځې یې همدا دي چارمغز ډول ډول کښل کېدل چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

- میدان
- رغړوند
- خط پراک
- یو په لس
- لو بشت او ټک
- سرپو چاق
- جفت طاق

(c) ketabton.com: The Digital Library

- سربښوند
په داسې نورو ډولونو هم ګټل کېدل مهم او مشهور ډولونه یې همدا دي.

## میدان:

د میدان چارمغزو لوبه کې به یو یا ، له یوه څخه زیات کسان په کې شریک وو دوي به پر ځمکه له دوو څخه پورته تر ۲۰-۳۰ یا له دې څخه زیات چارمغز اېښودل د ویشتلو او اېښودل شوو چارمغزو تر منځ واټن د چارمغزو تر ډېروالي، کموالي پوره اړه لري که به چارمغز لږ وو په لنډه مسافه کې به اېښول کېدل او که به چارمغز ډېر وو د ویشتلو واټن به یې هم ډېر وو چا به چې چارمغز پر ځمکه اېښي وو په ټاکلي واټن کې په یې یو کرښه هم کاږلې وه چې تر کرښه به ویشتونکي نه را مخکې کیږي، د ویشتونکو تعداد معلوم نه وي پر ځمکه اېښودل شوي چارمغز په ټاکلي واټن کې په دوه ډوله ولي یوه ته په (چرړو ) او بل ته په (نغدو ) وایې.
په چرړو په دې معنا چې چارمغز د ځمکې پر سر ورغړوي پر ځمکه اېښودل شوي چارمغز پرې ولګي او هغه چارمغز ویشتونکي ګټلي دي چې چارمغز اېښودونکې به یې ورکوي. نغد دې ته وایې چې د ویشتونکي چارمغز پر ځمکه ونه لګي په هوا ورشي او پر ځمکه اېښودل شوي چارمغز پرې ولګي له لګېدو سره سم یې ګټلي دي.

## رغړوند

له نامه څخه یې څرګندیږي چې چارمغز له پورته خوا نه ښکته خوا ته رغړوي، د چارمغز ګټلو آسانه لوبه ده د چارمغزو رغړوند لپاره څه نا څه هسک ځای ته اړتیا شته چې لوړوالی به یې ۱-۲ مترو په شا او خوا کې وي دا لوبه بلکل په یوازیتوب نه تر سره کیږي په ګډه او ټولیزه توګه ښه خوند لري او ښه چارمغز په کې ګټل کیږي. ټول لوبغاړي د خپلو چارمغزو سره د هسک ځای په سر باندې کښېني د هسک ځای له سر نه په نوبت سره یو یو لوبغاړی ښکته خوا ته چارمغز خوشي کوي د وخت په تېرېدو سره چارمغز په میدان کې ډېرېږي اوس نو د چارمغز ګټلو چانس ډېر دی په میدان کې چې چارمغز له یوه څخه زیات شي او بل لوبغاړی چارمغز میدان ته خوشي کړي په خوشي شوي چارمغز په میدان کې بل چارمغز ولګېږ او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سربښ شي همغه ګټلي دي يو چارمغز به په ميدان کې د طالع په نامه ږدي په همدې ترتيب بيا چارمغز ميدان ته خوشې کوي تر څو ډېر شي او بيا د کوم لوبغاړي په چارمغز ولګي او ميدان وګټې همدارنګه لوبه دوام مومي. •

## خط پراک

د چارمغزو خط پراک عين شي د مردکېو خط پراک په څېر دی له يوه ځخه چې زيات لوبغاړي راټول شي او يو دايروي کرښه پر ځمکه وکاږي د دايروې کرښې يوې او بلې خواته د پټو په نامه مستقيمې کرښې وباسي د دايروي خط په دننه کې په مساوي ډول چارمغز د خط په منځ کې ږدي هر لوبغاړي يو يو چارمغز پټو ته اچوي پټې ته په نيږدې والي او لرې والی سره لومړی دويم او دريم... معلوميږي چې هر څوک پټې ته نيږدې وو هغه لومړی دی د خط پراک په دننه چارمغزو به د چارمغز په واسطه وار کوي تر څو له دايروي کرښې ځخه چارمغز وباسي او ويې ګټې، تر څو يې چې وار خطا نه وي تللی د پټې نه چې په لومړي ځل چارمغز په خط پراک کې ولګي نور لوبغاړي بيا د خط پراک له کرښو نه په چارمغزو وارونه کوي ترڅو چې په ميدان کې خلاص شوي نه وي او دا ميدانونه بيا بيا تکراريږي.

## يو په لس

ددې لوبې يو په لس اصلي معيار نه دی يو په لس په دې معنا چې يو چارمغز په لرې واټن ورته ږدي ويشتونکې به هغه يو چارمغز ولي هغه که پر چرړو وي يا په نغدو ويشتونکو چې چارمغز وويشت چې چارمغز يې په هر څو ويلی وو همغه اندازه چارمغز به ورکوي، که چارمغز ايښودونکي ويلې وو چې يو پر لس ولې که دا يو چارمغز ولګېد لس چارمغز به ورکوي، دا حد معلوم نه دی چې څو يې پر څو. د بېلګې په توګه: که يې ويلې وو چې يو پر پنځلس او چارمغز يې د ويشتونکي له خوا ولګېد بيا به پنځلس چارمغز مقابل لور ته ورکوي.

---

• (۱۸) ۸۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لو ښشت او ټک

په لوښشت او ټک کې به څو کسانو خپل یو یو چارمغز پر ځمکه واچوو دا به یې په لومړي سر کې معلومه وله سره چې لوښشت او ټک په یوه یوه دی که په څوڅو ددې تر څرګند ېدو وروسته به لوبغاړو یو د بل په چارمغزو ګوزارونه کول په داسې حال کې به یې د بل کس نه چارمغز ګټل چې یا به یې د بل لوبغاړي چامغز وویشت او یا به په یوه لوښشت مسافه که ورته خپل چارمغز نږدې کړ. په دواړو حالتو کې به یې له بل کس نه تاکل شوي چارمغز اخیستل، هر لوبغاړي به د څنګ نیږدې لوبغاړي چارمغز ویشته او یا به یې په لنډه د یوې لوښشتې مسافه کې ورته خپل چامغز نیږدې کاوه او چارمغز به یې ترې ګټل. •

## سرپو چاق

د چارمغزو په دې لوبه کې کسان په یو ځای سره کښېني هر لوبغاړي په میدان کې مختلف شمېر چارمغز ږدي په لومړي سر کې ددې لوبې کولو لپاره څلور د چارمغز پوټکو ته اړتیا شته چې همدغو پوټکو ته (سرپوچاق) وایي پوټکي به هموار او پر ځمکه سم پربوځي د ګټلو او بایللو چارې ښلې دي لومړی د ګټلو چارې هر لوبغاړی چې چارمغز پوټکي پورته اچوي په میدان کې د نورو لوبغاړو چارمغز په نښه کوي او ورته وایي احمد، محمود، قلبي او مقصود ستاسې تر چارمغزو او بیا د چارمغزو پوټکي پورته اچوي که ټول پوټکي په پوک، چک، دوه پوک او دوه چک حالت کې وو د ټولو چارمغز یې ګټلي دي او که به پورته اچول شوي پوټکي درې پوک یو چک یا درې چک یو پوک وو نو چارمغز یې بایللي دي او ټولو ته به په همغه شمېر چارمغز ورکوي په ناستو ټولو کسانو د سرپوچاق اچولو نوبت تېرېږي او هغوي هم همدا کار کوي چارمغز ګټي او بایلي.

## جفت او تاک

جفت او تاک په لومړیو کې د زړو نه دود شوي دي په چارمغزو هم جفت او تاک کېږي مثلاً یو تن په لاس یا لمن کې چارمغز نیسي بل کس ته وایي جفت که طاق،

---

• (۱۸) ۷۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقابل لوري كه جفت ويلي وو يا تاك وروسته د لومړي كس چارمغز حسابيږي يا به جفت وي يا تاك چې له دې ددو حالاتو نه خالي نه دي كه مقابل لوري له ځواب سره سم وو هغه يې ګټلي دي او كه به ناسم وو لومړي كس ته به يې په همغه تعداد چارمغز وركول. د چارمغزو په جفت او تاك كې (موره) هم دود وه هغه داسې چې يو كس به بل ته په لاس كې چارمغز ونيول او ورته وېل به يې جفت كه تاك، دويم كس به په لاس كې لږ چارمغز نيولي وو او د لومړي كس د چارمغزو په سر به يې تاوول او ورته و به يې ويل خوشي يې كړه لومړي كس به خپل چارمغز جفت او تاك حساب كړل دويم كس به خپله موره حساب كړه كه به د لومړي كس چارمغز جفت او موره هم جفت وه تربنه اخيستل به يې او كه به د لومړي كس تاك و موره هم تاك وه په دې حالت كې به يې هم ترې اخيستل او كه به د لومړي كس چارمغز د دويم كس مورې سره توپير درلود دويم كس به لومړي كس ته په لاس كې د نيول شوو چارمغزو په تعداد چارمغز وركول.


## سربښوند

په سربښوند كې يو وړوكې دايروي كربښه راكاږي ګرد چارپېر تربنه لوبغاړي كښېني هر لوبغاړي يو يو چارمغز ميدان ته اچوي، اچول شوي چارمغز يو تن پورته اچوي په نوبت سره يو د بل چارمغز ولي چارمغز به يا له ميدان څخه وباسي او يا به يې له بل چارمغز سره ښنګ په ښنګ سربښوي په دواړو حالتو كې يې چارمغز ګټلي دي او يا كه په كوم چارمغز وار وكړي هغه ونه لګي خو چارمغز له خط نه د باندې ووځي په كوم چارمغز چې وار شوي همغه يې اخلي. د لوبغاړي چې كله وار خطا لاړ شي او يا له دايروي خط نه د باندې ووځي نوبت بل ته ورځي او دى سوځيدلى دى.


(c) ketabton.com: The Digital Library

# لېوه او مېږه

په دې کې دوه ډوله پچې کاروي یو یې وړوکې ۲۰ پچې دي چې مېږې ورته وایې او یو ملا لري. بل ډول یې دوه لوېې پچې چې لېوان ورته وایې د دولس پچې په ځبر په دې کې هم وهل شته خو وهل یوازې د لېوانو له خوا څخه کیږي او د مېږو کړنه په دې کې د لېوانو بندول دي د مېږې پچې د یوه کس او لیوان د بل لوبغاړي وي له دولس پچې سره په رسمولو کې توپیر نه کوي لکه په لاندې شکل کې:



(c) ketabton.com: The Digital Library



د دولس پچي ځخه بل دا توپير لري چې په دولس پچي کې ۱۲ پچې يو لوبغاړی اېښودلی شي ۱۲ بل، په لېوان او مېږه کې د پچو شمېر او لويوالی توپير کوي لېوان دوه او مېږې شل دانې وي، د دولس پچې په څېر په مستقيمو کرښو د ليوه له خوا په بندرونو وهل شته پچې (مېږې) خوري. مېږې به لېوه داسې بندوي چې دوې دوې پچې د مستقيمو کرښو په بندونو له ليوه ځخه شا او خوا تاووي په دې حالت کې لېوه بند دی او لوبه بې ګټلې ده خو که لېوانو ټولې مېږې وخوړلې بيانو د مېږې څښتن لوبه بايللې ده. •

---

• (۱۸) ۸۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بندوونکې (غل بند )

په غل بند کې د دولس پچې لېوان او مېږې لوبې په ځېر وهل نشته د غل بند د پچو شمیر هم کم وي په غل بند کې د دوارو پچو له خوا دوه دوه پچې کارول کیږي د ځمکې پر مخ په آسانه توګه انځور کیږي، د یوې بشپړې مربع په څېر چې کنجونه یې د مستقیمو کرښو په واسطه نښلول شوي وي او د مربع یوه ضلعه نه وي لکه په لاندې انځور کې:



(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې لوبغاړي دوه دوه پچې په غل بند کې کېږدي او يو بند خالي پرېږدي په نوبت سره خپلې پچې په غل بند کې کاروي چې د هر لوبغاړي پچې دا سې قرار ونيسي چې پچې يې حرکت و نه لري او د مقابل لوري له خوا نه د هغه پچې وتړل شي د تړل شوو پچو واله لوبه بايللې ده. په پورته شکل کې د زړو پوټکو واله غل بند بايللی دی. •

• (۱۸) ۸۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لبوه او مېږه

لوبې ټولې په زړه پورې دي په زړه پورې والی يې ولس ته خوښي ورپه برخه کوي له ډېر راهيسې لبوه او مېږه لوبه په ولسونو کې دود ده او ډېر وخت په ښوونځيو کې د سپورت په ساعت کې تر سره کيده له ښوونځيو پرته په ولسونو کې دا لوبه د ماشومانو او ځوانانو تر منځ په ګډه لوبول کېده په پسرلي او دوبي موسمونو کې ډېر مينه وال لري د لبوه او مېږه يوه ځانګړنه دا ده چې په يوازيتوب سره نه تر سره کيږي څومره چې په دې لوبه کې لوبغاړي ډېر وي لا خوندوره کيږي له شپږو لوبغاړو نه چې څومره لوبغاړي ډېرېږي هومره خوند کوي دا لوبه څه نا څه ميدان ته اړتيا لري په ميدان کې ټول لوبغاړي يو بل ته سره لاسونه ورکوي او په دايروي شکل باندې ودېږي، په ټولو لوبغاړو کې دوه ته يو د لبوه او بل د مېږې په نامه ټاکل کيږي ددې کسانو ټاکل يا په خپله خوښه دي او يا هم د کوم لوی کس له خوا نه ټاکل کيږي کوم وخت چې لبوه او مېږه معلوم شي مېږه به د لوبغاړو په منځ کې وي او لبوه به د لوبغاړو د دايرې د باندې وي، لبوه به په مېږه پسې منډې وهي او مېږه به نيسي مېږه به په ټول کوښښ سره لبوه ته ځان په ګوتو نه ورکوي کله چې لبوه په مېږه پسې د لوبغاړو منځ ته ځي لوبغاړي لاسونه داسې کلک نيسي چې لبوه ته په آسانه اجازه نه ورکوي چې په مېږه پسې د دايرې منځ ته ولاړ شي معمولاً د لبوه پر ځای تکړه غښتلي لوبغاړی ټاکل کيږي او د مېږې پر ځای خوار لوبغاړی نيسي، که لبوه د دايروي لوبغاړو منځ ته ورغی مېږه به د باندې راوځي خلاصه په هر ډول به ميږه لبوه ته ځان په لاس نه ورکوي دوه لوبغاړي ډېر ستړي کيږي چې همغه لبوه او مېږه دي، که لبوه مېږه راونيوه بيا لوبه پای ته رسيږي په همدې توګه نور لوبغاړي ټاکې او همداسې نورې لوبې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پټ پټاني (پټوونکي)

پټوونکي هغه لوبه ده چې په ولسونو کې ټولو ماشومانو په خپله ماشومولۍ کې نه ده پرېښې په دې لوبه کې لوبیان ونډه نه اخلي له ۱۰-۱۵ کلنو کوچنیان دا لوبه ډېره کوي او خوښوي یې، په ډگر باندې دا لوبه نه کیږي ځکه دا لوبه پټو ځایونو ته اړتیا لري چې لوبغاړي یو د بل له سترگو نه پناه شي او په یوازیتوب شونې نه ده هر ماشوم به په بېل بېل ځای کې ځان پټوي خو دوه دوه لوبغاړي هم کولی شي له مرکزي لوبغاړي نه ځان پټ کړي په ډېرو ماشومانو لوبه ښکلې کیږي اخوا گټل او بایلل نه شته په کې.

لوبه د ماشومانو تر منځ داسې پیلیږي چې ماشومان سره راټول شي یو کس باید خپلې سترگې پټې کړي تر هغه چې نور ماشومان په نا ځرگندو ځایونو کې پټ شي البته دا د پټېدو ځایونه به د لوبې له ساحې نه ډېر لرې نه وي خو څوک به سترگې پټوي؟ په پورتنیو څو طریقو دوی د لوبې کولو لپاره چې سترگې پټې کړي لوبغاړی ټاکي مثلاً: د همغه دري حساب په ده، بیست، سي..... او یا هم په اتک متک تو تو چې....... جملو باندې د لوبې مرکزي لوبغاړي ټاکي چې هر څوک په لوبه کې د سترگو پټولو لپاره و ټاکل شي هغه به سترگې پټوي او نورو لوبغاړو ته به نه ورگوري تر څو هغه په نا ځرگنده ځایونو کې پټ شي مرکزي لوبغاړی به ناري وهي چې (دي، دي) په معنا د پیلولو چې ستاسې په پیدا کولو پیل وکړم د کوم پټ شوي لوبغاړي نه د هو ناره ورته وهل کیږي او مرکزي لوبغاړي د نورو په پیدا کولو پیل کوي کوم لوبغاړي یې چې اول پیدا کړ همغه به په راتلوونکې لوبه کې سترگې پټوي او د لوبې مرکزي لوبغاړي به کیږي، چې کله یې یو ماشوم پیدا کړ باید نور هم پیدا کړي تر څو چې ټول ماشومان یې پیدا کړي نه وي بله لوبه نه پیلیږي چې ټول پیدا شي بیا په یو ځای سره راټولیږي او چې هر ماشوم یې لومړی پیدا کړی وي سترگې به پټوي همدا لوبه په دې توگه دوام کوي.•

---

• (۱۸) ۸۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سر شکوونکې

ډېرې لوبې په کرارۍ پرته له زيان تر سره کيږي د سر شکوونکې شوخه لوبه ده خو د چا له خوانه پرې ممانعت نشته څرنګه چې ددې لوبې له نامه څخه ښکاريږي، ددې لوبې ټول سروکار د سر له وېښتانو سره دی په دې لوبه کې د لوبغاړو وېښتان شکول کيږي ښايي د لوبې پر وخت د يوه لوبغاړي وېښته د بل لوبغاړي په منګولو کې پاتې شي د ډېرو وېښتانو درلودونکې په دې لوبه کې تاوان کوي ځکه په آسانۍ سره د نور لوبغاړو منګولو ته ورځي هغه څوک به يې ژر ګټي چې وېښتان يې خرېلي يا کوچني وېښتان ولري. ددې لوبې ورځې معلومې نه دي خو ډېر وخت په اخترونو، ودونو او د خوښيو په ورځو کې کيږي په سرشکوونکې کې په ډلو ډلو سره نه وېشل کيږي ميران او سيال لوري نه لري د ورين تندي خندونکې او د خوښيو ډکه لوبه ده خو دا لوبه کومو وسيالو ته اړتيا لري؟
له آره دا په ورو ځيزونو چې هغه هم د ساتېرۍ او لوبو توکي وي د سر شکوونکې پرې کيږي، د بېلګې په توګه: چارمغز، سپينتې، مردکۍ، توپ...... ددې لوبې لپاره څه شی مشخص کيږي نه چې يوازې د په همدې ځيز باندې د سر شکوونکې وشي. لوبې ته چې هلکان تيار شي د لوبې کولو په خاطر يو ځانګړي کس چې په لوبه کې به له نورو لوبغاړو سره ګډون نه کوي له دوی بېل به ځانته ولاړ وي ټاکل کيږي چې هغه ته (مور، ادې)وايي او يا د کس ټاکلو پر ځای کوم بل ځای په نښه کيږي دا کار ځکه کوي چې کله کوم شی د سر شکولو لپاره پورته هوا ته واچوي د لوبغاړو په وړاندې به دې شخص يا ټاکل شوي ځای ته ځان رسوي او همغه شی يې ګټلي دي، د لوبې توکي چې هوا ته واچوي او پر ځمکه پريوځي د لوبغاړو له ډلې به يې کوم لوبغاړي اخلي نور لوبغاړي د هغه سر شکوي لوبغاړی به کوښښ کوي چې ځان مور ته ورسوي او شي وګټي خو نور لوبغاړي د هغه مخنيوي کوي او سر يې پرې شکوي تر څو په لاس کې اخيستل شوي شی پر ځمکه وغورځوي دا کشمکش دوام لري يو لوبغاړی شي اخلي او نور يې پرې غورځوي په دې لوبه کې ښايي د ډېرو لوبغاړو وېښتان وشکيږي وخېژي چې هر لوبغاړي شی پورته کړ او په همدې کړکېچ کې يې ځان تر مور يا ټاکل شوي ځای ورساوه هغه شي يې ګټلي دي همدا ډول بيا بل څه د سر شکولو لپاره اچوي لوبه په همدې قسم دوام پيدا کوي. •

---

• (۱۸) ۸۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوزخ او جنت

دوزخ او جنت ماشومانه لوبه ده له دریو څخه په لږو کسانو نه کیږي چې له دریو څخه ډېر وي لوبه خوندوره پر مخ ځي کوچنیان په یو ځای دغه لوبه کوي دوه تنه د لوبې مرکزي لوبغاړي وي، د لوبې همدا دوه مشران په خپلو منځو کې دو شیان اخلي. هغه شیان په دوزخ او جنت نوموي یوه یوه لوبغاړي ته دا شیان نیسي بیا ورته وایي د کوم لاس شی یا توکې نیسې د خپلو ځانو څخه د ۱۰–۱۵ مترو په اندازه دوه ځایونه د دوزخ او جنت په نامه ټاکي. نور لوبغاړي به ناست وي او پلتری به یې وهلې وي د پښو غټې ګوتې به د لاسونو په واسطه نیسي ناست لوبغاړي په توکو کې که جنت یا دوزخ وټاکل نومړي مشران همغه لوبغاړی له متهو څخه نیسي او پورته کوي به یې. که یې جنت نیولي وي جنت ته یې وړي خو چې د لارو په اړدو کې یې لاس د پښو له ګوتو څخه خوشي نه شي که یې لاس خوشي شي جنتي بیا د دوزخ ځای ته وړي او دوزخي دی هغه لوبغاړی مایوس او خپه کیږي که یې لاس خطا نه شي جنتي ده او ځان خوشاله احساسوي. که لوبغاړي د دوزخ شی نیولي وي هغه ته بدبخته وایي بیا هم همغه مشران دا لوبغاړي له متهو نیسي او د دوزخ ځای ته یې وړي او دا به خوښي نه کوي ځان به غمجن احساسوي. په پای کې ټول لوبغاړي په جنتیانو او دوزخیانو وېشل کیږي او لوبه پای ته رسیږي. •

## انګړ بینګړ

په زړه پورې ماشومانه لوبه ده خو د ډېرو ماشومانو تر منځ کیږي یو تن یې نه شي کولی، څو کوچنیان چې په یو ځای سره راټول شي خپل لاسونه دواړه لاسونه ګرد سره کیږي. په دوی کې یو ماشوم دا وایي:

«انګړ، بینګړ، تاتا، ړینګړ، سود به سود، کونجوغې، بغوې، توت جوړه، کاغذ جوړه ي کړنګ» د هر چا د لاس په ګوته چې کړنګ ورسیږي هغه خپله ګوته ټولوي د کوم لوبغاړي د لاس کوتې چې تر نورو لوبغاړو زر کړنګ کړنګ شي هغه پاچاه دي ورپسې وزیر..... انګړ بینګړ تر هغه وایي چې د ټولو ګوتې نه وېې خلاصې شوي د ساتېری لپاره غل او پاچاه په کې معلوموي.

---

• (۱۸) ۸۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تر نغري مې تېره نه شي

په پخوا وختو د مېرو په نه شتون کې تګ له یوه کلي نه بل کلي ته پلی وو ډېرو کسانو به په پښو باندې مزلونه کول له ځان سره به یې په لاسونو کې غوټې او پنډوکي لېږدول په دې غوټو کې به سوغاتونه او د ورتلونکي کور لپاره خوارکي توکي ول، د لارې په اوږدو کې به یې د ونو یخ سوري ته خپله ستړیا ویستله او دمې به یې کولې، په کلیو ولسونو کې د ښارونو په څېر ماشومان تل د ورځې په کور کې نه وي هغوی د ورځې له کور نه د باندې په لارو او د کورونو په مخ کې ساتېری او لوبې کوي.

لارویان ډېر ځله په لارو کې له ماشومانو سره مخ کېدل. په لاور کې به کله چې د ماشومانو په داسې ښځه سترګې ولګېدلې چې پرې پوه به شول کلیوال نه ده هغه مېلمنه او بل کلي ته ځي د ښځې مخ ته به یې ځانونه ورسول؛ کوچنیاو به لارویې ښځې ته ویل «تر نغري مې تېره نه شي» له دې څخه د ماشومانو مطلب دا وو چې دوی ته ښځه څه خوراکي توکي ورکړي او دوی پرې خولې خوږې کړي، ښځې به چې پوهېدلې چې په لارو کې د داسې ماشومانو سره مخ کیږي له ځان سره به یې خامخا څه خوراکي توکي د دغه ماشومانو لپاره وړل او د هغوی خولې به یې پرې خوږولې ماشومان به یې بېرته بې اسرې نه لېږل. •

## اکوبکو (اینکه پینکه)

د اکوبکو لوبه پرته له ختو خاورو نه لوبول کیږي په دې لوبه کې د کوچنیانو کار له خاورې سره دی یاده د وي چې په یو ازیتوب سره دا لوبه نه کیږي له دوو څخه په ډېرو کسانو کیږي دوی د دې لوبې لپاره لږ خوشتې ختې ته اړتیا لري، یو ماشوم کاسې ته ورته خټه جوړوي او د څنګ ملګري ته وایي:اکوبکو؟ مقابل لوبغاړی ورته وایي سور سندکو؛ لومړی لوبغاړی خټه پر ځمکه ولي پر کاسه شوې خټه کې چې هر څومره سوری (غار) وشي مقابل لوبغاړی به هغه سوری په خټه ورډکوي او

---

• (۱۸) ۸۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ختــه د دوی کـوچ دی کـه پـه کاسـه شـوې ختـه کـې سـوری ونـه شـي بيـا مقابـل لوبغاړی ورته وايي:غوا د لاړه په ترپکو. له دې وروسته نوبت د بل لوبغاړي کيـږي هغه هم همدا کار کوي اکوبکو به وايي خته به پر ځمکه ولي دويم لوبغاړی به د هغه د ختې سوری په خته ور ډکوي له ډک شوو سوريو څخه خته را اخلي او هغه د دوی کوچ دي په آخر کې چې هر چا ډېر کوچ پرې کړي وو هغه غښتلی او ګټلې يې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ګل دی ګل

د ګل دی ګل یوه ډلیزه لوبه ده دا هم په لږو کسانو نه کېږي، ګل دی ګل ځانګړی موسم او ټاکلې ورځ هم نه لري ماشومان د ورځې په اوږدو کې ډېر ځله دا لوبه کوي. د لوبې لوبغاړي یوې خوا ته ټول ولاړ وي له دوی څخه یو کس په لاس کې یو څه را اخلي او د نور لوبغاړو خواته راځي او ورته وایي:

ګل دی ګل هغه نور لوبغاړي ترې پوښتي په څو دی؟ لومړی یې قیمته ورته بیه کوي. هغه ورته وایي نه یې اخلو قیمته دی، بیا ورته راځي وایي ګل دی ګل! دوی بیا هم ترې پوښتي په څو دی؟ دا ځل د ګل قیمت لږ ورته ټیټوي خو هغه یې بیا هم نه ترې اخلي، همداسې بیا ورته راځي تر څو د ګل قیمت یوې روپۍ ته راشي بیا یو لوبغاری له نومړي څخه په یوه روپۍ ګل اخلي او تر پښه یې لاندې کوي. ګل خرڅوونکي لږ وروسته بیا ورته راځي او لوبغاړو ته وایي زه پښېمانه یم نه یې خرڅوم ما ته مې ګل راکړئ! ګل اخیستونکي ګل مات کړی وي او ګل خرڅونکې هغه وهي او لوبه پای ته رسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کاغذباد (ګوډي پران)

ګوډي پران آسانه د ماشومانو د يوازيتوب ملګرې لوبه ده هر ماشوم کولی شي په يوازې ځان سره ګوډي پران لوبه وکړي دا لوبه يوازې کوچنيو هلکانو ته اړوند کيږي. نجليو ته د ګوډي پران لوبه مناسبه نه ده په نورفصلونو کې يې ممانعت نشته خو د مني په موسم کې ګوډي پران ډېر لوبول کيږي او ډېر کوچنيان ددې لوبې مينه وال دي، ګوډي پران ښايي د کاغذ ، پلاستيک يا هم له تيکې څخه جوړ شوی وي خو چې ډېر يې معمول دي هغه د کاغذ دي، لوي او واړه ګوډي پرانونه جوړېدای شي خو د لويوالی اندازه يې تر يو متر مربع پورې رسيږي د ګوډي پران د جوړولو لپاره د کاغذ علاوه د بانس کوچني لرګي او تار ته اړتيا شته. د ګوډي پران کې دوه واړه لرګي د جمعې په شکل سره تړي خو يو لرګي لږ په منحني شکل کږوي د لرګيو په څلورو سرونو باندې کاغذ تړي او د ګوډي پران د سقل مرکز برابروي د هغه په منځ کې تار بسته کوي چې تاربندي ورته وايي، څومره تار ډېر وي هومره ډېر ګوډي پران پورته هوا ته ځي او خوند يې ډېريږي د تار د ټولو او خوشي کولو لپاره يوې وړوکي څرخ ته هم اړتيا شته چې تار له هغه څرخ څخه کم او زيات کوي د ګوډي پران لپاره ځانګړي تارونه هم پلورل کيږي چې ښيښه يي تار ورته وايي او تر نورو تارونو ډېر استقامت لري.

په ګوډي پرانونو کې يو بل کار هم کوي ګوډي پرانونه په جنګ اچوي د جنګ اچولو لپاره به په کې ښيښه يي تار وي يا د موچي تار په کې اچوي، ورسته دوه هلکان ګوډي پرانونه هوا ته پورته کوي چې په هوا کې پورته شي بيا نو يو د بل پر ګوډي پران د خپل ګوډي پران غوټې وهې تر څو د ګوډي پرانو تارونه يو پر بل کې بند شي تر بنديدو وروسته هر يو کوښښ کوي چې د مقابل لوري د ګوډي پران تار پرې کړي چې د هر چا د ګوډي پران تار پرې شو هغه بايللې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د ګودي پران تار پرې شي هغه ته آزاد وايي آزاد په دې معنا چې هر چا پرې شوی ګوډي پران ونيو د هغمه دی او له هغه څخه څوک د اخيستلو حق نه لري. په ګوډي پران لوبه کې بايد کوښښ وشي تر څو په مناسبو ځايونو کې هغه هوا ته پورته کړي منډې رامنډې په کې وهل کيږي بايد په احتياط سره وشي کله نا کله هلکان د کور د بامونو پر سر ګوډي پران هوا ته پورته کوي او د منډو په حالت کې له بامه رالوېدلي وي ځانونه ټپي کوي. په ډېرو هلکانو د کورنيو د غړو له خوا په ګوډي پران بنديز نشته.•

---

• (۱۸) ۸۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۲) جرګې او نرخونه

د وردګو په سیمه کې د نورو پښتني سیمو په څېر زیاتې ستونزې او شخړې د قومي مشرانو او مخورو په وسیله حل کېږي خو ددې سیمې د خلکو په منځ کې مرکې د نورو پښتنو سیمو سره توپیر لري، په وردګو کې زیاتره فیصلې قومي مشران، روحانیون او دیني عالمان کوي چې تفصیل به یې په راتلونکو عنوانونو کې په لنډه توګه وړاندې کوو.

## جرګه

کله چې د دوو کورنیو، دوو کلیو او یا دوو نفرو ترمنځ لانجه رامنځته کیږي، نو بیا د سیمې مخورو او مشرانو کسانو ته ویل کیږي څو د دوی د ستونزې په اړه څېړنه وکړي، مشران د دواړو خواوو په هوکړه ټاکل کیږي او واک ورکول کیږي، کله چې واک ورکړل شوو، د جرګې خلک سره راټولیږي او یوه پریکړه کوي او شخړه هواریږي.

کله کله داسې هم وي چې ښکیلې خواوې هر یو په خپله خوښه څو تنه مشران راولي، د دواړو خوا مشران د ستونزې په اړه سره جرګه کیږي او ستونزه د جرګې د غړیو له خوا هواریږي او روغه جوړه رامنځته کېږي.

## ناغه

که چېرې دوې خواوې یا دوه قومونه یا دوه کلي د ځمکې یا بلې موضوع پر سر سره شخړه کوي د جرګې له جوړېدو وروسته ناپېیلي قومي مشران او مخور قضیه څېړي او که چېرې ثابته شي چې کوم لوری یا شخص په مقابل لوري باندې بې ځایه تېری کړی او هغه ته یې په یو ډول زیان اړولی نو د جرګې مشران ملامت لوری ناغه کوي نغدي پیسې ترې اخلي یا یې د خپل مقابل لوري کورته د عذر په خاطر ورلېږي که چېرې ستونزه لویه وي نو مجرم شخص اړ ایستل کېږي چې مقابل لوري ته له یوه پسه او څو تنو مشرانو سره ورشي او بښنه ترې وغواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بښنه

د يوې شخړې پر سره له ستونزې وروسته چې کله د مرکچيانو او جرګه مارو له خوا ملامت او سلامت څرګند شي نو دواړه لوري سره مخامخ کوي او ملامت په ګوته کوي چې ډېرې وختونه هغه کسان چې ملامت نه دي خپل مخالف لوري ته پرته له کوم زيان اړولو بښنه کوي او دا بښنه خپله پښتونولي او اسلامي مسوليت بولي.

## کانې

هغه مقرراتو ته ويل کيږي چې د يوې قبيلې لخوا د خپلې منځې شخو شولانګو د آوارولو لپاره ايښودل شوې وې او د قام په دننه کې د يوه ملک د اساسي قانون غوندې کلک عمل پرې کيږي.

خو دا په دې مانا نه ده چې خدای مکړه وردک د خپل منځې لانجو د حل لپاره کومه لاره نلري نه داسې نه ده دا هر څه شته او دهغوی د خپل منځې شخو شولانګو د حل لپاره لومړی د دريم ګړو لخوا د موضوع څرنګوالي را سپړل کيږي او بيا سميه ييز مخورا و مشران پرې را ټوليږي او موضوع ته د حل لاره لټول کيږي او له بل پلوه ډېر وخته د سپين ږيرو منځګړتوب ته هم اړتيا نه ده پيښه شوې ځکه تر ډيرش کاله وړاندې پورې د وردګو خلکو د محلي حکومتونو ترسترګو لاندې ژوند کړی او ددوی زياتره شخې شولانګې د محلي حکومتونو لخوا حل کېدې خو ډير به يې سترېول، کانې زياتره په هغو قبيلو کې اهميت لری چې هلته حکومتې واکمنې کمزورې وې او قومونه خپل ټولنيز ژوند په خپل سنبالوي کانې دهغه مقرراتو او قوانينو مجموعه ده چې د يوه قوم لخوا د هغه قوم د اداري لپاره د پوه او مخورو مشرانو لخوا وضع شوی وي چې په دې اړه يو متل هم دی چې وايې د پلانې خبره د کانې کرښه ده خو دلته د دغه متل په تفسير کې عاجزي ده چې آيا د فلانې خبره د همدغه کانې کرښه ده چې د خلکو کړه وړه پرې اداره کيږي او که يې خبره د پوخوالي له لحاظه د کانې کرښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۷) طب

## معاصر طب

پخوا په وردګو کې ننی او عصري طب نه و دود ، د سیمې خلکو به د ناروغیو پر مهال له دودیز طب او شنو بوټو څخه کار اخیست خو اوس چې نوي او عصري طب وده کړې یوناني او سیمه ییز طب کچه ټیټه شوې او خلک روغتیایي مرکزونو ته د درملنې لپاره مراجعه کوي د وردګو سیمه چې څلور ولسوالۍ لري په هره ولسوالۍ کې د دولت له خوا روغتیایي طبي مرکزونه او کلینیکونه جوړ شوي دي چې نږدې نوي سلنه خلک ترې ګټه اخلي دلته موږ لومړی د ولسوالیو په کچه د روغتیایي مرکزونو او کلینیکونو په اړه معلومات وړاندې کوو او وروسته د هغو دودیزو طبي بوټو یادونه کوو چې لا هم د وردګو په ځینو لېرې پرتو سیمو کې د عصري طب تر څنګ ترې ګټه اخیستل کېږي.

په یادو څلورو ولسوالیو کې ۲۰ روغتیایي مرکزونه پر نارینه ډاکټرانو سربیره ښځینه ډاکټرانې هم لري او د روغتیا په برخه کې یې غوره خدمتونه ترسره کړې دي او د بېړنیو پېښو لپاره پوره چمتوالی لري تر ډېره یې د خلکو ستونزې حل کړې دي

<u>د چک ولسوالۍ روغتیایي مرکزونه:</u>

چک روغتون، شاه قلندر روغتیایي مرکز، بیکسمند روغتیایي مرکز، د سیبک روغتیایي مرکز، دګردن مسجد روغتیایي، د سیاب روغتیایي مرکز، د ابکزار روغتیایي مرکز، د نیک پایقول روغتیایي مرکز.

<u>د دایمرداد ولسوالۍ روغتیایي مرکزونه:</u>

د تنګي سیدان عمومي روغتیایي مرکز، د میران روغتیایي، د سفید دېوال روغتیایي مرکز.

<u>د سیداباد ولسوالۍ روغتیایي مرکزونه:</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملک محمد جان خان روغتون، د ډنډوکې روغتیایي مرکز، د بادام روغتیایي مرکز، د تنګي روغتیایي مرکز، د دشت ټوپ ۲۰ بستریز روغتون، د شش قلعې روغتیایي مرکز.

د جغتو روغتیایي مرکزونه:

د جغتو ۲۰ بستریز روغتون، د شهید جنت ګل روغتیایي مرکز، د سعادت خیلو روغتیایي مرکز، د غازي محمد جان خان روغتیایي مرکز.•

## دودیز طب

لکه څرنګه مو چې پورته یادونه وکړه د یادو ولسوالیو خلک د عصري درملو ترڅنګ د ځینو یو نانې درملو څخه هم استفاده کوي نومونه یې په لاندې توګه لیکل شوې دي. ۱ ګزګ پانې ۲ بادیان ۳ سپیرکۍ ۴ ګلبخورک ۵ بدراو ۲ سپیلنی ۷ د چهارمغز ګل ۸ خاکشیر ۹ کنډه ۱۰ ګل خیرو ۱۱ مستره ۱۲ خوسا وژه ۱۳ خوږکۍ ۱۴ شین شوبې ۱۵ تریږه ۱۲ ځوز.•

---

• (۱۷) ۴۳ مخ

• (۲۳) ۱۰۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۸) پوهنه او کادرونه

## د وردګو معارف

د پوهنې ریاست د ۱۳۹۴ کال د لړم یا عقرب د میاشتې د وروستیو معلوماتو له مخې د وردګو د څلورو ولسوالیو چک، سیدآباد، جغتو او دایمیرداد کې څلور انستېټونه او څلور دارالمعلمینونه شامل دي په یادو انستېټونو او دارالمعلمینونو کې ۷۷ تنه ښوونکي او د محصلینو تعداد یې ۱۸۲۷ تنو ته رسیږي، یادې څلور ولسوالۍ ۵۲ لېسې ۴۶ متوسطې او ۹۹ ابتدایې ښوونځي لري د زده کوونکو تعداد یې ۸۵۴۱۲ دی چې له یاد رقم څخه یې د ښځینه زده کوونکو شمېر ۲۱۲۳۳ دي ۱۲ تنه ښځینه او ۱۹۲۳ نارینه ښوونکي لري.
ددې تر څنګ ۱۲ دیني مدرسې چې په کې دارالحفاظونه او دارالعلومونه شامل دي ۸۸۵ ښځینه او ۱۲۱۱ تنه نارینه زده کوونکي لري د یادو څلورو ولسوالیو ۱۴۰ ښونځي هېڅ ودانۍ نه لري یوازې ۵۸ ښوونځي یې ودانۍ لري.•

## د وردګو پوهنتون

دا پوهنتون په ۱۳۹۳ کال د وردګو د سیداباد ولسوالۍ په ټوپ دښته کې پرانستل شو
یاد پوهنتون په ۱۳۹۴ کال کې په رسمي توګه د سیداباد ولسوالۍ په ټوپ دښته کې په کار پیل وکړ دا پوهنتون دمګړۍ د کرنې پوهنځی لري چې ۲۵ تنه محصلین پکې په زده کړو بوخت دي د وردګو پوهنتون ته د ښوونې او روزنې پوهنځې هم په پام کې نیول شوې ده. د یاد پوهنتون اداري او تدریسي ودانۍ د جوړولو چارې هم په ۱۳۹۴ کال پیل شوي دي چې مالي لګښت یې د وردګو د قوم او پانګوالو له خوا ورکول کیږي هڅه روانه ده چې د وردګو پوهنتون په کمي او کیفي لحاظ پرمختګ وکړي.

---

• (۱۳) ۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د وردګو علمي کادرونه

وردګ ولایت یو زیات شمېر علمي څېرې لکه دوکتوران، د پوهنتونونو استادان، څېړونکي او داسې نور لري چې په مختلفو برخو کې یې افغانستان او په ټولیز ډول د انسانیت نړۍ ته ستر ستر خدمتونه سر ته رسولي دي. د دې لپاره چې زموږ په ټولنه کې لیکلي معلومات ډېر کم دي، موږ هڅه کوو چې د دغه راز شخصیتونو په هکله معلومات له اشخاصو څخه واخلو خو د زیاتو هڅو سره سره کېدای شي چې موږ بیا هم د ټولو هغو اشخاصو د نومونو او معلوماتو په پیدا کولو بریالي نه شو چې باید د یادولو حق یې اداء او په هکله یې معلومات وړاندې شي. موږ په خپله دغه لړۍ لومړی له هغو علمي شخصیتونو پیل کوو چې په خپله علمي ځانګه کې د دوکتورا علمي سند لاسته راوړی دی.

د PhD سند لرونکي دوکتوران

وردګ ولایت ګڼ شمېر د PhD سند دوکتوران لري چې د دې کرښو لیکوال د **۵۵** تنو وردګ دوکتورانو د نومونو په موندلو بریالی شوی دی. یادو ښاغلیو خپلې زده کړې د دوکتورا تر علمي مرحلې پورې رسولې او د دې ویاړلي سند په لاسته راوړلو بریالي شوي دي چې لنډه معرفي یې په لاندې ډول ده:

## دوکتور بهاوالدین بها

د افغانستان د لوړو زده کړو او معلوماتي ټکنالوجي له ملي سیستم سره ستر ملاتړ کوونکی او په انګلستان کې د برایټون د پوهنتون استاد دوکتور بهاوالدین بها د ګلدرې یا ګنده کول د لیګي بابا خېلو اوسېدونکی په **۱۳۳۲** کال په وردګو کې زیږېدلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د ګوربت په منځنۍ ښوونځي، ثانوي زده کړې یې د کابل په میخانیکي لېسه او لېسانس یې د کابل پوهنتون د انجنیري پوهنځي د برق په رشته کې لاسته راوړی دی. دوکتور بهاوالدین بها خپله ماستري په انګلستان کې تکمیل کړې او په **۱۳۸۱** کال کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړي هېواد د برايټون له پوهنتون څخه د الکټرانکس په برخه کې د دوکتورا په لاسته راوړلو بريالی شوی دی. ښاغلي دوکتور بهاوالدين بها ، له ۱۳۸۷ هـ ۲۰۰۸ م کال څخه تر ۱۳۹۱ هـ ۲۰۱۲ م کال پورې د نړيوال بانک د يوې تعليمي پروژې په مرسته د کابل پوليتخنيک پوهنتون او د انګلستان د برايټون پوهنتون تر منځ د علمي همکاريو د شريکولو لپاره لاره پرانيستې او د همدې پوهنتون ۱۲ تنو استادانو ته يې د انګلستان د برايټون په پوهنتون د ماسترۍ او يو تن ته د دوکتورا تر کچې پورې د لوړو زده کړو زمينه برابره کړه. د دې کسانو له جملې څخه ۱۱ تنو استادانو د ماسترۍ تر درجې پورې خپلې زده کړې بشپړې کړې او د کابل په پوليتخنيک پوهنتون کې د استادانو په توګه خپلو دندو ته راستانه شوي دي. همدارنګه يو تن و توانېد چې د دوکتورا مرحلې ته بريالی او خپل تحصيلات په نوموړي پوهنتون کې پيل کړي کړي. ښاغلي دوکتور بهاوالدين بها له ۱۳۸۸ هـ ۲۰۰۹ م څخه تر ۱۳۹۱هـ ۲۰۱۲ م پورې د انګلستان د برېټش کونسل د موسسې په مرسته د افغانستان د لوړو زده کړو له موسساتو سره د خپلو همکاريو او علمي مشورو لړۍ جاري و ساتله او څو علمي، تخنيکي او مشورتي سمينارونه يې په کابل کې جوړ کړل. دوکتور بهاوالدين بها په ۱۳۹۱ او ۱۳۹۲ کلونو کې د دوه کلونو لپاره د افغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ سره د تخنيکي سلاکار په توګه کار کړی او د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ د وزارت په تخنيکي او اداري برخو کې يې خپلې مشورې د همدې وزارت مقام او مرستيالانو ته ورکړې دي. ښاغلي دوکتور بهاوالدين بها د دوکتورا په علمي رسالې سربېره ۳۰ عنوانه علمي او تخنيکي آثار ليکلي دي چې په علمي کنفرانسونو کې تر وړاندې کولو وروسته په نړيوالو ژورنالونو کې چاپ او خپاره شوي. پر دې سربېره ښاغلي دوکتور بهاوالدين بها له ۱۳۸۲ هـ ۲۰۰۳م کال راهيسې ۱۱ عنوانه علمي مقالې د افغانستان د تحصيلي نظام د پرمختګ او د افغانستان لپاره د تخنيکي او مسلکي زده کړو د پراختيا په هکله ليکلې او په ملي او نړيوالو کنفرانسونو کې يې تر وړاندې کولو وروسته خپرې کړې دي. ښاغلي دوکتور بهاوالدين بها ته د افغانستان د پخواني جمهور رييس ښاغلي حامد کرزي او اوسني جمهور رييس ښاغلي محمد اشرف غني له خوا بلنه ورکړل شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د افغانستان په نظام جوړونه کې له افغان دولت سره مرسته وکړي. په همدې بنسټ ښاغلی دوکتور بهاوالدین بها د افغانستان د اسلامي جمهوریت د جمهوري ریاست د مقام سره د ګډ تفاهم په نتیجه کې د **۱۳۹۳** کال په پای کې په یو مهم علمي سند کار کوي چې له بشپړېدو وروسته به یې د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت ته و سپاري. د همدې سند له مخې به په افغانستان کې د لوړو زده کړو د سیستم د معیاري کولو هڅې وشي څو د افغانستان د لوړو تحصیلاتو نظام په لوړو نړیوالو او تکنالوجیکو معیارونو سمبال شي. باید وویل شي چې د برایټون په پوهنتون کې په استادۍ سربېره ښاغلي دوکتور بهاوالدین بها اوس هم په منظمه توګه د افغانستان د اسلامي جمهوریت له دولت سره د ستر تخنیکي سلاکار په توګه د خپلو علمي او اکادمیکو مرستو لړۍ جاري ساتلې ده•.

---

• (۳) ۲۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوهنوال دکتور عبدالباقي امین

پوهنوال دکتور عبدالباقي امین د عبدالکبیر خان زوی چې په ۱۳۴۴ هـ ق کال کې د وردګو ولایت د جلګې (دایمیرداد) ولسوالۍ په (دالان) نومي کلي کې زیږېدلی دی.

نوموړي په ۱۹۹۰ م کال کې د سعودي عربستان د مدینې منورې اسلامي پوهنتون د شرعیاتو له پوهنځي څخه په اعلی درجه خپلې زده کړې د لیسانس تر کچې ورسولې. په ۱۹۹۲ م کال کې د سوډان هېواد په (ام درمان) اسلامي پوهنتون د شریعت او قانون په پوهنځي کې په (مقایسوي فقه) کې ماستري وکړه. په ۲۰۰۱ م کال کې د سوډان هېواد په (ام درمان) اسلامي پوهنتون د شریعت او قانون په پوهنځي کې په (مقایسوي فقه) کې دکتورا وکړه.

دا چې ښاغلی امین د افغانستان په کچه یو علمي شخصیت دی له دې امله نوموړي په ډېرو هېوادونو کې په مختلفو برخو کې دندې سرته رسولې دي غواړم د ځینو یادونه دلته وکړم.

دندې:

نوموړی د (۱۹۹۷-۲۰۰۴) م کال پورې د سوډان هېواد د افریقا نړیوال پوهنتون د شریعت او قانون په پوهنځي کې د لیسانس او ماسترۍ دورو د (پوهنمل او پوهندوی) په رتبو کې استاد و.

د (۲۰۰۴ - ۲۰۰۵) م کال پورې د لیبیا هېواد په (اسمریه) اسلامي پوهنتون کې د شریعت او قانون په پوهنځي کې د لیسانس او ماسترۍ دورو لپاره په (پوهندوی) رتبه استاد و.

د (۲۰۰۷-۲۰۱۱) م کال پورې د اسلام اباد په نړیوال اسلامي پوهنتون کې د شریعت او قانون په پوهنځي کې د لیسانس، ماسترۍ او دکتورا دورو لپاره د (پوهنوال) په رتبه استاد و.

د (۲۰۱۱ - ۲۰۱۴) م کال پورې د پوهنې وزارت حقوقي مشاور او د تقنین رییس و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۲۰۱۴م کال له پیله تر پایه په علمي او اکادیمیکو چارو کې د پوهنې وزیر د مشاور په توګه دنده لرله.
د ستراتیژیکو او سیمه ییزو مطالعاتو مرکز رییس او په سلام پوهنتون کې دښوونکي دنده پر غاړه لري.
ښاغلي دکتور عبدالباقي امین ډېر کتابونه لیکلي دي غواړم د ځینو یې دلته یادونه وکړم چې په لاندې ډول دي:
لیکني اثار:

- (إحياء الفروض الكفائية سبيل تنمية المجتمع) په عربي ژبه لیکل شوی چې د قطر هېواد د ارشاد حج او، اوقافو وزارت د څېړنیز مرکز له خوا په ۲۰۰۵م کال کې خپور شوی او مومن حکیمي فارسي ته ژباړلی دی.
- د اسلامي شریعت تقنین (تقنين الشريعة الإسلامية) په عربي ژبه کې.
- د عباداتو فقه (احکام طهارت) په عربي ژبه.
- د عباداتو فقه (احكام الأيمان، النذور، الذبائح، الأضحية، العقيقة ......) په عربي ژبه.
- د ښځې سیاسي حقوق (حقوق المرأة السياسية- واجبات لا حقوق) په عربي ژبه لیکل شوی او پښتو ژبې ته هم ژباړل شوی دی.
- د تجدید مفهوم په نوم اثر یې په پښتو ژبه لیکلی دی.
- د افغانستان د بحران حل لاره (موانع و راه حل ها) په دري ژبه لیکل شوی.
- روش تحقیق په دري ژبه لیکل شوی.
- اسلام سیاسي و دشمني با آن په دري ژبه لیکل شوی دی.
- اصول قانون ګذاری تر چاپ لاندې اثر.

ښاغلي عبدالباقي امین په لسګونو علمي او نړیوالو کنفرانسونو کې ونډه اخیستې او پکې یې په مختلفو نړیوالو او ملي ژبو خپلې علمي مقالې وړاندې کړې دي چې د ټولو یادونه یې ډېره ګرانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عبد القدیر (خموش)

پوهنوال عبد القدیرخموش کله چې په۱۳۹۱هجري کال د غزني پوهنتون رئیس شو نودا وخت ددغه پوهنتون ذات البینی حالات په ټولو تدریسي اداري اود استادانو ترمنځ د خپل منځي ، قومي ، ژبنیو اوسمتي تعصباتوپه بنا ډیر کمزوري شوي و ګویا داچې د پوهنتون په اداره کې هرقوم خپلې ځانګړې اداري جوړې کړې وې او یو بل ته یې تندهي نه کوله یا په بل عبارت له پوهنتون څخه یې د تدریس په ځای داسې قومتون جوړ کړی وچې هرڅه یې په قومي تاراو توره څیرېدل او ګنډل کېدل ،ددغه پوهنتون په اړه دا هغه معلومات دي چې د هرقوم دا ستادانولخوا په نیغ اوغیرمستقیم ډول زموږ په واک کې راکړل شوي دي اوموږ یې هم په هېواد کې د پردیو دلاسوهنې اوبیځایه توشې دیوې بدمرغه منفي پدیدې په توګه د نورو د عبرت لپاره دقلم په ژبه سجل کوو .

خوله نیکه مرغه دپوهنوال عبدالقدیر(خموش) په را تګ سره له دغه پوهنتون نه ددې ټولوبد مرغیو تغراولمن د هغه په سلوکي نوښت اوخاص مدیریتي تدبیرمخ په ټولېدوشوه ځکه خموش د یوه اصیل او(ملک مالکه ) افغان په توګه د متعصبو کړیو دغه یواړخیزاو لاره ورکونکې حرکتونه له نیږدې څارل خوپه ارزښت او اهمیت نه ورکولو یې ژرتر قبضه لاندې را وستل او مهار یې کړل.

اوله بل پلوه د ملک په اکاډمیکو بنسټونوکې د لوړواوملي ګټود تآمین اوعایت په خاطرهم دخموش د تعصب ، کینې او نفرت دواړې سترګې ړندې او د پوهنتون ټول تدریسي او اداري ماحول یې د نیاواوعدل په یوه اورنهه سترګه کوت ، په رښتیا هم چې باید داسې وای ځکه مشران تل باید په منفي حرکتونو په ظاهرغوږونه کاږه واچوي خو په باطن کې یې د مخنیوي لپاره کلک عالمانه ،عادلانه او منصفانه ګامونه پورته کړي.

کله چې خموش د غزني پو هنتون د ریاست پست اشغال کړه د محصلینو شمیره دا وخت ۱۱۰۰تنوته رسېده او زیاتره هغه محصلین چې د کانکور په ازموینه کې به د غزني پوهنتون ته بریالي کېدل ځانونه به یې په یوه او بله بهانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبدیلول خو خموش دغه پوهنتون ته ډیر ژر دلوړوزده کړو په وزارت کې داسې نوی رونق وروباښه چې بیا دغزني پوهنتون ته نویو بریالي شویو محصلینو د تبدیلی نوم په خوله را نه رانغی.

خموش هلې ځلې وکړې او ددغه پوهنتون په تشکیل کې یې د اقتصاد، شرعیات، ادبیات، جیولوجي معدن انجینري او د شپې پوهنځی هم رسمي کړې چې دا نه یوازې په عام ډول د هېواد په تحصیلي ډګر کې یو لوی خدمت، بلکه په خاصه توګه دغزني ښار او ددغه ولایت د خلکو لپاره هم فخر او د خوښې ځای وګرځېد چې اوس دغه پوهنتون د هېواد د پرمختلیو پوهنتونو په ډله کې دیو بشپړعلمي او بشپړ ستندرد او اکادمیک ماحول په درلودلو سره یو ستر پیژندل شوی پوهنتون دی او د محصلینو شمیره یې د ددریو کالو له تیریدو وروسته اوس د ۴۰۰۰ تنو په شاوخوا کې ده چې د کابل مرکزي پوهنتون په ۱۳۵۴ هجري کال ۳۵۰۰ تنه محصلین درلودل.

له بل پلوه خموش چې کله دغزني پوهنتون رئیس شو نو پوهنتون په یوه داسې مارکیټ کې موقیعت درلود چې له یوه سالم تدریسي چاپیریال سره یې بشپړتوپیر درلود ځکه ګڼه ګونه او دایمي شور او زوږ د محصلینو د لوست مانع کېده که څه هم د پوهنتون لپاره په کلای جوز کې یو شمیر ودانۍ جوړې شوې وې خو یو شمیر استادانو دځینو ملحوضاتو په بنا د ځای لیرې والي او نورو امنیتي ستونزې پلمه راوړې او د تدریس هم دغه ځای غنیمت ګڼلی و او د پوهنتون انتقال یې خپل اصلي ځای ته له وریښمینوزند یو سره مخ کړی و چې دغه ځای بیا د یوه معیاري اکادمیک او سندرد تدریسي ماحول سره اړخ نه لګاوه، خموش په لطایف الحیل دټولو استادانو رضایت ترلاسه کړ او په ډیرهنریې پوهنتون خپل اصلي مرکز(کلای جوز) ته انتقال کړ خو هغه ودانۍ چې د پوهنتون لپاره د سرکار له بودیجې تخصیص او جوړې شوې وې کفایت یې نه کاوه چې دا بله ستونزه هم وه خموش د نورو اداري او تدریسي مکلفیتونو سره سره لاس پکار شو او د پوهنتون لپاره د لازمو ملحقاتی ودانیو جوړولو لپاره پانګې راجلب کړې چې په دغه عمراني برخو کې د کابل قندهار له سړک نه تر پوهنتون پورې د سرک جوړول او پخول و او همدارنګه یې د پوهنتون په انګړ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

محصلینو ته د اوبو اسانتیا وې برابرې کړې هرې تدریسي څانګې ته یې ځانګړې تعمیر جوړ کړل، او په څنګ کې یې د نیشه توکو له وزارت نه د دغه پوهنتون د جامع جومات لپاره بودیجه تر لاسه او هغه یې پرې جوړ کړ.

او دم ګړۍ هم په یو شمیر نورو ضروري او الحاقي ودانیو کار روان دی.

له علایمو او قراینو معلومیږي چې د دندې په اقتضا عبد القدیر (خموش) شپه ورځ د غزني پوهنتون لپاره د وړ او په ځای خدماتو د سرته رسولو په شیبو کې دی هغه د عمراني چارو تر څنګ په تدریسي برخه کې هم خپلې ژورې هڅې نه دي سپمولې او پوهنتون ته یې لایق او تجربه لرونکي استادان چې اکثریت یې په بهر کې خپلې د ماستري دورې ترسره کړې را دعوت کړي دي.

که له وردک وګړو نه په عام تعبیر یوه سلوکي ارزونه وشي نو دې نتیجې ته رسیږو چې د دغه قوم وګړي ډیر په کارپسې او بیدار صادق او رښتني خلک دي خپله ورسپارل شوې دنده نیمګړې نه پریږدي کینه کښ نه دي ، نفرت نه پيژني او د تعصب او تبعیض سترګې یې ړندې دي تو طیه جوړول یې نه دي زده چا ته کوهي نه کیندي په معاشره کې فساد نه جوړوي غله او قاتلان نه دي سیاسي او ټولنیزې بدماشی نه کوي زما په دغه ادعا کې که لوستونکي موافق وي کور یې اباد او که نه !د نورو قومونو د بدماشیو په تناسب دې د وردګو په هغه ګوته کیږدي.

بیرته را ځو خپل اصل مطلب ته !دغزني پوهنتون له ریاست څخه د مخه هم خموش د هېواد دځوانو اولادونو د پوهنې په برخه کې د دندې په مخ وړې دي هغه کله چې له پوهنتون څخه فارغ شونو لومړی دنده یې د کابل دښوونې او روزنې پوهنتون په پښتو څانګه کې تدریس وځکه هغه په پوهنتونو کې د استادی لپاره معیاري نومرې پوره کړې وې

چې د ......کلونو لپاره یې تر سره کړ چې له.... نه تر کال پورې د پښتو څانګې مشر او تر.....کال پورې د پوهنځي تدریسي مرستیال وو او همدا راز د دغه کار په موده کې په دولتي سکتور کې په دنده سربیره په خصوصي سکتور کې هم د کلید داونیزې مرستیال پاته شوې او تر څنګ یې د مرسل اونیزې مصحح او د ډیر وخت لپاره د کلید راډیو ویاند هم پاته شوی دی پخوا په هېواد کې د پخلاینې په نوم یوه داونیزه خپریده چې د هغه مصحح هم و

(c) ketabton.com: The Digital Library

او همدارنګه دا وخت د لوړ باور په رڼا کې د کابل د ښوونې او روزنې د پوهنتون
د استادانو د ټولنې مؤسس او ریس هم و له څه مودې وروسته د پکتیا ولایت ته
تبدیل شو او هلته د ګردیزد پوهنتون اداری مرستیال و ،تر هغه چې په ۱۳۹۱ کال
د غزني پوهنتون ته د رئیس په توګه را بدل شو. پوهنوال عبدالقدیر خموش د
تحصلي فعالیتونو تر څنګ یو تکړه لیکوال هم دی او د خپلو دندو ترڅنګ یې
تل علمي او څېړنیزه آثار لیکلي او معیاري لیکوالي یې په مخ وړې ده.
او په دې توګه یې د پښتو ادب نظم او نثر ته په خپل وار سره نه هیریدونکي او د
ستاینې وړ خدمتونه کړي دي چې کولای شو د هغه دغه خدمت په څلور برخو
وویشو لومړی نثری چاپ شوي اثار دوهم د نظم چاپ شوې اثار دریم منثور
ناچاپ اثار او څلورم منظوم ناچاپ اثار چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو.

i. الف: منثور آثار
ii. په پښتو ادبیاتو کې د طنزپیدا ښت او پایښت
iii. په متلونو کې د تاریخي او فولکلوري پیښو انعکاس
iv. بې کوره مرغی
v. ،د ژباړې شالید او فن
vi. ، په پښتو ژبه کې د ناول بهیر
vii. دطنزهجو او کمیډي خپل منځي تو پیرونه
viii. په پښتو شعر کې انځور او د هغه ډولونه.
ix. ب: منظوم اثار

b. د معرفت ډیوه
c. ازمن مرو
d. د ناچاپ منثور اثارو په لړ کې یې په منځنۍ دوره د غزل وده او پراختیا
e. د ادب پوهنې بنسټونه،
f. بشپړ بدیعي ښایستونه،
g. د لرغونې دورې شاعران،
h. غونډوله (جمله)

i. په افغانستان کې پښتو او دري رسمي ژبې دي عبد القدیر خموش لاندې
بهرنیو هیوادونو ته سفرونه کړي دي.

b.۱ـ د خموش صاحب لومړی سفر پاکستان ته په ۱۳۶۹ لمریز کال کې کړی دی.
خموش صاحب دوهم تفریحي سفر دوبۍ ته ۱۳۸۴ لمریز کال کې کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ښاغلی خموش صاحب په۱۳۹۳ المریزکال کې دلوړو زده کړودوزارت لخوا په رسمي سفر داندونیزیا هیواد ته تللی دی.

c. دخموش صاحب پیدا ایښت:

a. پوهنوال عبدالقدیر خموش دانجینرنظرمحمد زوی چې په ۱۳۵۱ لمریز کال د کب په ۱۲ د کابل په سلام غونډۍ کې په یوه عالمه، روحاني، اودرنه کورنۍ کې دې فاني نړۍ ته سترګې پرانستې دي.په خټه نوري وردګ او دوردګو ولایت د چک ولسوالۍ د عربانو د درې د چرک خېلو دکلي اصلي او سېدونکی دی.

b. ب.ـ دخموش زده کړې:

لکه څنګه چې دښاغلي خموش صاحب پلار یو تعلیم یافته اوهوښیار سړی ؤ ده نه غوښتل چې اولاد یې بې تعلیمه پاتې شي همغه ؤ چې په خپل اولادیې تعلیم وکړ خپل زوی عبدالقدیرخموش یې په ښوونځي کې داخل کړ، نوښاغلی خموش لومړنۍ اومنځنۍ زده کړې یې دکابل په عبدالعفورندیم ښوونځي کې پای ته رسولې او دنادریې له لیسې د بکلوریا په سویه په (۱۳۶۸)لمریزکال کې وتلی .خوتیرو دریولسیزوجګړوزمونږ دوطن هره شتمني لکه، علمي، اقتصادي یاځاني اومالي ښکلا یزه شتمني لوټ کړه ،نوهمدغه شان یې دخموش صاحب په تحصیلاتوژور اغیزکړی دی،ده نشوای کولای چې خپلو تحصیلاتو ته ادامه ورکړي، خوپه۱۳۷۲ لمریز کال کې دکانکور په ازموینه کې ګډون وکړ، چې دکابل دپولتخنیک دمعدن اوصنایعو پوهنځۍ ته بریالی شو ،نوخموش صاحب چې له دغه پوهنځي سره علاقه نه درلوده نوموړي د دوهم ځل لپاره دکانګور په ازموینه کې ګډون وکړچې په(۱۳۷۳ )لمریز کال ک دکابل دښوونې اوروزنې پوهنتون د پښتوژبې اوادب څانګې ته کامیاب شو.ښاغلی په ۱۳۷۷لمریز کال کې له دې پوهنتون څخه فارغ شو ،اوله فارغیدو سره سم دنوموړي پوهنتون په پښتو څانګه کې داستاذۍ دنده په غاړه واخیسته، دلیسانس زده کړې د کابل ښوونې او روزنې په پوهنتون کې ترسره کړې.اودماسترۍ رتبه یې په ۱۳۸۸لمریز کال کې دکابل پوهنتون دژبو او ادبیاتو پوهنځۍ پښتو څانګه کې په بریا لیتوب سره پای ته ورسولې.•

---

• (۹) ۳۳- ۳۶ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسدالله (وحيدي)

پوهنيار اسدالله وحيدي د جکتورن نصرالله زوی، **۱۳۶۵** هجري لمريز کال کې د وردګو ولايت د سيدآباد ولسوالۍ د تيمورخيلو کلي په يوه متوسطه کورنۍ کې زېږېدلی دی.

په **۱۳۸۲** هجري لمريز کال کې د سيدآباد د عالي لېسې څخه فارغ او په همدې کال د کانکور په آزموينه کې د کابل پوهنتون د ټولنيزو علومو پوهنځی ته بريالی شو. وحيدي دا مهال د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي په پښتو څانګه کې استاد او د همدې څانګې د لېسانس او ماسترۍ له دورو څخه په کادر کې فارغ شوی دی، نوموړي د خپلو زده کړو په دوره کې د وردګو د غوره محصل لقب خپل کړی و. وحيدي پر استادۍ سربېره د افغانستان په مطبوعاتو کې پراخ لاس لري د يوه انتقادي او زړور ژورنالېست په توګه په ټولنه کې پېژندل شوی دی، څو ځله د همدې انتقادي نيوکو له امله له ستونزو سره مخ شوی دی، وحيدي د زده کړو په دوره کې شعرونه هم ويل خو اوس په اخباري ليکنو او تدريسي چارو بوخت دی.•

د کلام بېلګې:

## غزل

شراب يې نه خورم د جامونو مې کړنګار خوښيږي
په خدای له وصله مې زر ځله انتظار خوښېږي
زه مې په خپله تفکر ته په کې څه لټوم
زما په سترګو کې اقرار په خوله انکار خوښېږي
زه خو يې يو د ځان لپاره خدای نه نه غواړمه
زما د خدای لپاره جوړ د ښکلو ښار خوښېږي
دا سې ښکاريږي په تقدير کې هم همدا ليکلي
زما ژوندون پاس په اغزو مرګی په دار خوښېږي

---

• (۲۰) ۱۰- ۱۳ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوکتور زرجان بهاء

پوهاند دوکتور زرجان بها د بهاول خان زوی د ۱۳۱۸ هجری لمریز کال د تلې د میاشتې په ۲۴ نېټه د وردګ ولایت د یوسف خېلو په کلي کې زیږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د وردګو ولایت د تکیې په لومړني ښوونځي او ثانوي زده کړې یې د کابل په دارالمعلمین کې سرته رسولې دي. پوهاند زرجان بها د لېسانس دیپلوم د کابل پوهنتون د انجینرۍ له پوهنځي څخه په لاس راوړې دی. ماستری یې په ۱۳۴۵ او دوکتورا یا PhD یې په ۱۳۵۲ د امریکا له متحده ایالاتو څخه د انجینرۍ په څانګه کې په لاس راوړې ده. ښاغلی پوهاند دوکتور زرجان بها د کابل پوهنتون د انجینرۍ د پوهنځۍ د رئیس او استاد په توګه دنده اجرا کړې او اوس مهال د امریکا د متحده ایالاتو د Prudue په پوهنتون کې د استاد په توګه دنده تر سره کوي. همدارنګه پوهاندې زرجان بها صاحب په مالیزیا کې د (۱۳۷۴ – ۱۳۷۹ هـ ل) کلونو تر منځ د استوګنځای د پروګرام کوارډیناتور په توګه دنده ترسره کړې ده. دوکتور زرجان بها یو زړه سواند او خواخوږی انسان دی او تل یې هڅه کړې ده چې زموږ وګړي د ژوند په مختلفو برخو کې له لازم پرمختګ څخه برخمن شي•.

## دوکتور علي وردګ

دوکتور علي وردګ د وردګ ولایت د سیدآباد د د ولسوالۍ د حسن خېلو د کلي اوسېدونکی دی چې خپله دوکتورا یې د انګلستان د سکاتلند د اېډنبورګ Edinburgh له پوهنتون څخه لاسته راوړې ده. ښاغلی دوکتور علي وردګ اوس مهال د انګلستان د سوت وېلز په پوهنتون کې د پوهنوال په درجه د کریمنالوجۍ په څانګه کې د استادۍ دنده مخته وړي. د نوموړي د تدریس او څېړنو زیاته برخه په انتقالي عدالت، په ټولنه کې د قانون په دریځ، د رسمي او غیر رسمي عدالتي سیستمونو تر منځ په اړیکو او داسې نورو مهمو موضوعاتو را څرخي. ښاغلي

---

• (۷) ۸۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوکتور علي وردګ په ۱۳۸۵ څخه تر ۱۳۸۷ کلونو پورې د ملګرو ملتونو د پراختيايي موسسې په يو پروګرام چې مرکز يې په کابل ښار کې دی، کار کړی دی چې موخه يې په افغانستان کې د انساني سرچينو څېړل وو او نوموړی و توانيده چې په ۱۳۸۲ کال د همدې موسسې په چوکاټ کې د بشري سرچينو د انکشاف راپور و ليکي او د Afghanistan Human Development Report تر نامه لاندې يې خپور کړي. دوکتور علي وردګ هغه اکادميک شخصيت دی چې په لومړي ځل يې په هېواد کې د طالبانو د رژيم له ړنګېدو وروسته په افغانستان کې د يو نوي عدالتي سيستم ماډل وړاندې کړ چې په هېواد کې د قانوني اصلاحاتو سره په زړه پورې مرسته کولای شي او بنسټ يې په رسمي عدالتي سيستم سربېره په ولسي فيصلو ولاړ دی. نوموړی همدا اوس د هالند د لېډن پوهنتون سره په داسې يوه څېړنيزه پروژه کار کوي چې په افغانستان او جنوبي سودان کې د لومړني عدالتي سيستم وړاندې کولو او پلي کولو ته لاره پرانيزي. نوموړی همدارنګه له ښاغلي پروفيسور جان برېت وېت سره نږدې همکاري لري او په هغه څېړنيزه پروژه کار کوي چې په ټولنه کې يې د مقايسوي سولې اعمار موخه ده او د آستراليا ملي پوهنتون يې بنسټ ايښودونکی دی. د دې پروژې موخه دا ده چې څرنګه په نړۍ کې د سولې د تامين او اعمار لپاره هڅې موثره بڼه غوره کړي او د نړۍ په ۴۸ هېوادونو کې د جګړې مهم علتونه څه شی دي. ښاغلي دوکتور علي وردګ د ګڼو علمي آثارو، مقالو او کتابونو د ليکلو وياړ لري چې په دې ليکنو کې ۴ عنوان کتابونه، ۲۰ عنوان ژورنالونه، مقالې او چپټرونه شامل دي. علاوه پر دې نوموړي په ګڼو رسنيزو پروګرامونو کې برخه اخيستې او له دې لارې يې په مسلکي بڼه خپل غږ او فکر له هېوادوالو سره شريک کړی دی. هغه رسنۍ چې ښاغلي دوکتور علي وردګ ورسره مرکې کړې دي، په پښتو، دري او انګريزي ژبو د بي بي سي راډيويي او تلويزيوني خپرونې، آزادي راډيو، لمر تلويزيون، طلوع تلويزيون، آشنا تلويزيون او داسې نور شامل دي. نوموړی همدارنګه د خپلو څېړنيزو چارو په برخه کې د يو مسلکي وينا کوونکي او څېړونکي په توګه د آسيا، افريقا، آستراليا او اروپا په ټاپو وزمو کې مختلفو هېوادونو ته په علمي کنفرانسونو کې د وينا لپاره بلل شوی دی. دوکتور علي وردګ له ښاغلي برېت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېټ سره يو ځای د انګلستان د کريمنالوجي د څېړنيزې مجلې له لوري په ۱۳۹۳ کال کې په نړيواله جايزه و وياړل شو. دغه کلنۍ جايزه هغو ليکوالانو ته ورکول کېږي چې د جرمي عدالت او کريمنالوجي په برخه کې يې غوره مقالې ليکلې او خپرې کړې وي. ښاغلي دوکتور علي وردګ د انتقالي عدالت، جرمي عدالت او کريمنالوجي د څېړنې په برخه کې د متعددو مسلکي بنسټونو غړيتوب لري چې شمېر يې ۸ بنسټونو ته رسېږي او په افغانستان، انګلستان، آستراليا، هندوستان، عربي متحده اماراتو او جرمني کې قرار لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هېواد د لوړو زده کړو په موسساتو کې د وردګ استادان

وردګ ولایت د افغانستان په مرکزي او ولایتي پوهنتونونو کې پر پخوانیو علمي څېړو او استادانو سربېره ګڼ شمېر نوي استادان او علمي کدرونه لري چې د هېواد د بچیانو په روزنه لګیا دي. هغه معلومات چې په ۱۳۹۴ کال کې د دې اثر لیکوال ته په لاس ورغلي دي، د هغه پر اساس د افغانستان د مرکز او ولایتونو په ټولو دولتي او نادولتي پوهنتونونو کې د وردګ استادانو شمېر **۳۳۱** تنه دی. له دې جملې څخه **۲۹۷** تنه یې د وردګو په څلورو ولسوالیو (سیدآباد، چک، جغتو او دایمرداد)، **۳۳** تنه یې د همدې ولایت په (نرخ، جلرېز، او میدانښار) پورې او ۱ تن یې په بهسودو پورې اړه لري. د دې خبرې یادونه ضروري ده چې په دې برخه کې لاسته راغلي معلومات شاید بشپړ نه وي او داسې اټکل کېږي چې همدا اوس د هېواد په کچه په ټولیزه توګه تر **۵۰۰** تنو پورې وردګ استادان د هېواد د لوړو زده کړو په موسساتو کې دندې اجرا کوي او د هېواد د بچیانو په روزنه لګیا دي. د دې معلوماتو د راټولولو په برخه کې زیاته مرسته او همکاري د فېسبوک او بربښنالیک له لارې ګڼو دوستانو او کلتوري همکارانو را سره کړې ده چې د ټولو دوستانو له همکارۍ څخه مننه کوم•.

• (۳) ۳۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هغه وردګ چې په مختلفو برخو کې دوکتورا لري

هغه ویاړلي وردګ شخصیتونه چې خپلې زده کړې یې د دوکتورا تر درجې پورې د نړۍ په مختلفو پوهنتونونو کې سر ته رسولې دي او د دې کربښو لیکوال یې د نومونو په پیدا کولو بریالی شوی دی په لاندې ډول دي:

دوکتور عبدالله حسن، دوکتور عبدالولي وردګ، دوکتور سورګل وردګ، دوکتور نجیب الله وردګ، دوکتور صادق، دوکتور عبدالله، دوکتور محمد رسول وردګ، دوکتور عبدالله جان وردګ، دوکتور عبدالواسع نجیمي، دوکتور فضل هادي وردګ، دوکتور ګل جان ورور وردګ، دوکتور اسدالله بهاء، دوکتور محمد عارف، دوکتور حبیب الله وجدي، دوکتور مومن، دوکتور عبدالباقي امین، دوکتور حیات الله عتید ، دوکتور محمد قسیم، دوکتور صفت الله سیدالي، دوکتور صفت الله حلیم، دوکتور عبدالرشید اقبال، دوکتوره صدیقه بصیري وردګ، پوهاند دوکتور عبدالقیوم وردګ، دوکتور محمد نعیم سلیمي، دوکتور ویس وردګ، دوکتور عصمت الله آرینزی، دوکتور شاه محمود ، دوکتور حماد ، دوکتور قاسم، دوکتور جنرال عبدالرحیم وردګ، دوکتور عبدالرقیب احمدي وردګ، دوکتور محمد نعیم، دوکتور احمدولي عثمانزوی، دوکتور صفت الله وردګ، دوکتور حمیدالله الکوزی، دوکتور شاه حین خرمزی، دوکتور عبدالعلیم وردګ، دوکتور جمیل، دوکتور محمد آصف، دوکتور محمد ولید ، دوکتور نقیب الله وردګ، دوکتور محمد غوث حکیمي، دوکتور سیدرحمن نوري او داسې نور•.

---

• (۳) ۴۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۹) د وردګو ولسي ادبيات

د وردګو ولس خپل ادبيات لري، دغه ادبيات ښايي له ځينو نورو پښتني سيمو سره په ځينو برخو کې ممکن ورته والی ولري خو دوی پخپله سيمه کې خپل ولسي ادب په ځانګړې توګه خوندي ساتلی دی. د وردګو د سيمې خلکو په خپله جغرافيايي محدوده کې خپل ولسي ادبيات د پخو او منل شوو خبرو په توګه په پوره پيمانه خوندي ساتلي دي او د خپلې لهجې او کلتور مطابق يې په خپلو مناسبو وختونو کې کاروي، ماشومان، لويان، ځوانان، پېغلې اود پاخه عمر لرونکي خلک دغه ادبيات د خپل ذوق سره سم کاروي او خپله ادبي تنده پرې خړوبوي. چې يو هم له دې جملې يې د ماشومانو نارې او غړونه دي چې د سيمې د ولسي ادبياتو لويه برخه جوړوي، د دې سيمې ماشومان د بيلابيلو عنعناتو د نمانځلو په وخت کې له لويانو او ځوانانو سره برخه اخلي خپله خوښي او خفګان په ځينو ورځو کې ښکاره کوي او د خپل ولسي ادب په ژبه د خپل احساس ځرګندونه کوي. د وردګو ماشومان د لويانو پر تله د ځينو مهمو ورځو لکه: د پسرلي، اخترونو ورځې، د برات شپې او د ودونو په وخت کې دوی ډېره خوشحالي ځرګندوي په دغه ورځو کې د د ورځې اړونده لوبې او اړونده غړونه په يوازې او ډله ييزه توګه وړاندې کوي، چې اوس مهال د کمپيوټر، مبايل او انټرنېټ به راتلو سره په ځينو سيمو کې له ځينو ماشومانو دغه لوبې او غړونه هم هير شوي دي. دلته د دې موضوع راوړل زموږ د شفاهي ادبياتو يوه برخه ده دغه غړونه ډېر وخت د ماشومانو او هم د لويانو له خوا وړاندې کېږي.

په دې ورستيو کې د ماشومانود سندرو او لوبو په اړه بېلابېل کتابونه او مجلې هم چاپ شوي دی، چې زموږ د پښتني ادب ډېر څه يې خوندي کړي دي، دغه سندرې او لوبې که څه هم په زياتره پښتني سيمو کې يو شانته ويل کېږي خو په ځينو سيمو کې په کم توپير سره د سندرې ځينې کليمې سره اوښتې دي لکه د اکوبکو سندره چې په ډېرو سيمو کې ويل کيږي خو په ټولو سيمو کې يو ډول نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي او لومړي، منځني يا وروستي بندونه يا يې ځينې الفاظ بدلون لري لکه چې وايي:

اکو بکو سر سيندکو غوامې لاړه په ترپکو

خو زموږ په سيمه کې بيا داسې وايي:

اکو بکو سرسيندکو غوا دې لاړه په ترپکو

په پاس سندره کې يوائې د (مې) او (دې) کلمې توپير لري، په ډېرو سيمو کې په دې سندره کې د مې کلمه کارول کيږي خو په وړدګو کې دا سندره ماشومان هغه وخت خپل مخاطب ماشوم ته بولي چې کله د مال څرولو پر وخت يې د کوم ملګري غوا وتښتي او ماشوم په لوبه بوخت وي نو خپل ملګري ورته وايي غوادې لاړه په ترپکو. په وردګو کې د مال پوولو يا غوا څرولو چاره ډېری وختونه د ماشومانو مسيوليت دی، دغه ماشومان سره له دې چې خپل دغه مسووليت ادا کوي د غوا د پوولو پرمهال خپلې سيمه ييزې لوبې هم کوي چې د لو بو د څپرکي په برخه کې به ترې يادونه وکړو،

دا ماشومان د مال څرولو پر وخت خپل ولسی ادب هم ژوندی ساتي او د يو بل سره د خوش طبعۍ په توګه او يو بل خپل مسووليت ته د متوجه کولو په خاطر په دې سندرو مخاطبوي، لکه اکوبکو... په دې ځای کې بايد يادونه وکړو چې ماشومان کله د اکوبکو لوبه کوي او غوا يې وتښتي نو ملګري يې ورته وايي:

اکو بکو – سرسيندکو – غوا د لاړه په ترپکو...

يا د سور چرګ سندره:

زما سورکيه چرګه لکۍ دې برګه برګه
ښکې رنګارنګ لرې په سهار د اذان کړنګ لرې
د غمي غوندې ککره - جګه دې له سره
مه ګرځه چرګانو سره
ماته کو کو وايه
ښکلي دي جر جوری دی
غاړه دې ده دنګه
زما سورکيه چرګه۔زما سورکيه چرګه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته سندره ښيي چې د وردګو په سيمه کې د چرګانو ساتل او له مالدارۍ سره د ماشومانو او لويانو مينه له پخوا زمانو راهيسې دود وه، چې ماشومان يې په خپلو تنکيو احساساتو په ولسي سندرو ستايي.
يا د باران په اړه دا سندره چې دلته هم د باران ترڅنګ د چرګې يادونه پکې شوې ده:

اوري باران اوري
د چرګې لکۍ ښوري
شاه مورېک په پوله ناست دی د مستو بدلې بولي.

دلته ځينې ماشومامان دا بدله داسې وايي:
شامورېک په پوله ناست دی د مستئ بدلې بولي.
باران چې د پرمختګ، ښيرازۍ او ابادۍ ذريعه ده شاعران يې په شعرونو او د وردګو ماشومان يې په ولسي سندرو کې ستايي.
د باران پرمهال دا سندره:

بارانه مه ورېږه - پاس په کمره ورېږه
د لاندې شولې دي - جينکۍ ټولې دي
يوه پکې خندانه - سل روپۍ ارزانه ده

بله دا سندره:

نرۍ نرۍ باران دی
ورور مې را روان دی
د کټ لاندې پيشو ده
پيشو ته وايم پشې
مورېکه ستړې مه شې

په پورته سندره کې هم د باران يادونه شوې ده، دا سندره په وردګو سربېره په غزني لوګر او پکتيا کې هم دود لري.
د پلار لپاره دا سندره:

پلار مې تللی دی درې ته
رابه شي غرمې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته به الو راوړي
الو به ورکړم غواته
غوا به ماته پی ٔ راکړي
پی ٔ به ورکړم سیند ته
سیند به ماته ورور راکړي
وه وروره بیدار شه
پاس په غونډۍ ډزې دي
ګډې وډې ورځې دي

په پورته سندره کې سره له دې چې د پلار مینه انځور شوې ده، د وردګو کلیوال او دره یي ژوند هم انځور شوی دی او ترڅنګ یې د دې سیمې دودیز لغت (پی ٔ) هم پخپله سیمه ییزه لهجه راوړل شوی دی، د وردګو په سیمه کې شیدې د پی ٔ یا پیو په نامه هم یادیږي.

پر دې سربیره زموږ د ماشومانو په ولسي ادب کې له جګړې او د جګړې له ډزو هم اند ېښنه ښودل شوې ده لکه پاس مو چې یادونه وکړه:

(و وروره بیدار شه - پاس په غونډۍ ډزې دي- ګډې وډې ورځې دي)

مورته د ماشومانو سندره

مورچې د مینې او عاطفې سمبول ده زموږ د سیمې د لویانو او کوچنیو د ولسي ادب یوه برخه جوړوي، زموږ ماشومان د لوبو او سندرو پر مهال له خپلې مور سره د خپلو کوچنیو احساساتو په څرګندولو سره د زړه راز او نیاز کوي او له هغې مرسته غواړي، ناز پرې کوي او په عین وخت او زمان کې د هغې د تسلیت او ډاډ لپاره خپله چالاکي هم ښيي لکه چې وایي:

و مورې او بو یوړم
او ښ په غرغړو یوړم
هلته یو غوا یی و
له ځانه لیونی و
داړې یې راته جینګې کړې
ما تربنه را منډې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته سندره کې د اوبو وړل له مورسره خواله کول او له مورڅخه همکاري غوښتل او همدا راز له غوا یه څخه تېښته ذکر شوې ده چې ماشوم خپله زیرکي او هوښیاري ښیي د دې سندرې په ویلو او زده کولو سره د ماشوم د ولسي ادب له مخې د هغه د زیرکی حس هم زیاتېدلای شي او جوتیږي چې له دښمن څخه منډه او تېښته هم د بریالیتوب راز دی.

د کوترې سندره:

کاشکي زه کوتره وای
ناسته په ډبره وای
پر مې د سرو زرو وای
غاړه مې ببره وای
ژوند مې بې خطره وای

پورته سندره ښیی چې د ژوند د ناخوالو، جګړو او نورو ستونزو له امله نه یوازې لویان بلکې کوچنیان هم ناخوښ دي او وایي چې کاشکي یوه کوتره وای چې د سولې ننبه ده او ښوک ورسره دومره غرض نه کوي ژوند مې بې خطره وای، هغه څرګند الفاظ دي چې زموږ د ماشومانو سوله ییز احساسات او له خطر څخه کرکه پکې انځور شوې ده.*

یا هم د پلار سندره چې د مینې سمبول دی داسې زمزمه کوي:

ګرانه پلاره، ګرانه–زما د زړه ارمانه
تا نه مې کړه پوه زده۔ پلاره مهربانه
سترګو کې دې مینه ده۔ مینه دې نیازبینه ده
زما وجود هر رګ کې۔ تا د وجود مینه ده
زما د لویدو ځان– ستا د زړګي لوی ارمان
زما زده کړه ده هیله ستا۔ څومره یې ته لوی انسان
پوه به کړم زده پلاره۔ ستا هیله به کړم پوره
ګرانه پلاره، ګرانه۔زما د زړه ارمانه

* (۱۱) ۱۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پسرلي کې د کوچيانو دراتلو پر مهال چې کله اوښ ويني دا سندره ورته وايي:

اوښه –اوښه ډانګه –ډانګه دې غړانګه
په ببره کې ټال واچوه.سبا ببګا پرې زانګه

يا هم دا سندره:

اوښه اوښه بړوهه !
ځان د په خپړوهه !

دغه غړونه هم يو شان جوړښت نه لري کله يې يو ترکيب لنډ بل اوږ خو يو اهنګ او خاص ولسی رنګ او خوند په کې پروت دی او په غوړو ښه لګيږي يادې سندرې که له يوې خوا د دې سيمې د ماشومانو د ساتيرۍ ښه وسيله ده، د محتوا له پلوه هم ببلا ببلې برخې په خپله منځپانګه کې را اخلي، ممکن د اوښ سندره په ډېرو پښتني سيمو کې دود وي، خو دا هم شونې ده چې د ځينو پښتني سيمو لپاره د هيڅ ارزښت وړ نه وي او هيڅ ماشوم ښايي نه وي زده کړي، خو په وړدګو کې ماشومان دغه سندره له نورو سيمو په توپير په ډېر خوند او علاقه زمزمه کوي او د اوښ په ليدو يې د پسرلي احساس تخنول کيږي ځکه چې په دې سيمه کې د ژمي پر مهال اوښان نه تر سترګو کيږي، د پسرلي په راتګ چې کله کوچيان د وردګو له لارې ايلبندونو ته ځي نو ماشومانو ته د هغوی د اوښانو کاروانونه خوند ورکوي او د پسرلي د خوښيو ترڅنګ يې د اوښانو اوږدې غاړې او د وزو او مېږو ګړونګي د خوښۍ احساس دوه برابره زياتوي نو اوښ ته په خطاب خپلې سندرې په ځان ځاني او ډليېزه توګه زمزمه کوي. همدا راز د اخترونو ورځې، د نوروز ورځ، د برات شپه هغه وختونه دي چې ماشومان پکې خپلې خوښۍ څرګندوي.

**د نجونو سندرې:**

زموږ د سيمې ادب نه يوازې دا چې د نارينه لويانو او ښځينه لويانو له خوا خوندي ساتل شوی دی، بلکې زموږ ماشومان ( نجونې او هلکان )هم د خپل ولسي ادب او ادبياتو د ځواکمنولو په برخه کې مهم رول لري دلته موږ په ببلا ببلو برخو کې د ماشومانو چې نجونې او هلکان دواړه پکې شامل دي د سندرو ببلګې وليدې، خو اوس د سيمې د کمکيو نجونو يوه ولسي سندره دلته راوړو ، چې د دوی ژوند ترې څرګند بدلای شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لالا به دې واده کړي
والله کې مې واده کړي
باغ لرم باغچه لرم
په جیب کې توپنګچه لرم

په پورته سندره کې یوه نجلۍ بلې ته چې عمر یې کم دی د واده کولو خبره کوي، خو هغه انکار کوي او وايي( والله کې مې واده کړي ) باغ لرم باغچه لرم، په جیب کې توپنګچه لرم، دلته نجلۍ د خپل مال او ثروت لرلو یادونه کوي

باید یادونه وکړو چې هر ولس ،سیمه او قوم له نورو سیمو او قومونو په تمایزد اسې خپل ځوني ادبیات لري چې د هغه قوم پر پېژندنه ټاکونکی فاکتور ګڼل کېدای شی یا په بل عبارت یو ولس دهغه په ادبیاتو تر بل هرڅه ښه پېژندل کیدای شي.

ولسي ادبیات هغه غیر ارادي ښکارندې دي چې د یوه قوم له ټولو دودیزو اړخونو نه بشپړه استازیتوب کوي.

په ولسي ادبیاتو کې د یوه ولس محلي سندرې، متلونه، اشعار، دودیزې انګیرنې، اولهجوي ځانګړتیاوې دا ټول شامل دي او لنډه دا چې ولسي ادبیات په هغه رویشونو پورې اړه لري چې د یوه قام له لرغونو کړو وړو سره یې ژوره ګنډه خوړلې وي لکه د مخه چې وویل شول ادبیات زیاتره په محلي کړو وړو کې ترټولو ښه تمثیلیدای شي که څوک د یوه بل قوم دودیز کړه وړه (سندرې، متلونه اشعار ... ) ترژورې مطالعې او څېړنې لاندې ونیسي نو ژر یې له خپل قوم سره په توپیرپوهیږي ځکه د هغه قوم د ځانګړو ادبي شاخصونو درلودونکی دی ، چې په دې توګه وردک هم د نورو پښتني قومونو ترمنځ د ځانګړیو او خپلواکو ادبیاتو او لرغوني دودیزکولتوردرلودونکې سیمه او قوم دی ټول هغه رواجونه او کړوه وړه چې یو قوم او یوه سیمه د ادبي بلوغ مرحلې ته رسوي او دنورو قومونو ترمنځ یې توپیري تشخیص پرې کیږي وردک یې هم په هره برخه کې په مستقل ډول لري اوله چا یې تقلید نه دی کړی، دوردګو لهجه د پښتو ژبې په کورنۍ کې یوه ځانګړې او معیاري لهجه ده چې په نسبتا نرم او اوږده (ویی ) سره پرې خبرې کیږي اودغه لهجه د نورو پښتني قومونو د لهجو ترمنځ ډیره ژرپیژندل کیږي ځکه په ویی کې داسې اصتلاحات لري چې یوازې د وردګو لهجې ته منسوب دی ، د پښتو ژبې په کورنۍ کې دوردګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لهجه ځانګړې ځائیو منګلو او افریدیو له لهجو سره ورته والی لري.او داسې برېښي چې د وردګو قوم په نسبي لحاظ ښایې له دغه قومونو سره نیږدېوالي او ورورولي ولري.

اوس را ځو او د وردګو د ادبیاتو په مختلفو زوایاوو په جزیاتو سره رڼا اچوو.

په وردګو کې د نورو پښتني قومونو په شان ټول معمول ادبي کړه وړه بشپړ دي او داسې څه نشته چې پر نورو قومونو کې وي او په وردګو کې د نه وي، دوی ولسي سندرې لري، چې سندرې یې له ډېرو پخوا زمانو څخه د ښادیو په مهال ددوی ترمنځ بوللې کېدې چې اوس اوس ددوی پخواني ټول دود یز ښکارندې د لیکوالانو لخوا سجل شوې او سجل کیږي ځکه اوس زمانه دقوي پرمختګ په داسې لور روانه ده چې پخواني ټول ادبي او کولتوري کړه وړه یې د انقراض تر پولې رسولي او لازمه ده چې دزړو ادبیاتو دخوندي ساتنې لپاره هلې ځلې وشي ځکه زړو ادبیاتو اوس خپل ځای نوې تخنیکي تکنالوژی ته پرا یښی دی، دغه قوم تکړه لیکوالان لري چې له ډلې یې د ژوند په شیبو کې حبیب الله «رفیع» مرحوم ارسلان «سلیمي» او مرحوم عبدالجلیل «وجدي» وه چې هریوه یې په لسګونو آثاراوکتابونه یې لیکلي دي چې د حبیب الله رفیع د چاپ شویو کتابونوشمیره سلګونو ته رسیږي.

شعراوشاعري هم په وردګو کې ډېره مخینه لري د حبیب الله رفیع په شمول په وردګو کې ګل الرحمن رحماني محمد عظیم ستومان عبد المتین وردګ عبد الحلیم همت غوندې شاعران لري، خوشعرپه حقیقت کې یوه فطري قریحه ده چې د هرچا په وجود کې نه را بیداریږي او شعر ویل په با سواده او بیسواده پورې هم اړه نلري ځکه ډېر داسې بیسواده کسان شته چې د اشعارو دیوانونه لري خوکه څوک وغواړي شعرکسبي کېدای هم شي خو په ډېره سختی، هغه څوک چې فطرتا شاعرمزاجه وي هغوی د شعر په جوړولواوویلو کې هیڅ رازستونزه نلري او دهرې منفي او مثبت ښکارندې په اړه ډېر ژر شعرجوړوي، ښکلا توصیفوي، ددردونواو غمونوغبرګون د شعر په فردونو کې کوي، په رمز دګل سره خبرې کوي اود عاشق او معشوقې د مینې او محبت راز نیازپه خپلو شعرونو کې تمثیلوي.•

• (۱) ۶۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نکلونه او کیسې

د زرګونه کاله مخکې نه تر اوسه کلتور، فلکلور، دودونه، نقلونه او کیسې... سینه پر سینه له یوه نسل نه بل نسل ته لېږدول شوي خو ځینو له زماني سره بدلون کړی او ډیری پر خپل حال پاتې دي. نقلونه او کیسې د ماشومانو د بوخت ساتلو تر ټولو ښه وسیله ده. درسونه، عملي کارونه او تجربې په یو ځل کولو سره په ذهن کې نه پاتې کیږي یوا ځینی شی چې په یو ځل اوریدلو سره تر ډېره په حافظه کې ځای نیسې هغه نقل او کیسې دي د انسان حافظه د مغز په ډېرو ګونځو غښتلې وي خو اخوا د شیانو په یادولو سره هم حافظه غښتلې کیږي څومره چې شی په حافظه کې ډېریږي هومره حافظه قوي کیږي، باید کوچنیانو ته داسې نقلونه او کیسې واورول شي چې هیښوونکې او هڅانده وي په اوریدلو سره ماشوم په ځان کې مثبت بدلون راولي نه داسې هیبتناک نقلونه او کیسې چې د ماشوم په روحیه او روان باندې ناوړه منفي اغیزې وکړي باید په کیسه کې پند نغښتی وي. د نقلونو له جملې نه د بې لاسو ښځې په زړه پورې ادبي نقل دي او دا هم یوه لنډه کیسه:

د مورنې مینې ښکاره ثبوت کلونه مخکې یوې مور له خپل زوی سره ژوند کاوه.
مور یوازې یوه سترګه درلوده او زوی له دې امله اندیښمن وو او تل به له دې څخه ځوریده چې مور یې یوه سترګه لري.
یوه ورځ یې مور د زوی ښوونځي ته ورغله، د زوی ملګرو یې هلک د مور د یوې سترګې له امله ډېر ریشخند کړ او پرې ویې خندل، هلک د ډېرې خجالتیا او سرکوزۍ احساس کاوه.
کله چې کورته راغی مور ته یې وویل: ولې په خپله دې ویرونکې مونه (قواره) ښوونځي ته راغلې وې؟ مور ورته وویل زویه ستا نه ډوډۍ پاتې شوې وه هغه مې تاته دروړه. نه مې غوښتل چې ته وږی پاتې شې.
زوی یې وویل: کاشکې ته مړه شې چې نوره زما د شرم او سپکاوي سبب نه شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه یو ستر ګې ښځې زوی څو کاله وروسته په یوه بل هېواد کې په پوهنځي کې قبول او هلته لاړ. درس یې خلاص کړ او هماغلته یې د هغه ځای د یوې جینۍ سره واده وکړ. او د دوه ماشومانو پلار شو.
مور ته یې دا خبر راورسید د خوښۍ په جامو کې نه ځایده. یو ستر ګې مور هم په دې هیله چې خپله اینګور او لمسیان وګوري د سفر اراده وکړه او په ډېر زحمت یې ځان د زوی کور ته په پردي هېواد کې ورساوه.
د زوی کورته ورسېده، لمسیان یې په لیدلو وورېدل. زوی یې مور ته وویل ای بد انځوره ښځې ولې راغلې زما بچېان دې وو ېرول؟ ځه ورکه شه زما له کور څخه لاړه شه. مور په چوپه خوله د زوی له کوره خپل هېواد، کلي او کور ته راغله.
کلونه تېر شول. زوی ته په خپل هېواد کې څه کار پیدا شو او د څو ورځو لپاره ورغی. د تجسس له مخې یې خپل کلي ته هم سر ښکاره کړ. ګاونډیانو او کلیوالو یې ورته وویل مور دې مړه شوې ده. خو ستا لپاره یې یو لیک پرېښی.
هلک د مور د مرګ د خبر په اورېدو خپل سر هم ونه ګراوه........
خو د مور د لیک په خلاصولو یې دا ولوستل یو ستر ګې مور یې لیکلي وو:
«زما ګرانه زویه! ته چې کله د شپږو کلونو وې او په یوه ترافیکي پیښه کې دې یوه سترګه د لاسه ورکړه، هغه مهال زه ۳۲ کلنه، د ځوانۍ او ښکلا په زور کې وم، . خو د یوې مور په توګه مې دا نه شوای منلی چې زوی مې دې په یوه سترګه ړوند او د یوې سترګې څښتن وي. نو د همدې امله مې خپله یوه سترګه د زړه تو تې خپل زوی یانې تاته درکړه تر څو ته په راتلونکې کې په ناراميۍ او ناراحتۍ سره ژوند ونه وکړې. زویه! د مور په یوه سترګه دې پام کوه.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نکلونه

پخوا زمانه ډیره ساده وه اود اوس په شان دنړۍ له یوه ګوټ نه تربل ګوټ پورې لارې نه وې سورې او یو خبربه له یوې سیمې تربلې په ډیره سختی په (رښتیا ) بڼه رسېده ځکه د هر خبر او آوازې سره به یوخروار درواغ ضمیمه کېدل ، د خلکو ذهنونه د خپل ژوند دچاپیریال پرمحدوده پورې تړلي وه نو ځکه په هرڅه به خلکو د یوې اورېدې کیسې اونکل له لارې ژرباورکاوه د خلکو عمر به ټول په خپل کلي کوراو سیمه کې تیریده اود اوس په شان به نن دلته او سبا به لندن او نیویارک کې نه ګرځېدل او په تکرار سره وایو چې ذهني پراختیا یې ترخپل ماحول پورې محدوده اولید یې کمزوری وه ، دا خوځرګنده ده چې سیاحت ګرځېدنه یو انسان له نویو ښکارندو سره بلدوي اوپه جهان ګردۍ کې دده ژوند ټول پرواقعي او عیني کیسه بدلیږي نو ځکه فولکوریک نکلونه پخوا ډیرمنظم اوریدل کېدل په کلیو کې به د شپې لخوا ځوانان یوه معین ځای ته را ټولېدل او هلته به یې دا نکلونه له یوه داسې راوي چې په کلي او سیمه کې به د نکلچي په نوم مشهورو اوریدل او جالبه دا ده چې په پخوا وختونو کې به په ښارونو کې هم د شپې د نکلونو ځایونه معلوم وه ، دکابل په زاړه ښارکې چنداولو ته څیرمه د اوسني سینما پامیر په ځای به د نکل په شپه خلک سره را ټولېدل اوخواږه نکولونه به یې اوریدل نکال به ددوی ترمنځ ولاړ وه او نکلونه به یې ورته کول او همدارنګه په پیښورکې هم دا ځای د اوسنۍ ( کیسه خوانۍ ) په نوم معلوم وه چې اوس هلته لوی لوی پښتني کتابتونونه جوړ شوې دي ، یانې داچې پخوانۍ کیسې په خپل ذات یو قانوني صبغه هم درلوده .

پخوانۍ کیسې هم ساده نه وي او په هغه کې د پند او نصیحت غټ غټ حکمتونه پراته وه په نکلونو کې به مظالم بیانېدل او د ظالم انجام به د منطقي دلایلو په رڼا برباد را ووت په دې کیسو کې به دمینې او محبت رازونه هم بیانېدل عاشق اومعشوقه به یا وصال تاټوبې ته رسېدل او یا به یې یود بل په فراق کې خپل ژوند له لاسه ورکاوه کله ناکله به په نکولونو کې د عمل داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

افراط بیانیده چې اوس څوک ورباندې هیڅ باورنکوي مثلا( دیو ) به د نکل قهرمان په خپلو وزرو کې بلې دنیا(کوه قاف ) ته وړی و مرسته به یې کړې وه او یا به یوه مین د خپلې معشوقې د وصال په تمه غرونه سوري کړي وه او یا به یې سل ګزه اوږد ښامار وژلی و.
ځینې له دغه نکولونو به دومره اوږده وه چې بشپړې دوې شپې به یې اخیستې او بیا به تمامیدل
خو په هر صورت دغه نکلونه که حقیقي وه یا خیالي، خو دهنر او ادب په معیارونو او بنسټونو دومره کلک ولاړ وه چې ډیر ژور مفهوم به پکې پروت و اوښو نکلونو یې د انسان په جوړونه کې هم بشپړ رول درلود دغه نکلونه په داسې هنري معیارونو ولاړ وه چې اوسني فلمونه چې د همدغه کیسو عیني بڼه ده ترې لوګی د ې شي په هغه وختونو کې چې دې نکلونو د خلکو تر منځ رواج درلود نو ځینو نکل پالو کسانو به پرخپلو اولادونو د نکل د قهرمانانو نومونو ایښودل ښه مې په یاد دي زموږ پر کلي کې د سعد ملوک او بهادرجمالې دواړه نومونه ایښودل شوي وه چې په عامیانه تلفظ (ست ملوک او بودروجماله تلفظ کېدل ) دغه نومونه د صیفل ملوک د نکل قهرمانان وه.
په هرصورت پخوانۍ فولکوریکو کیسې او نکلونه اوس د خلکو ترمنځ تتې شوې دي او هیڅ اوریدونکي نلري چې لامل یې همداد نړۍ د تخنیک پرمختګ دی چې یو انسان د سترګو په رپ کې ترټوله نړۍ را څرخوي نو کله چې یو څوک دغه شیان ویني او ګوري نو هغه کیسو ته حاجت نه پاتیږي چې پخوا به په ډیره ولع او تلوسه اوریدې.
پخوانیو خلکو به د زبزبانې ښاپیرۍ، سیفل ملوک او سعد ملوک ، مومن خان او شیرینۍ، آدم او درخانۍ، طالب جان او ګل بشرې، قطب خان او نازو ښادي او بی بو او لنډه دا چې په ملي هنداره کې سجل ټولې نکلونه اوریدل او له به یې انتباه اخیسته یو به راوي وه نکل به یې کاوه بل به شپون و او د نکال نکل ته یې ښه ښه او بلې ویل اونورو به ډیر دقت غوږنیولی وا و دنکلچي له نکل سره به هغو ځایو کې ګرځېده کوم چې د راوي له خولې به بیانیدل او ده به اوریدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انګېرنې او فالونه

انګیرنې او فالونه دواړه د فولکلوریکو ادبیاتو یوه ځانګړې او مهمه څانګه ده چې دا دواړه بیا یود بل لازم او ملزوم دي اود وردګ وګړو لخوا تر ډېرنیږدې وختونو پورې ټینګ اعتقاد پرې کېده خود مفهوم له لحاظه دلته انګیرنې او فالونه دوې بیلا بیلې پدیدې دي چې یوه په (قول) او بله په (تصادف) پورې تړلې ده ، یانې انګیرنه دیوه شي له داسې تصادف سره تړلې ده چې ته به یې نه غواړې خو ورسره مخ کیږې به ، خو فال بیا هغه قول دی چې له خپلې یا دبل شخص له خولې را وځي او په یو چا فال نیول کیږي ، له یو بل نه د فال او انګیرنې ځانګړتیا داده چې انګیرنه تل او پالونه کله ، کله وي.

## انګېرنې

انګیرنه یوه داسې ښکارنده ده چې د نوروحیواناتواو الوتونکو له اعمالورا څرګندیږي او انګیرنې په بیلا بیل ډول په لړ او ډیر تفاوت د نړۍ د استوګن ټولو وګړو ترمنځ اعتقادي بڼه لري خوانګیرنې کله ناکله زموږ له معنوي ارزښتونوسره په ټکر کې هم را ځي نو ځکه دیني علما کلک ورسره مخالف دي ، په انګیرنه کې (وړاند وینه) کیږي چې وړاند وینه د الله پاک په کارونو کې مداخله ګڼل کیږي نو ځکه په شرعي لحاظ هم ښه نه ده موږ یې دلته یوازې په ادبي اړخ رڼا اچوو اویو څو بیلکې یې راوړو. •

## د چرګې آذان

که چیرې په کوم کور کې چرګه په اصتلاح آذان وکړي نو بیله ځنډه چرګه حلالوي چې حلالول یې د آذان په مقابل کې هغه جزاده چې تري متوجې خطر پرې رفع کیږي او انګیرنه تري داده چې د چرګې آذان کورته د ناوړه پیښې د پیښیدو پیغام دی.

---

• (۲۳) ۱۳۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په سفر کې په چپه خوا د ګېډړې تېرېدل

که چیرې په سفر کې د چا له مخې سره په چپ لاس ګیدړه تیره شوه نو دا په سفر کې د ستونزو د پیښیدو علامه ده مسافر او یا مسافرین یا باید را وګرځي او یا هڅه وکړي چې ګیدړه ووژني او که دا تول ونشول او زور یې ونه رسېد نو د ګیدړې مخه باید په ښي لوري را وګرځوي چې سویه هم ورته انګیرنه لري

## د کیشکرې چغېدل

کله چې یوه او یا ډیرې کیشکارې د چا د کوراو کلا په دیوالونو په شدت وچغیږي او له یوه دیوال نه بل ته په چټکۍ والوزي نوانګیرنه ترې داده چې ددې کورنۍ مسافرراروان دی ښایې اوس به را ورسیږي خو د کیشکارو چغیدل نه یوازې په وردګو او نورو پښتنو سیمو کې دیوه نوي خبر زیګنال دی بلکه په دري ژبیو مناطقو کې هم دا انګیرنه پښتنو ته ورته ده نو همدا وجه ده کله چې کیشکاره وچغیږي نو دوی وایې خوش خبر، خو اصلا کیشکاره هم د الله مخلوق دی کله چې دوی په فردي یا ټولیز ډول وچغیږي ښایې کومه خپل منځي لانجه به لري.•

## د سوي سر په نوي

کله چې د چا جامې په اور وسوځیږي نو د نورو انګیرنه داده چې د سوي سر په نوي دی او د سویو جامو وال ته وایې خیر دی جامې به دنوې شی خو له دې انګیرنې نه دا هم جوتیدای شي چې ښایې د جامو وال ته به ډاډینه ورکوي.

---

• (۲۳) ۱۳۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د وردګو په ځينو سيمو کې د وخت معلومولو دود ،هنر او انګېرنې

د وردګو د جغتو د ولسوالۍ يو تن ليکوال انجنير حبيب الرحمن رحيمي په يوه مقاله کې د خپلې سيمې د وخت د ټاکلو او پخوانيو توکو څخه د دوديزې ګټې اخستنې په اړه چې د دوی د انګېرنو او وولسي ادب يوه برخه جوړوي په اړه ليکلي:
زموږ ټول ژوند دوخت يوه پيمانه بلل کيږي څرنګه چې د بشري ټولنې د غړو ژوند ،کړه وړه ،راشه درشه ،غوښتنې اوفکرونه يو شان نه دی خوددې ځيرکتيا او پرتله کېدنې لپاره چې ددغه راکړيو لورينو ځانګړتياوې معلومې کړو يوې وړې پيمانې ته اړتيا ليدل کيږي چې د کال په نوم ياديږي ،دنوموړي وړې برخې دځليزې ( فصل )،مياشتې،اونۍ ، ورځې ،ساعت اودقيقې په نوم ياديږي چې دوخت داکچ توکي يوله بله سره په ځانګړې ډول نښتي بڼه لري او د پيداکېدو سرچينې يې دځمکې وضعي ،انتقالي اونور چورليدونه دي.
دانسان ژونداواړتياوې له بيلا بيلواړخونو لکه وټه ايز،ټولنيز اوفرهنګي شرايطو سره تړلي دي د دې ترڅنګ اړهم دی چې دخپل ژوند دهرراز اړتياوو دپوره کوولو لپاره هڅې وکړي چې دبوختياوود رامنځ ته کيدولامل کيږي اوبوختيا دوخت سره اړيکه پيدا کړي .بوختياوې دخپل ارزښت له مخې وخت ته په کتو بيلا بيلې دي ځينې يې په ورځيني ډول لکه لمانځنه،خواړه،خوب،تفريح اودخپلې کاري دندې پربنسټ تنظميږي ورځنی بوختياوې بلل کيږي دوخت دويش له مخې يی ګړی ته اړتيا ليدل کيږي اوسره له ديوشمير نورې يې بيا په کال کې يوځل يا څوځلې لکه دپسرلي په موسم کې دونو اېښودلواوياد کرکيلې دحاصلاتو راټولول هغه بوختيا وې دي چې کلنی يا موسمي بوختيا وې يې نومولول شوې دي چې د ياد شويو چارو همغږي اوپلانونه د کليزې يا ځليزې پربنسټ کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرغونو انسانانو دخپل چارو دترسره کولو په موخه نني توکي په واک کې نه لرل. بلکې د دې لپاره یې د خپل چاپیریال د شته سرچینو لکه دلمر ختلو او لویدلو، ستورو دراختلو اولویدلو او دسپوږمۍ دراختلو اولویدلو ځایونه، واټنونه دهوا ژرنګوالی او وختونه په نښه کول که څه هم دوی یو شمیر ځانګړي ستوري پیژندل، بلکې دوی هڅه اوهاند داو، چې نوي دورته ستوري یا اسماني اجسام چې دوخت اوموسم د پیژندلو نښه وبلل شي دوخت په سیمه ایز تقویم کې ورزیات کړي، د سیموالوسره یې شریک کړي، سینه پرسینه له یوه نسله تربله ولیږدول شي اواولسي شفاهي ادبیاتو په خوږو نغمو کې دا څرک هم ځای ومومي هو ترهغې چې یاد شوي تقویم ځای ملي تقویم ته پریښود دابهیرپه پوره شور روان وو چې پربنسټ یې ددوی ددزیار اوتجربو په نتیجه کې ګړی اوکلیزې منځ ته راغلي دي.
دپاملرنې وړدا ده،دوی دکشف شوو ستورو مجموعې چې زیاتره په کې دیوه اولسو ترمنځ ستوري په کې راټول دي ،دستورو دټولي دبڼې اونورو ځانګړتیاووته لکه راختلو ،لویدلو ،په لیکه کیدلو ،خوځیدلو ، څرکیدلو اونوروته په کتو دوخت د شته چاپیریال توکو ته په ورته والي اونږدیوالي پداسې نومونوسره نومول شوي دي چې اریې زموږپه ویاړلې ارزښتپانګه کې موندل کیږي.
ددې لپاره چې داتوکي څه دي، څنګه تري کار اخستل کیږي ،چیرته دي اوڅه وخت لیدل کیږي. ددټولو پوښتونو ته دځوابونې په موخه مولاندې لیکنه ترتیب کړه چې اخستونکي سرچینې یې تر ډیره د سیمې هغه دپاخه عمر مشران دي چې تراوسه هم دنویو جنتریو تر څنګ د اسمان په سینه دراختونکو اجسامو او اغیزوڅخه دموسم او وخت دپیژندلو لپاره کار اخلي، نه تنها داچې نوموړې پانې په ساحوي څیړنو راټولې بلکې دهیلې دترسره کیدولپاره مې دکتابتونو دروازې هم ورخلاصې کړې چې ترسترګو شوي کتابونه مې هم له نظره تیر کړل چې دنوموړې هڅې برخې هم داپانې ډیرې ښکلې کړې او دنثر ترڅنګ دشعر یا نظم ښکلاپیلو نغمو دګلبڼ ته لانوره هم ښیرازي وربښلې ده.

سیوری:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمر د معمول له مخې د ورځې تر نیمايي پورې لويديځ لورته خپل سيوري پريږدي چې د ورځې په نيمايي کي له منځه ځي د ورځې له نيمايي وروسته دا بل لور ته سيوري د غرمې مخکې وخت مخالف لور ته غوړيږي چې خلکو په پخوا په مشخص ځای کې د يوال ډبرې يا دورته شيانو د سيوري داوږدوالي اولنډوالي له مخې د ورځې لخوا بيلو بيلو ساعتونو مشخصولو لپاره ترې کار اخيستل شوی اوس د يوه دود په توګه په ځينو کليو کې د حقابې په ويش کې ترې ګټه اخيستل کيږي خو دقيق نه دی ځکه چې د لمرې ساعتونو شميراو د لمر لګيدو زوايه د کال په بيلا بيلو ځليزونو کې توپير کوي نه تنها له د څخه دا بلکې د سيوري د غځيدلوري څخه ځليز ونه هم معلوميږي همدا شان د دغه وخت کارونکي توکي يو متل را منځ ته کړی دی وايي فلانی سړی په اسمان ستوری او په ځمکه سيوری نه لري.
سيوري تاکونکي که څه هم د لمرې ورځې په اوږدو کې د وخت د نسبي پيمانې ټاکونکي دي له بلې خوا زموږ د هيواد طبيعي ځانګړتياوو ته په کتو چې له درى سوه څخه زياتې لمرې ورځې لري د خپل وخت اوزمان پخپل وخت کې غوره پيمانه چې کارونکي توکي يې هم لکه ډبرې ،ونې ،دغرو د ځينو برخې د انسان قد او نور دي.
برسيره پردې چې ځينې يې عام او اولس يې د يوه معيار په توګه پيژني لکه د ځينو کاڼو ،غرونو او ياد مشهورو ځايونو سيوري دي چې ورته ګډ پيمانه کچ منل شوی وي بل ډول يې ځانګړي چې تر ځانګړي شخص پورې اړيکه لري د بيلګې په ډول د انسان د ونې د جګوالي سيوری چې هر څوک يې د وخت پيژندلو په موخه پرته له کوم ميعار څخه کاروي.

جام:
جام چې لرغوني لو ښی دی چې نو موړی د څنباک لپاره کارول شوی دی چې د دغه کاروني بيا اولسي ابياتو ته هم لاره موندلې وايي چې:
ماته په جام کې اوبه راکړه      زه تږی نه يم ستا نيت معلوم مه
بلکې د بشر سره يې د وخت په پيژندلو کې هم مرسته کړی ده ځکه پخوا چې دوګړو ، کورنيو او پلرګنيو شمير کم وو د دوی لپاره د وخت يوه پيمانه چې شوروز

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له شپې او ورځې څخه جوړه شوی دی بسنه کوله کله چې د کورنیو او پلرګنیو شمیر زیات شو دوی اړشول چې له پلار پاتې ځمکه او حقابه پخپلو منځو کې سره وویشي دوی اړشول چې شوروز پـه ورو برخو وویشـي دوی د دې اړتیـا دلیـرې کولو لپاره د جام څخه کار واخیست څرنګه چې د جام په جوړښت کې کاریدونکي توکي تـر اوبو سـپک دي لـه همـدې لامله داوبو دغرقیدو څخه خوندي دی چې لاندنۍ برخه یې ورته سوری کړی وه له هغه به دجام دننه اوبه تلې تر هغې چې جام به ډک شو دا د شوروز یوه وړه برخه اودوخت یوه پیمانه وه.

چیوک:
دهمدې نښان توکي له مخې دوی کولی شوای چې په عین وخت کې له یوې ویالې څخه دحقابې ځوتنه شریکان ګټه واخلي .مځکې له دچې سرکومې څخه اوبه زیاتې کړي لـومړی دیـوه لرګـي پواسطه داوبـو کچـه پـه یـوه ټاکلي ځـای کـې معلوموي خوکله چې اوبه پـه ویالـه کې زیاتې شي دلـومړني ورخ څخـه پـه هماغـه ټاکل شوی اندازه اوبه تیریږي.

چرګ غږ:
داچې انسان دځمکې په مخ دالله ج پـه امـر خلیفـه وټاکـل شـو نوهرڅه یې نومـوړي تابع وګرځول چې لـدې ډلـې څخـه یـوهم کـورني مرغـان اوڅـاروي دي چـې نـه تنهـا ورڅخه نه تنها دخوړو اوکارلپاره ګټه اخیستل کیږي بلکې له د ژوو څخه یې نورې ګټې هم اخیستل شـوې دي لکـه چـرګ چـې نـه تنهـا داکـورنی مرغـه دغوښـې لپـاره ساتل شوی دي له ګړۍ وړاندې یې دبشـري ټـولنې تـه دوخت پـه پیژنـدلو کې چوپړ کړی دی.
همداشان دچرګ غږ چې له دیني اړخه بهترین اومهم غـږ دی وایـې چې ملایکې لـه مځکې څخه داسمان په لورځي یا ملایکې وینې چرګ بانـک کـوي ددې تـر څنګ دشپې لخوا پـه بیلوبیلو وختونوکې دری وخته اذان کوي چې لومړی یې دشـپې پـه لومړی برخه کې، د دویم اذان یې دپړشمې اودریم به یې د سپیده داغ غږوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پربوونې:
چې کتې يې هم بل نوم دی هغه ستوري چې له نورو واړه په يوه ځای کې راټول شوي ښکاري چې شمير يې دقيق نه دی خو دوولس ښکاري د خپل حرکت له مخې يې خلک موسمونه او د شپې وختونه معلوموي ، خلک پدې باور دي کله چې شپې اوږدې شي پروني هم د شپې لخوا لويږي، د سيموالو په وينا پرونې د غبرګولې د مياشتې په اوږدو کې راخيژي د لينده مياشتې په اوږدو کې لويږي چې ديو شمير بوټو دو چيدو لامل کيږي ،همدا شان يو شمير وحشي ژوي هم د خپل ژوند د پايښت په موخه پنځښت چارې له همدې ستورو تنظيموي پخوا چې د وحشي ژوو شمير زيات وو د سيمې ښکاريان به د غرڅه د غرني ژوي د ښکار په موخه غرونو ته تلل.

تلې:
په زړه پورې دا ده چې د تلو په نوم ستوري هم هغه تلې ته چې لو مړنۍ بڼه لري ورته دي چې انځوريې د قضايي او عدلي ادارو په رسمي پيژندنښو کې هم ښکاري له همدې امله دا ستوري تلې بلل کيږي.
دا درې لوی ستوري چې ټول عين شی چې تر نورو لوی ښکاريږي له ختيځ څخه لويديځ ته په يو شان فاصله له پروني وروسته د اسمان په سينه راخيژي چې خلک ترې د شپې د بيلو وختونو د موندلو لپاره ترې ګټه اخيستلې ده دا هم نورو ستورو ته ورته په اوږدو شپو کې لويږي او په لنډو شپو کې بيا د اسمان يوې برخې ته چې د سحر راختل يې په وړاندې خنډ ګرځي ځان رسوي.

سترګه:
سترګه که څه هم د انسان د بدن د ليدلو د حس لويه برخه ده ، د سترګو جوړښت د دې لامل شوی دی چې د خپل چاپيريال ټولې ځانګړنې پرې درک شي، نو پر همدې بنسټ د سيموالو لخوا دا نوم هم پر هغه ستوري چې له ځان سره د سحر د سپيځلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رڼا زيرى راوړي او د شپې تياري نور خپله لمن ورونغاړي او هر څه ښکاره شي ايښودل شوى دى.

شپې ورځې د ژوندون به مو خوشبو کې وي نغښتي لمونځونه د سحر به په ګلونو کې ادا کړو(١)

لوى، روڼ او روښانه ستورى چې د ختيخ له لوري د سپيده داغ وړاندوينه کوي د سيموالو په وينا دلمرپرځاى راخيژي خو هر وخت نه وي ځکه دا ستورى هم دخپل حرکت له مخې ځمکې سره په بيلوبيلو موقيعتونو کې قرار نيسي.

جومتګى:

جومتګى د سيمې په اصطلاح کې لمونځ غالي ته ويل کيږي چې کومه ځانګړې ماڼۍ نه لري شاوخوا يې دډبرو پواسطه په دايروي بڼه پوښل شوې وي چې دکال په ګرمو موسمونو کې يا دجومت څخه دليريوالي پروخت به دډلييزلمانځه لپاره کاريده همدې جوړښت ته ورته داسمان په پراخه سينه ګڼ شمير ستوري راخيژي چې دا مجموعه ستوري د شپې وختونه دخپل حرکت په اساس ټاکي.

څپړکۍ:

څپړکۍ چې له ګوتو څخه ترمړوند پورې دلاس وروستى برخه بلل کيږي که چيرته ددوى ترمنځ کرښې وکښل شي دڅپړکۍ بڼه به رامنځ ته کړي چې د سيمې په شته زيارتونو کې هم پرکاڼو داانځور کارل شوى دى نو پرهمدې بنسټ دشپږو ستورو دا مجموعه چې داسمان په سينه يې خوځښت ديوه وخت او موسم ښودنکى دى.

قد:

دپنځو ستورو دا مجموعه چې ترمنځ يې کرښې وکارل شي نو دانسان تنې ته ورته جوړښت به رامنځ ته کړي چې د عوامو په ژبه قد مبارک نومول شوى دى چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستورو د بشر تنې ته ورته بڼه د وخت او موسم د پېژندنې يوه پيمانه بلل شوې ده شاعر هم وايي:

رڼا به د لويدلو ستورو راوړي
چې د ستورو په مدار سړي لرو

غل:
غل د عوامو په ژبه تر ډېرې کچې قد ته ورته دی تو پيريې پدې کې دی چې غل د څلورو ستورو مجموعه ده کله چې د ستورو ترمنځ کرښې وکاږل شي دانسان له تنې يو لاس پريکړی ښکاري له همدې امله ورته غل ويل کيږي چې وړاندې سيموالو پيژندلی او د وخت د پيژندلو يو توکی يې کارولی.

نغرى:
نغری داوربلولو ځای ته ويل کيږي چې معمولا په دوه ډوله وي يو يې دايمي دي چې له دريو تيږو جوړوي او بل ډول يې ليږدونکي دي چې کوچيان ورځنې ګټه اخلي دهمدغه ورتوالي پربنسټ دريو ستورو مجموعه هم پدې نامه سره نومول شوې ده چې د وخت د پرتله کونې يو توکی کارول شوی دی.

ميلمه:
ميلمه پالنه چې اسلامي دود دی نيکمرغه چې دغه ارزښتمن ارزښت زموږ په ټولنه کې تر د کچې ژورې ريښې لري چې ستوري هم پرې نومول شوي دي د ميلمه په نوم پيژندل شوی ستوری چې سوربخن رنګ لري، تر نورولوی ښکاري او دلماسختن په داخليدو د سيمې د اسمان له تختې لويږي.

سپوږمى:
سپوږميز تقويم چې زموږ ديني تقويم دی خپل دوران او بڼه ديوې مياشتې په اوږو کې سرته رسوی چې د عوامو لخوا دعاشور، صفره، مشره خور، دويمه خور، منځوی خور، کشره خور، برات، روژه، کمکی د عيد، ميانه او لوی عيد

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومول شوې دي. د سپوږمیزې میاشتې اتمې نیټې څخه وروسته له غرمې په اسمان کې دورځې لخوا نیم دایره غونډې په سپین رنګ ښکاري سیمې زیاتره خلک له همدغه حساب کاراخلي نه تنها دا بلکې زیاتره چارې چې دورځې لخوا ورته وخت نه موندل کیږي لکه لوکول او نور د سپوږمې درڼا څخه په کار اخیستو خپلې بوختیاوې سرته رسوي

سپوږمیه کړنګ وهه راخیژه
یار می دګلو لو کوی کوتې به وربینه

ستوري:

دلته دمیني لیونې او سیږي
دلته هر ستوری له مداره وځي (۱)

دا کلیمه هغه وخت کارول کیږي کله چې هوا بدلون کوي یا نوې لمریزمیاشتې پنځلسمه نیټه رارسیږي زیاتره وخت ورسره پسرلنی سړښت اوژمنی سړښت چې د سږې هوا له امله دبوټو له منځه تلولامل کیږي خلک وایي ستوری راختلی دی اوهره میاشت یو ستوری لري چې مشهوریې د میزان ستوری دی
چې سورستوری یې خلک بولي او همدا شان دا کلیمه خلک دخپل قوت او طاقت لپاره هم کاروي.

دبوډۍ کنې:

همدا شان یوشمیر نور ستوري هم شته دي چې سیموال یې پیژني او ځانګړې نومونه یې پرې ایښودي دي لکه هغه دځلورو ستورو مجموعه چې خلک یې موږې بولي که چیرته ددوی ترمنځ کرښې رسم کړل شي نو لوزي ته ورته شکل به جوړ کړي همداشان دد ځلورګوټي لنډې اړخونه.
پرد سربیره په لوید یخه ضلعه کې د سویل لوید یځ او شمال لوید یځ موږیو په منځ کې د لوید یځ لورته په تیرو یوشمیر نور ستوري دوري ،بوډۍ ،لیوه اونورو په نومونوشتون لري چې ځینې یې واړه اوځینې یې لوی دي چې دا ټول جال دبوډۍ کنې په نوم سره یادوي چې خلک دوی دموقیعت په اساس دکال ځلیزونه پیژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیلي او مجنون:

دا دوه ستورې چې یویې مجنون او بل یې لیلی نومیږي په کال کې دوه ځله دعوا مو دتجربې اوژبې په حواله دماښام لخوا یو بل ته نږدې کیږي:

چې وایي:

اسمان ته لار دختو نشته
لیلی او مجنون په عاشقی ختلی دینه

لمر ځرک:

لمرغیږه خلاصه کړې ده ذرې په کې نخښیږي
سحر په مستی راغی څه روښانه زندګی ده(۵)

ځرنګه چې لمر د کال په بیلوبیلو موسمونو کې تریوه کال پورې خپل منظم دوران دورځو په اوږدوالي اولنډوالي سره کوي نوله همدې امله یوه ثابت وخت نه وي خو خلکو دورځې داوږدوالي اولنډوالي محاسبه پرې کوله ځرنګه چې خلکو دلمرد راختلوځای اولمر لویدلو ځای معلوم وونوله همدې امله دوی پوهیدل چې د ورځې اوږدوالی معلوم کړي خپلې ورځنی چارې ورسره همغږې کړي چې یوه بیلګه یې هم په نوموړې وخت کې پرکرنیزوځمکو داوبولګولو دوارد تسلیمول دي ځکه چې په کلیوالو سیموکې ځمکه دحقابې له مخې ویشل کیږي چې دکلي په کچه یو یا څو شوا روزه وي چې بیا دا شواروزنه دکلیو دپلرګنیو په منځ کې ویشل کیږي ،دنسبی سلسلو اوپښت پرډیریدو پرځمکه دمالکیت کچه ورو ورو کمیږي او په پایله کې دا لاس ته راځي چې دحقابې دویش له مخې دکهول پراختیا پیدا کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلدره دګربت لوید یځ لورته پرته دره ده چې بشر ډیر وړاندې په کې خپل قدم وهلی دی له هغه ورسته خلکو خپل کارونه دلمرخرک له مخې چې دهغه وخت دکلیزې بدیل شمیرل کیږي موسمونه وختونه ټاکل خلکو به له عمومي او ثابت ځای څخه لمر ځرک ته کتل دوی دلمر حرکت په کال کې دسترناو دغره له سرڅخه تر تبی ناو پورې چې دولس میاشتې یې پوره کولې ټاکلی وو.

لومړی څلیز(پسرلی):

لابه واه شي ډیر ګلونه

چې دبهار په راتلویې اغاز دی

چې په سیمه کې ورته څړمونی ویل کیږي او له څړموندوني څخه اخیستل شوی ده ځګه پدې موسم کې

ورشوګانې راشنې کیږي پدې وخت کې نوی ویوکی چې نهه نیمې بلل کیږي کارول کیږي چې دوري میاشتې لومړی لسیزه چې دسخت او مسلسل اوربښت سره مل وي داولسی روایتونو له مخې.لمر ځرک دسپیتاو له څلي ښي لورته دسترناو شاته راخیژي په سیمه کې دونو دکینولو ، دکښت دشنه کولو ،دپاڼودزرغونیدو ،دډول ډول ګلانودراټوکیدو ، ددښتو اوغرونو دشنه کیدو ،څړځایونوته دڅارویودپولو ،دواورې دویلې کیدو اودنرم باران داوریدو موسم وي چې له امله یې دګربت خړکی سیند چې داوبپوهنې له مخې لنډمهاله سیند دی په پوره مستی اوزوږسره په دره کې تر داندازې په شدت بهیږي چې خلک پرته له پلونوله یوې غاړې بلې غاړې ته تلای نشی ،ږلی هم پدې موسم کې اوریږي، باد هم خپل لګید لوري ته بدلون ورکوی او همداشان زیاتره کارونه اوعامه چارې پدې وخت کې داشر په بڼه ترسره کیږي.

دویم څلیز(اوړی):

داوخت لمرخپل حرکت چپ لور( بیرته دسپیتاو لور )ته پیل کړي داوخت شپې په اوږیدو شروع وکړي زیاتره میوې (زردالو ،الو ،جورسې منې، شفتالو اوتوت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

اودانې(شاخل، مشنګ ،غنم، اوربشې اونسک ) پدې وخت کې ثمر ته رسيږي اوراټوليږي خلک هم پدې وخت کې زيات بوخت وي هو دلنده بل په ملتيازياته ګرمه وي
داوخت داوبونشت سره خلک مخ وي دګربت په ناونوکې بندونوجوړيدل يې نه تنها دکافي اوبوزمينه برابروي بلکې ورسره کرنه دشمير اوخرنګوالی له مخې ورسره ډيروالی اوښه والی منځ ته راوړي.

دريم ځليز(منی ):
داوخت لمر هغه ځلي چې دسپيتاو دغونډی دپا سه جوړ شوي دي دوري اودتلې لومړی نيټې په يوځای کې راخيژي ،دتبې ناو لورته په حرکت کې وي دژمنيو کښتونو(ژمني ډوله غنم) مو سم شروع شي، چې دونوپاڼيې هم ورسره ژيړيږي اوتويږي ، دځينو ميوو لکه دمڼو دپخوالي اوراټولولو وخت رارسيږي اوکله کله پدې وخت کې هوا ډيره سړه وي دواورې اوريدل اوداوبويخ کيدل هم په کې شروع کيږي.

څلورم ځليز(ژمی ):
لمر له يلدا شپې وروسته په ښي لوري راوګرځي لکې تيرې ته په رسيدوسره يې ځله شروع شي تر هغه چې دمدرسې غونډۍ ته برابرشي اوځله ختمه شي تر ځلې وروسته يخې شپې دقندوچيو وي چي لمرپرې راخيژي اودنوي کال لومړی نيټې پورې سپيتاو ته رسيږی دا موسم داوروسختې يخنی سره مل وي هرڅه داورې په رنګ پوښل شوي ښکاري زياترې چارې پدې وخت کې ترلې وي اودژمي دموسم مشهورې برخې لويه ځله ، وړه ځله ،لومړی حوت ،دويم حوت اودريم حوت دی.

لمر لويدل:

سحر هغسې نه دی مازديګر هغسې نه دی
اوس مې زړه بند په څڼوکې دلمرهغسې نه دی(۴ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حقیت ته په کتو چی د لمر د کال په بیلو بیلو ځلیزونوکې د مځکې سره بیلې بیلې زوایې نیسي چې دورځې اوږدوالی او لنډوالی لامل کیږي نو د لمر لویدل هم د ځایونوله مخې توپیر کوي د ګلدرې په سیمه کې لمر لویدل په هغه غره باندې کیږي چی د مرکزی لوړې سطحې سیمې بلل کیږی د غزني ولایت اړونده سیمې بیلوي چې دلوګربابا له څوکې څخه ترګل کوه لمنې پورې فاصله په برکې نیسي چې کارونه یې ډیره کمه ښکاري.

د زانیو تلل اوراتلل:

موسم بدل دی ښایی چې تللي مرغان بیرته راشي
دخپل وطن ته دکډوالو کاروان بیرته راشي(۱)

زانیی د پسرلی په موسم کی معمولا له پسرلنی اعتدال څخه وروسته د سویل له خوا د شمال لورته په مخروطی بڼه جوپه جوپه له سیمي څخه دیوه ځانګړي غږ په لرلو سره په تیریدو کې وي چی د پسرلی د راتلو نښه بلل کیږی، همدا شان دوی د منګنی اعتدال وروسته چې د تلې میاشتې سره سمون لري او د مني د راتلو نښه بلل کیږي نو موږي کاروانونه بیرته په عین مسیر راګرځي نه تنها زانی بلکی یو شمیرنورمرغان هم لکه غچی، شودوپی، ثوری مرغی، چنچوښکی مرغی او داسی نورډول ډول مرغان پدی موسم کی دی سیمی ته راځی او د مني په راتګ سره ځي.

سرخاب:

سرخاب هغه لنډ مهالی سیند ته ویل کیږي چې د پسرلي له پیله دهوا په تودوالي سره دلکې تیږې ،مینه کوه او سترتنګي د تنګیو په خوړیواوناوونوکې د باران ،ږلۍ ،واورې ،ژغژری داوریدو دیخچالونو اود پرتوواورو د دویلې کیدو څخه منځ ته راځي او دغویې دمیاشتې درارسیدو سره یې اوبه کمې یا وچیږي ،ددې لنډمهالي سیند اندازه ،کچه او وخت هرکال دبیلوبیلو لاملونو له مخې لکه دتودخې درجه، اورښت اودواورې زیرمې ته په کتو کم یا ډیر توپیر کوي چې دډیروالي اولږوالي له مخې یې د کرنیزکښت پوښښ زیاتیږي او کمیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سرخابونو نشتون او کمیدل دوچکالی دوراند وینې ښېي بلل کیږي خو له بلې خوا له داوبو څخه پوره او اغیز منه ګټه هم نه اخیستل کیږي.

ماښام کیدل:

تور ماښامونو ته مې پرې نه ږدې
ګوره شین سحر کې مې راونغاړه(۲)

ماښام د شپې پیل یا لومړی مرحله ده چې مسلمانانو ته ځانګړی ارزښت لري ځکه پدې وخت کې موږ دیوه فرضي وخت لمونځ ادا کوو همدا شان خپل رب ته د دعا لاسونه لپه کوو داخرت او ددنیا په کارونو کې ترې مرسته او ښېنه غواړو نه تنها دابلکې دروژې په مبارک میاشت کې هم ددې وخت انتظار باسو دا ماښام هم دځمکې د وضعی حرکت سره تړلی چې وضعی حرکت بیا دځمکې دانتقالي حرکت سره داړیکو دلرلو له امله ثابت نه وي که څه هم ددغه توپیرونو لپاره سیمیزلښتپانې جوړې شوې دقیقې نه دي ،شمیرېې کم دی او په هر ځای کې ورته لاس رسی نشته عموما په کلیو اوبانډو کې دختیځ څخه دتورې تیارې راخپریدل چې دشپې دراتک ګواهي ورکړي ماښام بلل کیږي.
سپینې لیکې:
دالیکې چې شمیرېې دوې دی یوه یې اوږده پلنه بله یې نری اولنډه لنډه دشمال ختیځ څخه شمال لویدیځ ته په موازي ډول غځیدلې دي عوام یې ددلدل منډه بولي داوړي په شپو کې دلماښم څخه وروسته دشپې په لومړی برخه کې داسمان په پراخه سینه ښکاري او ستورپوهان یې کهکشان بولي او ګڼ شمیر ستوري یې په ځان کې ځای کړی دی.

وریځې:

تورې وریځې کوږه کوږه پلنې
ترې وتلې دلمر ژیړې ژیړې ستنې(۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

وریځې په طبعیت کې داوبو دوران دمهم غړي په توګه چې تر اوسه ساینس پدې توانیدلی چې اویا (۷۰) ډوله وریځې دوی ځانګړنو ته په کتو(رنګ، لوړوالی، پراخوالي ،بڼې، اورښت، پلنوالی، خوځښت لوری، اونور) بیلې کړي هو چې دغه ځانګړنې نظرموسم ته بدلیږي بیلګې په توګه په پسرلي کې توررنګه ،کم دوامه ،غړلرونکې، بریښنا کوونکې، ټکه غورځیدونکې، عمودي ډوله غوړیدونکې وریځې وي مګر په ژمي کې سپین رنګه، دوام لرونکې، بې غړه، بې بریښنا ،پې ټکې په عمودي او افقي دواړه ډوله غوړیدنکې وریځې دي یو متل هم داسې وایي:

( تورې وریځې ډارول کړي سپینې ارول )

دورته سیمې ته مخامخ ښکاریدونکي غرونه چې ګل کوپه نوم یادیږي چې دلوړوالي اوطبیعت له مخې دکال زیاتره وختونه په واورو پټ وي چې په سړو موسمونو کې دواورې پوښښ ترډیره را پروت وي له همدې امله دسیمې پر خلکو یې اغیز له د ټپې ښه ښکاري.

دګل کوه لوړې ژورې<br>
له سر د مه خیژه لړې

باد :

زما اوستا ترمنځ شول غرونه دیوالونه<br>
دیدن دباد په لاس رالیږه چې راځینه

باد دیوه ارزشتمن نعمت په توګه دوریځوورنکی، ددانې اومیوې جوړونکي بلل کیږي له بله پلوه دانساني ژوند ډیر پخوا له بادي قوې څخه کار اخیستی دی په سمندرونو کې یې پرې بیړی، په وچه کې یې پرې ژرندې اودهوا له لارې یې غلې دانې دبیلولو چارې پرې چلولې، خونن هم بیا دنوې کیدونکې انژری په حیث دبیلوبیلو موخو لپاره لویه سرچینه ده نه تنها دا بلکې دهغه لګید لوری چې دپسرلي له پیل وروسته لویدیځ څخه ،په ژمي کې له شمال څخه اود اوړي دورځې له نیمایی وروسته دبړبوکیو دجوړیدو لامل هم هغه څه دي چې موږ ته څلیز ښيئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونه(بوډۍ ټال):
دا هم دکال په ټولو موسمونوکی پرته له ژمی چی واوره په کی اوریږی بارانی وخت کی داسمان په مخ دغیشی لیندی ورته قوس په فضا کې دپرخې یا دبارانې څاڅکوپه بڼه داوبوشتون دلمر وړانګو پواسطه تجزیه اوپاشل کیدل ددې لامل کیږي دښکلو رنګونو مجموعه چې دورځې په اوږدوکې دلمرمقابل لوري ته جوړیږي منځ ته راوړي

غله رس ګردونه:
داګردونه چې داوړي په موسم کې د پنځلسو ورځولپاره پیدا کیږي ،دلنده بل اونورو ځانګړتیاوو په لرلوسره دغلواودانو دپخیدو لامل کیږي چی معمولا دچنګابښ اوزمري په میاشتو کی وي څرنګه چې په لنډ وخت کې دغلیزو دانو دبدلیدو(تکامل) لامل کیږي نوپه همدې اړوند په اولس کې ویل کیږي: "په نهه میاشتوکې نه رسیږي په نهه ورځوکې رسیږي "یا " زیړیی پریښي شنه یې ربیدلي ".
په پورته متلونوکې اشاره همدغه دغله رس وخت اواغیز ته شوې ده که پدې وخت کې لږڅه شنه غنم هم وریبل شي پخیږي.

پلاله سوري کیدل:
پلاله چې دغنم دبوټي د تنې برخې ته ویل کیږي خو پورتنی اصطلاح عموما دغنمودریبلو په مانادہ دا وخت له غله رس څخه وروسته وي دا وخت ځکه دزیاتې پاملرنې وړ دی چې دهوا سړښت ورسره پیلیږي نورپه غرنیو سیموکې دحاصلاتو راټولول پای ته رسیږي خو دتر څنګ د پلالې ځای له اوبونې اړونې وروسته دمنګنیو کښتونو لپاره لکه اوربشې اوغنم چې دیخنۍ پر وړاندې دواوري تر پریوتو پورې غبرګون ښودلی شي دڅارویو دتغذیې یا دراتلونکي کال ته دحاصل ورکونې په موخه کرل کیږي.

دتورو بریښیدل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتوروبريښندل چې خلک يې دبريښنا کيدلو ته چې له تالندې سره مل وي وايي دهوا پوهانو په قول دا ډول وريځې قيف ډوله بڼه لري تنها دا نه بلکې دا سمان تنيدل چې کله کله ورسره دتکې لويدل هم وي، چې پس له ژمي دآسمان تنيدل دلومړي ځل لپاره دپسرلي دموسم د پيل يوه علامه ده.

تالنده:
هغه باران يا ږلۍ ته ويل کيږي چې دکال داوړي په موسم کې اوري چې وريځې يې ډير په بيړه ديوه کلي په کچه دا سمان دتنيدلو سره چې تندرونه(تکې) هم ورسره مل وي چې ځينې وختونه دسر اومال زيان هم اړوي منځ ته راځي داوربښت شدت يې زيات،وخت يې کم اودسيلابونو دراوتو سبب کيږي چې حمزه بابا هم وايي:
حمزه پاڅه زلزلې په خيبر راوله
تل ويښ وي تندرونه له بريښنا سره

کنګل کيدل:
که څه هم داوبو کنګل کيدل معمولي خبره ده خودا فزيکي عمليه بيا په ځانګړي موسم کې کله چې دشپې او ورځې برابربښت يا دمني دڅليز له راتلو وروسته رامنځ ته کيږي دسيمې په لوړوغرنيوسيموکې دکنګلونو لويې کتلې په جوړيدو پيل کوي نه تنها دابلکې کله کله دواورې اوريدل هم ورسره وي چې په سيمه کې دساړه موسم دپيل نښه شميرل کيږي.

څله:
چې دژمي ځانګړي نښه بلل کيږي،دهيوادپه لربر کې ويونکي لري عموما دااصطلاح چې دڅلويښتې يا دڅلويښتو شپو مجموعه ده چې دلمرې کال دمرغومې له پنځه ويشتمې نيټې څخه دکب تر پنځمې نيټې پورې دوام کوي دخپلو ځانګړتياوو ته په کتووچه،لمده،وړه اولويو څلوباندې ويشل کيږي همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې وخت کې هوا تر داندازې يخه وي چې په ډيرى خونو کې اوبه دننه په لوښو کې کنګل کيږي ،واورې په پريمانه کچه اوريږي او سخت بادونه ورسره مل وي.

برله:
برله دکليمې جوړښت چې دباد دطبعى ځانګړتياوو ته په کتو له هسک لورڅخه ښکته لورته دى چې ددرې باد دى دشمال څخه په جنوب غرب (دغزنى) لورته په لمرې ورځو کې لګيږي چې د ژمي په موسم کې يې شدت زيات وي،دواور ودوړلو لامل کيږي چې له امله يې تګ راتګ چارې هم له خنډونو سره مخ کوي او ځانګړونوته يې په کتو دنوي کيدونکې انرژۍ مهمه سرچينه ده.

د حوت راختل:
کب دکال وروستى مياشت ده چې لړبرخه يې څله په بر کې نيسى له څلې وروسته دکمکى حوت وخت رارسيږي چې نښې نښانې يې دځمکې څخه تاوونو را وتل دي کله چې دا اندازه زياته شى دلوى حوت نومول کيږي چې عموما دکب دمياشتې له پنځلسو ورهاغه خوا پيليږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فالونه

د انګیرنو بل ډول فالونه دي په فالونو کې ځیني کسان په دې باور دي چې فال له طالع سره نیغه ګنډه خوړلې ده یانې هغه څوک چې طالع یې سمې وي نو فال یې هم سم راخیږي خو فالل د چا په برخلیک کې مثبت او منفي اغیز نشي کولای کولای یوازې په هماغه لومړی شیبه کې پرې د فالوال زړه ښه کیږي او یا خفه کیږي ، فالونه او فال اچول اکثرا او معمولا د قدر د ښې شپې په شپه د پیغلوټو نجونو لخوا د قول په ادآ سره ترسره کېږي او دیو چا په هغه (نمونه) چې دده په نامه په منګي کې اچول شوې ده د قول په بنا فال نیول کیږي او ویل کیږي ، په دې ډول چې د را ټولو شویو نجونو څخه به له یوې نجلۍ نه موقتي ناوکۍ جوړیږي شال پرې اچول کیږي او ترهغه لاندې به دناوکۍ پخوا پورې یو منګۍ چې تر نیمایې پورې به له رښو او پاکو اوبو ډک و ایښودل کیږي او په منګي کې به دحاضرو او غایبو کسانو لپاره (نمونې ) اچول کیږي چاته به دا نه وي معلومه چې دا نمونه د چا شوه او هغه د چا شوه ؟ علی الخصوص ناوکۍ ته ، نمونه به یوازې خپل خاوند پیژني او یا هغه څوک چې د بل لپاره یې په منګي کې نمونه اچولې وي ، خور ورور ته ، مور زوی ته ، ښځه خاوند ته او پیغلوټېنجونې خپل دژوند په نا معلوم ملګري فال نیسي ، لنډه دا چې په منګي کې اچول شوې نمونې له ګوتمۍ ، کوچنی چاکو ، بنګړي ،چارګل آیئنې ، غټې تنۍ ، ګوت مو ، ړمنځ ، قیچي ګیراګانو بنګړي او نورو څخه عبارت وي او بیا فال پرې اچول (نیول) کیږي کله چې فال واچول شو نو ناوکۍ له منګي څخه یوه نمونه را وباسي اوهغه په خوا پورې ناستې ټنګورې ته ورکوي بخت طالع که دچا فال ښه وي نو د کوټې په کنج کې لوړ خوشحاله کښیني او که د چا فال خراب را وخیژي نو فالوال خفه او ناستې نجونې ورباندې ملنډې وهي.

د فال په اچولو او د نمونې په رایستلو ډیرې خنداوې کیږي ، په تیره بیا په دې فال چې وو ایې (آشړي با شړي ښکته زیړه غوا شړي ) کله به چې دا قال د چا په فال را وخوت نو خنداوې به وې او که به دا فال چې ، که ګل دی دریدې دی لایق

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تورپیکي ، د چا په طالع را وخوت که به پیغله وه یا ځوان نوډیر به خوشحالېدل او ځان به یې بختورګاڼه.
دفالونو نور قولونه به داسې وه ، نه ږغ لرم نه سپاره روزي غواړم په تیاره ، د تیر اوږه دریږي مرغلرې ترې تویږي ، که ګل دی د سنځلې دی لایق د پیغلې نجلې ، نه کرم نه ریبم سپیرې ځې اړوم ، په شیدیاره کې دامونه که تر دې دامو را تیر شوي پسرلی دی زیړ ګلونه.•

---

• (۲۳) ۱۲۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# متلونه

متلونه د هوښيارو ذهنونو زيږنده وي د متل ويونکي او وخت هم چاته نه وي معلوم ، متل خام او د زمان تابع کلام هم نه شي واقع کېداى ، پښتو متلونه په ټولو پښتنو ګړو شريک دي او هيڅ قام په خپل نامه قومي متلونه نلري او که د کوم قام نوم په متل کې ياد شوى وي نو متل د هغه قام نه دي لکه ( توري پورغواړي افريدي نورغواړي ) دا متل نه د افريديو دى او نه هم توريو يوازې د دغه قومونو نومونه پکې ياد شوي او د جوړيدو او استعمال وجه يې داده چې مثلا په ( لانجه کې را ښکيل دوې ډلې دريم ګړيو ته ناستې وي او هرډله د ځان په ګټه لوړې او ډيرې غو ښتنې ولري او ځان حق په جانب وګڼي دريم ګړي ددوى تر منځ د لانجې له حل عاجز شي نو وايې عجبه ده توري پورغواړي افريدى نورغواړي ) خو اصلا متل د کلام د تائيد لپاره د کانې کرښه ده کله چې د چا په خبره او يا عمل متل تيرشي که يې په ګټه وي يا زيان مني به يې ځکه متل هغه تجربه ده او پخه پرځاى خبره ده چې هيڅ بدلون نه مني

د متلونو يو څو نمونې په لاندې ډول دي .

(ژرنده که د پلار ده هم په وار ده )

دغه متل د عدل او نياو د تطبيق لپاره استعماليږي او چاته ددې اجازه نه ورکوي چې د بل چا حق وخوري او يا له چا سره زياتى وکړي دغه متل حق ته ددعوت لپاره هم استعماليږي او ورځنيو پيښنو کې ډير استعماليږي.

اوبه په ډانګ نه بيليږي

دغه متل ددې لپاره استعماليږي چې وغواړي ديو چا ترمنځ بيلتون او يا ددو بې روح ځيزونو ترمنځ اشتقاک طلب شي خو ډيرى د انسانانو ترمنځ استعماليږي يانې که څوک دچا په منځ کې شيطانت کوي نو دريم کس ورته وايې ددوى ترمنځ ؛(ټکټکه ) مکوه دوى سره خپلوان دي (اوبه په ډانګ نه بيليږي) ستا پر مداخله دوى نه دوه ځايه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(خپله لاسه ګله لاسه) چې څوک د بل له احتیاج نه خلاص یو کار وکړي او نورو ته خوند ورکړي نو وایې خپله لاسه ګله لاسه ، څومره ښه وشول چې په خپل لاس یې دغه کار ترسره کړ

(له یوه لاسه ټک نه خیژي ) دغه متل ددې لپاره استعمالیږي چې څوک د یوه داسې ټولنیزکار د سرته رسولو تکل وکړي چې هغه د عام ولس په خیر وي خو په یوازې سریې سرته رسول سخت وي نو خلک متل کوي راځی چې ورسره ملګري شو له یوه لاسه ټک نه خیزي.

(ژوند مرغه نه دي چې راشین شي )

دا متل خلکو ته د خطر زنګ دی او دیته یې متوجې چې په ځوانی کې د الله بندګي او د الله د مخلوق خدمت وکړه کله بوډا شوې نو بیا د څه په وس نشته ، ځکه ژوند مرغه نه دی چې را شین شي.

(خپل خرنلري د بل په آس پورې خاندي) دا متل دداسې چا لپاره استعمالیږي چې د بل په شتمنیو پورې خاندي نو خلک وایې پخپله خر نلري د بل په اس پورې خاندي

(خپل عمل د لارې مل) دا ډیر مشهورمتل دی او ددې لپاره استعمالیږي چې یو څوک که ښه کار کوي او یا بد هغه ورسره ملګری وي که څوک ښه کوي ښه به ګوري او که بد کوي بد بهویني.

(چې څه کري هغه به ریبي) دغه متل هم برني متل ته روته دی په دې متل کې زیاتره د پلار مور سره سلوک ته اشاره کیږي که د پلار سره دې د خپلې ځوانی په دوران کې ښه کوي نو ښه به ریبي او که بد کوي ته به هم له خپل اولاد نه په بودا توب کې بد ګوري.

(د زمري غار بې هډوکي نه وي) دغه متل ددغه لپاره استمالیږي چې څوک له یوچا نه دیوې تمې په اړه هیله من او ناهیلی وي نو نور ورته وایې د زمري غار بې هډوکي نه وي دا تمه دې ترسره کیږي.

( بازخانه بې بازه بې بازه نه پاتیږي ) دغه متل داسې مفهوم ارایه کوي چې په کومه کورنۍ کې چې کوم تکړه او غیرت مند کس تیر شوی وي نو د زمانې په تیریدو سره بیا هم په دې کورنۍ کې یو داسې کس راپیدا کېدای شي چې د خپلو پخوانیو بازانو ځای ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# منې ګل مشاعره



د ملي هدف اونیزې له آرشیف څخه۱۳۹۴ لمریزکال

د منې ګل دودیزه کلنۍ مشاعره د وردګ فرهنګیانو د غوره کلتوري کړنو یوه بله مهمه لاسته راوړنه ده. د منې ګل مشاعره له نن څخه څوارلس کاله وړاندې د وردګو د چک ولسوالۍ د شاعرانو او فرهنګیانو له خوا د مصطفی حماس په مشرۍ رامنځته شوه. د منې ګل مشاعرې لومړۍ ناسته د وردګو په بند چک ولسوالۍ کې د لنګر شګې ته څېرمه د منو په یو بڼ کې رامنځته شوه چې د وخت والي عبدالجبار نعیمي ، د ولسي جرګې یو شمېر غړیو ، سیاستوالو او د شعر او ادب سلګونو مینه والو پکې په ډېر شور او ځوږ سره په ځانګړې علاقمندۍ ګډون وکړ او په ازاده فضا کې پکې هر راز ، انتقادي، وطني، عشقي شعرونه او مست مست غزلونه وویل شول. وروسته دغه مشاعره په نوبتي شکل نورو ولسوالیو ته هم وغځېده، خو د امنیتي ستونزو په زیاتیدا سره منې ګل مشاعره مرکز میدانښار ته راغله. په منې ګل دودیزه مشاعره کې د هیواد دلر او بر څخه هر کال له ۱۰۰۰ تر ۲۰۰۰ پورې شاعران او د شعر مینه وال ګډون کوي، په دې مشاعره کې پر شاعرانو سربېره لوړپوړي چارواکي او سیاستوال هم ګډون کوي او له ویرې او سانسور پرته پکې د شعر په بیلابیلو ژانرونو کې شعرونه ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د منې ګل مشاعرې مالي لګښت پخوا د شاعرانو او ځايي پانګوالو له خوا ورکول کیدا ، وروسته د ولايت د والي حليم فدايي په مالي لګښت د ولايت د مقام او اطلاعاتو او کلتور رياست په ګډو هلو ځلو جوړيده، خو په دې وروستيو کلونو کې ياده مشاعره د وردګو د اطلاعاتو او کلتور د رياست په هلوځلو او مشرۍ جوړيږي چې هر ځوک پکې ګډون کولای شي.

منې ګل دوديزه کلنۍ مشاعره اوس د هيواد او سيمې په کچه پيژندل شوې مشاعره ده، دغې مشاعرې اوس خپل خاص ځای نيولی او پيل يې د ولسمشر په پيغام سره کيږي. د بيلګې په توګه د وروستۍ (۱۴ کلنۍ) دوديزې مشاعرې په اړه د ولسمشر محمد اشرف غني پيغام دلته راوړو چې په اړه يې ليکل شوی دی:

<u>د څوارلسمې منې ګل دوديزې مشاعرې د جوړيدو په مناسبت د افغانستان د جلالتمآب جمهور رييس پيغام</u>

خوشحاله يم چې ميدان ښار يو ځل بيا د منې ګل د لويې مشاعرې کوربه دی. دغسې لويې کالنۍ مشاعرې د هيواد د مختلفو ولايتونو د فرهنګيانو او ادبدوستانو د ليدنو کتنو او له يو بل سره د هنري تجربو د شريکولو فرصت برابروي او نه يوازې د ادب او کلتور له ودې سره مرسته کوي بلکې د افغانستان د خلکو تر منځ د تفاهم په زياتولو او د ملي وحدت په ټينګولو کې هم نقش لوبوي .

زه د ميدان وردګو ولايت له فرهنګي ټولنو ، اديبانو او د اطلاعاتو کلتور له رياسته مننه کوم چې د منې ګل مشاعرې د جوړيدو بندوبست يې کړی دی او دا زمينه يې مساعده کړې ده چې د مختلفو ولايتونو شاعران او فرهنګيان له يو بل سره شريکه کلتوري مېله ولري.

اميد دی چې د منې ګل ۱۴ مه کالنۍ مشاعره او کلتوري مېله د يوې ګټورې عنعنې په حيث وپالل شي او کال په کال يې په کيفيت کې بهتري راشي.

د افغانستان د اسلامي جمهوريت جمهور رييس محمد اشرف غني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مدني او کلتوري ټولنې



۱ – عهد ادبي او کلتوري ټولنه
۲ – د جغتو مدني او کلتوري بهیر
۳ – د خواخوږې ادبي او کلتوري ټولنه
۴ – د وردګو ځوانانو ادبي ټولنه په ۱۳۸۴کال کې د هاشم شېراني په مشرۍ رامنځته شوې ده.

۵- د وردګو د خلکو د یووالي ټولنه:
دغه ټولنه په میدان وردګو ولایت کې د امان الله عالمي په مشرۍ رامنځته شوې ده.

۶ -دوردګو د معیوبینو اجتماعي ټولنه: دغه ټولنه په میدان وردګو ولایت کې د محمد الله په مشرۍ رامنځته شوې ده.

۷ - دافغانستان د مبتکرو ښځو ټولنه: د ګل اندام دنیا په مشرۍ رامنځته شوې ده.

۸ – د چک ادبي بهیر
۹ – د وردګو ځوانانو مدني ټولنه
۱۰ - د ژورنالستانو اتحادیه
۱۱ – د ځلاند هنري او تربیوي ټولنه
۱۲ - خویندو یون ټولنه
۱۳- د وردګو ځوانانو مدني ټولنه
۱۴ - د اخلاص مدني ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵ - جغتو ادبي او علمي ټولنه په ۱۳۸۹ کال کې په میدان وردګو ولایت کې د عبدالمتین په مشرۍ رامنځته شوې ده.
۱۶ د اخلاص ټولنه
۱۷ - د وردګ فرهنګي خوځښت
۱۸ – سوله پالو ځوانانو ټولنه
۱۹ – د غازي کریم خان ولسي شورا
۲۰ – فکري سمون
۲۱ – د وردګو قومي عالي شورا
۲۲ - د وردګو ولسونو ټولنیزه شورا
د روښنې موسسه:
۲۳ - د ډاکټر روشنک په مشرۍ رامنځته شوې ده.
۲۴ - د خواږې علمي ،فرهنګي او ادبي ټولنه:
یادې پورته ټولې ټولنې د حامد کرزي په مشرۍ د حکومت له رمنحته کېدو وروسته په بېلا بېلو کلونو کې رامنځته شوې دي.

# رسنۍ

د وردګو سیمه کابل ته د نږدې والي له امله زیاتې رسنۍ نلري ، خو هغه رسنۍ چې وخت ناوخت یې پر دې ولایت کې خپرونې کړي یا یې اوس هم فعالیت دوام لري په لاندې ډول دي:
الف- غږیزې رسنۍ
ملي راډیو. د وردګو ملي راډیو نشرات سیمه ییز دی یعني د ولایت په څو محدودو ولسوالیو کې اوریدل کیږي، له یوې خوا د وردګو سیمه جګ جګ غرونه لري له بلې خوا د وردګو سیمې ته د مرکزي ادارې د کمې پاملرنې او کمو امکاناتو له امله چارواکي په دې نه دي توانیدلي چې یاده راډیو غښتلې کړي څو په ډیرو سیمو کې واوریدل شي،ځکه چې د وردګو ملي راډیو تر اوسه په ایف ایم څپو په شوا روز کې دوه نیم ساعته خبري، ادبي او معلوماتي خپرونې لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې هڅه روانه ده څو د يادې راډيو خپرونې د کيفيت او پريکوينسي له پلوه غښتلې شي.
د وردګو ملي راديو تلويزيون ۱۱ تنه کارکوونکي لري په ۳، ۴، ۵، ۲، ۷ او اتمو بستونو کې په کم معاش کار کوي.
تجلا راديو تلويزيون:
تجلا خصوصي راديو تلويزيون د ۱۳۹۱ کال د زمري يا اسد له ۲۸ نېټې را په دې خوا په ايف ايم څپو په خپرونو پيل کړی دی، ياد راديو تلوزيون اوس په شوا روز کې ۱۲ راديويي خپرونې لري، تمه کيده چې د دې راديو تلويزيون تلويزيوني اړخ به هم فعال شی خو په وروستيو کې د دې راديو د مشر انجنير محمد عمر حليم د مړينې له امله د تلويزيوني نشراتو د پيل کيدا هيلې په ناهيليو بدلې شوې دي.
د يووالي غږ راديو
د يووالي غږ راډيو د وردګو د سيداباد په ولسوالۍ کې په ايف ايم څپو نشرات کوي، د دې راديو موسس او مسول مدير حضرت الدين نصرت دی، ياده راديو د امکاناتو د کموالي او اقتصادي ستونزو له کبله تر اوسه په دې نه ده توانيدلې چې ۲۴ ساعته منظمې خپرونې ولري، په هر حال ياده راديو د نورو راديو ګانو په پرتله ځواکمنه او خپرونې يې نسبتا منظمې دي. د يوالي غږ راډيو د سيداباد ګڼ ميشتې ولسوالۍ څخه خپرونې کوي، يوالی غږ راديو په سيداباد سربيره د چک ولسوالۍ او لوګر د سجاوند په ځينو سيمو کې هم په ايف ايم څپو اوريدل کيږي.
ب- چاپي رسنۍ:



د وردګو اطلاعاتو او فرهنګ رياست له آرشيف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ملي هدف) د اطلاعاتو او کلتور د ریاست خپرونه دا اونیزه د ۱۳۸۲ کال راهیسې د وردګو د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له خوا خپرېږي، ملي هدف د چاپ له پیل تر اوسه څو ځله له چاپه پاتې شوې ده ، په وروستیو کې په دې اداره کې د بې غوریو او ګډوډیو له امله پوره درې کاله یعني له ۱۳۸۹ تر ۱۳۹۱ کال پورې له چاپه پاتې وه ، خو له نیکمرغه د وردګو د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست ته زماله تګ سره سم د دریم ځل لپاره په نوې بڼه د چاپ په ګاڼه وپسولل شوه او اوس له تیرو ځلورو کلونو راهیسې په منظمه توګه په څلورو مخونو کې چاپیږي، زه چې دا معلومات لیکم ، د دې اونیزې ۱۸۵ ګڼه ترچاپ لاندې ده.

ملي هدف چې یوه خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه ده دریم مخ یې د شعر او ادب مینه والو ته ځانګړی شوی دی چې هر شاعر او د قلم څښتن پکې خپل ځان لیدلای شي او خپل احساسات او فکر نورو ته رسولای شي.



د دې اونیزې لپاره تر ټولو ستر خنډ د بودجې نشتوالی دی، چې له امله یې کله ناکله دغه اونیزه یوه یا دوې اونۍ ناوخته چاپیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غښتلي ځوانان جریده د غښتلي ځوانان لومړۍ ګڼه د لومړي ځل لپاره په ۱۳۹۲ کال کې چاپ شوه، د دې مهالنۍ خپرونې موسس او د امتیاز خاوند محمد اورنګ مختار دی او مسول مدیر یې محمد نسیم رسا دی.




غښتلي ځوانان: خپرونه لکه چې له نامه څخه یې ښکاري د ولایت په کچه د هغو ځوانانو په اړه لیکنې او معلومات خپروي، چې په یو نه ی لحاظ له نورو غښتلي او ځواکمن وي، دغه خپرونه د ځوانانو د استعدادونو د ودې لپاره یوه په زړه پورې خپرونه ده، چې له لارې یې د دې سیمې خلک کولای شي خپل پوهه او غښتلي ځوانان وپیژني او د دې ځوانانو له تجربو نور ځوانان ګټه پورته کړي.

ویښ: ویښ د وردګو د ځوانانو لپاره یوه بله ۱۵ ورځنۍ خپرونه ده، دغه خپرونه د لومړي ځل لپاره په ۱۳۹۱ کال کې د وخت د والي محمد حلیم فدایي د واکمنۍ پر مهال د وږي یا سنبلې په اووه ویشتمه نیټه له چاپه را ووتله، د یادې ۱۵ ورځنۍ خپرونې د تاسیس موخه د سیمې د ځوانانو سیاسي ویښول او د جګړې له اور څخه چې قربانیان یې تر ډېره ځوانان دي د سولې خواته رابلل دي و، ویښ ټولنیزه سیاسي او فرهنګي خپرونه وه، چې په څلورو مخونو کې په رنګه کاغذ په ښکلې بڼه د زر تیراژه په شمېر چاپیدله.

د ویښ خپرونې موسس او مسول مدیر محمد اورنګ مختار دی، چې دا مهال د مالي اماناتو د نشت له امله له چاپه پاتې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وينې که څه هم چې ډېره چاپ نه شوه او د ځينو مغرضو او خودخواه اشخاصو له خوا له ستونزو سره مخ شوه، خو په ډېر لږ وخت کې يې ډېر نوم او شهرت پيدا کړ.
منې ګل کلنيزه مشاعره چې د وردګو او ميدان د کلتوري يون، د دې ولايت د مقام په ځانګړې توګه د اطلاعاتو او کلتور د رياست په مشرۍ د حکومتي چارواکو، عامو وګړو او د هيواد د نورو ولايتونو د يو زيات شمير ليکوالانو، شاعرانو او مينه والو په ګډون د هر کال د پسرلي په موسم کې د وردګو او ميدان د ولايت په مختلفو سيمو کې تر سره کيږي.
ګودر مجله (چې د ښځو چارو ته ځانګړې شوې ده او له چک څخه خپريږي، په دغه مجله کې اکثره د ګودر دغاړې کيسې او د ميرمنو او نجونو هغه کيسې دي چې دهغوی ترمنځ د ګودر په غاړه ويل کيږي، خو د دې کيسو ژبه خوږه او هنري ده چې د ټولو پښتني ښځو د زړه راز پکې په هنري ژبه ليدلای شو. د (ګودر) مجلې ليکواله روښنا وردګ ده چې د همدې ولسوالۍ د سرپوښ د کلي او سيدونکې ده، روښنا اوس مهال له هيواده بهر اوسيږي.
شپيلۍ مجله
شپيلۍ مجله د چک ولسوالۍ کې د ميديو تيک په فرهنګي مرکز کې چاپيدونکې مجله وه...
جلګه مجله د وردګو د سيمې اړوند يوه بله سياسي، ټولنيزه او ادبي مجله ده، د دې مجلې مسول مدير انجنير محمد يعقوب ولسمل دی.
منه مجله د منې مجلې مسول مدير ښاغلي ګل اغا احمدي دی، دغه ادبی، ټولنيزه او کلتوري مجله تر اوسه پورې هره مياشت په منظمه توګه چاپيږي.
وردګ د وردګو ځوانانو خپرونه ده
ګوربت مجله
وردګ مجله
جغتو مهالنۍ
وړانګه مجله
فيزوان مجله
ځلانده راتلونکې مجله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۱۱) لرغوني سيمي او ځايونه



عکاس: محمدنسيم رسا د اطلاعاتو او فرهنګ رياست د فرهنګي ميراثونو د ساتنې مدير

## د کلاخ بُوتان

دا چې د وردګو ولايت په جلګه ولسوالۍ کې ډېرې لرغوني سيمې او آثار شتون لري خو د ساتنې او بيا رغونې په برخه کې ورته دولت هېڅ پاملرنه نه ده کړې. دا بوتان چې يو د لوی بُت او بل هم د وړوکي بُت په نومونو باندې ياد ېږي د کلاخ په کلي کې موقعيت لري، نوموړي بُتان د وخت په تېرېدو سره د خلکو و کيندل شول چې د وړوکي بُت ښې د منځه تولو په حال کې دي. دا چې لوی بُت نسبتاً روغ ښکاري خو بدبختانه چې د نوموړي کلي يو تن ورځخه د غوجلې په توګه کار اخلي او خپل مالونه په کې ساتي، نوموړی بُت چې د لوې ګمبزې يا برج په شان جوړښت لري او په ښکلي ډيزاين سره له ورو او نريو ډېرو ځخه جوړ شوی چې په ليدو يې سړی حيرانېږي.

نوموړي بُتان د جلګې ولسوالۍ له عمومي سړک ځخه تقريباً دوه کيلو متره لرې ښې لوري ته په يوه ښکلې او زرغونه ځای کې چې په باغونو پوښل شوې ده موقعيت لري، وړوکی بُت د لوی بُت جنوب شرق لور ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه غونډې باندې ودان شوی او د لوی بُت شاوخوا ډېرې کیندنې شوې دي.

## د چتو کافر کلا

نوموړې کافر کلا د چتو په کلي کې موقعیت لري له دې امله یې خلک د چتو د کافر کلا په نوم یادوي دا لرغونې کلا د یوې اوږدې او لوړې غونډۍ په سر ودانه شوې ده، د دې کافر کلا جنوب لوري ته د جلګې ولسوالۍ عمومي سړک پروت دی په عمومي توګه د نوموړي کافر کلا دربیو اړخونو ته زرغونه سیمې او باغونه دي یوازې دا غونډۍ د لویدیځ لور ته له لوی غره سره تړلې ده.



*عکاس: محمدنسیم رسا د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د فرهنګي میراثونو د ساتنې مدیر*

د چتو کافر کلا په یوه ډېر مهم ځای کې واقع ده چې د همدې کافر کلا په واسطه دوې درې له یو بل څخه بېلېږي، د نوموړې کافر کلا شمال لور ته یو سیند او جنوب لور ته بل سیند له پاکو او پرېمانه اوبو څخه ډک وي، تقریباً د کافر کلا جنوب شرق خوا ته له یو بل سره یو ځای کېږي چې د سیندونو د یو ځای کېدو ساحې ته دو آب ویل کېږي، دغو سیندونو دې سیمې ته طبعي ښکلا ور په برخه کړې ده، د یادې کافر کلا لوري ته نږدې د بابک په کلي کې د غازي عبدلکبیر خان په نوم یو لویه لېسه شتون لري.

د چتو کافر کلا ډېر لرغونی تاریخ لري چې په دقیقه توګه یې چا تر اوسه نېټه نه ده معلومه کړې چې په کومه زمانه پورې اړه لري، ځکه نوموړې کافر کلا ته نږیوال لرغون پوهان نه دي راغلي چې دقیقه نېټه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وتاکي، دا چې خلک ورته د کافر کلا نوم کاروي ښايي علت يې دا وي چې د اسلامي دين له را تګ څخه وړاندې ودانه شوې وي دا کافر کلا د يوې لويې نظامي اډې بڼه لري چې د لوړې او خطرناکې غونډې پر سر داسې قوي او لوی لوی ديوالونه راتاو شوي په نومورو ديوالونو کې لوی لوی برجونه د نظامي پوستو په شان ودان شوي دي چې په ليدو يې خلک هېرانېږي.



عکاس: محمدنسيم رسا د اطلاعاتو او فرهنګ رياست د فرهنګي ميراثونو د ساتنې مدير

د سيمې د سپيرې چې کيسې کوي او دا کيسې ورته له نيکو را پاتې دي وايي کله چې دا ديوالونه او کافر کلا جوړېده خاوره به يې ورته دومره پخوله (جوړوله) چې يوه پنډه پخه خاوره به يې تول (وزن) کړه بيا به يې د ځلورويشتو ساعتونو له پاره په اوبو کې اېښودله که به د نومورې خاورې وزن زيات شوی او ياهم له يو بله جدا شوې وه نو ټوله خاوره به يې له سره ورته پخوله کېدای شي همدا لامل وي چې تر اوسه يې جګ جګ ديوالونه د سختو واورو او بارانونو په مقابل کې پاتې شوي دي.

دا چې لرغونې سيمې او ځايونه څومره ارزښت لري او د يوه هېواد تاريخي ارزښت هم د لرغونو سيمو او آثارو څخه معلومېږي، او دولت مکلفيت لري چې لرغوني ځايونه ترميم او ساتنه يې وکړي ځکه د هېواد تاريخ له همدې لرغونو سيمو سره تړلی دي، خو بدبختانه چې دولت ورته هېڅ پام نه دی کړی. د سيمې ډېرى خلک يې په ارزښت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېږي خپل سرې کېندنې په کې کوي دا خو لا پرېږده چې ځينو کسانو د نوموړې کافر کلا ځينې ساحې ورانې او د استوګنې کورونه يې پکې جوړ کړل لويې لويې سمڅې يې پکې ووهلې، مالک او غمخوار يې نشته ځوک يې پوښتنه نه کوي چې په څومره خراب حالت کې قرار لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد خیلو کافر کلا

دا لرغونې کلا چې د احمدخېلو کلي جنوب او د سلطان خېلو کلي ختيځ او تېمورخېلو کلي لويځ کې موقعيت لري نوموړې لرغونې کلا د جلګې ولسوالۍ ته مخامخ په يوه لوړه غونډۍ باندې ودانه شوې ده، ياده تاريخي کلا د له منځه تلو په حال کې ده چې زياتره برخه يې ورانه شوې او لړ دېوالونه يې تر اوسه له لرې واټن څخه معلومېږي که ورته پاملرنه ونشي د څو کلونو په تېرېدو سره به يې نښې نښانې له منځه ولاړې شي

# د اورمړو کافر کلا

نوموړې کافر کلا د وردګو ولايت د جلګې ولسوالۍ لوېديځ ته په يو (۱) کيلومترۍ کې موقعيت لري، د يادې کافر کلا ختيځ ته د احمدخېلو کلى لوېديځ ته يې د اورمړو کلى شمال ته يې د کتب کلى او جنوب ته يې د تبک کلى پورت دی. نوموړې کافر کلا ته ځينې خلک د کتب کافر کلا نوم او ځينې ورته د اورمړو د کافر کلا نوم کاروي زما په اند ورته د اورمړو کافر کلا نوم غوره دی ځکه نوموړي کلي ته ډېره نږدې ده.

د اورمړو کافر کلا په داسې خطرناکه ځای باندې جوړه شوې ده چې يوازې له يوه لوري څخه لاره لري او نورو خواوو څخه د ور ختلو هېڅ امکان نشته، نوموړې کافر کلا د يوې قوي نظامي اډې بڼه لري او په دې کلا کې له نظامي مهارت څخه کار اخيستل شوی چې دوښمن نشي کولی په ياده کلا باندې د نظامي بريدونو له لارې بريالی شي، نوموړې کلا تقريباً له سيند څخه ۱۰۰ متره لوړوالی لري.

د اورمړو د کافر کلا د لرغونتوب په اړه دقيق سند په لاس کې نشته چې په کومه زمانه پورې تړاو لري خو له داسې ختې او ډبرې پکې کارول شوې دي چې په نن زمانه کې هم خلک ورته ګوته په غاښ پاتې کېږي، په دومره لوړه ارتفاع او خطرناک ځای کې يې دا قوي دېوالونه څنګه او د کومو وسايلو په واسطه جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي دي. د نوموړي کافر کلا په داخل کې په دېوالونو باندې داسې نقشې او رسمونه کاږل شوي چې په لیدو یې خلک هک پک پاتې کېږي او د پخوانۍ زمانې په نقاشانو او معمارانو باندې آفرنی وایي.




***عکاس: محمدنسیم رسا د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د فرهنګي میراثونو د ساتنې مدیر***

خو ډېر د افسوس ځای دی چې خلک او دولت په ارزښت او اهمیت نه پوهېږي او یا دا مسؤلیت نه احساسوي، دا چې لرغوني سیمې آثار د یوه ملت او هېواد لویه شتمني شمېرل کېږي نو په کار ده چې سالمه ساتنه او پالنه یې وشي ورانې برخې یې ترمیم د خپل سرو کیندنو مخه یې ونیول شي ځکه ډېری خلک یې د مادي لاسته راوړنو په خاطر پکې کیندنې کوي خو د نظارت او ساتنې له پاره یې څوک نشته چې خپل •

• (۱۶) ۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښتکې بُوتان



عکاس: محمدنسیم رسا د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د فرهنګي میراثونو د ساتنې مدیر

نوموړي بُوتان د وردګو ولایت د جلګې ولسوالۍ د ښتکې په کلي کې د عمومي سرک ښي لور ته په ۱۰۰ مترۍ کې موقعیت لري، د ښتکې بُوتان له ډېرو لرغونو آثارو له ډلې څخه دي او په ځمکه کې تقریباً ۴۰ متر ژور جوړ شوي دي نوموړي بُوتان په ډېر ښکلي ډېزاین او لوړ مهارت سره جوړ شوي د دغو بُوتانو زینې له ډېرو نریو او هوارو ډبرو څخه په پاخه او اساسي توګه جوړې شوې دي په دغه سیمه کې دوه بُوتان جوړ شوي چې یو ته یې لوی او بل ته کوچنی بُت وایي دغو بُوتانو ته اوس نږدې کورونه هم جوړ شوي دي.

نوموړو بُوتانو ډېرې برخې د خپل سرو کیندنو له امله ورانې شوې او خلکو په دې تمه پکې کیندنې کړې دي چې قیمتي توکي به پکې پیدا او وروسته به یې په لوړ قیمت و پلوري او په واسطه به یې ډېره پانګه تر لاسه کړي خدای خبر چې چا ته به څه لاسته ورغلي وي او کنه خو بدبختانه زموږ لرغوني آثار او تاریخ یې له خاورو سره برابر کړی، خو د لرغونتوب په اړه یې ډول ډول روایتونه شته د ځینو روایاتو په اساس یاد بُوتان له اسلام دمخه دلته رغول شوي او آن تردې چې ځینې یې د زردشت په زمانه پورې تړلې ګڼي.

اوس مهال نوموړي بُوتان په ډېر بد حالت کې قرار لري چې په لیدو یې له سترګو اوښکې بهېږي چې ولې د خپلو آثارو په ارزښت او اهمیت باندې نه پوهېږو، خو له بده مرغه څومره چې د سیمې خلک یې په ارزښت نه پوهېږي دولت یې هم خپل مسئولیت نه پېژني یا په خپلو دندو کې غفلت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




*عکاس: مهندسیم رسا د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د فرهنګي میراثونو د ساتنې مدیر*

# ارګ

دا لرغونی ښارګوټی د وردګو ولایت د جلګې ولسوالۍ د کنج د کلي په ساحه کې د عمومي سرک په سر پورت د دې لرغوني ښارګوټي ختیځ ته د موکې کلی، لوېدیځ ته یې دادا خېلو کلی، شمال ته یې د لوی غر او دښته او جنوب ته یې د کنج کلی پروت دی.



*عکاس: مهندسیم رسا د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د فرهنګي میراثونو د ساتنې مدیر*

دغه ارګ چې د یوې لویې پادشاهۍ ښې ښانې موږ ته په میراث پرې ایښې دي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرغوني تاريخ استازيتوب کوي او په دغه سيمه کې لوی لوی مدنيتونه تېر شوي دي، په عمومي توګه د جلګې ولسوالۍ ټول لرغوني ځايونه د اوبو له سطحې څخه په لوړه ارتفاع کې د قوي نظامي سنګرونو په شان او په پرمختللی نظامي تخنيکي مهارت په کې کارول شوی دی. تر نومړي ارګ دوې قوي ختيځنې کلا ګانې تاو شوې دي او د دغو کلا ګانو په منځ کې تقريباً ۴۰ متر فاصله موجوده ده او هرې کلا په د يوالونو کې نظامي (امنيتي) برجو په ۴۰ يا ۵۰ متری کې په پاخه او اساسي ډول جوړ شوي، چې دغو کلا ګانو ته په کتو دا جوتېږي چې په نومړې ولسوالۍ تر ټولو لرغونو سيمو دغه مهم مرکز تېر شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خواتډبر لیک

د وردګو ولایت د هېواد د نورو ولایتونو په څېر ډېرې تاریخي سیمې او لرغوني اثار لري، خو له بده مرغه دغه سیمې یا تر اوسه په بشپړه توګه نه دي پېژندل شوي او یا که پېژندل شوي هم دي د یو شمېر وطن دښمنه کسانو له خوا په خپل سر کیندنې پکې تر سره شوې او یا یې هم ارزښتناکه تاریخي شتمني چور او تالان شوې ده.



دا دي ددغه ستر ولایت ځینې هغه تاریخي سیمې چې تر دې دمه یې د کورنیو او بهرنیو لرغونپوهانو له خوا لټون شوی او لړ او ډېرې موندنې یې په هغې کې تر لاسه کړې دي درپېژنو. خو د یادولو وړ ده چې دا یوازې هغه څه نه دي چې موږ په هغې باندې قناعت وکړو، بلکې لازمه ده تر څو په دې برخه کې هر اړخیزه څېړنه وشي څو ددغې لرغونې سیمې تاریخي ارزښت لا پسې راوسپړل او څرګند شي.

له دې کبله چې د خوات کتیبه د خروشتي دورې تر ټولو مهمه کتیبه شمېرل کېږي او د وردګو ولایت د خوات له سیمې څخه په لاس راغلې ده نو ځکه غوره ګڼو چې لومړی دا کتیبه په لنډه توګه دلته معرفي کړو.

د خروشتي لیکنو له مهمو کتیبو څخه یوه هم د خوات مشهوره کتیبه ده، چې په یوه لوی ډبرین لوښي باندې چې د ۱۸۳۸ مېلادي کال په شاخوا کې د چارلس مسیون Ch.Masson له خوا د وردګو د خوات له سیمې څخه د برتانیې د لندن موزیم ته لېږدول شوې ده. دغه کتیبه تر لوښي تاو راتاو درې کرښې لري او یوه کرښه هم ترې لاندې ده. حرفونه یې سره بېل او روښانه دي، چې د کنیشکا د زوی (۱۸۲-۱۲۹ مېلادي) مهاراجه هویشکه په نامه لیکل شوې ده.•

---

• (۱۲) ۴۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ د انګور باغ سیمه

له دغې سیمې څخه هم یو شمېر له ګچ څخه جوړ شوي اثار چې کېدای شي په څلورمې او پنځمې مېلادي پېړۍ پورې اړه ولري ترلاسه شوي دي او بیا له همدې سیمې څخه د کابل موزیم ته لېږدول شوي دي. د سیمې د اوسېدونکو په وینا ددې سیمې ډېر شمېر مجسمې په بهرنیو قاچاق وړونکو او لوټمارانو باندې پلورل شوي دي.

د قدرمن استاد زبیر شفیقي پر وینا د چک ولسوالۍ د علیشنګ کلاګاني او د ګوډه د نهه برجه کلا چې درې متره پلن ډېوالونه لري در درې سوه کاله پخوانۍ کلا ده، هم د دغه شان تاریخي سیمو په کتار کې شمېرل کېدای شي. ددې یادونه اړینه بولم چې د وردګو په ډېر شمېر سیمو کې داسې لرغوني اثار او سیمې شته دي چې په اړه یې ماته تر دې دمه معلومات په لاس نه دي راغلي.•

---

(۱۲) ۴۸ مخ •

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک د نهه برجه لرغوني کلا



د وردګو د چک په ولسوالۍ کې د ګوړه د نهه برجه تاریخي کلا په ۱۱۳۳ ه سپوږمیز کال کې په ډیر عجیبه ډول جوړه شوې ده دا کلا د غازي مومین خان کلا هم بولي، غازي مومین خان د وزیر محمد اکبرخان د هغو سرکښو ۵ تنو غازیانو او سرخیلو قوماندانو په ډله کې راځي چې د میکناټن د وژلو او افغانستان د ازادۍ ګټلو په تدبیر او پلان کې یې مهم رول درلود.

د نهه برجه کلا اوس هم جوړه روغه ده او د غازي مومین خان څخه پاتې اولاده پکې ژوند کوي. د روایتونو له مخې د یادې کلا ختمه به په غوایانو پخیده او هر بیګا به د پنډې په بڼه جوړیده او په اوبو کې به ایښودل کیده سهار تر پخیدا وروسته به پرې پسخې وهل کیدې، د دې کلا دیوالونه او برجونه تر ۲۲ مترو پورې لوړوالی لري، د دروازې تمبه یې په ۱۵ متري لرګي جوړه شوې چې په سر کې یوه لویه کړۍ هم لري.

د دې ملا د منځ برج چې لوی برج یې بولي د دیوالونو په منځ کې ۴ متره نقاشي شوي اتاقونه دي، چې ، د دغې کلا د برجونو هسکوالی او مزینو نقاشي شوو اتاقونو منځ ته ورتلل چې د برجونو په لوړو پوړونو کې دي حیرانوونکي او ویرونکی دي.•

---

• (۱۶) ۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وردګو هغه لرغونې سیمې چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا ثبت شوې دي په لاندې جدول کې یې کتلی شئ:

| شماره | د ودانۍ نوم | ولایت | ولسوالي | د ثبت نمبر |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د کلاء چمن آسیاب | میدان وردګ | د چک ولسوالي | ۱-۰۴-۰۴ |
| ۲ | د چک د نه برجه کلا | میدان وردګ | د چک ولسوالي | ۲-۰۴-۰۴ |
| ۳ | د جلګې ارګ | میدان وردګ | دایمیرداد ولسوالي | ۱-۰۲-۰۴ |
| ۴ | ستوپه | میدان وردګ | دایمیرداد ولسوالي | ۲-۰۲-۰۴ |
| ۵ | د جلګې بت | میدان وردګ | دایمیرداد ولسوالي | ۳-۰۲-۰۴ |
| ۶ | د خواجه میات ولي زیارت | میدان وردګ | دایمیرداد ولسوالي | ۴-۰۲-۰۴ |
| ۷ | د جلګې منصور تپه | میدان وردګ | دایمیرداد ولسوالي | ۵-۰۲-۰۴ |
| ۸ | د یورک کلاخ غونډۍ | میدان وردګ | دایمیرداد ولسوالي | ۶-۰۲-۰۴ |
| ۹ | د جلګې تا قلعه | میدان وردګ | دایمیرداد ولسوالي | ۷-۰۲-۰۴ |
| ۱۰ | د الفطا غر | میدان وردګ | دایمیرداد ولسوالي | ۸-۰۲-۰۴ |
| ۱۱ | د کلاخ د بت تپه | میدان وردګ | دایمیرداد ولسوالي | ۹-۰۲-۰۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زیارتونه

د وردګ ولایت مشهور زیارتونه د سیدآباد ولسوالۍ د سیدآباد زیارت، د سید آباد ولسوالۍ د صوفي شنيزي زيارت، د چک ولسوالۍ د کاکاخېلو د سيمې شاه قلندر بابا زيارت، د چک ولسوالۍ د سپين ښاره د کلي د آخوند بابا زيارت، د چک ولسوالي د نېک پاقول د درې د خواجه محيات بابا زيارت، د چک د خليلي د خواجه غربان بابا زيارت، د چک د سېوکې د صوفي بابا زيارت، د چک ولسوالۍ د بوم په چارکه کلي کې د ملا بنارس يا ملا کاکا زيارت، د نرخ په ولسوالي کې د بوم زيارت، د کوټه عشرو په مرکز کې د خرقې شريفې زيارت او د شهيدانو زيارت، د نرخ په سنزي کلي کې د شاه قباد ولي زيارت، د جلرېز ولسوالۍ په زيولات سيمه کې د خواجه صاحب زيارت، د نرخ ولسوالي په شهاب الدين کلي کې د لوی ملا صاحب زيارت او د سيدآباد ولسوالي د تنګي د امير ښاره په کلي کې د سوبۍ زيارت د يادولو وړ دی. همدارنګه د ګوربت د غره په شمول وردګ ولايت په ځينو سيمو کې د چلګزي په نامه زيارتونه هم شته او دا چې دا زيارتونه د چا دي، ولي يې د چلګزيانو په نوم نومولي او له کومه وخته په سيمه کې شتون لري، د سيمې وګړي يې په هکله بېلابېل اندونه لري او په دې اړه کره او دقيق معلومات له هېچا سره نشته. د جغتو په سيمه کې هم ګڼ زيارتونه شته دي لکه: د خليفه صاحب زيارت، د خواجه محمد صديق زيارت، د خواجه رسول بابا زيارت، د ليګی بابا زيارت، د حاجي سيد مهدي زيارت، چهل ګزيان چې غالبا د ګوربت په غره کې موقعيت لري، د قبې د سر زيارت، مزار بابا ، خواجه غوزبه بابا ، د شاه عالم زيارت، د سېدې زيارت، د دولنې زيارت، د مردلې زيارت، د خواجه منجی بابا زيارت، د سپېرګين زيارت، د دهنې زيارت او داسې نور•.

• (۳) ۷۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۱۲) د وردګو ځلېدلي کلتوري، تاريخي څېرې

## تاريخي جهادي څېرې

### غازی محمد جان خان

غازی محمد جان خان دسخی سیدا ل خان زوی او د کرم خان لمسی دی چی دورد ګو قوم دنسب په شجره کی د مایار د قبیلی د خرم خیلو(۱) په شاخه پوری اړه لری .

غازی محمد جان د وردګو د سهیل لود یخ یانی اوسنی جغتو د ولسوالی اړوند د بید مشک په کلی کی چی د غزنی ښار د شمال په شل کیلو متری کی پروت دی په کال **۱۲۵۹** هه ق کی په یوه دینداره منوره او مخوره کورنی کی دنیا ته

۱ دخرم خیـل دتسـمیی وجـه داده چـی مـوریی د خـوارزم لـه پادشـاهانو(خوارزم شاهیانو ) څخه وه نو ځکه دوی دنسب پـه لحا ظ دوردګو پـه نورو قبیلو یـو څه ممتاز شمیرل کیږی ( مولف(

سترګی غړولی او خپلی لمړنی دینی زدکړی یی د کلی له ملا څخه کړی دی.

غازی محمد جان خان د جغتو په زړه یانی د کا ریز پـه سیمه کـی هم یـوه کـلا لـری چی دده په نوم له لیسی (غازی محمد جان خان لیسه ) سره نیږدی پر ته ده خو په خو ا شینی سره چی دا تاریخی کلا د زمـانی پـه تیریـدو سره د خلکـو لـه پـاملرنی غـور ځیدلی او اوس مهال تقریبا په کنډواله او ښتی ده دد کلا مو قیعت او دیوالونـه لا تر او سه د پخوا په شان مو جود دی خو د سر پخسی یی دباران او واورو لـه امله را توږل شوی چی دا کلا د غازی محمد جان خان د یو تر ټولو ستر یادګار بیلګه ګڼل کیږی.

غازی محمد جان خان نارینه اولاد نه درلود او یوازی لوڼی یی درلودی هغـه د ښـه آس سره زیاته مینه درلوده او تل به یی د ښه آس ستا ینه دجګړی لپاره کوله غازی محمد جان خان په آخره اندازه تند او احساساتی سړی وه نو ځکـه امیر شـیر علی خان وه ده تـه لیـونی وایـه اودامیر شیر علی خـان لـه خولی نورو خلکـوهم غـازی محمد جان خان ته لیونی وایه ځکه هغه کارونه چی ده کول څوک به یی پـه مـا نـا نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پو هیدل خو د هغه کارونه به تل له حکمت څخه ډک ؤ ځکه هغه څه چی ده کول څوک په پیل کی پری نه پو هیدل خو پایله به یی تل بریالی وه د بیلگی په توگه هغه به په نیمه شپه له خوبه را پا څید خپلی توپخانی ته به ورغی خپل تو پونه به یی پا کول ، گو تی به یی پری وهلی ، ښکلول به یی ، او کله نا کله به یی د ژمی په سخت مو سم کی په داسی حال کی چی واوری به اوریدی او باد به واورو گردله جوړه کړی وه له خپلو تو پ خانو را وایستل غرونو ته به یی خیژول بیرته به یی را ښکته کړل او یا به یی په شا وخوا لیری او نیژدی غونډیو ته خیژول چی د هغه دا کارونه نورو خلکو ته نا آشنا ښکاریدل او په علت یی نه پو هیدل نو یی ځکه ده ته یی لیونی وایه خو دی لیونی نه ؤ بلکه هغه نظامی ماهر ؤ چی هغه کړنه یی د افغانستان په اردو کی نظامی تطبیقاتو دالهام سر چینه وگر ځیده د افغانستان په اردو کی نظامی تطبیقات د ده له زمانی څخه را پاته دی نو ځکه غازی محمد جانخان په افغانستان کی د نظامی تطبیقاتو بنسټ ایښودونکی هم شمیرلی شو.

محمد حسن کاکړ ( دافغان او انگلیس دوهمه جگړه ) تاریخ په ۱۷۲ مخ کی لیکی :

)) محمد جانخان شخص بسیار احساساتی بود به حدیکه که امیر شیر علی خان اورا دیوانه میخواند مگر همین دیوانه بود که قطعات اردل بعد از وا قعه کوگناری (کیوناری ) دربالا حصار برضا رغبت وابتکار خود بحیث ( غټ مشر ) انتخاب نمود وبا این صورت او نخستین منصبدار نظامی انتخابی افغانستان میباشد.((

ومینویسد محمد جانخان به عبارت امروزی سمبول وطن خواهی و ضد خارجی بود زعامت قوم دایما در خاندان او قرار داشت ولی سردارمحمد یعقوب خان بعد از جلوس خود کاکای او خدای نظر خان راکه در زمان حکومت امیر شیر علی خان حاکم غزنی بود بحیث خان قوم نصب نمود و نامبرده بعد از معاهده گندمک که در اثر مرض کولرا وفات نمود ذعامت قوم به محمد جانخان و برادرش محمد افضل خان تعلق گرفت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بل ځای لیکی: مگرواقیعیت اینست که محمد جانخان از زمان انتخاب تا شهادت خود که توسط عبدالرحمن در دسمبر سال ۱۸۸۱ در کوتل ابدو مزارشریف صورت گرفت نه تنها در جنگها وتجهیزمنابع انسانی به پیروزی های بزرگ نایل آمده بلکه در جریان همین جنگها تا خروج قوای اشغالگر از افغانستان برای یک پارچه شدن و همبستگی مردمان مناطق بین غزنی کوهستان ووزیرستان موفقیت بی نظیری رادر تاریخ افغانستا ن معاصر بخرچ داد و شخصیت خودرا در یک مو قع بحرانی و تشتت بحیث یک جنرال و لیدر تثبیت نمود.

استاد احمد علی کهزاد په خپل تاریخ بر سیره چی د غازی محمد جانخان په اړه یی مکمل معلومات ورکړی په ځا نگړی توگه هم دیوی لیکنی په ترڅ کی د غازی محمد جان خان په اړه لیکی (غازی محمد جان خان وردک یکی از مجاهدین معروف وطن است که نام نامی وکارنامه های وطن خاهانه او در جنگ دوم افغان وانگلیس علی الخصوص در قیام ملی مردم کابل که علیه قوای استعماری انگلیس براه انداخته شده بود قا بل زکر است.

غازی محمد جان خان مرد بسیار رشید وطن خواه مبارز عفیف با منا عت ترت گوی آزادی خواه و بلاخره از همه مجاهد و عا شق غزا بود .

اندامی قوی و نیرومندی دا شت در پیاده روی و دوش به تیزی او کس نمی رسید در سوار کاری مهارت فوق العاده داشت و اسپ سواری خودرا همیشه چار نعل میدوانید درنشان زدن با تفنگ از روی اسپ خیلی ورزیده بود و بیشتر او قات قبضه کرچ خودرا رها نمیکرد.

او در کا بل در گزر تنور سازی رهایش میکرد

د غازی محمد جان خان پلرونه هم د ده په څیرد هبواد په کچه پیژندل شوی مخور او سپین ژیری خلک تیر شوی .دهغه پلار سخی سیدال خان او کاکا یی محمد اکرم خان د امیر دو ست محمد خان په دربار کی دنوموړی امیر سلا کاران وه دو ی دواړه هم ډیر متجرب او په خبره پوه کسان وه کله به چی امیر دوست محمد خان دوی د سلا او مشورو لپاره خپل حضور ته وغوښتل نود جپان (تخت روان) پواسطه له وردگو څخه کا بل ته وړل کیدل سخی سیدال خان دومره په خبره پوه او متجرب شخصیت ؤچی یو وخت د دهرا ود د نورزیو قوم د ځینو سیاسی ملحو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظاتو په بنا د امیر دو ست محمد خان په وړاند ی بغاوت وکړ او دده حکم او اطا
عت ته یې غاړه نه ایښوده نو امیر دو ست محمد خان د ټول هېواد په کچه په سخی
سیدال خا ن حساب وکړ او هغه یې د هراود ته د حاکم په توګه ور و لیږه. سخی
سیدال خان په دهراود کې د یوه حاکم په توګه نه بلکې د یوه مخورقومی سپین
ژیری په توګه له خلکو سره چال چلند وکړ ، دده مدبرانه لار ښونه ددی سبب شوه
چې دهراود د نورزیو او نورو قومونه تر منځ د سولې او ورور ولی فضا را منځ ته
شی او د امیر دو ست محمد خان حکو مت ته غاړه کیږد ی.
ددی په څنګ کې سخی سیدال خان یو غښتلی شخصیت وه په پوره هوشیار تیا
یې دری کاله په دهرا ود کې حکومتی چاری مخ ته یوړی څرنګه چې سخی سیدال
خان په قومی نزا کتونو اونورو مسایلو پوره پوه وه نو له همدی امله د دهراود
خلک زیات ځنی خو شحاله وه دده له خلکو سره همدا نیک سلوک وه چې له
دهراود وروسته د کټواز سلیمان خیلو ته د حاکم په توګه و لیږل شو چې هلته یې
هم د خپلی پوهی او تد بیرپه په ترڅ کې په ډیره لنډه مو ده کې د کټوازخلک د
امیر دو ست محمد خان حکو مت ته تا بع کړل تر څو چې هلته ناروغ شو او له څه
مو دی ورو سته هما لته په حق ور سید او جنازه یې په ډیر درناوی ور دګو ته را
وړل شوه او د جغتو په لو یه هدیره کې د سید الرسول آغا د قبر تر څنګ خاورو ته و
سپارل شوه

جنرال محمد جانخان له انګریزانو سره د دوهمی جګړی په پیل کې:

د ۱۹ پیړ ی په ورستیو لسیزو کې کله چې انګریزانو د خپل استعماری او پر اختیا
غوښتنې د سیاست له مخه د هند نیمه لویه وچه له خپل ستونی تیره کړه نو یې د
خپلی فاورډ پالیسی په بنا زموږ په ملک له شپږ دیرش کالو ځنډ وروسته ددوهم
ځل لپاره سترګی را سری کړ ی دا هغه وخت و چې زموږ ملک له یوه طرفه د همدی
استعماری ځواک سره د لمړی جګړی په دوران کې ټوټه ټوټه او سخت کمزوری
شوی وه او له بل پلوه د شاهی کورنی ټولو غړو او نورو سر دارانو قدرت ته د
رسیدو لپاره د ځان غو ښتنی د نا سا لمو سیا لیو په بنا دا ملک نور هم د خپل
منځی کورګډیو کو رنیو جګړو په لمبو کی را ښکیل کړ ی وه ددی تاو تر
یخوالیولړی له ښارونو څخه د ملک ډیرو لری پرتو سیمو ته هم غزیدلی وه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان په هره گوښه کې يې ناوړه اغيزې په ځاى پرې ايښې وې نوځکه دملک په هره برخه او گو ښه کې د قومي ځان ځانيو له امله ملوک الطوايفي خپل سرې حکومتونه را منځ ته شوي وه اومحلي واکمنانو په هيڅ ډول د مرکزي حکومت قا نو ن ته غا ړه نه ايښو ده.

انگريزانو هم وخت په وخت په افغانستان کې د اوسيدونکو قومونو او د سرداري کورني د ځان غوښتونکو شهزادگانو تر منځ بې اتفا قيو او نورو ورته بد مرغيو اور ته به ډيرمهارت او انگريزي پوهه لمن وهله او په افغانستان کې د دي بل شوي اور دا بد مر غه پروسه پرته له دې چې کو مه جوړونکې او مثبته مداخله پکې وکړي په ډيره مينه ځارله.

په همدي نازک وخت کې د ملک په عسکري تشکيل کې د محمد جان خان وردک په نوم د تو پچي يو ځوان او په وطن مين کر نيل د کوزي پښتونخواه د خيبر په محاذ کې دنده سر ته رسوله او د امير شير علي خا ن ددوهم پلا پا چا هي په زمانه کې عسکري خد مت ته مخه کړې وه دا په وطن مين او ځوان کر نيل له انگريزانو څخه سخته کرکه درلوده او تر ټولو زيات يې مخا لف ؤ کرنيل محمد جان خان به تل دا خبره کوله چې له انگريزانو سره خبرې اترې ناست لټيده له زيان پرته هيڅکله کو مه گټه نلرې هغه به دا خبره زښته زياته کوله چې له انگريزانو سره هر ډول خبرې د ملک په بر خليک د سوداگرې او معاملې حيثيت لرې او ويل به يې له انگريزانو سره بايد تل د تورې په ژبه خبرې وشي

کله چې انگريزانو د ۱۸۷۸کال د نوامبر په ۲۱ نيته د جنرال سموئل او جنرال ماد په مشرې له بر يتا نوي هند څخه د خيبر له لا رې په افغا نستان يرغل را ووړ نو ور سره سم د کوزې پشتونخوا ټول پښتانه ميشت قومونه د جمرود څخه را نيولې بيا تر ډکې پورې د کرنيل محمد جان خان له لښکر سره چې د انگريزانو د لښکر په پرتله يې په ښکاره يو نا برابر او غير متوازن اند ول تشکيلاوه ، يو ځاى او په ډير لوړ شهامت او ميړانه يې د جگړې په ډگر کې د کر نيل محمد جان خان ملگر تيا وکړه او له خيبر څخه يې د برې پښتونخوا په لور د انگريزانو د پر مختگ مخه ونيوله دا وخت د خيبر په نوا حيو کې د افغاني اردو شميره پنځو زرو تنو ته رسيده چې دولس عرادې توپونه يې هم په واک کې درلودل خو د انگريزانو د فوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمیره څه باندې دولس زرو تنو ته رسیده چې له زیاتوالي سره سره دهغه وخت په پر مختللو او عصري وسلو هم سنمبال وه ددې جګړې لمړی برید چې تقریبا اوه سا عته یې دوام وکړاو دوارو لوروته پکې سخته مرګ شوبله او مالي زیانونه وا وښتل چې د انګریزانو په ماته تمامه شوه.

که څه هم کرنیل محمد جان خان د علي مسجد په سیمه کې له انګریزانو سره د جنګ په لمړۍ کرښه کې زیاته زړ ور تیا او میړانه وښوده چې له امله یې انګریزانو ونشوای کړی چې په آساني سره له علي مسجد څخه را تیر شي ددې مور چل عسکر چې ډیرو لږؤ خو زیات تکړه ؤ او دومره میړانه یې له ځانه وښوده چې د ستر ګو په رپ کې یې بې شمیره انګریزان د تر خو منو په شان په ځمکه رانسکور کړل خو له بده مرغه چې شمیره یې ډیره لږه وه او رس هم نه ور ته کیده همدا وجه وه چې له امله یې امیر شیر علي خان د کرنیل محمد جان خان ددې سر ښندنې او میړانې په بدل کې دده په نوم په غیاب کې د جرنیلي ( جنرالي ) رتبه منظور کړه د خیبر په محاذ کې له څو ورځو خونړیو جګړو ورو سته کله چې جرنیل محمد جا ن خان د خپل لښکر دزیا تولواو د موجود اردو دآذوقې ، درمل ، او نورو لو ژستیکې اړ تیا وو د پوره کو لو لپاره کا بل ته را غی نو په ډیره حیراني یې ولیدل چې امیر شیر علي خان د تر کستان په لور مخ په روانیدو دی او په همدې تکل یې د سفر ټول لوازم او تجهیزات برابر کړي او جنرال محمد جا ن خان ته یې وویل( د یوانه خوب خبر دارم تا رسی داشتی از سنګر نمی خیستی اګر دوباره امدم حق مردانګی تورا بجا خواهیم اورد ) او په دې توګه امیر شیر علي خان چې له کا بل څخه پښې سپکې کړی نو هما غه یې لا ره شوه بیا د کابل په لور را و نه ګرځید.

د تر کستان په لور د امیر شیر علي خان سفر

لکه چې د مخه وویل شول امیر شیر علي خان په ډ یره مرموزه توګه د خپلو سلاکارانو له سلا پرته دملک داداري چارې په ځای پریښودې او د ترکستان په لو ر و خو ځید نوموړی د ۱۹۷۹ کال د جنوري په لمړی نیټه مزار ته ورسید او دلته په کابل کې یې خپل له هره حیثه کمزوري زوی محمد یعقوب خان چې نوی له زندان څخه را وتلی و د ولیعهد په تو ګه په ځا ی پریښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد یعقوب خان چې نوی له زندان څخه را وتلی ؤ وجود یې په بندی خانه کې مقاومت له لاسه ورکړی ؤ او ډیر کمزوری شوی ؤهغه له زندان څخه د مخه یو د قوی ارادې څښتن او ډیر هو شیار سړی ؤ هغه هم د انګریزانو سخت مخالف ؤ او د انګریزانو په وړاندې په جنګونو کې هم ډیر تکړه ؤ نو له همدې امله انګریزان ډیر ځنې بیریدل هغه د خپلې میرې مور عایشه خانم په یو اړ خیز او منفی دریځ چې دده او دده د ورور محمد یعقوب خان په وړاندې یې غوره کړی ؤ کار تر دې ځایه را ورساوه چې هغه پوره اوه کاله په بندیخانه کې تیر کړی.

د امیر شیر علی خان دې بې وخته تګ زیاتې پو ښتنې تر شا پریښودې چې ولې دهغه پښې د خپلو پنځوس زره تکړه عسکرو د شتون سره سره د انګریزانو د احتمالی پر مختګ په وړاندې ولړزیدې او د روسانو څخه یې د مرستې غوښتلو په تمه یې په داسې نازک وخت کې له کابله د وتلو تکل وکړ چې له یوه طرفه انګریزان ډیر سپین ستر ګی شوی وه او د افغانستان د اشغال لپاره بېړی را وهلی وی او له بل پلوه انګریزان دده په کمزوریتوب پوره پوره خبرشول او په اراده کې کمزوری یې ددې سبب شوه چې انګریزان لا پسې جرات واخلی او په ګړندیو ګا مونو له بریتانوی هند څخه د افغانستان په لور حرکت را وکړی خو ددې ټولو لا ملونو سره سره دهغه په اراده کې زیاته کمزوری د هغه د ګران ولیعد زوی عبد الله جان مړینه وه چې دده په روح روان ډیره ناوړه منفی اغیزه په ځای پریښوده او دا وخت د ملک په دننه کې سیاسی وضع هم دومره ګډه وډه وه چې له امله یې د ملک په هره ګوښه کې یې ملوک الطوایفی حکومتونه را منځ ته شوی وه خو امیر شیر علی خان دا ټولې ستونزو څخه اوږه خالی کړه او هغه یې شاته پریښودې نر غوندې یې د ترکستان په لوری خپلې پښې مچې کړی کله چې مزار شریف ته ورسید غوښتل یې چې مستقیما روسی ته ولاړشی خو د مزارشریف خلکو او ملی اردو دده ته دا وعده ورکړه چې خا مخا به له انګریزانو سره جنګیږی دی د ډا ډه اوسی ، نو ځکه امیر شیر علی خان د روس له تګ څخه را وګرځید او له بل پلوه جنرال کافمان هم په لیکلی توګه له هر ډول مرستې څخه معذرت وغوښت ځکه چې هغه هم له انګیسانو څخه بیریده او دیوه لیک په ترځ کې یې انګریزی واکمنانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکلی وه موږ روسانو غو ښتل چی د شمال له لوری افغانستان ته تمدن ورسوو خو دا چی تاسی یی د ختیځ له لوری ورسوی نو موږ ته صبر دی.

خو لکه چی مخکی وویل شول دا وخت دا امیر شیر علی خان پښی د انګریزانو په وړاندی لړزیدلی وی که څه هم انګلیسانو پخپله دا وخت اعتراف درلود چی که امیر شیر علی خان له خپل دی مجهز او قوی اردو څخه زموږ په وړاندی کار اخیستی وای ښایی موږ په دی نه وای توا نیدلی چی په آسانی سره مو په افغانستان نظامی یرغل وروړی وای خو بیا هم که هر څومره امیر شیر علی خان و هڅول شو پښی یی نه تکیه کیدی

امیر شیر علی خان د خپل بهرنی سیا ست په برخه کی نوری زیاتی نیمګړ تیاوی هم درلودی ځکه پرته له دی چی د نړیوالو تر منځ د یوه واکمن با چا په څیر ژوند وکړی ارو پایی تیری کو نکی سیاست ډیر خو ښیده همد ا وجه وه چی هغه تر انګلیسانو د روس په زار دولت زیات اعتماد درلود ده به تل ویل چی رو سان تر انګریزانو د افغانانو لپاره ښه دی ځکه روسان هیڅکله دروغ نه وا یی او هیڅکله له خپل قوله نه ګرزی په دا سی حال کی چی انګریزان ډیر درواغجن او غو لونکی او چال باز خلک دی زیاتی وعدی ور کوی او لږ عمل کوی خو له دی ټولو څخه دهغه لویه تیر وتنه او سیاسی نیمګړ تیا دا وه چی ددی دری متل په بنا (در خانه ګیلوک است دختر همسایه خلموک است) په خپل ملت او فوج یی باور له لا سه ور کړی ؤ اوله رو سانو څخه د مرستی غو ښتل او د هغه لمنی ته پناه وروړل یی ډیر خو ښید ل چی له همدی امله یی د افغانستان ځمکنی بشپړ تیا او استقلال هم په خطر کی غور ځولی وه سزا وار رحم است چنین ملت قهرمان تحت فرمان ......؟!

دهغه بله لویه تیر وتنه دا هم وه چی د مشرانو او هوشیارو زامنو په درلودلو یی د ګرانی ښځی اوه کلن ماشوم زوی عبد الله جان د خپل ولیعهد په عنوان ټا کلی او خلکو ته ور پیژندلی وه چی د هغه دا کړنه هم د ملت مخورو او هم د هغه د مشرانو زامنو د نا رضا یتی سبب ګر ځیدلی وه که څه هم دهغه ماشوم ولیهد زوی (

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالله جان ) له لرې مودې ورو سته مړ شو خو په ځای پر ایښی اغیزو یې ددې ملک په بر خلیک تر ډیره نا وړه اغیزی په ځای پریښودی وی.•

# غازي کریم خان وردک

کریم خان وردک ، د سید آباد ولسوالۍ د دره نور تنګۍ د امیر کلا او سیدونکې وه هغه د امیر حبیب الله خان د وا کمنۍ په زمانه کې عسکرې منصب دار ؤ کله چې امان الله خان واک ته ورسید نو د اوسنې لو ګر په ولایت کې یې د التمور، بیدک، آبچکان، اسپس ځمکې د یوه فر مان په ترڅ کې ضبطې او بیا یې د کریم خان په مشرې د ورد کو په خلکو وویشلې (۱)

(۱) دا ځمکې امان الله خان ځکه ضبطې کړې چې د جان فدا په نوم یو حکومتې غنډ په دې سیمه کې پروت ؤ او د (ګوډ ملا ) په ناڅاپې حمله کې په بشپړ ډول له منځه ولاړ نو امان الله ددې سیمې او سیدونکو ته وخشمید او فرار یې کړل.

دا پیښه تر ډیره بریده یوه لو یه تیر وتنه ګڼلې شو ځکه یا به ښایې امان الله خان په دې پو هیده چې په پایله کې به ددې دواړو قو مونو ترمنځ څه را پښیږې ؟ هغه څه چې را پیښ شول ، کریم خان به په غالب ګمان په دې نزاکت نه وې پو هیدلې که نه ولې خپل قوم په لوی لاس په لانجه کې را ښکیل کاوه.

یا به ښایی بهرنۍ داسې لویه تو طیه وه چې پایلو ته به یې نه د کریم خان او نه هم د امان الله خان فکر ورسیده !ځکه دا خو لو یه ورکه ورځ ده چې یو پښتون قوم د بل پښتون قوم کرنیزې ځمکې د حکومت په فر مان قبضه کړې او فرار شوې قوم د وسلوال په غرونو کې و ګر ځې.

خو په هر صورت ولیدل شول چې له لرې مودې وروسته دا دواړه قومونه له بل سره داسې و نښتل چې دواړو لورو ته په سلګونو کسانو مرګ ژوبله واو ښته ، که څه هم وردکو دا ځمکې د سقاو په اړ دوړ کې د ګل جان خان وردک په وسا طت خو شې کړې خو انسانې تلفات په ځای پاته وه او هغه نه جبیره کیدل.

---

• (۶) ۷- ۲۴ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بل عبارت ویلې شو چې د التمور ځمکې د وردګو لپاره د امان الله خان او یا یې د هغه د حکومت لخوا د خوږې ډالۍ په ځاي هغه تر خه ډالۍ وه چې بیلګې یې له دې د مخه د پښتني قومونو تر منځ هیڅ نه وی لیدل شوې او لکه د مخه چې وویل شول دا شک بشپړ په ځاي دي چی کیدای دا پیښه په خپله امان الله خان او د هغه سلا کارانو د کوم بل هېواد په هڅونه او لمسون په نا فهمۍ کې په دوي عملې کړې وي دا د دې لپاره چې دې کړیو به غو ښتل د امان الله خان ځوانه واکمنې کمزورې او په کورنۍ سر خوږېو کې یې را ښکیل کړې، خو په هر صورت تر ننه ددې موضوع څرک د واقیعتونو په رڼا کې مستند را څرګند نشو چې ولې امان الله خان ددې ځمکو لپاره وردک قوم وټاکه؟

ولې یې دا زهرجنه ډالې په کوم بل زورور قوم ونه لوروله چې په وردګو یې ولوروله ، په پښتني قومونو کې خو وردک داسې آرام صبوره او خپل خور قومۀ چې هیڅ‌ا ته یې ضرر نه ؤ اړولې او نه یې هم له نورو قومونو سره د خپل منځې جګړو او نورو لانجو اوبد ماشیو کوم تاریخې بګروند درلود .

دهغه فرمان متن چې په ډیره سختې زموږ ګو تو ته راغلې او له مخې یې امان لله خان د کریم خان په مشرې دا ځمکې دوردکو خلکو ته ورکړې په کت مټ متن یې ستاسې لو ستلو ته وړاندې کوو:

لمبر فرمان ۱۳۸ نشان دولتې

۱۷ سرطان ۱۳۰۲

ع، ج، ع عبدالعزیز خان وزیر دا خله

املاک التمور، بیدک، آبچکان، اسپیس، سیا کوه، جوزار که بضبطې آمده و مردم موا ضع مزکور فرار گردیده اند ولا مزرع مانده برای اقوام وردکې منظور فرموده لا یحه جداګانه درین باره وضع و بوزارت حربیه ارشاد گردیده که مواد آتیه الذکر لایحه مزکور تعلق به وزارت داخله دارد :،

۱ـ به علاقه دارې همین قریه ها یکه زمین شان به مردم وردکې داده میشود محمد کریم خان وردکې مقرر است که حسب قوانین موضوعه دولت ایفای وظیفه نمایند قریه ها مزکور را از دیګر علاقه داریها وضع کرده یک علاقه دارې دوم جدید تشکیل میدهید .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ نفرهایکه درآنجا سکونت میگرینـد تا سه سال ازاخذ عسکرمعاف شوند لهذا ازدوفقره فوق شما راخبر داده امر وارشاد میشود که بقرارمواد فوق اجرا نماييد

شا امان الله خان غازي

امضا

اداره ۷۲۴

ثبت صفحه ۲۰ کتاب فرامین

مرکز دایره تحریرات حضور

له هغه ورو سته کله چې امان ا لله خان د اروپا له سفر نه بیرته را وګرځید نو استعماري کړیو په ډیره چالاکۍ هغه ته داسې غربي فرهنګ ورد غاړې ؤ چې دی، پرې نه پو هیده خو له امله یې دده واکمنې را ونړیده دا هغه زهرجنه ډالۍ او تریخ ارمغان وه چې اسلامې ارزښتونو ته سپکاوې او دده بربادې پکې نغښتی وه ځکه هغه فرهنګ چې ده له لودیځ نه را وړی وه عامو افغانانو ته دمنلوو نه وه نو دهغه دهمدې سیاسي کمزورې له امله یو شمیر خلک او قومونه د هغه په وړاندې را پا څیدل چې ددې کسانو پارونه هم په غیر مستقیم ډول د همدې رندو استعماري کړیو(انګلیسانو ) ترارادې ـ اداري لاندې وه چې د غیر مستقیمو هڅونو په ترڅ یې د سقاو زوی حبیب الله کلکاني له کوم لورې را پیدا کړ، د سقاو زوی د کابل په لور سو قیات وکړل کابل یې ونیو خو د وردکو خلکو ددې مجهول الهویه څیرې حکومت ونه مانه اود هغه په وړاندې یې نیغ مقاومت پیل کړ دا وخت کریم خان او کرنیل عبدالله خان مشهور په (لالا کرنیل) د سقاوله زوی سره د توپ په دښته کې و جنګیدل او له هغوي نه یې په پیل کې اوه سوه تنه تښې او اسیر ونیول غبار د خپل افغانستان در مسیرتاریخ په ۹۰۳ پاڼه کې داسې را غبرګه کړې:

اما مردم وردک از ابتدا حکومت بچه سقاو را نپیذیرفت و حاکم اورا رد کرد بچه سقاو به سو قیات قوي پرداخت، و مردم وردک به قیادت کریم خان، و عبدالله

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان کرنیل (ماهیار) در نواحي دشت توپ با قواي د شمن رزم کردند و با گرفتن ۷۰۰ اسیر و زخمي و کشته آنها را عقب زدند ، گرچه بعدها قوه بچه سقاو وردک را به جنگ اشغال و کریم خان که قلب وردکیان و طرفدار سلطنت شا امان الله خان بود بکشت و قلعه اش که در تنگي وردک که مرکز مهمات جنگي بود ، و خاندان او را با فتح محمد خان و عبدالسلام خان و غیره محبوس به کابل آوردند . البته عبدالله خان (کرنیل) فرار نموده بود .

د کریم خان د شهادت په اړه بیا پخپله حبیب الله کلکاني ( سقاو زوی ) په خپل کتاب « زما ژوند له غلا تر پاچاهۍ » کې لیکي:

د دربار وزیر شیرجان ددې لپاره ټاکل شوې ؤ چې له خلکو نه د راټولو شویو پیسو ډیره برخه په هغه چا وویشي چې له ما سره مخالف دي او په دې توګه زما پلویتوب او متا بعت واخلي په عمومي توګه شیرجان په خپلو کارونو کې بریالي ؤ خو د وردکو جنګیالیو چې د هغوی ځمکه زما او د غزني تر منځ پرته وه ، نه د شیرجان ومنله او نه زما ، هغه پوځي ټولګۍ چې ما د غزني خواته لیږلې ؤ د کریم خان او دهغه د ورور لالا عبد الله خان په لارښونه د وردکو جنګیالیو تر یر غل لاندې را غلل ، ماته یې وخوړه او ټول خواره واره شول . زه مجبور شوم چې ډیر پوجیان ولیږم خو هغوی هم بریالي نشول چې لاره پرانیزي دغو وردکو په حقیقت کې زما د مهماتو دوه لیکې ونیولې او په پای کې زه اړ شوم چې پخپله د هغوی مقابلې ته وروو دانګم . ما عمل غو ښت ، او د کابل له انګړ نه ستو مانه شوې وم . ما او زما ورور له دغو سره ډیرې جګړې وکړې ، او غوارم ووایم چې چمتو وم هر څه وکړم که هغوی ماته خدمت کول ومنې ،هغوی ډیر زړه ور جنګیالي وه او هیڅ ډول زړه سوی یې نه مانه .د جګړې پیل هغوی تر وروستې جنګیالي پورې د جګړې کولو مانا درلوده . څو او نۍ پکار وې تر څو د هغوی مقاومت مات شي .

په یاد مې دې چې دوه ځل په آس سپور له ډیرو لږو ساتونکو سره د وردکو له خوا ایسار شوم . زه فکر کوم چې که چیرې زما د اتو مات ټوپک مرسته نه وای نو زه به هم هلته قصابي شوې وم . یوه ورځ کله چې دوهمه پیښه را منځ ته کیدله د وردګو لارښود کریم خان د خپلو جنیالیو لار ښونه کوله . زه په پیل کې تر هغو چې جګړه ښه توده شوه په دې خبره نه پوهیدم . جګړه روانه وه تو پک مې په لاس کې تود

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې ؤ . هغه مقا و مت چې ورد ګو جنګيالانو شيبه په شيبه د جګړې تر پيل وروسته زياتاوه ، زه په دې خبره پوه کړم چې مو ږ له يوه عادي غليم سره مخامخ نه يا ستو . زما سرې زما شا وخواته په ډيره چکتيا را پرزيدل ، او ما په نه دريدونکي توګه ډزې کولې تر هغه چې زما ټوپک هومره تود شو چې نيږدې يې لاس را سوځولې ؤ . وروسته چې په موږ د جګړې فشار لږ څه سپک شو سترګې مو په يوه پګړۍ چې شمله يې په ژيړو ګلا باتونو ښکلې شوې وه ، ولګيدې ، کوم شي چې زما پام يې ځان ته را واړاوه ، او همد غه شيبې نيږدې زما ژوند را نه اخيستې ؤ يوه ګولۍ مې (سوغ ) غوږ ته څيرمه تيره شوه ؟ او مخ ته مې نيږدې يو ښکلې فو ق العاده ميړنۍ ځوان په آس سپور ولاړ ؤ . د هغه په لاسونو کې هغه په عاجو ښکلې شوې جزيل ټو پک ؤ چې ګولۍ يې نيږدې زما ما غزه ايستلې وه . ځوان ټو پک او س د ميل لخوا په لاس کې کلک نيولې ؤ . ټوپک يې په ټول زوراو چټ او زما د سر خواته يې را خلا ص کړ ، خو هغه په د نه پو هيده چې زما آس څومره چټک او غښتلې ؤ . زما د زنګنو له ډير فشار سره زما د آس ښايسته نعلونه او چټ شول او آس مې نيږدې يو ګز ليرې ودريد . ګوزار هوا و څيرله دغه ګوزار هو مره په زور او په قوت وشو چې ځوان يې نيږدې په خپله له آس نه غو ر ځولې ؤ . ما د خپل ټوپک خوله د ځوان ټټر ته ونيوله او پو ښتنه مې وکړه : ستا نوم ؟ له بې پروايې ډکه موسکا يې په مخ و غوړيده او ځواب يې را کړ : « کريم » ما ښايې هغه پخوا پيژندلې دې . ما په داسې حال کې چې د جګړې له ستړيا نه مې تيګا وهله ، وويل : زه تا نه وژنم خپلو سړيو ته ووايه چې تسليم شي زه به تاته ډير عزت درکړم ، خو هغه زما د ټو پک خولې ته وکتل او مازې يې وخندل . ځوان په لوړ غږ وخندل او زه يې له غو سې و پړسولم . هغه پو هيده چې زما په زړه کې څه ؤ ، هغه وکړای شول ، چې زما د ښکاره بلنې تر شا زما چکوره توب و ښيې ، نا ببره مې له غصې چيغه کړه : ستا قوم زما د با چا هۍ له منلو نه ډه ډه وکړه نو ټول ووژل شول . خو ستا په اړه به لاس ونيسم ، ځوان خپل سر په ويا ړ او چټ ونيو او په ټول غرور سره يې وويل : زه د يو سقاو له زوی نه هيڅ ډول مرسته او زړه سوې نه غواړم ، له آس نه را وښويدم او ومې وويل : ښه نو ته له مانه کرکه کوی ؟ د سقاو له زوی سره د توري وهلو په اړه څه وايې ؟ په ځواب کې دې هم له آس نه را کوز شو کله چې دواړو فو ځونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساس کړه چې ددوو لاړښونکو ترمنځ دوه په دوه جګړه کیدونکې ده ، نو ورو ، ورو یې جګړه پریښوده او دوه اوږدې لیکې یې جوړې کړې تر څو زموږ جګړه ووینې کله چې زموږ دواړو توري سره وبریښیدې نو د پوجونو په قطارونو کې چوپه چوپتیا وه زموږ د تن په تن جګړې په اوږده موده کې هیچا یوه کلیمه خبره ونکړه یوازینۍ شې چې ما اورید ه هغه کله کله زموږ د یوې خوا د لږ پر مختګ په صورت کې د پو ځیانو له خوا د تایید ، شا باسې او یا افسوس نارې وې.

کریم خان ډیر غښتلې توره وهونکې اولکه پیشو چټک ؤ ، سربیره پر دې د هغه د پاړسې (ایرانې ) څرمنې پا سته او تک سره بوټونه په پښو وه. او زما خوار درانه روسې پو ځې بوټونه په پښوه وه ، دا حال په هغو واورو کې زما د چټک خو ځښت خنډ ؤ او زه مجبور وم چې له خپلې ټولې ټګۍ نه کار واخلم. کریم خان کوم ساده جنګیالۍ نه ؤ. هغه تر ډیره د تن په ګړندې او چټک چورلیدو کې په خپل غښتلتوب او داو د خپل مړوند په نه ماتیدونکې زور باندې باور درلود ، او دداسې تاکتیکونو په مقابله کې زه اړ وم چې له ټولو هغو زده کړو نه تیر شم چې ما د پوځې پریت په میدان کې زده کړې وې او په ځای یې د خپلې غلا د مهال له چلونو نه ګټه واخلم زه ډیر ژر و پو هیدم چې که چیرې غواړم ژوندې پاته شم نو د نندار یزو جګړو وخت نه دې. هغه لنډه شیبه چې ما په دې اړه سوچ کاوه ، د کریم خان توري په هوا کې لکه بریښنا لو بې کولې ، او ما دهغه د جنګیالیو د آفرین غږونه او ریدل هغه دوه ځلې په خپله توره زما ټټراو زړه را په نښه کړ خو زما د پسه د څرمنې پو ستین او شاته د چورلیدو چل چې د کوهستان د هلکانو زده دې ، دواړه وارې زه وژغورلم. ډیر وروسته زما تورې د هغه ښۍ لیچ (بازو )ټپې کړ او د هغه په چټک خو ځښت کې لږ سستوالۍ را پیدا شو خو سره له دې په هغه اریانونکې چټکتیا چې هغه خپله توره په کیڼ لاس کې چلوله ، زه باورې کړم چې تر او سه هم له یوه ویرونکې غلیم سره مخامخ یم. یو وار بیا زه اعتراف کوم چې تر ډیره د یوه ښه تصادف په نتیجه کې زما توره په ځای ولګیده او د هغه غاړه یې داسې و څیرله چې وینو یې ټول کمیس لوند کړ یو دوه ګامه شاته ولاړم او چمتو وم چې توره په ځمکه واچوم. زه یو ځلې بیا په دې سوچ کې ډوب شوم چې که چیرې ددې ځوان په نه وژلو سره وکړای شم د وردګو پلوی تر لاسه کړم نو زما قوت او زور به ډیر ټینګ شي دا یو وژونکې تیر وتنه وه. په هغه لنډه شیبه کې چې ما سترګې بلې خواته واړولې ، کریم خان په ما را ټوپ کړل ، ما بلې خواته ټوپ کړل ، ځان مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وژغوره او خپله توره مې د هغه په زړه کې خښه کړه په داسې حال کې چې حیرانونکې مو سکا یې په ستر ګو کې ښکاریده پر شا ولویده او زه چې باوري وم هغه د مړینې په حال کې دې، د هغه خواته ور نیږدې شوم کله چې زه د هغه خواته روان وم د هغه سترګې زما په ستر ګو کې ښخې شوې او د بریښنا په شان چټک ځلنده خو ځښت یې وکړ. هغه لا تر او سه هم ژوندې ؤ. مخکې له هغه چې زه د هغه په مقصد وپو هیږم، لاس یې خپلې ملا و ستنې ته اوږد کړ او یو چاکو یې لکه بریښنا چټک زما خواته ګوزار کړ. ما له خپل ځایه ټو پ کړ او چاکو لکه ګولې هوا و څیرله. کریم خان پروت ؤ او د مړینې تیګا یې وهله. ما په غصه و پو ښتل: آیا دا هغه چلند دې چې ښایي له یو بریالي فاتح پوځي سره وشي؟ کریم خان چې وروستې ساه یې ایستله وویل: دا د وژونکي (قاتل) چاکو د وژونکې د وژلو لپاره ؤ ... دا چاکو زما د ورور د قاتل د وژلو چاکو ؤ هغه چاکو چې افغانستان یې ښايي له تا شیطان وزمه نه ژغورلای وای. هغه نور څه ونه ویل او سترګې یې د شیشې په شان و ځلیدې او مړ شو. د غې پیښې خورا قهر جن کړم او په چیغو مې وویل: زه به هیڅکله بیا په انسان زړه سوې ونه کړم. ما غو ښتل د دغه سړي ژوند وژغورم خو هغه پر ما وخندل. ما له هغه سره منصفانه جګړه وکړه او غو ښتل مې ځانکدن یې آسانه کړم. هغه په ما د چاکو ګوزار وکړ او زه یې وژونکې و ګڼلم. نور بس دې. که څه هم د کریم خان مړینې د وردکو مقاومت مات کړ خو هغوی زما نه پخلا کیدونکې د ښمنان پاته شول سره له دې هغه بیا هم زړه ونکړ چې د کابل او غزني په لار کې له ما سره مخامخ شي. زه هم تر هغو چې د امان الله خان فوځ هغه ځای ته را ورسید او د واورو نه پټې لارې یې آواري کړې، بریالي نه شوم چې د هغه ځای ځمکې لاندې کړم.

خو د کریم خان د شهاد ت په اړه موږ د مرحوم والي روشندل خان په قلم د هغه د خاطراتو د کتاب په ۴۹ مخ کې داسې یو روایت هم لرو او ځکه یې په ځای بولو چې رو شندل خان دا وخت یو قلم په لاس ژنی ؤ او همدا رنګه ددې روایت راوړل له بل پلوه ځکه اړین دې چې د حبیب الله کلکانې سره دورد کو د جګړو په اړه نور وضاحتونه هم پکې مو جودې.

« دربرخورد اولي مردم وردک با بچه سقاو دردشت توپ یک غنډ مکمل سقاوي ها ازبین رفت وتمام مهمات جنګي شان بدست سربازان وردک افتاد حتي ګفته میشد که بعضي اززنان دهات دشت توپ هم توانستند که چند چند میل تفنګ را از نفر های پا ی مانده و هزیمت خورده سقاوي ها را بدست بیا ورد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

این غلبه معنویات و رو حیات قوم را اضافتر تقویه و زنده ساخت و در ظرف چند روز تقریبا هجده هزار نفر مسلح منا طق وردک به میدان نبرد حاضر گردید و در صدد پیشرفت به سوی کابل شدند ، کریم خان ولالا کرنیل عبد الله خان و برای تقویه لشکر قومي کمک هم کردند . درین احوال تصادفا في ما بین کریم خان و کپتان محمد حسن خان جغتو اختلاف نظر پدید شد که این اختلاف تقریبا کمر قوم را شکست ، موضوع اختلاف نظر شان هم جز اقتدار پسندي و رسوخ جنگي چیزي دیگري نبود ( متاسفانه قبایل غیور مملکت ما همیشه به علت مرض کسب قدرت مرام های ملي را مي بازند . )

با حدوث این اختلاف کپتان محمد حسن خان با بعضي از گروپهای قبایل ما یارمیدان جنگ در آنجا ترک گفته به جغتو مرا جعت نمودند ، کریم خان ازین پیش آمد بغیظ و غصه آمده با بعضي نفرهای میرخیل ها محاذ مشترک قومي را گذاشته مستقیما در جای شان در تنگي وردک رفتند درآنجا به تنهایي در مقابل قدرت سقوي ها قدعلم نمود اما چون طاقت غیر کافي در دست داشت مقاومت کرده نتوانست زودتر محاصره شد وبالاخره بدست او شان اسیر گردید ، مدتي در کابل محبوس بود سپس به ورثه های چندین مقتولین ورثه احمدزایي التمور که قبلا در یک برخورد محلي از طرف نفر هایي متعلقه وي به قتل رسیده بودند سپرده شد وازطرف او شان مقتول گردید ، بلي: این ذعیم ملي و شجیع به قتل رسید ولي وردک ها از جنگ دست نه کشیدند و آترا تا آخر ادامه دادند »

د کریم خان د شهادت په اړه د حبیب الله کلکاني او والي روشندل خان له روایاتونه موږ پوره حقیقت را ایستلي شو چي کریم خان له احمد زیو سره د خپل منځي مخکنیو جګړو او تاو تریخوالیو له امله له یوې خوا او د خپل قوم د بي اتفاقۍ له پلوه کمزوري شو او دښمن یې په اړه بریالیتوب ته ورسید .•

---

•(۶) ۱۶۴- ۱۷۹ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غازي ملا مومن خان



غـــازي نايــب مــلا مـؤمن خـان پـه ختـه بنوزی او په ستـه کې غلجايي پښتون دی ، په پيل کې د پکتيا خلکـــو د غـــه نوميـالی تـر مشـری لاندی د انگليسـانو پـه ضد پاڅون وکړ او ډيرې بريـاوې يـې تـر لاسه کړي چې په دې توگه لـه هغـه نـه يو ملی مشـر جوړ شو اولاده يې اوس د برگوده ، کرمعلی او زرکک په کليو کې اوسيږي.

غازي ملا مومن خان دخپلو منصبونو په لړ کې د امير شيرعلی خان د واکمنۍ پـه مهال دهندستان د سيند ايالت په مرکز شکارپور کې لومړی د والي نايب او بيا وروسته والـي وټـا کـل شـو او قـوي روايـات دي چـې غـازي مـلا مـومن خـان د امـير شيرعلی د واکمنۍ په مهال د څه وخت لپاره د هغه وزير هم پاته شوی دی.

غازي نايب ملا مؤمن خان د کابل پـه لاهوری دروازه کـې پـخپـل نـوم يو جـومـات هم درلود چې هغه يې پخپل شخصي لگښت جوړ کړی وو او هم يي د هغه امامت کاوه په هرصورت غازي ملا مؤمن خان په هغه زمانه کې دومـره تکـړه او مـاهر والـی وو چې په قلمرو کې يې دده د حکومت په زمانه کی هيڅ ډول بغاوت راپورته نشو، ده بـه د سيند ايالت کلنـی ماليـه چې يـو لـک هنـدی کلدارو تـه رسيده را ټولولـه او د خپلو لگښتونو له وضع کولو وروسته نوره به يې مرکزی حکومت ته را ليږله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې غازي ملا مومن خان له خپلی دندی نه تقاعد وکړ نو له هندستان نه افغانستان ته راستون شو او دنورو کورنیو چارو ترڅنګ یې دیوې لویې او تاریخي ۹ برجه کلا بنسټ چې تر نن ورځې پورې پخپل پخواني عظمت په ځای ولاړه ده دچک ولسوالۍ د ګوډه په سیمه ،کېښود دا کلا په څه د پاسه پنځه جریبه ځمکه کې په (۹) رخه ، دایروی بڼه ، په داسې فني ډول جوړه شوی چې اوس د هغه زماني یوبې مثاله شهکار ګڼل کېدای شی او بیلګه یې په ټول هېواد کې تقریبا نشته خو دریغا چې د غه تاریخي شاهکار اوس د حکومت او دهغه د اوسیدنکو د نه پاملرنې له امله د انقراض تر پولې رسیدلې ده.
وایې چې غازي ملا مومن خان ددې کلا نقشه له هند ستان نه راوړې وه دا کلا په خپلو دیوالونو کې اته آسمان څکې برجونه چې هر برج یې پنځه منزله ،شپږ رخه او ۲۵ متره لوړوالی لری او نهم برج چی د کلا په منځ کې په حرم سرای کې موقیعت لری تر ټولو لوړ برج دی.
دغه برج د حرم سرای په منځ کې موقیعت لری او یو د پخو خښتو حمام چې عمومی او انفرادی غسل ځایونه لری هم په دغه حرامسرای کې تر ستر ګو کیږی چې داهرڅه ټول د هغه زمانی له شهاهکاریو نه د حال په ژبه کیسې او افسانې بیانوي ، ددې کلا ددیوالونو سور ترنیمایې پورې دری متره دی خو پورته یې بیا پخسې یو څه کم سوري شوي دي.
دا کلا د سهیل لخوا دوې لویې دروازې لری د منځ د دروازې په سر د لوحې شاته د اوبو د څلورو لویو کټوو یو مخزن یو لري چې که خدای مکړه ددښمن لخوا دروازو ته اور واچول شي نو په اتومات ډول داوبو استعمال به اور مړ کړي ، دا داسې عظیم الجسه دروازې دی چې دنن ورځی ترکاڼان یې له جوړولو نه عاجز دی او آن یوه پله به یې هم ونشې ښورولای ، دا دروازې چې د اوسپنو په قوي پټو اوظریفوګل میخیو ، سپرغیو او غورغیو ښکلي شوي دي او تر نن پورې پاته دی چې موږ ته د تیرې زمانې د برمونو او عظمتونو کیسې دحال په ژبه بیانوي د کلا د منځ پلو ددروازې په سر په مرمرینه تیږه په دری ژبه دا لوحه منقوش شوی ده چې د قال په ژبه دا لاندې ابیات زموږ سترګو ته را غبرګوی.

ګشاد باد دولت همیشه این درګا    بحق اشهد ان لا اله الا الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساخت ملا مومن غلجایی    درزمان قلعه عالی وقار
وجه قلعه نام خواهش شیر کرد    بهر شیران پیشه شد یاد گار
هشت برج هشت رخ شش جهت    صاحبش را یاد باد کردگار
درحساب جمع خرچش سیم و زر ازحساب معلوم شد هفده هزار
اخویش یار محمد خان جوان بود و کرد شهادت آخر اختیار ۱۲۳۳ه ق
یافت چون اتمام بود انکه سنه یک هزار دو صد سی وچهار ۱۲۳۴ه

له غازي ملا مومن خان وروسته د هغه زوی جانداد خان هم د خپل پلار په شان یو تکړه غازي جوړشو چې له ده وروسته یې په کورمه، پاړاچنار، هنګو او ټل پورې ډېر فتوحات کړی او په غزا ګانو کې یې فعاله ونډه او برخه اخیستې ده. روایت دی چې د هغه د پلار نوم ملا عبد الحکیم دی او مومن خان یې په ماشومتوب کې د زماني ترخو څپېو ته یوازې پرایښی دی کله چې مومن خان او یار محمد ځوانان شول نو اسلامي زده یې وکړې اوعالمان ترې جوړ شول دوی له پکتیا د اوسني لوګر په لوررا وکوچیدل او لومړی یې په لوګرکې د شکارکلا په نوم یوه تاریخې کلا جوړه کړه او بیا له څه مودې وروسته د اوسنیو وردګو په لور را وکوچیدل او د جلګې په تره کې بله کلا جوړه کړه چې وروستۍ شاهکار یې د کرمعلی ۹ برجه کلا ګڼلی شو.
غازي ملا مومن خان په ملنګ کي ښخ شوی دی اولاده یې اوس په برګوډه کې او سیږی چې په اولاده کې مشهور کسان یې،
جنرال اصیل خان دی چې د افغانستان په اردو کې یو قوي هیکله منصبدار او د جهاد په دوران کې یو تکړه جنرال پاته شوی دی هغه د کمونستانو د کودتا په مهال د ارګ په ختیځه دروازه کې نوکري درلوده او له دې چې دکمونستانو سره سخت مخالف و مقاومت یې وکړ خو کله چې کمونستان بریالی شول نو اصیل یې د اوږدې مودې لپاره بندي کړ او کله چې له بندیخانې آزد شو نو جزایې د کونړ د اسمار غنډ ته ورکړل شو دافغانستان په اردو کې هغه غنډ و چې د ټول هېواد جزایې منصبداران به ور ته را لیږل کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له څه موديږ وروسته اصيل خان له دې چې په کمونستانو يې سخت زړه ډک و نو په غنډ کې يې کودتا وکړه کمونستان يې ددوی په واجب سزا ورسول سلاح او مهمات يې ولجه کړل له هغه وروسته اصيل خان د حزب اسلامي افغانستان په تشکيل کې جهاد ته ادامه ورکړه او په پيښور کې د اوږدې مودې لپاره د سرحدي کشف مسؤل وټاکل شو ترهغه چې په ۱۳۷۰ کال کابل د مجاهدينو په لاس ورغی د يو څه وخت لپاره اصيل خان په ريشخورو کې پاته شو او بيا به کله په وطن او کله به پيښور کې و د طالبانو د واکمنی په مهال د يوې موسسې د امنيت مسؤل و خو اوس د ملي دفاع وزارت په احتياطو کې دی.

جنرال اصيل خان د زمانې له پيښو ډيره ګيله لری او په هر کاره کار قوي نيوکه او منطقي استدلال کوي، همدا وجه ده چې په نظامی ليکو کې د هغه د شموليت چانس کم شوی ځکه ټول منصب داران ترې بيريږی.

د غازي ملا مومن خان په اولاده کې نور مشهور کسان محمد کريم خان او دهغه زوی محمد نعيم خان (معين خان) وه چې علم پالونکی کسان وو او تل به د هغوی په جومات کې ګڼ عالمان او طالب العلمان اوسيدل د نايب غازي ملا مومن خان په نامه اوس د ګوډه د خواجه کلا په ډاګ کې يوه ليسه هم نومول شوی ده چې ډير زده کونکي پکې لوست وايي.

نايب غازي يارمحمد خان:

دغه نوميالی د غازي ملا مومن خان کشرورور او ده ته ورته غازي و چې په پيل کې يې د هېواد په سهيلي ختيځو سېمو کې له انګليسانو سره جنګېدلی او بيا وروسته په هرات کې پلټڼ مشر وټاکل شو او بيا همالته شهيد او آلې د (بس بابا ) په هديره کې خاورو ته وسپارل شو چې قبر يې اوس هم معلوم دی، له هغه نه په هرات کې ډير ياد ګارونه پاته شوی دی چې يوهم دهغه د اس نعلونه (نالونه) وه چې په هرات کې دومره مشهورشوي وه چې د يارمحمدخاني نالونو په نوم به ټولو آهنګرانو پيژندل او جوړول به يې. شهيد يارمحمد خان تقريبا د ځوانۍ په عمر شهيد شو روايت دی چې شهيد يار محمد خان دکرملی د ۹ برجه کلا دجوړولو ترنيمايې پورې له خپل ورور غازي ملا مومن خان سره ملګری وخوکله چې هرات ته په نظامي سفر ولاړ نو بيا را ونګرځيد او د کرملي کلا يې جوړه او په سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسیدلی ونه لېده ، دنایب غازي ملا مومن خان سره د املاکو ویش بیا د یار محمد خان اولادی د رود په مسیر وکړ یانی د رود لودیځ پلوځمکې د ذولفقارله کلي را نیولې بیا تر تنګې سیدان پورې دغازي ملا مومن خان په برخه ورسېدي او د رود ختیځ پلوځمکې بیا له همدې کلي نه تر تنګی سیدان پورې د غازي یارمحمد خان اولادې ته پاته شوي خو پاته دې نه وي چې د غازي ملا مومن خان ځمکې او کلا بیا د ظالم عبدالرحمن خان په حکم ضبطی او په نورو خلکو وویشل شوي .

وایې چې بازخانه بې بازه نه پاتېږی د غازي یارمحمد مشر زوی غازي (طره بازخان ) هم د خپل پلار او کاکا په شان غښتلی اومبارز غازي تیرشوی اوله انګلیسانو سره د کابل په اوسني شاشهید کې د یوې مخامخ جګړې په ترڅ کې شهید شوچې جنازه یې په ډېر درنښت د نظامی پریټ په بدرګه وردګو ته راوړل شو او د خپل کاکا غازي ملا مومن خان په سپارښتنه د برګوډه د ملنګ په کلا کې خاورو ته وسپارل شو (۱)

(۱ )دملنګ کلا یوه پخوانۍ چاردیوال وه چې کوټې نه وی پکې ودانې شوی او د طره بازخان په ښخولو سره دغه چاردیوال په هدیره بدل شو اوتر نن پورې مړی پکې ښخیږی.

ددغه غازي اولاده اوس هم په نهه برجه کې اوسیږی چې حاجی محمد ابراهیم خان یې په اولاده مخور او مشهور کس تیر شوی چې په اخلافو کې یې اوس قاضي غلام درویش په شمول ډیر علما را پیدا شوي دي حاجي محمد ابراهیم په ځوانۍ کې په صوفي مشهور وهغه دومره عابد او پرهیز ګاره سړي و ژبه به یې تل د الله په اسماوو ذاکره او شنډې به یې ورو ورو په ذکر رپیدې ، له علماوو سره یې ډیره مینه درلوده وه او د ژوند په وروستیو کې یې الله پاک حج هم په نصیب کړ .

سردارخان د غازي یارمحمد د اولادې بل مخوروچې په برګوډه کې اوسېده او اولاده یې هم په برګوډه کې اوسیږي نوموړی په خپل وخت کې زړه سواندی اوعلم پالونکی شخصیت تیرشوی دی اوپه خپل نامه په برګوډه کې یو جومات هم لری اوتل به یې په دسترخوان ملنګان او فقیران راټول وه ددغه غازي په معاصره اولاده کې حاجی عبد الوهاب خان بل مخور دی چې اوس د قوم د ستونزو حل ډیری د هغه اوږو ته تکیه دي هغه د جهاد اوکمونستانو دمخه دبګرام په هوایې ډګرکې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظامی منصبدار و بیا دجهاد لیکو ته ولاړ او دخپل ماما ډگروال ارکان حرب غلام دستگیر خان وردگ تر قوماندې لاندې یې په وردگو کې دروسانو په ضد جهاد پیل کړ او یو څه موده وروسته پېښور ته ولاړ او د پیر سید احمد گیلاني له محاذ ملي نه یو نظامي کنډک راووړ خو کله چې مجاهدین بریالي شول نو دجهاد بریاوي او ارزښتونه یې د خپل منځي جگړو او بې اتفاقیو قرباني کړل، همدا وجه ده چې عبدالوهاب خان بیا نظامي وظیفې ته زړه ښه نکړ او د خپل قوم په خوا پورې پاته شو.

دیارمحمد خان په اولاده کې دکلات د حج او اوقافو رییس شهید قاضي محمد انور (سعادت) هم شامل و چې د خپل عمر د شباب په دوران کې یې د یوې ترافیکي پیښې په ترخ کې خپل ژوند له لاسه ورکړ، هغه د زابل په ولایت کې په میشت ناقل وردگو خورا گران و او کله چې شهید شو نو هغوی خپلې کورنۍ ته راوړ.

محمد انور په جاپاني انگلسي عربي پښتو اودري رواني خبرې کولې

موږ دغازي ملا مومن خان او وروریې یار محمد غازي تذکره او یادونه ددې لپاره دلته سجل کوو چې دهغه نومیالیو د اولادې انس او الفت اوس له وردگو سره دومره ژوره گنډه خوړلې چې له وردگو د باندې دوی په وردگو یادیږي او هم یې خیښۍ او دوستۍ له وردگو سره بیحاسبه ډیرې دي•

---

• (۸) ۱۷۶- ۱۸۱ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غازي عبدالکبیرخان ((ببرک ))

موږ غو ښتل چې د عبد الکبیرخان (ببرک ) دژوند یادونه او کاري فعالیتونه د وردک مشاهیرو پـه لومړي ټوک کې سجل کړو خود معلوماتود نه نلرلوله امله دخپلې دې هیلې په ترسره کېدلو ونه توانیدو که څه هم هلې ځلې مو ډیرې وکړې او په بار بار مو دهغه اولادونوته مراجعه وکړه خو په نن سبا یې خبره تر نن ورځې را وځنډوله او سرانجام یې معلومات هم پـه لاس رانکړل ،دغه نیم نیګور معلومات چې تاسې یې اوس لولی دهغه اولادونو زموږ پـه واک کې نه دي را کړي ، بلکه د آبکزار دمانجرخیلو معلم شیراقا چې د هغـه د خپلوانولـه ډلې دی زموږ سره مرحمت وکړ او پـه نیمه خوله یې له وردګو نه کابل ته را ولیږل ، په تکرار سره وایو چې مرحوم عبدالکبیر خان ترهغه لوړحق درلود کوم یې چې موږ ددې رسالې لـه لارې ورپه ځای کوو خو داچې ولې له بشپړو معلوماتومحروم پاته شو دا زموږ ګنا نه ، بلکه دهغه چا بې غوری وه چې په بیا بیا مراجعو اوغوښتنو یې ددغه نومیالي په اړه په معلوماتو خاشه واچوله .

زموږ په باور دجهاد په ګټه دعبد الکبیرخان کارنامې له تسجیل پاتـه کېـدل لویـه بې غوري ،بې انصافي اود وردګو لـه جهادي داعیې سره ستره جفاده ،پـه دوهم تکرار سره وایو دا چې ښوک به ملامت وي او ښوک سلامت !تر موږ هغـه ښوک ښـه پـوهیږي ، چـې دهغــه جنـاب پـه خلـف کـې حسـابیږي !مـوږ خوجنـاب عبدالکبیرخان ته د ورته اتلانو دفعالیتونو سجل ته تل اولیت ورکړی دی .

بیا وایو !داچې ولې ؟دعبد الکبیرخان دفعالیتونو دتسجیل خبره تر دریم ټوک پوری را ورغزیده هغه هم پـه داسې حال کې چې پـه اړه یې معلومات نیمګړی او انځور یې هم پـه لاس کې نشته خپله وروستی ګیله لـه شف شف نه شفتالو تـه را باسو او پـه ډک زړه وایو چې یوځل تاسې ټول لوستونکي دهغه له زوی عبدالرحمن جان نه وپوښتی چې دا ټول ولې ؟

په هرصورت ،ګیلې ګرمانې او خواشینی زښته ډیرې دی ،خوله چا ؟

او له کوم زړه سواندي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بل ټکي ته هم اشاره کوو، د مرحوم عبد الکبیرخان د کارنامو سجل زموږ غوښتنه او تقاضا نه ! بلکه د وردګو د چوپ او خاموش اکثریت ټینګه او منصفانه غوښتنه وه، نو موږ به څنګه سترګې پرې پټې کړو.

په هر حال !

کله چې په وردکو کې اسلحې وویشل شوي او جهاد پیل شو نو تریوه لنډې مودې د سیمې ملکي اداره هم د نظامې شورا په لاس کې وه خو څنګه چې دا وخت د نظامې شورا دندې ډېرې مهمې درندی او حساسې وي او نشوای کیدای چې د خلکو خپل منځی ستونزو، دعوا ګانو او نورو ملکي کارونو ته لاس رسی وشي نو د نظامې شورا په تشکیل کې د وردګو اسلامي قومي شورا را منځ ته شوه چې عبد الکبیرخان «ببرک» یې لومړی او وروستی ریيس وو، عبد الکبیرخان په وردکو کې د جهاد د پیل لومړنی انتخابي قومی ریيس وو چې په پیل کې دلنډو خوورځو لپاره د جلګې په ولسوالی کې د هغه ولسوالی په کچه ریيس وټا کل شو خو ژر د ټولو وردګو د قومي اسلامي شورا ریيس شو، د وردګو ټولو مجاهدینو له هغه نه کلک اطاعت کاوه دا هغه وخت وو چې تنظیمونو د پرګنو ترمنځ بې اتفاقی منګلې وردګو ته نه وی را اوږدی کړی او په وردګو کې اسلامي جهاد له اسلامي معیارونو سره برابر د یوه اتحاد او اتفاق په خوږه او دوروروولی په فضا کې په مخ روان و، هو، وردګ ټول په یوه قوماندوه او عبد الکبیرخان علاقداریې ریس وو او تشکیلات یې په لاندې ډول و،

عبد الکبیر خان علاقدار د شورا ریس.

ډګروال ارکان حرب غلام د ستګیر خان نظامي قوماندان.

ملا منیر آخند زاده د شورا مرستیال.

جګړن رویدارخان د نظامي مرستیال.

په پورتني تشکیل شورا جوړه او په درز یې خپل کارونه پیل کړل او لومړنی مرکز یې تریو وخت پورې په شیخ یا سین کې و بیا د شورا مرکز ګرځنده شو او له هغه ځایه دچک د زراعت کوټې ته راغی او تریوه کال پورې یې دلته فعالیت درلود او له یو څه مودې وروسته ددې لپاره دا مرکز تنګي سیدان ته ولاړ چې دا نقطه د چک اود جلګې د ولسوالیو تر منځ یوه مهمه او ستراتیژیکه د اتصال نقطه وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه خواوي ترې ښې اداره کيدې د يو څه مودې په تريدو سره دغه مرکز بيا د عليشنګ ګاګرو ته راغى او تر آخره پورې په دې کلي کې و .
عبد الکبير خان علاقدار نه يوازې د يوه مدبر، مدير په توګه خپل قوم د جهاد په ليکو کې اداره کاوه بلکه له جهاد د مخه هم ديوه قوى وکيل په توګه د خپل قوم په خوا پورى ولاړ و ، د فروتن په نامه کوم حکمران چې د وردګو سپين ژيرو به ډيرې کيسې ترې درلودې اوله وردګوسره يې ښه نکول يو وخت د جلګې اوسنۍ ولسوالۍ ته راغى اود خلکو په ناحق ځورولو يې پيل وکړ فروتن د يو شمير کسانو په لمسون غو ښتل چې د ولسوالۍ (مقر) له (ميرانو) نه د کلاخ کلي ته را نقل کړى چې دغه کار زښته ډير زيانونه درلودل چې تر ټولو مهم زيان يې دا وه چې د کلاخ کلي چا پيريال د ولسوالۍ د مقر لپاره مناسب او مساعد نه و ځکه د ولسوالى د تاسيساتو جوړولو لپاره يې اراضې نه درلوده او دغه کلى ديوې ډبرينې غونډۍ لپاسه پروت وو
عبدالکبير خان فروتن ته دهغه ددې خپل سرى په اړه وويل: تيره په خپل ځاى درنده پاته ښه ده د ولسوالۍ انتقال ناممکن دى خو فروتن نه منله او خپلې دواړې پښې يې په يوه موزه ننويستې وي کله چې فروتن دعبد الکبيرخان خبره ونه منله نو د عبد الکبيرخان له خولې يې واوريدل چې ښه او سمه خبره نه اورې او نه يې منې نودا ګز او دا ميدان وګورو چې ته څومره نر يې ! فروتن ډير په غصه شو خو دغصې په جوش کې يې يوځو نورې رقيقې خبرى هم د عبدالکبيرخان له خولې واوريدې او په نتيجه لاس تر پښنو اوږده د جلګې له ولسوالۍ ووت.
عبد الکبيرخان ببرک عجيبه حوصله هم درلوده هغه ته به چې چا په دولتى ادارو کې د کار د بندښت ستونزه وروړه نو په خلاصه ټنډه به سمدلاسه ورسره روان شو او تر هغه به نه لاس په سر کيده ترڅو به ستونزه نه وه کنترول شوى چې له خپل قوم سره د هغه دا ښګينې د تاريخ په حافظه کې دثبت او سجل حق لرى .
عبد الکبير خان ببرک ډبردروند او په خپل قوم زړه سواندي او مهربان کس و پراخه حوصله يې لرله او لويه په ځان باندې ونه يې درلوده .
د محمد ظاهر شا او محمد داود خان د واکمنۍ په مهال لومړى د هبواد په شمال يانې د ميمنې په ولايت کې د مرديا ن علاقدار و او له هغه ورو سته بيا غزنې ته را

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبدیل شو او د ناور په «اوکک» کې علاقدارو او د څه مودې لپاره د لوګر ولایت د خوښې علاقدار هم پاته شوي دی.
د غو ایې د کودتا په مهال د کورنیو چارو په وزارت کې د احصایې مدیر و خو ډېره ژر یې دنده پریښوده او وطن ته ولاړ تر هغه چې په وردکو کې اسلامې پا څون نه و شوی عبد الکبیر خان ډېر ځوریده ځکه دا داسې وخت چې بې تجربې کمونستانو ته د خپلو مشران ځورول، وژل او بندي کول لوی غیرت او بریالیتوب ښکاریده.
عبدالکبیر خان علاقدار په ۱۲۹۹ لمریزکال د جلګې ولسوالې د دالان په کلې کې په یوه دنداره او علم پالونکې کورنۍ کې سترګې غړولې او خپلې لومړنی زده کړې په خپل چا پیریال کې تر سره کړې او دو مره ښه لیک یې درلود چې د اجمل خټک خبره (لوی لوی فنکاران ترې لو ګی شه)
عبدالکبیر خان علاقدار په ۱۳۶۲لمریز کال د ور پیښې نارو غۍ له امله د ۶۳ کالو په عمر له دنیا نه سترګې کړې او له روسانو سره یې د جهاد ی تاریخ په پاڼو کې خپل نوم تل پاته او ژوندی په ځای پریښود.
د جلګې په ولسوالې کې او س یوه لیسه د هغه په نوم جوړه ده چې ګڼ زده کونکې پکې لوست وایې.•

---

• (۸) ۹۴- ۹۸ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جمعه خان (همد رد )

جمعه خان همدرد د جهاد په مهال پخپله سیمه (د هیواد په شمال کې ) په خاص ډول خپل قوم وردګ ، په عام ډول ټول



پښتانه د توکمیز اړدوړله غلیم توب نه په ډکو دوروکې له هرډول تیری اوغچ اخیستونکو بریدونونه بچ اوسرلوړي وساتل نوځکه به د هغه نومیالي نوم د کیقباد ،کی خسرو په څیر د تاریخ د سینې په هره پاڼه کې د راتلونکو نسلونو لپاره په زرینو کرښو سجل اوله ویاړه ډکې کار نامې او فعالیتونه به یې د غیرت د مشالونو تل پاته بیلګې وي.

په رښتیا هم چې جمعه خان (همدرد ) په فرضې جهاد برسېره د قومي ذات البیني شخړوله پېښیدونه د مخنیوي اوپه شمال کې د میشت قومونو ترمنځ د نیکواړیکو په احیا اوژوندي کولو کې هڅاند وو.

زمونږ د دغه ادعا مصداق داد یچې د جهاد په کړکیچونو دورو کې نه پخپله د جمعه خان همدرد اونه یې د مجاهد ینولاسونه د چا په وینو رنګ شول او نه هم د بل چا لاسونه ،دهغهد (مجاهدینو او یا نورو متعهدینو ) په وینو سره شول دا په دې مانا نه وه چې جمعه خان (همدرد ) کمزورې وو ،نه ! د هغه له شخصې خصوصیاتو نه یو داوه چې اصلا له هېچا او هیڅ قوم سره تضاد نه درلود یوریښتینې مسلمان وو ، او یوازې دهېواد په شمال کې د افغانستان د اسلامي حزب یو تکړه ،متعهد او وفادار قوماندان و چې د مقابلې لورې یې یوازې او یوازې ګوره روسان او د هغه ګوډاګیان وه.

د کمو نستانو د رژیم له ړنګیدو وروسته جمعه خان (همدرد ) د هېواد په شمال کې دټولو پښتنو لپاره یوه ډاډ منه تکیه ګاه اود ویاړ هغه سمبول ووچې د سیاسې بدلونونواو اوښتونو په ټولو پړاونو کې دیوه سوله خوښونکي غښتلې او هوښیار افغان په عنوان لکه ونه مستقیم په خپل مکان پاته شوي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که موضوع په تفصیل سره را وڅیړونو ښایي کتابونه پرې ډک شي خو په لنډ ډول به یې را ونغاړو جمعه خان همدرد په ۱۳۵۸ هجرې لمریز کال له خپل قهرمان ورور صوفي امیرګل (همتیار) سره چې د افغانستان د اسلامي حزب په تشکیلاتي لیکو کې د بلخ په ولسوالۍ کې د حضرت بلال (رض) د جهادي جبهې عمومي قوماندان و، په جهاد پیل وکړ، عجالتا دا وخت هغه د خالد بن ولید د غنډ چې د دغه جبهې له غنډونونه یو غنډو، قوماندانوو، خو کله چې په ۱۳۶۴ کال صوفي امیرګل (همتیار) دیوې نا ځوانمردانه تو طیې ښکار او د شهادت لوړ مقام ته ورسید(۱) نو د حضرت بلال د جبهې ټولو مجاهدینو د

(۱) دصوفي امیرګل همتیار د شهادت په دغه دول و چې هغه ته یې کوم کلیوال د مزارشریف له ښاره یو تیپ ریکاردر ډالۍ را ولیږه ( هغه وخت زمانه یو څه ساده وه او شیطا نتونه چا نه پیژندل ) کله چې صوفي امیرګل تیپ سویچ کړ نو هغه نا ځوانه بارود پکې ځای په ځای کړې وه چاودنه را منځ ته شوه اوصوفي امیرګل ځای په ځای شهید شو

رایو په غوځ اکثریت جمعه خان (همدرد) د خپلې جبهې د مشر او جهادي قوماندان په توګه ومانه، او په اتفاق سره سلاه شول چې نورد جمعه همدرد تر قیادت او قوماندې لاندې په دغه جبهه کې د پخوا په څیر خپل سپیڅلی جهاد ته ادامه ورکړي.

پاتـه دي نه وي چې دا وخت د حضرت بلال جبهې د بلخ ولایت په مختلفو ولسوالیو کې په لاندې تفصیل څلورغټ غنډونه د فعالیت په چوکاټ کې درلودل
.

۱ـ د خالد بن ولید غنډ لکه چې د مخه وویل شول د صوفي امیرګل (همت یار) په ژوند یې پخپله جمعه (همدرد) قوماندان وو او د هغه له شهادت وروسته کله چې جمعه خان همدرد د حضرت بلال د جبهې عمومي امیرشو نو د دغه غنډ قوماندان مامورمحمد نسیم وټاکل شو.

۲ـ د چاربولک په ولسوالی کې د چار بولک په نوم جهادي غنډ چې قوماندان یې فدا ګل و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳.د دولت آباد په ولسوالۍ کې د بلال (رض) په نوم غونډ چې قوماندان یې شمس الدین و.

۴.د بلخ په ولسوالۍ کې د شهید (همتیار) په نوم غونډ چې قوماندان یې جمعه الدین وو او د همتیار له شهادت وروسته دا نوم وربا ندې کنبیودل شو .

له دې چې د بلخ ولایت اراضي اواره ده ،د پټیدو او ستراخفاء د من ځایونه یې هم نه درلودل او دا خوځرکنده ده چې په دښتو کې وسلود نا اندولۍ له لحاظه جګړه ډېره سخته وي او هغه ځوک به زورور کیږي چې ثقیله سلاګانې ولري خو بیا هم کله به چې جګړه ونښته نو(نره) جګړه به وه او مجاهدینو به خپل سنګرونه نه خوشي کول که څه هم د جبهې عمومي مرکز د شولګرې ولسوالۍ په طلا قمر کې وو او هره ورځ به بمبارديده او یا به ژر ژر قواوي او آن پخپله روسان ورتلل خو هیڅ وخت د دغه مرکز په تسخیر بریالي نشول.

یو وخت دوی ته د کمونستانو د جاسوسۍ له شبکې نه اطلاع حاصله شوه چې له مزارشریف نه پنځه کمونستي اورګانونه، د مزار خاد، د دوستم ملیشاوي، اتلسمه فرقه، نهرین فرقه، د ګلخان مغللو آچې د خاد په مربوطاتو کې یې فعالیت درلود ،پریکړه کړې چې د جمعه خان همدرد په مرکزونو د بلخ په ټولو ولسوالیو کې د دوي په ذعم ګیلم جم ؟؟! حمله وکړي، دوی خپل ټول اکمالات وکړل ځانونه یې برابر او سهار وختی یې د جنګې الوتکو په بمبارد، جنګ پیل کړ، بیا د رندو وسلو اراضي ویشته دوی هره ورځ دغه کار کاوه چې خپل ټول هوایي او ځمکنې زور به یې ختم کړ نو بیا به هر اورګان ځمکنی تعرض پیل کړ او تر بیګا پورې به درنده جګړه روانه وه ماښام به دوی ټول خپلو قرارګاوو ته ولاړل نهه ورځې تمام د کمونستانو ټولو اروګانونو عملیات وکړل خپل زور یې تمام کړ خو بری یې تر لاسه نکړاو په دغه نهو ورځو کې یو ګام هم په مخ ولاړ نشول کله چې له ماتېسره مخ شول نو په نهمه ورځ ماښو کې منګل (چې دا وخت د ترانسپورت وزیر وو ) د بلخ د ولسوالۍ سپین ژیری سره را ټول کړل او دوی ته یې وویل: چې زه به خپله لونګۍ ستاسې په لمن کې واچوم او تاسې ولاړشی خپلې لونګی د جمعه خان همدرد په لمن کې واچوي چې دا جګړه نوره بس کړي. کمونستانو په دې توګه خپله بشپړه ماتې ومنله، سپین ژیرو د ماښو کې منګل لخوا په پیغام کې جمعه خان همدرد ته دا هیله هم راوړي وه چې د دوستم (ټانګونو او شوبلو ) ته اجازه ورکړي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شبرغان په لوري خپلو قرارګاوو ته وګرځي، جمعه خان همدرد شرط کیښود چې ټانګونه باید خپل میلونه د شاته لور ته واړوي او بیا په سړک تیر شي خو جالبه دا وه چې دو ستم بیا هم له همدغه منځګړو سپین ژیرو نه د هر ټانګ په سر یو، یو سپین ژیري ددې لپاره کښیناوه چې جمعه خان همدرد پرې عملیات ونکړي.

د تیښتې او ماتې په مهال د ټانګونو د شا په لور اړول شوي میلونه داسې ښکاریدل لکه په ګرمۍ چې د ستړیو سپیو را ځړیدلي ژبې په لکۍ پورې سرېښ وي د کمونستانو دا ماتې یوه داسې تاریخي ماتې وه چې د بلخ په ولایت کې د مجاهدینو او نورعام ولس ترمنځ په (پړتکونو) بدرګه شوه.

د وخت په تیریدو سره د جهاد په لیکو کې د جمعه خان همدرد ښه وړتیا او زړورتیا ددغه سبب شوه چې د بلخ ولسوالۍ دغه جهادي مرکز (د حضرت بلال «رض» جهادي جبهه) د افغانستان د اسلامي حزب د ۹ شمالي ولایاتو د مجاهدینو د باور وړ پناځای شي نو همدا وجه وه چې جمعه خان (همدرد) په ۱۳۷۴کال د افغانستان د اسلامي حزب د رهبرۍ د شورا لخوا د شمال زون د تنظیمه ریس په توګه وټاکل شي.

د جهاد په مهال جمعه خان همدرد د پاکستان له تګ او راتګ سره چندان مینه نه درلوده دوسلو اکمالات یې مجاهدینو کول او یوازې به ښائي دوه ځله پاکستان ته تللی وي.

جمعه خان همدرد له هیڅ بهرنی هیواد سره د نورو؟؟ په شان کوم سیاسې تعلقات نه درلودل، که نه د هغه لپاره ددې ښه زمینه برابره وه چې د ګاونډیو او یا نوري نړۍ له کوم هیواد سره سیاسي اړیکې ولرې او خپل ځان د نورو په شان مجازې شهرت او قدرت ته ورسوي د داسې کړنو بیلګه د هغه په وجود او شخصیت هیڅ نشته.

کله چې د کمونستانو خونړۍ، ظالمانه واکمني او دوره په افغانستان کې پای ته ورسیده نو د هیواد په ګوټ، ګوټ کې د زورواکانو لخوا خپل سرۍ تحرکات رامنځته شول او په تیره بیا کله چې د هیواد په شمال کې یو شمېر ملوک الطوایفې ته ورته جوړښتونه را پیدا شول او په رآس کې یې پخوانی بې رحمه زور واکان وه نو د خلکو په بیځایه ځورولو او ربړولو یې پیل را وکړ.

سره له دې چې دا وخت ددوی د تاوتریخوالیو او منفي نفوذ د اعمال له امله یو شمېر کوچنۍ جهادي حوزې او لو یې جبهې ته د تسلیمیدو په حال کې شوي خو جمعه خا ن همدرد له خپلو ټولو مجاهدینو سره چاته د تسلیمیدو ذلت ونه منه

(c) ketabton.com: The Digital Library

،خپله جبهه او ځان يې په هر ډول ستونزمنو شرايطو او کړکيچنو حالاتو کې صحي سلامت وساتل.

کله چې طالبانو د ميمنې له لورې شبرغان ته را ورسيدل او دا ښار يې ونيو نو د مزارشريف په لوريې د پرمختګ لپاره تياري ونيو ،په مزارشريف کې حاجي محمد محقق، دوستم، د رباني ډله ټپله سره راټول او په اصطلاح يو هم شورتې شورا يې جوړه کړه په دغه شورا کې له جمعه خان همدرد نه هيله وشوه چې طالبانو د مخنيوي لپاره بايد په خپل قلمرو (بلخ ولسوالۍ ) کې دفاعي خطونه واچول شي خو جمعه خان (همدرد ) چې بشپړ سياسي او نظامي بلوغ يې درلود، هغوی ته يې وويل: چې زه له طالبانو سره جګړه نشم کولای تاسې چې د خط اچولو مينه وال واست نو ددغه خط تر ټولو ښه ځای شبرغان وو چې هلته بايد اچول شوي وای ،او په کنايوي ډول يې دوی ته وويل: ساده په نظر درغلم چې د خط په اچولو سره په خپله سيمه نظامي غوبل جوړ کړم او يا خپل مجاهدين برناحق په چا ووژنم، همداوه چې ددې شورا غړې يې په خپل دغه خطرناک سياست او موضوع ګيری کې ناکام کړل او پخپله هم ددې لپاره چې د کومې توطيې ښکار نشي او يا يې لاسونه د بيګنا مسلمانانو په وينو رنګ نشي عجالتا د ايران په لوري ولاړ او دنړيوالی ټولنــــې تررا تلو پورې هلتـــه استوګن وو.

کله چې د طالبانو واکمني پای ته ورسيده نو جمعه خان همدرد بيرته بلخ ته را ستون شو او په ۱۳۸۱ کې د اتمې قول اردو دقوماندان په توګه وټاکل شو له هغه وروسته په ۱۳۸۳ کال د بغلان د والی په توګه بغلان ته ولاړ او هلته يې په پيل کې دبغلان ولايت ټول دولتي املاک د غاصبينو له لاسه واخيستل او ددغه ولايت بيا رغاونې ته يې مسوولانه پاملرنه وکړه له دې چې د بغلان ولايت مرکز د خلقيانو د واکمنۍ په مهال د پلخمري ښار ته را غلی وو او دا داسې ښار دی چې د ښاري پرا ختيا لپاره ځای نلري نو جمعه خان همدرد د خپل ماموريت له هماغه پيل نه په دغه تکل وو چې يو وخت بايد د بغلان ولايت مرکز دهغه اصلي او پخواني ټاټوبی يانې نوی بغلان ته وليږدوي خود مرکزدا ليږدونه د يو شمېر کسانو له ګټو سره په ټکر کې را تله دغه کسانو خپل لستونې اوپا يخې را بډوهل کابل ته به را غلل او د جمهـور ريـس لـومړی مرسـتيال ضـيا مسـعود تـه بـه يـې د جمعـه خـان (همـدرد ) شکايتونو په لړ کې ويل ،چې ددغه ولايت د ولايتي څو ديرشو ريسانو له ډلي نه يـې ټـول د افغانسـتان پـه اسـلامي حـزب پـورې اړه لـری او پښـتانه دی ،ددوی پرپاګند دومره ګړندي په مخ ولاړل چې د ضيا مسعود سترګې د تبعيضي ليد په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنا پوچې ور ړندې کړي جمعه خان (همدرد) یې کابل ته را وغوښت دوی دواړه د کرزي په مخ کې خپل دلایل ارایه کړل کله چې لومړی د ولایت د ریسانو سپیناوی وشو نومعلومه شوه چې یوازې څلورتنه ریسان پښتانه دي او نور ټول تاجک ازبک هزاره او ترکمن دي ،ضیامسعود ښښنه وغوښته ،خونو یبغلانتهد ولایتدمرکزدلیږداوبدلیدوپهاړهچېکومدلایلضیاتهوړاند ښشول نو هغه یې نه منل جمهور ریس کرزي پرته له دې چې د وظیفوي صلاحیت نه کار واخلي ملامت ته ملامت او سلامت ته سلامت ووایې د فطری محافظه کاری په حکم یې دوی دواړه ته وویل: چې تاسې خپله دا موضوع د باندې دوه په دوه سره حل کړی او پایله یې ماته ووایي ،کله چې دوی دباندې راووتل نو ضیا مسعود جمعه خان همدرد ته وویل چې ته د بغلان له ولایت نه صرف نظر وکړه چې بل ولایت غواړې زه به ده لته ولیږم خو جمعه خان همدرد ژر ورته وویل: چې که ستا په امضا او قلم زه صدراعظم ټا کل کیږم هم ، نو ښښنه غواړم ته د خپل کار کوه او زه خپل.

ډیره موده نوره هم تیره شوه وروسته د مرکزي حکومت په صوابدید جمعه خان (همدرد) په ۱۳۸۴ کال د جوزجان د والی په توګه مقرر شواو هلته یې هم په لومړی ګام کې هڅه وکړه چې دولتي املاک او تاسیسات د غاصبینو له ناولیو منګلو نه مسترد کړي اود ویجاړو شویو تاسیساتو په بیا رغاونه پیل وکړی هغه تر ډېره دا تاسیسات ورغول او تر څنګ یې د جوزجان دمرکز شبرغان ښار د سړکونو پخولو لپاره ګام پورته کړ خو پانګه نه وه کله چې کابل ته را غې او له جمهور ریس نه یې د بودجې غوښتنه وکړه په هر دلیل به چې کرزي د بودجې له ورکړې اوږه خالي کوله جمعه همدرد به ټینګار کاوه کله چې وپوهید چې کرزی پانګه نه منظوروي او سرخوږې جوړوي نوله مجبوریت نهیې استعفا ولیکله کرزي ته یې وړاندې کړه او ورته وویل: چې دا په دې مانا ده چې زما ماموریت په جوزجان کې تر پوښتنې لاندې راشي،کرزي چې دا تمه یې نه درلوده ژر یې د سړکونو پخولو لپاره بودیجه ورته منظورکړه او د شبرغان ښارد سړک پخولو کار په درز روان شو ، خو دا چې وایې د هېچا کړنې د ویښو ملتو له نظره پاتیږی رښتیا ده ، د جمعه خان همدرد شاهکاری د جوزجان په ولایت کې له لمر نه هم روښانه دی او دا یو ښکاره حقیقت دی چې نه تنها جمعه خان همدرد بلکې هر وردګ والی په جوزجان کې تل پاته خدمتونه کړی خو افسوس چې ستمي مزاجه کړی هیڅکله خدمت نه خوښوی دجمعه خان همدرد د جوزجان په ماموریتکې هم یو شمېرخودغرضه او ستمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مزاجه کړیو چې په راس کې یې دوستم وو په تو طیو لاس پورې کړ او هغه هم په دغه خاطر چې د دوستم له بدماشانو نه د ولایت هغه پخوانۍ ماڼۍ چې دوی پکې خپله نظامي اډه جوړه کړې وه، واخیستل شوه دوستم یانو له تخار، بغلان او میمنې نه سیاسي بدماشان سره را غونډ کړل او دلاریونونو په جوړولو یې داسې بد ماشیو ته بډیې ووهلې چې په ښکاره او برآلا سیاسي حرامزادګی پکې نغښتې وي په دې ترځ کې جمعه خان همدرد له مرکزي حکومت نه مرسته و غوښته له کابل نه اتیا کسه داسې ترک تباره عسکر شبرغان ته را ولیږل شول چې له را رسیدو سره سم له لاریون کونکو سره یوځای شول دا وخت بد ماشانو د ولایت ټولې اداري لاندې کړې او دولایت د ودانۍ په لور را وان شول مرکزي حکومت دا هرڅه د سرپه سترګو لیدل او کتل ،خو عجیبه بې تفاوته وو، جالبه ده چې یوشمیر لوړو دولتي کړیو هم دا بهیر په مزه مزه څاره خوند یې ورکاوه اود قهرمان جمعه خان (همدرد ) نا کامۍ او آن فزیکل د هغه له منځه تلو ته سترګې په لاره وه، لاریون کونکو وسلې او هرڅه له ځان سره درلودل او بشپړ تاوتریخوالي ته یې ملا تړلې وه د ولایت د مقرپه لور لاپسې را دمخه شول او د توکمیزې کرکې ناروا چیغې یې وهلې نا څاپه د لاریون کونکو له لوری ګولۍ وچلیدې او ناچار له دې پلو نه هم ګولۍ وچلیدې سیاسي بد ماشان په وینو کې لیت پیت شول دوستم چې رښتیا میدان ولید نو وتګید او(آنکۍ ) یې وواهه ځکه قهرمان جمعه خان همدرد د سیاسي خشونت جواب په خشونت ورکړ نو ځکه دوستم دا عمل له ځان او ملګرو سره لوی ظلم وباله او په مرکزي حکومت یې چیغه ګډه کړه.

موږدلته په کلکه مدعی کیږو او وایو چې موږ ولې نورو قومونو ته منسوب او د لیرې ولایاتو استوګن والیان او نور مامورین په خپل ولایت او ولسوالی کې قبلوو، امر یې منو او تر اداره لاندې یې ژوند کوو، نو ولې زموږ د مشرانو په وړاندې دا سیاسي بد ماشۍ، بد غونۍ او حرامزاده ګۍ را منځ ته کیږي،وحدت ملي همداسې وی ؟؟ لکه په جوزجان کې چې دوستم او د هغه ناروا ډلې ټپلې زموږ په وړاندې رعایت کړ خو بیا هم په جرآت سره وایو چې د تاریخ له حافظې دهیڅچا کړنې پټې نه پاتیږي هغه دوستم چې لاس یې د سلګونو زره بېګنا مسلمانانو په وینو رنګ دی او له کمونستانو سره به یې د بیګنا انسانانو په وینو سوداګری کوله موږ نه پوهیږو چې نن د کوم رحمت په اوبو پریولل شو چې هم یې سیاسي معافیت ترلاسه کړاوهم یې نورو بدغونیو ته بډیې ووهلې !

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومو ليدل چې د شبرغان ښار په بد ماشيو کې د ملي وحدت ضد کسانو ته له پيښماني، پرته نور هيڅ په لاس ورنغلل دا له لمرنه هم څرګنده شوه چې دوی تو کميز تعصبات درلودل غو ښتنه يې اسلامی او انساني الله نه وو ورسره ملګری نو همدا وجه وه چې په نتيجه کې يې پخپلو لاريونونو هغه منفي لاس ته را وړنې درلودې چې هم يې په لوړو چوکيو ناست خپل پلويان وشرمول او هم يې په دغه حرکت سره د ځان په وړاندې په هېواد کې ميشت نور قومونه را ويښ کړل.

په هر صورت په جوزجان کې له دوو کالو ماموريت وروسته په ۱۳۸۲ کال د مرغومې د مياشتې په دولسمه نيټه جمعه خان (همـــدرد ) د جمهورريس د يوه فرمان له مخې د پکتيا د والی او پخپله د جمهورريس د سلاکار په توګه وټاکل شو چې تراوسه يې دا دنده دوام لري.

جمعه خان همدرد د حاجي قمبرخان زوی په ۱۳۳۷ هجري شمسي کال د بلخ ولسوالۍ د علم خيلو په کلي زيږدلي دی تردولسم ټولګي پورې يې زده کړې تر سره کړي په پښتو او دري ژبه رواني خبرې کوی او په انګليسي هم پوهيږي له کمپيوتر او انتر نيت نه هم د اړتيا په صورت ګټه اخيستلی شي.

د جمعه خان (همدرد ) د نيکونو ټا ټوبی د وردګو ولايت دی دوی کلونه کلونه پخوا د جغتو ولسوالۍ د کمکي ارياب له کلي نه د بلخ ولايـــت ته نا قل شوي دي، دوی مايار او په مايارو کې د ملک يار (پرنده ) په اولاده کې شامل دي•.

---

• (۷) ۴۸- ۵۸ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مشاهیر

## عبد الکریم (خرم )



عبد الکریم (خرم) د هېواد د ادبي اوفرهنګي څېرو په ډله کې هغه پېژندل شوي ځلانده ، فرهنګي اوادبي څېره ده چې بشپړملي او نړیوال حساب پرې کېدای شي.

هغه په لومړی ځل په افغان ولس د روسانو اوکمونستانو نا دودي اونورمظالم د یوه هنري فلم په پرده د نړیوالو د سالم اوعادلانه قضاوت لپاره د هغوی سترګو ته ورغبرګ کړل چې کولای شو ددغه هنري فلم جوړول او ننداري ته وړاندې کول د هغه د هنري شاهکاریو اوادبي فعالیتونو ترټولولوړ شاخص وګڼو

ددغه ترڅنګ خرم په هغو ورځپاڼو کې چې د جهاد په اړه یې مطالب خپرول د مقالواونوروعلمي اوجهادي مطالبو په خپرولوهم پیل وکړ.

په۱۹۹۱کال دلوړو تحصیلاتو لپاره دفرانسې هېواد ته ولاړاوپه پاریس کې د نړیوالواړیکو د مطالعاتو اوڅېړنو په انسیتوت کې په نړیوالو اړیکو (دیپلوماسۍ) کې د ماسټرۍ سند ترلاسه کړاو وروسته یې د (رنه دکارت) په پوهنتون کې د صادراتو ، د حقوقو په برخه کې دفوق ماسټري سند ترلاسه کړ او ددغه تر څنګ یې د پاریس د ختیځو ژبو او مدنیتونو په انستیوت کې د بالمقطع استاد په توګه هم تدریس پیل کړ.

عبد الکریم خرم د هېواد په دننه او بهر کې هر ځای به چې وو له مطبوعاتو سره به یې خپله اړیکه ټینګه ساتله او د زده کړو په مهال به یې هم ورځپاڼو او مجلو ته علمي سیاسي اقتصادي مقالې او د افغانستان د روانو حالاتو په اړه په زړه پوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

مضامین لیکل او خپرول، دوه ټوکه کتابونه چې یو یې د(شکست سیاسې) او بل یې (قدرت های بزرگ در تلاش بې قدرتی ) په نوم چې (پاسکال پونیپاس) لیکلې په کال ۱۹۹۵-۱۹۹۲ له فرانسوی ژبې نه دري ژبې ته را وژباړل او دواړه یې په پیښور کې چاپ کړل.

عبد الکریم خرم پخپله هم کله چې له روسانو سره جهاد خپل د اوج مرحلې ته ورسید نو ECO په نوم په فرانسوي ژبه د نړیوالو دعامه پوهاوی لپاره یوه داسې (رساله) چې په هغه کې یې د افغانستان د روان جهاد په اړه بشپړ علمي او تحقیقاتي معلومات راغونډ کړي وه ،خپره کړه.

په دې رساله کې وړاندیز شوي وو چې که په افغانستان کې د منفي جګړیزو سیالیو په ځاي ECO د سازمان په پیاوړې کولو، فعالولو او قوي کولو سره د لودیځې اروپا د ګډ بازار په شان د مثبتو او نیکو اړیکو د ټینګولو پواسطه د افغانستان په ګډون په ټوله منځنۍ او سهیل لودیځې اسیا کې یو سولیز نظام رامنځته شي دا به ترټولو غوره کاروي ځکه دجګړې اورتل وراني ویجاړې را منځ ته کوي اودا څرګندده ده چې د هر بل شوي اورپه ځاي ایرې پاته کیږي.

عبد الکریم خرم د ۱۹۹۷ کال په آخر کې له فرانسې نه پیښور ته را غی او د سیاسي اوفرهنګي چارو په مخ ته وړلوبوخت شواودا وخت یې هم د مطبوعاتو لپاره په سلګونو مقالې اونور علمي اوادبې مضامین ولیکل او په بیلا بیلو کنفرانسونو کې یې ګډون هم وکړ.

په سیاسې برخه د افغانستان د سولې اوملي یوالی د هغه ټولنې د اجرایه کومیټې غړې هم وو کومه چې په پیښور کې د پیرسید احمد ګیلانې په مشری جوړه شوي وه.

اوله بل پلوه پیښور ته په راتلو سره په افغان پوهنتون کې چې په پیښور کې یې فعالیت درلود ،دحقوقو او سیاسیعلومو پهپوهنځۍ کېاستاد شو.

په ۲۰۰۱ کال د سپمبر له پیښې وروسته عبد الکریم خرم دبن په کنفرانس کې د پیښور ګروپ د غړي په عنوان هم ګډون وکړ.

په افغانستان کې د موقتي او انتقالي ادارو په راتګ سره خرم هم له پیښور نه کابل ته راغی او په پیل کې ددولت په تشکیلاتو کې له نړۍ نه د را ستنیدونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

متخصصـو افغانانو پـه (سـلاکاروزارت) کـې د اروپـا او مرکـزي آسـيا د راسـتنيدونکو افغانـانو مسـوليت ورد غـاړې شـو او وروسـته بيـا يـې پخپلـه د (افغانستان لپاره حقوقي مرستې ) په نوم يوه موسسه جوړه کړه چې پخپله يې ددې موسسې مشري کوله ددې موسسې دنده دا وه چې د هغه افغانانو لپاره چې د بيلا بيلو جرايمو د ارتکاب په تور بنديان وه د وړيا (مدافع وکيل ) دنده ترسره کوله.

په ۱۳۸۵ کال په لومړيو کې ښاغلی خرم د جمهوري رياست د تحليلګر او لـه کمې مودې وروسته د جمهوري رياست د مطبوعاتي سلاکار په توګه وټاکل شو. چـې دوه مياشـتې وروسـته د ۱۳۸۵ کـال د زمـري د مياشـتې پـه اتلسـمه نيټـه د جمهور رئيس لـه خوا ولسـي جرګې تـه د اطلاعـاتو او فرهنګ د وزير پـه عنوان د باور د رايې اخيستلو لپاره وروپيژندل شو چې په برياليتوب سره يې د باور رايـه ترلاسه کړه او د اطلاعاتو او فرهنګ وزير شو ، او پر دغه دنده د څلور کاله په موده پاتې شو خو دريغې چې دا وخت د خپلو فعاليتونو له امله سخت د اغيار د سترګو خار شو، يو وخت هغه د سنا مجلس تـه ورغوښتل شو او د (زلمی ) پـه نوم يـوه زابلې سناتور له ده سره کومه شخه شو لانجه وکړه ، کريم خرم پـه غصه شو او د نوموړي سناتور خوله يې د خپل لاس د ګوتو تر منځ د هغه تر سترګو لاندې تر سيم کړه او ورته وويل: خوله د ډېره وړه ده او خبرې ډېرې لويې ترې را باسې، والله کـه داسې راته ښکارې لکه يو نخود ! سناتور خوارکی په ځان پورې داسې حيران کړ چې نيږدی يې ژړلي وه.

د اطلاعات او فرهنګ پـه وزارت کې د عبدالکريم خرم ټاکل رقيبانو تـه ډېر سخت تمام شول ،يوهګړی همآرامنشول پهپراخه توطيو يبلا سپور بکړ خصوصا هغه وخت چې عبدالکريم خرم د هېواد پښتو ملي سرود د آيات شريف ،حديث شريف او دري اشعارو پـه چوکات کې د اطلاعات فرهنګ وزارت پـه شمالې ديوال منقوش کړ د هغه په دښمنانو يې دومره بده اغيزه وکړه چې د وزارت پـه دغـه ديـوال يې چاودنه وکړه چې د الله (ج) په فضل نه هغه ته کوم زيان ورسيد او نه هم نقشـونه را پريوتل ! اودوهمه چاودنه د قندهار په سفر کې پرې وشوه چې دا داسې چاودنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه چې د سپرلی موټرېې باد، بادشوخود الله (ج) ساتنه وه عبد الکریم خرم ته بیا هم کوم زیان ونه رسید ..

ستمي مزاجه کړی زوره وري شوي او د هېواد یو مشهور پښتوانی ستمی یې د هغه په ځای وزیر وټاکه چې نوموړې وزارت یې تر نن ورځې په فساد کې ډوب ساتلی دي او په نتیجه کې عبدالکریم (خرم ) هم د اوږدی مودی لپاره په کور کنبیناست او بیرته د ۱۳۹۰ کال د وري د میاشتې په لومړی نیټه د جمهوري ریاست ددفتر د رئیس په توګه وټاکل شو او اوس هم نوموړي دنده پر مخ بیا یې

که د هغه دژوند لومړیو ته را وګرځونو عبد الکریم خرم هم دنورو کړیدلو او ځوریدلو هېوادوالو په شان د ربړو او ناخوالو په غیږ کې را لوی شوی کله چې په ۱۳۵۷ کال د کمونستانو کودتا را منځ ته شوه نو عبد الکریم خرم د استقلال د لیسې د نهم ټولګي زده کوونکی وو له دې چې عبدالکریم خرم د کمونستانو سخت مخالف وو او له پیل نه د هغوی په ضد مبارزه روحیه درلوده نوله هماغې لومړی شیبې یې د کمونستانو دالحادي تیوري توري کندې ته د نویو ځوانانو دلوېدلو نه د مخنیوي او نجات لپاره هلې ځلې پیل کړې هغه په دې لټه کې شو چې د ځوانانو د سیاسي نجات لپاره د نړی د سیاسي مفکرینو د آثارو لوستل پیل کړي.

عبدالکریم خرم دا وخت عملاً د مجاهدینو سره په کابل ښار کې د کمونستي نظام پر ضد فعالیت پیل کړ او د متعلمینو او محصلینو د ذهنیتونو د روښانولو لپاره د فرهنګیدرندو مسوولیتونو ته اوږه ورکړه چې په همدې علت دوه ځله د کمونستانو لخوا دلنډو ورځو لپاره بندي او بیا به بیرته ژر را خوشی شو خو د دریم ځل لپاره په ۱۳۶۱ کال د سنبلې په میاشت کې د کمونیستي نظام ضد فعالیتونو په تور د وخت د جاسوسی د شبکې (خاد ) له خوا په نیمه شپه کې له خپله کوره ونیول شو او بندیخانې ته ولیږدول شو له بندیخانې وروسته نږدې یو کال د مجاهدینو سره د دوی تر کنترول لاندې سیمو کې په جهاد بوخت شو او په کال ۱۳۶۵ د سیمې له مجاهدینو سره یو ځای د پېښور په لور روان شو او له اتو ورځو وروسته پېښورته ورسیدل او ورو ، ورو یې له هغه چاپیریا ل سره د جهادې او فرهنګي فعالیتونو په ترسره کولو سره بلد تیا پیدا کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالکریم خرم دوردګو ولایت د سیداباد ولسوالۍ د عبد المحي الدین د کلي اوسیدونکی دی خو کورنۍ یې له ډېره پخوا زمانو په کابل کې اوسیده او آن تردې چې پخپله عبد الکریم خرم په ۱۳۴۲کال په کابل کې زیږېدلی دی هغه خپلې لومړنۍ زده کړې د(رابیا ) په ښوونځي کې ترسره کړي او ثانوي زده کړې یې د استقلال په عالي لیسه کې بشپړې کړی او په ۱۳۶۰ کا ل د کانکورپه ازموینه کې د کابل د پولېتخنیک پوهنتون ته بریالې شو او هلته یې خپلې لوړې زده ترسره کړې دي.

عبدالکریم خرم د وردګو د نورو مشرانو برخلاف د قوم او عام ولس د ستونزو د حل لپاره نه وخت لرې او مینه نلرې چې له چا سره وګورې، دا دهغه خپل زړه او پریکړه ده، مورږ پرې کوم کار نلرو، برې د ور په برخه وې .•

---

• (۷) ۱۴۷- ۱۵۲ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غلام فاروق وردګ



په کابل کې د کمونستانو د خونړي کودتا د را منځ ته کېدو په مهال غلام فاروق وردک د کابل پوهنتون د فارسۍ پوهنځۍ د دوهم کال محصل وو، کمونستانو دا وخت د خپل ذاتي فطرت او ماهیت له مخې د مامورینو، محصلینو او نورو عامو وګړو په نیولو ځورولو او وژلو پیل وکړ او په دې توګه یې ځانو او خلکو ترمنځ د بې باوری داسې فضا را منځ ته کړه چې پلار یې په زوی او زوی یې په پلار بد ګمانه کړ.

غلام فاروق وردک هم د نورو ځوریدلو هېواد والو په څیر اړ شو چې خپل تحصیلات نیمګړی پریږدی او د هجرت وطن ته ولاړ شی، هغه د هجرت په وطن کې د یو څه مودې له تیرولو وروسته بیرته د هېواد ختیځو سیمو ته د جهاد لپاره راغې او د یوه کال لپاره یې د کونړ او اسمار په غونډ کې د مسلحانه جهاد ترڅنګ د ټپیانو درملنه هم وکړه او بیا بیرته وردګو ته راغی او د ټپی مجاهدینو درملنه یې کوله خو وروسته یې یو ځل بیا په زړه کې د تحصیلاتو مینه را وتخنیده او په ۱۳۶۱ هجري کال یې د پنجاب ایالت د مرکز لاهور په ښار کې د فارمسۍ زده کړې له سره پیل کړي او د زمانې په تیریدو سره یې په بریالیتوب سره په ۱۳۶۵ کال په دغه پوهنتون کې خپلې زده کړې بشپړې کړي له فارغیدو وروسته یې د یوې لسیزې (۱۳۶۵-۱۳۷۵) لپاره د خپلو اړو او مجبورو هېواد والو طبي خدمتونو ته د سویډن د کومیټې په چوکات کې (چې دا وخت د افغانانو لپاره د لویو نړیوالو مرستندویه موسسو په لیکه راتله) اوږه ورکړه او د لومړي ځل لپاره یې د هېواد له پولې آخوا د خپلو هېوادوالو لپاره د یوې صحي خدماتي پروژې مدیرت وکړ چې په پیل ددې روغتیایې موسسې مرستیال او وروسته یې رییس وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ۱۳۷۵ کال وروسته تر ۱۳۸۰ کال پورې د ملګرو ملتو د پراختیایي پروګرام (UNDP) په اداره کې د معیوبینو او معلولینو روغتیا او په ټولنه کې دهغوی د بیرته ګډون په برخه د یوه لوی پروګرام مسوولیت ور دغاړې شو چې په دې تو ګه یې د ټول هېواد په کچه د زرګونو معیوبینو د بیا رغاونې او ټولنیزادغام د پرو ګرامونو د جوړولو او لار ښونې د نده په مخ یوړه.

غلام فاروق وردګ د ۱۳۷۸ نه تر ۱۳۷۹ پورې د همدې دندې ترڅنګ د مدیریت په برخه کې خپله د ما شترۍ دوره هم د پیښور د پریستون په پوهنتون کې په بریالیتوب سره بشپړه کړه.

فاروق وردګ ته په پاکستان کې د هجرت په ۲۲ کلنۍ اوږدې دورې کې بهرنیو پرمختلیو هېوادو ته د تګ او په هغه هېوادو د میشت کیدو ډېر فرصتونه په لا سور غلل خو هغه د خپلو هېواد والو د خد مت لپاره دا خوا ره ونه ګڼل او په محرومو شرایطو کې د خپلو مظلومو هېوادوالو په خوا پورې پاته شو.

غلام فاروق وردګ په ۱۳۸۰ کال د بن د تړون د لاسلیک په مهال د لنډ مهالې ادارې د جوړېدو سره سم هېواد ته راغی او د ۱۳۸۱ کال د تلې ترمیاشتې پورې یې د ملګرو ملتو په پراختیایي پروګرام کې ددایمي استازی د مرستیال په توګه دنده تر سره کړه.

دا وخت له حکومتي مقاماتو سره د هغه باور زیات شو تر هغه چې د ۱۳۸۱ نه تر ۱۳۸۲ پورې د جمهور رییس حامد کرزي له خوا او د ملګرو ملتو د سر منشی د ځانګړی استازی الاخضر ابراهیمی په موافقه د افغانستان د اسا سي قانون د کمیسیون د دارلاا نشا د رییس او وروسته د اساسي قانون د لویې جرګې د عملیاتي رییس په توګه وټاکل شو او ددې ترڅنګ د غلام فاروق وردک دهغو کارمندانو او مامورینو د روزنې، ظرفیت جوړونې او استخدام پروسه هم د غاړې وه کومو چې په دې پروسه کې برخه اخیستله او همدارنګه د نوي اساسي قانون د جوړونې لپاره د یوې پراخه عام پوهونې، ټول پوښتنې او سلا مشورې د پروسې مسوولیت په غاړه درلود چې د بن د پریکړو په مهال د تضمین سره سم د اوه اعشاریه دوه ملیونو افغانانو د نظر، عامه ذهنیت راټول او تحلیل وه چې دهغه په بنسټ یې د نوي اساسي قانون د متن مسوده جوړه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اساسي قانون د تسويد د پروسي له بشپړولو وروسته د ۱۳۸۲کال د کب په میاشت کې د (ملګرو ملتونو او افغان حکومت ګډ کار ) په ترکیب کې د ټول ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشآ د رییس په توګه وټاکل شو ددې مهمې دندې په لړ کې یې (۱۴۰۰۰۰) مامورینو د ګمارلو، روزلو او همغږۍ چارې په ښه توګه اداره کړې او د هغه لوی کمپاین مسوولیت هم ورد غاړې وو کوم چې د حامد کرزي په لومړنیو ټول ټاکنو کې د ۱۱،۵ملیونو تنو د راجستریشن پروسه پکې شامله وه او دا انتخابات یې په بریالیتوب سره وګټل.

غلام فاروق وردک په ۱۳۸۴کال د سلواغې په میا شت کې د ( چارو د اداري او د وزیرانو شورا ددارالانشآ د ریاست تر څنګ په پارلماني چارو کې ددولت د وزیر په توګه هم وټاکل شو چې د ددولت د درې ګونو (مقننه ،اجراییهاو قضا یه ) قواوو دا ړیکو جوړولو ،ساتلو او اداره کولو مسؤلیت یې هم په غاړه درلود.

د سوولیزو فعالیتونو په لړ کې هغه د ۱۳۸۵ کال د تلې په میاشت کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د امن د ګډې جرګې د تیاری د کمیسیون غړی او د هغه د کمیسیون د دارلاانشآ د رییس په توګه و ګمارل شو چې دا وخت یې د چارو د اداري او د وزیرانو د شورا ددارلاانشآ د لوی ریاست او په پارلماني چارو کې ددولت د وزارت مسوولیت هم په غاړه درلود .

غلام فاروق وردک د ۱۳۸۷کال د تلې په میاشت کې د هېواد د مهم او کلیدی وزارت یانې د پو هنې د وزیر په توګه له پارلمان نه د باوررایه ترلاسه او ددې ترڅنګ د ۱۳۸۹ کال د وری په میا شت کې د سولې د ملي مشورتي جرګې د جوړید و لپاره د تیاری د کمیسیون د ریاست دنده هم ور وسپارل شوه او له مخکني پلان سره سم یې په ټولو برخو کې د جرګې داسې سمه لاربښونه وکړه چې د ټا کلي مهال ویش له مخې د ټول هېواد نه ۱۰۷۰۰ستازیو برخه درلوده چېد سولې او ملي پخلاینې په اړه یې دولت ته مثبته رایه ورکړه چې په دې توګه دولت د سولې روغې جوړې په اړه مهمه او تاریخي اعلامیه صادره کړه.

د هغه د ماموریت په دوران کې د پو هنې په وزارت کې په کمي او کیفي لحاظ په ټولو برخو کې د پام وړ داسې بد لونونه او پرمختګونه را منځ ته شول چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي او نړیوال کچه رڼه وځلیدل چې په ۱۳۹۰ کال د پو هنې په نړیوال مشارت کې د افغانستان غړیتوب یې غوره بیلګه ګڼلی شو.

غلام فاروق وردګ د ټولنیزو خدماتو په درشل کې خپل ځان د انجینرمحبوب خان (مابوب خان) اوزکریا خان تر موقف پورې رسولی دي ځکه هغه وختونه امکاناتکم واونن سبا امکانات ډېردي خوکه دا هرڅه پرتله شی نود غلام فاروق وردګ (توله) به پرې درنده وي.

غلام فاروق وردګ په ۱۳۳۸ کال د وردګو د اونخې د درې د ګدایې په کلي کې دنیا ته ستر ګې غړولي دي لومړنی زده کړې یې په خپل چا پیریال کې او منځنۍ او ثانوي زده کړې یې د رحمان بابا په لیسه کې ترسره کړي او په ۱۳۵۷ کال د کانکور د ازموینې په ترڅ کې د کابل پوهنتون د فارمسۍ پو هنځی ته شامل شوخو په پو هنتونکې دهغه د زده کړو په لومړی کال د کمونستانو کودتا را منځ ته شوه اویو کال ورو سته په ۱۳۵۸ کال کله چې نړیوالو موازینو ته یاغې روسانو په افغانستان حمله وکړه فاروق وردک د نوروهېوادولو په څیرهجرت ته مجبور شو.•

---

• (۷) ۱۷۸-۱۸۲ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سمیع جان شیر زاده



سمع جان شیرزاده د ملي شورا په ۱۵ دوره کې د وردګو د ولایتي شورا له لارې دوردګو سناتور وټاکل شو ،خو دیوه داسې ویښ او بااحساسه سناتورپه توګه چې د خپلو موکلینو لپاره یې داسې کارنامې په ځای پرېښودې چې له وروستیو او وړومبیو ټولو سناتورانواودولسې جرګې له وکیلانو سره یې کړنو او فعالیتونو بشپړتوپیردرلود ،ځکه هغه په پیل کې د خپلو موکلینود ستونزود حل لپاره په خوشحال مینه کې داسې دفتر پرانیست چې د سناتورسمع جان شیر زاده په نا مه نه ، بلکې له هماغه پیل نه د وردکو د کور، یا د وردکو د حویلې په نوم یادیده ځینې خلک آن په دغه نه ووخبرچې دا حویلۍ د چا ده ؟خو د یوه خدای ورکړي نعمت په توګه به یې دلته دری وخته ډوډۍ نوش جان کوله او ځینو خو لا دا هم انګیرله چې سمع جان شیر زاده هم دنورو میلمنو په څیر په دغه حویلۍ کې میلمه اوسیږي، دا ټولو ته څرګنده وه چې په دغه (دربار) کې چا له چا نه د پوښتنې حق هم نه درلود چې ته څوک یې ؟ څنګه را غلې او له چا سره د کار دې ؟ ځکه هر چا دا فکر کاوه چې دا د وردګو د خلکو داسې حویلې ده چې د هر چا خدمت (اعاشه او ابا ته ) پکې وړیا ده،هغه ته خپلې تنخوا بسنه نه کوله او کال سر به پوروړې وو .

یوه ورځ داسې پیښه هم و شوه چې په کلي کې د هغه ورور یوه د شیدوغوا چې دهغه د اولاد شیره یې ور برابروله په کلدارو پلورلې وه او داکلداري یې سناتور ددې لپاره را لیږلې وي چې په افغانیوېې واړوي او بیرته یې ورورته ورولیږي چې هغه یې د اولادونو لپاره بله غوا پرې واخلې خو له څه ځنډ وروسته کله چې د پیسو غوښتنه شوې وه سناتورصیب په دې نه وو خبر، چې پیسې څه وخت او په څه ډول د هغه په میلمستون کې خرڅې شوې دي او نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمع جان شیر زاده هیڅکله خپل مؤکل ته که یې د باور رایه ورکړې وه ،یانه ! داسې نه دې ویلي چې ستا د کار د اجرا لپاره وخت نلرم ته او س ولاړ شه ،سبا راشه.

نو الحق چې سمع جان شیر زاده په دغه بشپړ ارزښت لری چې د خپل قوم په اړه د هغه دا نه هیردونکي خدمات سجل شي،هغه به تل د خپلو مؤکلینو له حقوقو نه په کلکه دفاع کوله څو څوځله له حکومتي مقاماتو سره د خپلو بندیانو د خلاصون په سر په ډغره شو ، ځکه د خپلو خلکو په خلاصون کې ډېر جدي وو داسې پیښه هم وشوه چې سمع جان شیرزاده د حکومت لخوا د القاعده او طالب په تور تهمتي شي او د ښمنانو به ویل: صبر چې یووار یې د ملي شورا د مصنونیت دوره ختمه شې او د سناتورې امتیاز ترې واخیستل شي نو بیا به حکومت ورسره ګوری ، ژر به محکمه کیږي د حکومت خودا ټول هرڅه ورته په زړه دي؟؟ !

خو سمع جان شیرزاده په دغه او تو بو تو هیڅ (رې ) نه واهه او د هیڅ مجبوریت ته یې په سیاسي کرکه نه کتل.

لنډه دا چې هغه کسان چې د هغه له شخصیت او کړه وړو سره بلد دي د هغه په اړه زموږ دا څرګندوني مبا لغه نه بولي، نو ځکه هغه څه چې موږ یې هم دا اوس لیکو، تاسې یې لولې، د شیرزاده د فعالیتونو په اړه به انصافا زیاتي نه وي او موږ ځکه ترهرڅه لو مړی د هغه دا اوصاف ذکر کړل چې هغه کسان چې د سمع جان شیرزاده له کړو وړو نا خبره وي دا پو ښتنه په ذهن کې ورونه

ګرځي چې سناتور سمع جان شیر زاده د کوم فعالیت له مخې د ورد ګو د مشاهیرو ډلې ته لاره موندلې ده.

لکه د مخه چې وویل شول د وردکو د پخوانیو ملي شورا ګانو په ددواړو مجلسونو کې ډېر وردک وکیلان د سناتور او ولسی جرګې د غړی په توګه دندې تر سره کړې خو یوه یې هم د سمع جان شیرزاده په څیرد خپلو مؤکلینو په خدمت کې داسې ستړیاوي نه دي تیرې کړې چې د سمع جان شیر زاده په څیر یې یادونه پاته وي، وردګ بې وسه خلک دي ، له چا سره لانجې نکوي خو سمع جان شیرزاده هغه کس وو چې په ډېره آسانې او هنربه یې ځان مطلب ته رساوه د وردګو حق به یې د زورورو له خولې را وکیښ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه په څو مجلسونو کې زه ناست وم چې خلک به راغلل او داسې ستونزه به يې راوړه چې که يې ماته را وړی وای نو په رښتيا به زما له توا نه لوړه وه ما به فکر وکړ چې ښايې سل په سلو کې به حا جت را وړونکي ته جواب ورکړل شي خو زما د فکر خلاف به هغه د کار د سرته رسولو وعده ورکړل شوه او ورځ به يې ورتـه وټا کله له هغه وروسته به خپلې متې را ونغښتې ترهغه به يې چې کا ر سرته نه وو رسولې ترې لاس په سرکيده به نه.

کله چې د هغه دوره ختمه شوه د بلې دورې لپاره د وردګو د ټولو خلکو دا تقاضا وه چې سمع جان شيرزاده د انتصابي سناتور په توګه سنا ته ولاړشي په دغه اړه هغه ته د وردکو د نورو مشرانو لخوا تائيد ليکونه هم جوړشول خو د کرزي په حکومت کې (سند خودا دي.مګر په چا يې منې ) په استناد په نتيجه کي کرزي د ملت پالنې او د قومونو تر منځ د انډول ساتنې د ټولو اصولو موازينو په ښکاره خلاف له يوه ولايت نه چې درې سناتوران يې حق وو (دوه انتخابي يو پخپله د کرزي له لوري انتصابي ) له وردګو نه يې درې واړه هزاره توکمه سناتوران وټاکل، زموږ غو ښتنه بيا دا وه چې که د وردګو په ولايت کې سمع جان شير زاده د انتصابي سناتور په توګه نه ټاکل کيده نو د قومونو د انډول په پرتله، له هزاره پرته چې دوه سناتوران يې نورهم درلودل بل څوک بايد ټاکل شوي وای ځکه د وردګو ولايت خوله وردګوپرته د ډيرونورو قومونو کورهم دي دا يې د تاريخ په پاڼه کې ستا يوه ملي تيروتنه ملي........

سناتور سميع جان شير زاده د ملک شير دل خان زوی او د ملک پردل خان لمسی دي چې په کال ۱۳۳۸هجري شمسي کال د وردګو ولايت د چک ولسوالۍ د ګردن مسجد ددرې د مغل کوت (مهمدو ) په کلي کې زيږدلي دي او خپلې لو مړنی زد کړې يې د خپل کلي له ملا امام نه شروع او په کا ل ۱۳۴۷ کې د ګردن مسجد په لو مړنې ښونځي کې چې د م ګړی د حضرت بلال د ليسې په نوم يا ديږې خپلې زده کړې پيل کړې او په ۱۳۵۲ کال په بريالیتوب سره د نوموړی ښونځي له شپږم ټولګي فارغ شواو وروسته د کورنيو ستونزو له امله دوه کاله له زده کړو ورو سته پاته شو او بيا په۱۳۵۵ کال کله چې د ګردن مسجد ښو نځي تراتم ټولګي پورې لوړ شو نو سمع جان شير زاده په اوم ټولګي کې شامل شو او په ۱۳۵۶ کال له

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم ټولګي نه فارغ او د همدې کال د کانکور په ازموینه کې بریالی او په ۱۳۵۷کال د رحمن بابا په لیسه کې شامل شو،له بده مرغه چې په همدې کال یو نا څاپه د غو یې په اومه نیټه د کمونستانو بد نامه او افغانستان بربادونکي کودتا را منځته شوه او نو موړی دیته اړ شو چې د هېواد او وطن د دښمنانانو په ضد د حزب اسلامي افغانستان تررهبری لاندې مبارزه پیل کړي، خپلې مبارزې ته یې په لیسه او د لیسې نه دباندې په وردکو او خپله سیمه کې ادامه ورکړه ترڅو چې د ۱۳۵۸ کال د ثور د میا شتې په آخرو کې د کمو نیستې نظام د غلامانو تر تعقیب لاندې را غی هغه وو چې زده کړې یې نیمګړې پاته شوي او خپلې سیمې ته ولاړ او د کمو نیستې رژیم په ضد یې خپل خلک را پورته او مسلحانه جهاد یې پیل کړ او په لنډ موده کې یې د خپلې سیمې د مجاهدینو او غازیانو په مرسته د خپلې سیمې او ولسوالۍ نه د کمو نیزم جرړې وایستې په ښونځی او کلیو کې یې د هغوی کرغیړن او بد نام آثار او ددوی نورپاته شونې ټول سره را ټول او له یوې مخې یې و سوځول او د یوه مخلص مجاهد په تو ګه یې په جبهاتو کې په کار پیل وکړ. د جهادي فعالیتو په سلسله کې یې په ۱۳۶۲ کال د حزب اسلامي د مشرانولخوا د المتوکلین په غنډ کې چې د چک ولسوالۍ او دایمیرداد په سرحد یانې په تنګې سیدان کې یې مو قیعت درلود، د دافع تانګ د ټولي د مسوول په توګه و ګمارل شو چې تر ۱۳۶۶کال پورې په همدې دنده پاته شو وروسته د حزب اسلامي د رهبری په پریکړه په ګردن مسجد کې د حضرت علي (رض ) د جبهې د مسوول په توګه و ټاکل شو.

سمع جان شیر زاده د جهاد په ټول دوران کې په عامه تو ګه د وردګو د ولایت په کچه او په خاصه توګه د خپلې سیمې په کچه د ټولو تنظیمونو، قومونو، مشرانو، کشرانو، سره د اخوت او ورورولی په فضا کې ژوند تیر کړی دا یو څرګند حقیقت دی چې سمع جان شیرزاد هېڅکله په خپل منځي جګړو کې را ښکیل نشو او جهاد تر پایه یو سوله خو ښونکی اوخیرغو ښتونکې انسان وونو څکه یې له ټولو اسلامي تنظیمونو سره یې ښه علایق ساتل د جهاد په ټوله دوره کې د چک ولسوالۍ اود وردکو ولایت په ټولو مهمو عملیاتو کې یانې د کابل کندهار د سړک، د وردګو ولایت د مرکز د کمربند په پو ستو او همدارنګه د لوګر ولایت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیبر محاذ په هغو عملیاتو کې چې د کابل د کمربند په ماتولو کې یې مهم رول درلود، ونډه اخیستې ده، کله چې مجاهدین د کابل ښارته دا خل شول نوموړی له خپلو مجاهدینو سره د ریشخور فرقې ته داخل شو او ۱۷ ورځې له خپلو مجا هدینو سره هلته پاته شو کله چې د کابل په ښارکې خپل منځي جګړې پیل شوي نو سمع جان شیرزاده دداخلي جګړو نه د ځان د بچ ساتلو په خاطر وطن ته ولاړ او ګوښه په کور کښیناست دا وخت د حزب اسلامي لخوا د کندک د قوماندانی پست هم ورته پیشنهاد شو خو سمع جان شیرزاده بیا هم دا ښه وبلله چې خپل عادي ژوند ته مخه کړي اود خپلې سیمې د خلکو د خدمت او ستونزو د حل لپاره په کور کښیني.

خو هغه بیا هم آسوده نشو او د خپلې سیمې د خلکو خدمت ته یې ملا وتړله او پخپله سیمه کې یې د ښوونې او روزنې دری مرکزونه او دهغه لپاره یې ودانۍ جوړېکړې په موسسو سرشو اود خپلې سیمې لپاره یې پلونه او پلچونه د اوبو بندونه او استنادي دیوالونه منظور او هغه یې جوړ کړل.

سمع جان شیرزاده د لومړی ځل لپاره په ۱۳۸۴ کال هغه وخت چې هرڅه تر ډیره بریده ریښتني وه د سیمې د مشرانو او ځوانانولخوا دیته اړ شو چې خپل ځان د ولایتي شورا لپاره کاندید کړي، هغه د خلکو غوښتنه ومنله او ځان یې کاندید کړ چې په ترڅ کې د ډېرو رایو په ترلاسه کولو سره وتوانید چې ولایتي شورا ته بریالی شي.

د شوراګانو له اصولو سره سم د وردګو د ولایتي شورا لومړنی خپل منځي ټا کنې د هغه تر ریاست لاندې تر سره شوي چې په ترڅ کې د نوموړی شورا د غړو په غو ښتنه د وردکو له ولایتي شورا نه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مشرانو جرګې ته د سناتور په توګه وروپېژندل شو چې په نتیجه کې د ۱۳۸۴ کال د قوس د میاشتې په ۲۸ نیټه د ملي شورا د پنځلسمي دورې د سنا مجلس غړیتوب ترلاسه کړاو سناتور شو.

سمع جان شیرزاده په خپله څلورکلنه دوره کې بهرنیوهېوادو ته څلورسفرونه وکړل چې لومړی سفر یې دوبی ته وواو موخه یې له نوري نړۍ سره آشنا کیدل وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم سفر يې د آسيايي هېوادو په هغه کنفرانس کې د ګډون لپاره د ايران د اسلامي جمهوريت ته وو کوم چې د ولايتي شوراګانو د استازو لپاره جوړ شوی وو.

دريم سفر يې سعودي عربستان ته وو هغه چې د سعودي عربستان د باچا لخوا دافغانستان يو شمير سناتوران دعمرې لپارهو ربلل شوي وو.

څلورم سفر يې آسترليا ته وو چې اصلي موخه يې په پارلماني چارو کې د استرليا او افغانستان د نوي پارلمان د غړو له يو بل سره اشنا کيدل او د افغان لوری د ظرفيتونو لوړول وو.

سمع شيرزاده په ۲۸ /۹ /۱۳۸۸ د خپلې دورې له پاي ته رسيدو ورو سته په کور کښيناست که څه هم ډېرو خلکو له ده نه هيله وکړه چې د ولسي جرګې لپاره ځان کانديد کړي خو د نا مناسبو شرايطو له امله ده دا ځل د خلکو دا غو ښتنه ونه منله تر څو د هېواد په سختو او حساسو شرايطو کې له سياسي مسوو ليت پرته ژوند ولري.•

---

• (۷) ۱۰۴- ۱۱۱ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# محمد صدیق مخترع



دا چې ولې ؟ دولت د محمد صدیق مخترع اختراعاتو او نورو نوښتونو ته کومه پاملرنه ونکړه او یا یې نکوی په رښتیا هم چې یوه جالبه او په زړه پورې موضوع ده او ماته کټ مټ هغه وختونه را یا دیږي چې په ماشومتوب کې به مو له لویانو اوریدل (هغه څوک چې په افغانستان کې اختراع وکړي حکومت یې بندي کوي او یا یې وژني ځکه زموږ دولت نیستمن او حکومت مو کمزوري دی او د نړۍ له زورورو هېوادونو بیریږي که څوک کوم شي اختراع کړي نو بیا د زورورو هېوادونو تولیدات په افغانستان کې نه پلورل کیږي نو ځکه زموږ حکومت دا خلک وژني چې بهرنیان افغان حکومت ته تور بریښ ونکړي ).

خو کله چې را لوی شوم دا خبره مې په ذهن کې سخته خړپنچاکه شوه او کله به مې له ځان سره پټ پټ وخندل چې څومره ساده وم چې دا خبرې مې هم منلې ! خو بیا به مې خپل ځان ته په دې ټکي قناعت ورکړ چې خیر هغه وخت ما شوم وم د لید ساحه مې کمه او تحلیل مې کمزوری وه .

خو ګرانه لو ستونکیه او س یې که منې او یا خاندې ! ستا خپل زړه .

زموږ لو یانو هغه خبرې خو ټولې سمې او رښتیا وې ځکه که حکومت محمد صدیق مخترع پخپلو اختراعګانو بندي نکړ او یا یې ونه واژه ښایي دهغه وژلو ته به یې زور نه وي رسیدلی خو نور یې د هغه د فعالیتونو د پراختیا او پر مختیا مخه داسې ډب کړه چې له وژلو یې هم بد تر کړ.

محمد صدیق مخترع که په داخلي او نړیوالو مطبوعاتو کې هر څومره چیغې وکړې غږ یې چا وانه ورید او هسې خو شې لیونۍ یې وباله ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم ځل به چې په مطبوعاتو کې د محمد صدیق مخترع د نو ښتونو په اړه کوم پـه ثبوت رسیدلې او انکار نه منونکې را پور را غبرګ شو اود کره ثبوت لـه مخې بـه یې چار واکې د ننګونې په پوله ودرول نو له مجبورې به یې د صدیق مخترع د تیر ایستلو لپاره د امکاناتو ورکولـو رښتیا او درواغ ژمنې سره قطار کړې او کله بـه چې یو څه موده تیره شوه اولمربه پرې را تود شو نو دا کړې ژمنې بـه د یخ لـه ټو ټې سره یو ځای ویلې او هر څه به له منځه لاړل.

له محمد صدیق مخترع سره د حکومت د ژمنو دومره اسناد موجود ؤچې ښایې کتابونه پرې ډک شې.

د محمد صدیق مخترع هره اختراع د هېواد د او سنیو زخمې حالاتو ددرملنې لپاره یوه شفا بښونکې پټۍ وه ، خو دریغې چې د ملک برخلیک د هوسبازانو ، شرابیانو او نورو بې بند باره او په فساد کې د را ښکیل کسانو پـه لاس کې دې او دوي هغه څوک دی چې له خپلو شخصې ګټو پرته په ملې ګټو هیڅکله فکر نکوی.

د صدیق مخترع سترېو فریادونو د چا پام ځان تـه را وانـړاوه یوازې مطبوعاتیـان وه چې کله نا کله به یې د هغه په ستونې کې خفه غـږ لـه خپلو رسنیو را غبرګ کـړ، مطبوعتیان ځکه د هغه دوستان وه چې د اختراعګانو پـه اهمیت یې پـو هیدل او بس.

د محمد صدیق مخترع له نامه سره نه یوازې دا چې افغانان بلد دې او پیژنې یې بلکه له پولو آخوا هم په ډیرو بهرنیو هېوادو کې علمې منا بعو د هغه اختراعګانې تایید کړې دی.

که په لنډه تو ګه ووایو نیمه پیړې وشوه چې دمحمد صدیق مخترع هیڅ کومې اختراع ته وده نه ده ورکړل شوې ، دی خوا رکۍ او س د بوډا تـوب داسې مر حلې تـه رسید لـې چې ژر ده مغز یې کار پریـږدې اودا لویـه هستې او متفکر مغز لـه خاورو سره خاورې شې .

محمد صدیق مخترع د صنعت په برخه کې په سلګونو اختراع ګانې لرې خولکـه د مخه چې وویل شول کوم نا مریې خطرناک لاس د یوې عظیمې تـورې بلا پـه څیـرد هغه په سر سیورۍ غـور ځولې او نـه پریـږدې چې د افغانسـتان دصنعت دا نجـات

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښونکې اوزړه سواندې فرشته دا ورو سته پاته هېواد په صنعتي لحا ظ يو څه په پښو ودروي.

هغه د لمرې ځل لپاره د يخ ټوټې په داسې زاويو برابرې کړې چې اوريې پرې ولګاوه چې دا د انسان په عقل يوه نه منونکې پديده وه خو هغه په دې وتوانيد چې د يخ له ټوټونه قوي نور تو ليد کړي او همدا نور ددی سبب شي چي قوی حرارت تو ليد کړي او له حرارت نه او ر پيدا شي دا حيرانونکې اختراع وه.

له هغه ورو سته تر نن ورځې پورې يې د ۴۰۰ په شا وخوا کې اختراعاوی کړې چې مهمې يې په لاندې ډول ذکر کولای شو.

- د اور لګيت له ډبلې نه د کوچنې را ديو جوړول چې غږيده .
- د موتر لپاره دداسې آلې جوړول چې هيڅکله يې د تايرايد ګولۍ ونه وزې.
- هغه دستګا چې له کوهې نه له انرژۍ پرته پخپله او به را وباسي.
- هغه دستګا چې د سيند له روانو اوبو نه د همدې اوبو په انرژۍ څو متره لوړې او به ساحل ته را وباسي.
- هغه موتر چې د لمر د انرژې پواسطه حرکت کوی.
- دغله نيولو د ستګا .
- داوبو ګرمکن چې د لمر د شعاع پواسطه او به تودوی.
- داسې دستګا چې په څو دقيقو کې کباب پخوی.
- د يخو او بو پو اسطه د کباب پخول.
- د سيلاب له راتلو د مخه د خبرداری دستګا .
- او په سلګونو نور داسې نو ښتونه....

محمد صديق مخترع په کوم خا ص ښو نځي او يا مدرسه کې يې زده کړې هم نه دي کړې اونه د تخنيک په برخه کې کوم خاص کسبي علوم لرې دي يوازې يې په کوچينوالې کې دکلي له ملا نه د هغه وخت ديني مروجه کتابونه لکه خلاصه ،بوستان ،ګلستان ، خواجه حافظ ، قدري ،منيه او مختصرلو ستي دي د هغه ځانګړنه داوه چې له هماغه ما شومتوب نه تل خپل ذهن ديته هڅاوه چې د هر څه د خصو صياتو په اړه ژور فکر وکړي ، په اړه يې پو ښتنې وکړي داسې پو ښتنې چې د خلکو په ګمان کې ليونې ورشي ، ډيرځله داسې هم پيښې شوې وه چې خلک يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار ته وو ايې چې زوی دې ليوني شوې ، اولاد ددی ،غمه يې وخوره د اکتر ته يې بوزه او يا پر ملا تعو يزونه ورته وکړه چې له همدې امله به يې تل په درجنو تعويزونه په غاړه کې ځنګيدل.

د هغه اکثريت اختراعاوی په کابل پوهنتون او دالمان د پوهنتون د انجينرۍ بورد هم تا ييد کړې هغه په دولت کې هم په رسمې او قراردادې ډول زياتې دندې تر سره کړې خو هر ځای به چې وه فکر به يې د علمې اختراعاتو په لور وه.

له دې چې نه دولت او نه هم بل چا ورسره کومه مرسته کوله نو په دره نور تنګې کې خپله پلرنې کرنيزه ځمکه د علمې تجربود مخ وړلو لپاره خرڅه کړه

دعلامه سيد جماالدين افغان وينا ده:

د ر شرق دانشمند بعد از مرگ زنده ميشود•

---

• (۶) ۳۱۶- ۳۲۰ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډګروال دستګير خان



ډګروال غلام دستګير خان په وردګو کې د ( کمونستانو ) په ضد د لمړني وګړنيزا سلامې پاڅون پيلونکې او د وردکو د اسلامې قومې شورا لمړنۍ بنسټ اېښودونکې دي .
ډګروال غلام دستګيرخان هغه څوک ؤ چې د خپل قوم د تسليح په خاطر يې کمونستان په خاص مهارت تير ايستل او هغوي ته يې داسې ذهنيت ورکړ چې که وردک په سلاح سمبال شې نو د هزاره قوم مخنيوې به وکړې هغه پخپل دې پلان ډير کار کړې ؤ چې تقريبا له شپږ مياشتې مودې وروسته د هغه دا پلان او نظر د کمونستانو په ذهن کې کارې ولويد او په دې توګه ډګروال غلام دستګير خان په دې بريالې شو چې خپل قوم له کمونستانو مسلح او بيا يې د هغوی په وړاندې د جهاد په لمړنيو ليکو کې رهبرې کړې.
موږ هيڅکله دا نه وايو چې په وردکو کې به جهاد نه واې پيل شوای دا يوه حتمې خبره وه چې په وردکو کې به هم د هېواد د نورو ولايتو په څير اسلامې پاڅونونه پيل کيدل ، خو دا چې څه وخت به پيل شوې وای ، ښايې د امکاناتو د نه درلودلو له امله يو يا يو نيم کال وروسته !
دلته هغه نو ښت چې ډګروال غلام د ستګيرخان په دې اړه را منځ ته کړ، دا وه چې د اسلحې په توزيع سره يې له مشرقې( کنړ، ننګرهار، لغمان ) وروسته د هېواد په زړه او مرکز کې د کمونستانو تر سترګو لاندې جهاد پيل کړ چې دا د نه منلو خبره وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بده به نه وی چې د لته ددرنو لو ستونکو د لا ښه پو هاوی او معلوماتو لپاره د وردګو د تسلیح هغه داستان راواخلو کوم چې په ډیر تخنیک او تکتیک را منځ ته شوی او بیا پر مخ تللی دی.

دا د ۱۳۵۸ لمریز دغو یې د میاشتې لسمه نیټه وه ټیک هغه وخت چې له همدې نیټې دری ور ځې د باندی یو کال د مخه کمونستانو د ملک په سیاسي او نظامي فضا حاکمیت پیدا کړې ؤ ، دا هغه وخت ؤ چې د هېواد په ختیځو برخو کې خال خال پاڅونونه پیل شوي وه او خلقیانو په کابل او د ولایاتو او ولسوالیو په مرکزونو کې د وحشت او اختناق داسی توره او ویرونکی فضا یی را منځ ته کړی وه چې د بیګنا انسانانو په قتل د عام او لس ذهنیت ترې ګر ځیدلې ؤ.

په دې ډله کې ډګروال غلام د ستګیر خان هم د روس پلوه کمونستانو لخوا ددوی په زعم د یوه نا مطلوب کس په توګه تشخیص او پیژندل شوې ؤ له نظامي لیکو ایستل شوې ؤ او په کور نا ست ؤ خو له دې چې هغه په حربې مسلک کې ډیره وړتیا درلوده او ارکان حرب ؤ، نو حکومت یې هم په لیاقت ستر ګې نشوا ي پټولای له یوې میاشتې په کور کښیناستو وروسته دوخت د ملې دفاع وزیر عبدالقادر ! چې یو وخت دهوایي اومدا فع هوایي قواو د( با ) په کورس کې دغلام د ستګیرخان شاګرد پاته شوې ؤ، له چانه یې د هغه د برخلیک په اړه پو ښتنه وکړه کله چې وپو هید چې هغه په کور ناست دې نو خپل ځان ته یې ور وغو ښت او د هغه د سر د تامین د ډاډ تر څنګ یې هغه د مرکزي کل اردو د اپراسیون د آمر په تو ګه وټاکه خو له څه مودې وروسته کله چې د خلقیانو تر منځ ددوی خپل منځي اختلافات را پیدا شول او قادر له صحنې و ایستل شو نو ډګروال صیب یو ځل بیا د کوتا کونکو په ډله کې د عبدالقادر له پلویانو نه وګڼل شو او ونیول شو ، له څه مودې بند تیرولو وروسته بیرته خوشې شو اونور تقا عد ور کړل شو .

خو مهمه خبره داده چې غلام د ستګیر خان مخکی حکومت ته په وردکو دهزارګانو داحتمالي برید ، او د هزارګانو په مقابل کې دوردکو د تسلیح په اړه خبرداري ورکړې ؤ چې دا یوه جالبه او په زړه پوري موضوع ده هغه داستان چې په خپله د ګروال غلام د ستګیر خان په قلم د وردک د تسلیح په اړه لیکل شوی او له

(c) ketabton.com: The Digital Library

رو سانو سره د جهاد په مهال په پشاور کې د خپریدونکې قلم مجلې د۱۳۶۵ کال په ۵ گڼه کې خپورشوې دی کټ مټ یې دلته ستاسې د لو ستلو لپاره راخلو

توزیع اسلحه به مردم وردک غرض سرکوبې مردم مسلمان هزاره

امپر یالیزم روسیه از ارتکاب هیچ نوع تو طیه دریغ نمې ورزد و آنها را غرض بدست آوردن اهداف شوم شان حتې یک قوم را در برابر قوم دیگر به جنگ وادار میسازد زمانیکه به تقاعد سوق داده شدم و خانه نشین شدم روزې چند نفر خلقې ها از قوم وردک به شمول عبد الحق ډگرمن قوماندان قوای را دار به خانه ام آمده و اصرار ورزید که باید به وظیفه ادامه دهم آنها وعده کمک نمودند و گفتند که فردا ساعت ۱۲ به قوماندانې قوای مرکز آمده تا با هم در مورد پلان توزیع اسلحه به وردک مشوره نمایم فردای آنروز زمانیکه به قوماندانې قوا ی مرکز رفتم دیدم که به تعداد تقریبا ۳۰ تن از قوم وردک که نصف آن اعضای حزب خلق و نیم دیگرې آن اشخاص با رسوخ و متنفذ ین قومې بودند درین اثنا محمد دوست قوماندان قوای مرکز که از قوم وردک بود برایم گفت که مردم هزاره بغاوت نموده ما میخواهم که مردم ورد ک علیه آنها مسلح بسازم تا جلو پیشرفت این طایفه راگرفته و سرکوب نمایم من اظهار هر گونه آمادگې را نشان دادم (زیرا طرح توزیع سلاح به مردم وردک از من بود که قبلاً بصورت مستقیم و غیر مستقیم توسط اشخاص بې طرف به عمال حکومتې دیکتې نموده بودم ) درین جلسه من خا طر نشان ساختم که این عمل باید از چینل های قومې بیدون مدا خله حزب خلق ؟! صورت گیرد تا نتایج آن مطلوب با شد شخص بنام «حکیمې» که عضو فعال حزب خلق بود گفت که حزب و قوم جز لاینفک یکدیگر هستند باید با مساعې مشترک این مبارزه عملې گردد نا گزیر قبول نمودیم هییت ها تعین و به سه اولسوالې اعزام گردیدند و خود م در راس یک هییت که اکثر اعضا آن خلقې بو دند به ولسوالې چک و علاقه دارې دایمیرداد رفتم وقرار بر این شد تا شب در خانه های خود سپرې نموده و فردای آن روز به کمک ولسوال مردم را جمع آورې و موضوع مسلح نمودن برایشان خا طر نشان سازیم خودم در همان شب اول کسانې را که مورد اعتماد من بود به شکل سرې و مخفیانه به خانه خویش خواسته و موضوع اخذ اسلحه به آنها تا کید نمودم ودر جلسات علنې فردا مردم را از هجوم مردم

(c) ketabton.com: The Digital Library

هزاره به منطقه وردک حالي ساخته وبيانيه ها و آمادگي هاي زباني ؟ ! مردم وردک را را ثبت فيته نموده وغرض قناعت مقامات دولتي به کابل آورده و به سمع قوماندان قواى مرکز رساندم و نامبرده فورا موضوع را ذريعه تليفون به گوش حفيظ الله امين که درين وقت وزير دفاع نيز بود رساند که نسبت وخامت اوضاع امين فورا امر توزيع سلاح را به مردم وردک نمودند چون خلقي ها فاقد ظرفيت سوق و اداره بودند قوماندان قواى مرکز پست قوماندانى عمليات مزکور را بمن پيشنهاد نمودند و نيز وعده جنرالي داد خودم در گام نخست قبولدار اين پست نشدم وگفتم که بيدون جنرالي هم اين پست را پيش ميبردم و مريضي خودرا عذر آوردم و اظهار نمودم که شخص ديگري انتخاب نماييد هرگا شخص مناسب پيدا نشد من حاضرهستم اين کار را به عهده گيرم.

بياد دارم که همان شب دو تن از اعضاى حزب اسلامي افغانستان به خانه ام امدند وبنسبت عدم قبولي پست به من اعتراض کردند من فورا به جواب شان گفتم شما غصه نخوريد آنها دو باره بمن مراجعه خواهد کرد ولي کاريکه شما بايد اجراى آن به عهده بگريد اينست که هر چه زودتر نفر هاى خودرا به ولسوالي ها اعزام داريد تا مردم را به اخذ اسلحه تشويق و ترغيب نمايند ، فرداى آنروز يکي ازين دو نفر نزد من آمد و از روان کردن دو موتر اعضاي خود به ولسوالي هاى چک ،دايميرداد ، سيد آباد و جغتو بمن اطمينان دادند . چون خودم در جمال مينه سکونت داشتم و با بردران هزاره هم آشنايي کامل داشتم از مسلح نمودن مردم وردک عليه هزاره به آنها معلومات دادم و ضمنا به آنها گفتم که وار خطا نشود عمل طوري آنجام نمي شود که حکومت ميخواهد ويا به ضرر مردم هزاره باشد خاطر نشان ساختم که بايد بين اين دو قوم در منطقه مفاهمه موجود باشد تا از وقايع ناگوار که از اثر سؤ تفاهم بوجود مي آيد جلو گيري به عمل آيد

در اوايل برج جوزا **۱۳۵۸** از قوماندانى قواى مرکز برايم تليفوني خبر داده شد که بايد ذريعه موتر جيپ که در اختيار شما گذاشته ميشود به وزارت داخله رفته و با قوماندان عمومي ژاندارم و پوليس که عليشا پيمان نام داشت ، ملاقات نمايم شخص مزکور که مدتي آمر سياسي قواى مرکز بود با من اختلاف جدي و عميق داشت و از چهره اش نفرت داشتم درحاليکه چشمانش به ميز دوخته بود برايم

(c) ketabton.com: The Digital Library

گفت: دگروال صا حب شما را به ولسوالي چک خواسته وقتیکه علت را پرسیدم نا مبرده اظهار بي اطلاعي نمود. خودم تخمین کردم که کار در مر حله حساسي قرار دارد نباید فرصت را از دست داد و باید اقدام جدي شود همان بود که فورا خودرا به او لسوالي رساندم و دیدم که خلقي مردم را جمع آوري نموده و به اصطلاح میتنگ خلقي داير نموده اند یکي از خلقي های سر شناس مرا به گوشه يي برده و گفت « دگروال صاحب قومي هاي شما به کوه بالاشده و مردم میگوید که شما قبلا درینجا آمده بودید و شاید درین کار دست دارید و آنها را تشو یق نموده ایید » من گفتم که « مردم را من به کوها بالا نکردم رویش شما و گفتن هورا هاي پی در پی تان مردم را به کوها بالاکردند ، این مردم تماما مسلمان هستند و باید با صداي الله اکبرویا چاریار پیش آمد گردد ، نه به هورا ! خودم مدت ۵ سال در شوروي تحصیل نمودم باور کنید که معني هورا را نمیدانم ، بفرمایید در موتر سوار شویم و مردم را از کوها پایین نما یم و شما آنرا اداره نما یید » یک دو نفر خلقي دیگر هم به اجتماع ما پیو ستند و به آنها نیز تکلیف رفتن به منطقه در میان گزا شتم آنها نیز انکار کردند و گفتند که این کار شما ست ، در حقیقت چون آنها خلقي بودند و خطر مرگ شان حتمي بود به این خا طر از رفتن به منطقه واهمه دا شتند و من هم خوش شدم که نر فتند زیرا استقلال بیشتري در زمینه بیداري مردم مسلمان را بدست مي آوردم. در راه آبکزار وقتي به قلعه مشهور کاؤر رسیدم دیدم که مجاهدین سرک را سد نموده وزمانیکه موتر مرا دیدند به موا ضع خود شتافتند من که چند نفر آنها را تشخیص نمودم به نام آنهارا صدا کردم زمانیکه بطرفم آمدند برایم گفتند دگروال صاحب سرک را بند نمودم و موتر حا مل شما به منطقه رفته نمیتواند و قرار شد که مو تر خودرا به ده ظریف خیل عربان بفر ستم وخودم پیاده به آنها تا قریه مانجر خیل بروم زمانیکه بدانجا رسیدم مجاهدین دورم حلقه زدند و خودم خنده کنان آنرا مخا طب قرار دادم ( وا قعا غازي ها هستید ) درین وقت از آمدن جناب عبدالکبیرخان ( بعدا ریس عمومي شوراي اسلامي وردک ) نیز آگا هي یا فتم که از اثر تعقیب حکومت کمو نیستي به آبکزار آمده بود ودر قریه چشمه بود فرداي آنروز موی سفیدان قرآ دور نزدیک جمع شدند اهداف و پالیسي هاي حکومت کمو نیستي را برایش مفصلا تشریح دادم

(c) ketabton.com: The Digital Library

که درین رژیم تمام ارزش و معتقدات شما در خطر است قرار گزاشته شد که فردا یک جلسه خاص در قریه چشمه که در آن یک یک نفر معتمد قریجات آبکزار اشتراک نماید ، دایر گردد . فردای آنروز چنین شد و خودم پیشنهاد نمود م که یک یک نفر به دره گردن مسجد سیبک عربان گوده سیاب نیک یایقول و جغتو فرستاده شود تا انها سر کرده های جهادي را تعین نما یند و خود م عجالتا به اولسوالي رفتم و دیدم که ولسوال مردم را غرض اعزام به هزارجات برابر مي نماید اولسوال بچه ۱۹ ساله بود و تجربه هیچ کاري را نداشت حین که مرا دید گفت :ډگروال صا حب کارها چطورخواهد شد شک میشود مردم که تفنگ اخذ نموده به هزارجات نه رود ، من در جوابش گفتم آزورده نشوید شما تجربه کاري ندارید مردم معني هورا کشیدن را نمي داند این عمل شما آنها را به کوها بالا نموده من به مردم قناعت دادم که بالا شدن به کوها خطر دارد شما تشویش نداشته باشید مردم از کوه ها پایین مي آید پلان شما به خوبي تطبیق میشود عجله خوب نیست با احتیاط باید عمل نمود کاري را باید آنجام داد که مردم خود به جنگ برود نه به زور ، ولسوال بي تجربه و ساده لوح در جوابم گفت: شما کاکای من هستید شما میدانید چه خوب گپ ها را برایم گفتید باور کنید که پیش از رفتن شما به آبکزار ما یک نفر را به آبکزار فر ستاده بودم تا عملکرد شما زیر نظر دا شته باشد او به ما اطلاع داد که شما به مردم گفته بودید که ( وا قعا غازي ها هستید ) من گفتم باور کنید کاملا درو ست گفته و سخنان اضافتر ازین هم گفته ام اما فردا ریش سفیدان و دور اندیش را جمع آوري نموده و خطر قوت های تانگ و طیاره به آنها تشریح نموده که توان مقابل با قوای شوروي را ندارند و خود را تباه نسازند . آنها پیشنهادات مرا به شرایط ذیل قبول نمودند.

۱ـ مردم گفتند که دو لت همرای ما وعده کردند که شما در مقابل دفع طرد حملات هزاره ها خودرا مسلح سازید ما این وظیفه را انجام میدم و در جنگ با مردم هزاره ها نمي روم.

۲ـ پو لیس غرض دستگیري مردم بي گناه به منطقه نیایند .

۳ـ ملک عبدالروف خان که محبوس است باید رها گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ـما حاضر استم که خواسته هاي حکومت به وساطت ملک ها و متنفذین قوم خود قبول و عملي نمایم.
۵ـدر صورت قبول نمودن چند فقرفوق که به کو ها بالا شده از کوها پایین مکتبهای خودرا فعال و سرک ها را باز نگهمیدارم.
درین ضمن خبر نا خوش آیند برای ولسوال رسید که آن عبارت از بالا شدن مردم گردن مسجد به کوها بوده و ضمنا پایین شدن از عردجات آن عده نفر ها که غرض جنگ با هزاره ها عازم دایمیرداد و بهسود بودند ، و به کوه ها متواري شدند او ضاع ولسوال را آنقدر دگرگون ساخت که اورا جدا نا را حت و وار خطا ساخت به ولسوال دلداري دادم که تما م کار ها دروست میشود وار خطا نشوید ولسوال تمام خواسته های مرا قبول نمودند و تنها رهایي عبدالروف خان را به تعویق مي انداخت هر قدر که کو شش نمودم که عبدالروف خا ن را آزاد سازم و آنرا با خود به منطقه ببرم مو فق نشدم و حس نمودم که ولسوال هم در پی فرصت است و مرا فریب میدهد و به ذعم خود از وجود مه برای خاموش ساختن مردم کار میگرد .
خودم دو باره به آب کزار رفتم موی سفید ها را جمع آوري نمودم و جلسه خصو صي را دایر نمودم و مردم را گفتم که جواسیس حکومتي در بین کارفعالیت دارند زمانیکه هویت یک جا وسوس تشخیص گردید و مردم در پی گرفتاري او شدند معلوم گردید که قبلا به کابل گریخته است در صدد حمله قطعي به ولسوالي چک و علاقداري دایمیرداد شدم قوماندانان گروپ ها و سمت ها تعین گردید همان بود که در اثر پا فشاري عبدالکبیر خان محمدالله خان غلام حیدرخان وسایربزرگان قوم خودم رسما پست قومنداني عمومي را قبول نمودم عبدالکبیر خان علاقدار تعهد نمود که ۱۷۰۰ نفر در ولسوالي دا یمیرداد مسلح گردیده تمام آن در خدمت تان قرار میدهم بدینگونه حمله بالای ولسولي دایمیرداد طرح و عبدالکبیر خان عهده دار تطبیق آن گردید به غلام حیدر خان و ماما یم فتح الله خان وظیفه سپرده شد تا با همکاري مردم گردن مسجد سیاب عربان خوات به ولسوالي چک ساعت یازده بجه فردا شب حمله نما یند لین تلیفون قطع گردد فردا ملک غلام حیدر خان و فتح الله خان مجاهدین را در میداني عقب قریه ما نجر خیل جمع آوری نمود و به رسم قطعه عسکري به من تقدیم نمودند و امر حمله را

(c) ketabton.com: The Digital Library

صادر نمودم ولیکن در یغا که درین وقت حساس یک تعداد مجاهدین بیک سمند الیشه خوات بیدون اینکه لین تلیفون را قطع نمایند به ولسوالي حمله نموده بودندو دشمن را بیدار نموده بودند و ذریعه تلیفون از کار نیزیون کابل کمک خواسته شده بود و قطعه منتظره به ولسوالي رسیده بود که از تسلیمي عا جل آن جلو گیري به عمل آمد ولیکن سر آنجام بتاریخ ۱۲ جوزای ۱۳۵۸ ولسوالي مزکور از چنگ حکومت آزاد ساخته شد و علاقداري دایمیرداد قبلاً آزاد ساخته شده بیود درین وقت قوا ی هوایي دشمن با تمام نیروی دست داشته خویش سه مرتبه بالای ولسوالي چک و علاقداري دایمیرداد با بمباردمان شدید حمله نمودند ولي نتیجه که به نفع حکومت باشد با این بمبارد ها مر تب نشد زیرا درین وقت حدود ۴۵۰۰ میل اسلحه بدست مجاهدین افتاد ولسوالي چک دایمیرداد جغتو و سیدآباد بدست مجاهدین افتاد و تنها مرکز ولسوالي سید آباد که بالای شا ه راه کابل قندهار موقیعت داشت در دست حکومت با قي ماند.

کله چې د چک ولسوالي او ددایمیردادو علاقداري د مجاهدینو په لاس کښېوتې نو په کابل کې حفیظ الله امین چې دا وخت یې له ځانه د نظامي او ملکي دواړو برخو مشر جوړ کړي وه له پېښو په خبریدو سخت ټکان وخوړ.

نوید وردک د ۱۳۷۵ کال د قلم مجلې د دریمې ګڼې په ۸۲ مخ کې د حفیظ الله امین غبرګون د وردکو د پېښو په اړه داسې بیانوي : کله چې د مرکزي کل اردو قوماندان (محمد دوست) د چک او دا یمیردادو په اړه خپل رپوټ وړاندې کړ نو وویل: چې زموږ پلان د وردګو او هزارګانو په جنګولو کې له ماتې سره مخ دی، تو زیع شوې وسلې ټولې تښتول شوې او زموږ ډیر خلقي ملګري وژل شوې.

حفیظ الله امین میز په سوق ووا هه او وویل:ما نه ؤ ویلې چې د وسلې د ویش په دهیبت په ټاکنه کې باید ښه غور وشي.

محمد دو ست وویل: « موږ څه خبرؤ صیب ، دګروال غلام د ستګیر خو شپږ کاله په رو سیه کې تحصیل کړې وه او ارکان حربي یې هم هلته اخیستې وه نو ځکه موږ پرې باوري او ډاډه ؤ خو اوس لمړني را پورونه ښیې چې د پلان په نا کامی او د خلکو په پارونه او هڅونه کې هغه ډیر لوی او لمړنی لاس لرې»

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې وروسته په ډیر ښه نظامي تاکتیک او ډیره ښه قومانده د وردکو په تولو ولسوالیو کې جهاد پیل او په مخ روان شو کله چې د وردکو تولې ولسوالې فتح شوې نو وردکو د نرخ میدان ښار او جلریز له مجاهدینو سره هم د وسلو او مرمیو مرسته وکړه چې د نرخ او جلریز ولسوالې هم یوه په بله پسې د مجاهدینو په لاس ورغلې.

دا وخت ډګروال صاحب د ملکې او نظامي چارو د ښه سمون او څارنې لپاره د قوم سپین ژیرو او مخورو ته د اسلامي انقلابي شورا د جوړولو او تشکیل وړاندیزوکړ چې ومنل شو او د تولو سیمو مجاهدین او غازیان سره را تول شول او تولو په ګډه د جلګې ولسوالۍ ددالان د کلي عبدالکبیرخان علاقدار د اسلامي انقلابي شورا د مشر په توګه وټاکه اود بمبایي اوسیدونکي عبد المنیر آخندزاده یې د اسلامي انقلابي شورا مرستیال او پخپله هم د قوم د سپین ژیرو او مخورو په سپار ښتنه د نظامي قوماندان په توګه پاته شو او بهادر کوډۍ جګړن رویدار خان یې د مر ستیال په تو ګه وټاکل شو ، د الیشي ملک امیر خان ، د بمبایي ملک خان صا حب ، او د چینې ملک غلام حیدر ددې شورا د غړو په توګه وټاکل شول.

دهمدې کال په اوږدو کې د وردکو په مختلفو کلیو خلقیانو څو څو ځلې سخت بمباردونه وکړل لو یې او وړې قوې یې سیمې ته را ولیږلې خو زور یې ونه رسید تر هغه چې د همدې روان کال یانې ۱۳۵۸ المریز کال د جدي په شپږمه ګوره روسانو د یوه لوي منظم اوسراسري نظامي تهاجم په ترڅ کې ببرک کارمل د رییس جمهور په عنوان د تانګ په سر سپور هېواد ته را ولیږه چې دې سپین سترګې هم څو څو ځله لو یې او وړې قواوې وردکو ته را ولیږې چې بریالۍ نشوی نو به یې په خپلو بیانیو کې به یې وویل: (ما به سویه ډګروال ها ارکان حرب در صفوف دشمن اشخاص داریم ) چې له هغه نه یې مراد ډګروال غلام د ستګیر خان ؤ خودا چې ولې هغه ته چا ونه ویل (که چرا احمق استې که نفرها ی خودرا به زبان خود درجبهات دشمن افشآ میکنې؟!) دا هغه څه وه چې کارملوف ؟! ته هم مجا هدین ساده په نظورتلل اوغو ښتل یې چې مجاهدین تیر باسې خودا ددې ښکارندویه وه چې د کمونیزم اساس او بنیاد په درواغو ټګۍ او برګۍ ولاړ وه چې آنجام یې ماته وخوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارمل پـه غلام د ستګیر خان پسې زیاتـه هڅه وکړه چې د مجاهدینو پـه صفوفو کې یې د حکومت په پلوې متهم کړې او یا یې په بل ډول له منځه یو سې ، خو ونه توانید ، ترهغه چې په ۱۳۵۹المریز کال روسانو وردکو تـه دومره لو یه قوه ولیږلـه چې د وردګو پـه تـاریخ کې د ستړې قـوې پـه نـوم یـا دیـږې دې قـوې ډیـر مسلمانان شهیدان کړل خوپه پای کې هـیڅ پـه لاس هـم ور نغلل او یـوازې د بابـا کـلا او پـنـه د کلیو په پو ښتو کې د ولسوالی په نوم محصورې پو ستې وا چو لې .
په دې قوه کې رو سانو اود هغوي دا خلې اجنټانو شک کاوه چې غلام د ستګیر خان به ښایي د آبکزارد سوختې په کلې کې وی (چې دا دهغه د ماما خیلو کلې وه ) نو پـه همدې تکل د سو ختې کلې له یوه مخه وسوزاوه ، څاروی یې وو یشتـل او بیا یې دا سې زهر جن مواد پرې وشیندل چې دلاس ور وړلو پـه وخت کې بـه یـې هـر هـڅ هڅ په لاس کې ګو ښی ګو ښی در وشکید.
غلام د ستګیر خان په لویه قوه کې په ښې پښه زخمې هم شو ، وروستـه د پشـاور پـه لورې ولاړ او هلتـه د پیرسید احمد ګیلانـې د محـاذ ملې پـه تنظیم کې د هغـه نظامي مرستیال و تاکل شو او له یوه نیم کال وروسته د امریکا د متحده ایالاتو پـه لور ولاړ غلام دستګیرخان تر اوسه ژوندی دې .
هغه د افغانستان د نظامي تشکیلاتو په دننه کی ډیرې نظامي دندې پـه مخ وړې کله چې له حربې پو هنتون نه فارغ شو نو لمړې یې پـه حسین کوټ کې پـه دنده و ګمارل شو له هغه وروسته د ملې دفاع په وزارت کې د ښونې او روزنـې پـه ریاست کې پـه دنده بـو خت شواود لمړې ځل پـه کـال ۱۹۲۵ ـ ۱۹۲۸ دلـوړو زده کـړو لپـاره مسکو ته ولاړ او هلته یې د ( فرونزا ) د ګډو قواو په اکادمی کې تحصیلات وکړل او کله چې هېواد ته را ستون شود ملې دفاع په وزارت کې د پلان مدیر وټاکل شـو او یو ځل بیا له پنځو کالو وروسته په کـال ـ ۱۹۷۳ـ ۱۹۷۵ پـورې ددوهـم ځـل لپـاره مسکو ته ولاړ او د (ورشیلوف) په نوم د روسیې د مسلحو قـواو پـه اکـادمې کې د خپلو تحصیلاتو پـه تر سره کولو سره ارکان حربې په لاس راوړه کله چې هېـواد تـه را ستون شو نو ښونې او رو زنې په ریاست کې د عسکرې ښونځیولوي مدیر وټا کل شو له څو کالو وروسته په ۱۳۵۵کال د ننګرهار د یولسمې فرقې د ۸۱ مکـانیزه غنډ قوماندان و ټا کل شو له دې چې ډګروال غلام دستګیرخان په خپلـه دنده کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيرصا دق رېښتني خد متګارۀ نو دا غنډ دهېواد د هغو دريو مکانيزه غنډونو تر منځ چې د يو لسمې په تشکيل کې يې فعاليت ددرلود دهغه د ماموريت په دوران کې لمړی مقام وګاټه.

ډګروال غلام دستګير خان په خپل هېواد او خلکو مين او زړه سواندې سړې ۀ او د ملي ګټو خوندې ساتلو ته يې ډيره پاملرنه درلوده په ۸۱ غنډ کې دې ده رېښتينولي او صداقت يوه بيلګه دلته را اخلو « هغه کله چې ۸۱غنډ قوماندان ۀ نو د کانتين د پيسو په ګټه يې ددې غنډ د ډوډۍ خوړلو د خونې لپاره لازم تجهيزات را ونيول خو له دې د مخه داسې معمول وه چې د کا نتين د پيسو ګټه به د فرقې قوماندان ته ور کول کيده اودا د هغه مسلم حق ګڼل کيده کله چې د فرقې قو مندان له دې موضوع خبر شو چې د کا نتين د ګټې په پيسو د غنډ د ډوډۍ خوړلو د خونې تجهيزات برابر شوی نو غلام د ستګير خان يې په کومه بهانه ور وغوښت او د خبرو په پاي کې يې د کانتين د ګټې د پيسو يادونه ورته وکړه او وويل چې دا خو زما او ستا ګډې پيسې دې ، کانتين ولې پر سمبال شې ؟!

خو غلام د ستګيرخان ورته وخندل او وويل: جنرال صيب ، دا د ملت مال دې زه او ته تنخوا لرو په دې پيسو مو نوم بد يږې !د فرقې قوماندان په داسې حال کې چې تور وايشيد وويل:

(آه ها ، فهميدم ، فهميدم ! ميخواهې ډګر جنرال شوې؟ ) بسيارخوب،شماهم راست ميګين ؟ !ولې پول حساب کرده به من بياوريد شماميتوانيد به معاش خود کا نتين را مجهز نما ييد

خو دا پيسې هيڅکله د هغه جنرال ؟! نصيب نشوې».

د ۸۱ غنډ له ما موريت نه وروسته د ريشخور د فرقې د اوپراسيون امر وټاکل شو ترهغه چې د خلقيانو خونړی کودتا را منځ ته شوه غلام د ستګيرخان د کود تا په جريان کې په داسې حال کې چې فرقه مشراو ريس ارکان يې وژل شوی وه ، له خلقيانو سره ډيروجنګيد خودا چې نه پوهيده مقابل لوری او کودتا کونکې څوک دی؟ ددوي تشخيص او له وزارت دفاع نه سالمه قومانده نه وه نو يې له جګړې لاس وا خيست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلام د ستګیر خان د افغانستان په ملي اردو کې یو زړور لایق د لوړو تحصیلاتو درلودونکې منصبدار ؤ خو ددومره لوړو تحصیلاتو سره سره یې د جنرالي رتبه تر لاسه نکړه داچې ولې ؟دا هغه معمې وه چې هیڅوک پرې نه پو هیدل په دریو جشنونو کې د هغه جنرالي ته د لوړیدو وړاندیز د وخت جمهور ریس محمد داود ته وشو خو یوه نا مریې او نا ملموس لاس دهغه له ترفیع نه کلک مخنیوې کاوه .

که څه هم غلام د ستګیرخان په شوروې کې تحصیلات کړې وه خو هغه د روسانو کلک مخالف او هیڅکله یې تر فرهنګې اغیز لاندې نه دې را غلې.

عبد الجلیل (وجدي) خپل «د خبر او نظر نړۍ» کتاب په ۱۲۱ مخ کې لیکې:

( ډګروال غلام د ستګیر خان نسبتا د پاخه عمر په مرحله کې شوروی اتحاد ته د لوړو زده کړو لپاره استول شوې ؤ ، دی د هغه افغانانو له ډلې نه وه چې د شوروی د پرپاګنډ تر اغیز لاندې نه ؤ را غلې کله به چې دې د رخصتې په توګه په کابل خپل کور ته راغی نو زه به د ستړې مشې لپاره ورتلم ده به هغه وخت ماته دا خبره کوله چې د رو سانو انقلاب یوازې او یوازې د تبلیغاتو په بنسټ درول شوی او د پرو پاګنډې په ګاډیو (عرادو ) باندې روان شوی دی.

ده به دا خبره زښته ډیره کوله چې رو سان موږ ته مسلکې شیان نه را زده کوی بلکې یوازې زموږ وخت د سو سیالیزم او کمونیزم په باره کې په پوچو تبلیغاتو او تعلیماتو او معلو ماتو را ضایع کوی.

دنیو کمونکیشن Nev Communications د کتاب مطالعاتو او د ښا غلې ډګروال صا حب مشاهداتو وښودله چې د اکتوبر انقلاب (انفلاق) لکه څنګه چې پلو یانو یې فکر کاوه ، د ټولنې د عینې او ذهنې شرایطو د برابریدو په بنا نه ؤ را منځ شوې اودیوه خام او پوچ فکر په ترځ کې را منځ ته شوې ؤ چې په افغانستان کې هم د غوایې د نظامي پاځون متو لیانو د اکتوبر د انقلاب پیښې کولې چې د غوایې انفلاق هم د پرپاګندونو په اوږو سپور راغی او د ملیونو افغانانو له ځپل کیدو ورو سته بیرته په خپله لار ولاړ ).

غلام دستګیر خان د اردو د نظام په اړه بې شمیره کتا بونه لیکلې دې چې زیاتره یې په انګلیسې ژبو هم ژباړل شوې دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دد ګـروال غلاد سـتګیرخان د پـلار نـوم ملـک ذکریا خـان ؤ او دآبکـزارد سـیمې د (میرکه ) په کلې کې د نیا ته ستر ګې غړولې چې دا داسې وخت ؤ چې د هېـواد پـه زیاتره ولایتونو کې ښونځې نه وه خو د هغه پلار چې له پـوهنې سره یې ډیـره مینـه درلـوده خپـل دوه کـوچنې زامـن غـلام د سـتګیرخان او غـلام سـرور خـان د زده کـړو لپاره کابل ته را وستل او په حربې ښونځې کـې یـې شـامل کـړل غـلام سـرورخان پـه ماشومتوب کې خپلې سترګې له د نیا نه پټې کړې خو غلام د ستګیرخان د زمانې د ترخو نا خوالو په غیږ کې را لوی او منصب دار شو•

• (۶) ۹۹- ۱۱۶ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ذکریا خان

ذکریاخان هم د انجینیرمحبوب خان په شیرتکړه اوپه خپل قوم مین ، زړه سواندې او غیرتي وردک تیر شوي دی چې دا غیرتي نوم یې اوس هم د هغه له مرګ ورو سته هم په وردګو ښه لګیږي.

کله چې له ۱۳۳۲کال نه تر ۱۳۴۲ کال پورې په شمالي سالنګ کې (د شمال له لورې د تو نل کیندلو ) ددریمې برخې کار په مخ روان وه نو ذکریا خان دا وخت ددې برخې د قواي کارقوماندانۍ او د دولس سوو په شا وخوا کې وردګ وګړو له ده سره کار کاوه چې دا ټو ل ده پخپله په کار کې شامل کړې وه او له ټولو سره یې د یوه مهربان پلار په شان سلوک کاوه.

دا زمانه په دندو کې شاملیدل هم سخت کارۀ ځکه د کار شرایط محدود اوامکانات کم وه او دو لت په هره برخه کې اقتصادی ستونزې درلودې خوبیا ده له خپل ځان سره ټول وردک وګړې په کارګمارلې وه چې ځوځوځله د ټول ګټو ( فوایدعامی ) په وزارت کې دهغه له دې قوم پالنې نه شکایت وشو خوڅنګه چې قوماندان ذکریاخان د سردار محمد داود ټینګ ملګرې ؤ نو د چا پرې زور ونه رسیده او له بل پلوه ذکریا خان ته الله پاک دو مره لوړ ستورۍ ورکړې وه چې مخامخ هیچا هم څه نشوای ورته ویلای خو د زمانی »ه تیریدو سره بیا هم دیو شمیر مغرضو کړیو دومره زور پرې ورسید چې هغه یوازې له سالنګونو تبدیل اوپه ځای یې یارمحمد طوطا خیل وټاکل شو دا شاغلی ؟؟! کله چې د زکریا خان په ځای و ټا کل شو نوپه لمړې ګام کی یی ټول هغه وردک کارګران له دندو لیرې کړل کوم چی ذکریا خان داخل کړی وه او یوازې هغه کسان پریښودل چې مسلکې وه او کار یې بل چا په مخ نشوای وړای خو طوطا خیل هم له لنډې مودې ورو سته له دې دندې را وشړل شو او د کابل په ښارکې یو عادې تکسې چلو نکې شو .

ذکریا کله چې له سالنګونو را بدل شو نو د یوه کال لپاره د لو د یځ د لین قو ماندان ؤ چې د لته یې هم د خپل قوم په ګټه ډیر کارونه وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د هېواد په نورو ولایاتو کې هم دندې په مخ وړې د ننګرهار په کانال کې هم هغه نه هیردونکی فعالیتونه تر سره کړی

قوماندان ذکریا خان د ملک امیر خان زوي او په **۱۲۹۲**هجري کال د جلګې د ولسوالۍ د کوز بخشک په کلي کی زیږدلې دی او خپل لمړنې زده کړې یې په نوموړې ولسوالۍ کې تر سره کړې او بیا په حربې ښو نځې کې شامل شوې دی له هغه ورو سته یې د حربې پو هنتون د استحکام په پو هنځۍ کې خپلې زده کړې بشپړې کړې دی او همدا رنګه د استحکام په مسلک کې د تخصص لپاره د لوړو زده کړو لپاره د یوګوسلوایا هېواد ته هم تللې دی چې په بریالیتوب سره یې خپلی زده کړی بشپړې کړې دی.

قو ماندان ذکریا خان په کال **۱۳۵۴** د کب په میاشت کې کله چې د رخصتې په مهال خپل کور او کلي ته تللې ؤ هلته نارو غ شو ناروغې یې څه اوږده شوه تر څو چې د اجل استازې ته یې ښه را غلاست ووایه او وفات شو او پخپله پلرنې هدیره کې خاورو ته وسپارل شو •

---

• (۶) ۸۳- ۸۵ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پرو فیسور محمد موسی وردک



پرو فیسور الحاج داکتر محمد موسې وردک د اورتوپیډي د ۸۲ نویو منل شویو میتودونو په اختراع نړیوال ریکارد ټینګ کړي او اسناد یې په لاس لري چې په دې توګه ویلای شو محمد موسې وردک نه یوازې دا چې د افغانستان په کچه یو پیژندل شوي طبیب دې بلکه په نړیواله کچه یې د اور تو پیډي یو طبي مبتکر هم ګڼلي شو هغه د هېواد په طبي محرو موشرایطو کې چې ډیرو لږو امکاناتو ته هم لاس رسې نه کیده په دې وتوانید چې پورتنې نو ښتونه را منځ ته کړي.

دا داسې سم په ځای او عیار طبي نوښتونه وه چې نړیوالو په بیړه ومنل او پکار یې واچول.

که چیرې له پرو فیسور محمد موسې وردک سره مجهز طبي لابراتوارونه اونورلازم امکانات په واک کې وای نو په ځرګنده به یې د اورتوپیډي په نړۍ کې یوداسې انقلاب را منځ ته کړې وای چې نړیوال به ګوته په غاښ ورته پاته وای

پرو فیسور محمد موسې وردک په د هډوکو د ناروغیو د مخنیوې او د درملنې په اړه ۱۴ تدریسې ارزښتناک کتا بونه لیکلي او ددې په څنګ کې یې د مجلو لپاره په سونو علمي مقالې هم لیکلي دې او د هغه مقالې نه یوازې دا چې داخلي رسنیو کې خپرې شوې بلکې د بهرنیو مجلو لپاره یې هم ۲۹ علمي لیکنې کړې دې

د اورتوپیډي په برخه کې هغه د خپلو تحقیقاتو په لړ کې په فدراتیفي رو سیې کې په روسې ژبه هم یو څړنیز کتاب او په یوه CD کې یې په انګلیسې ژبه هم یو کتاب لیکلي دې.

په جنوبي کوریا کې د اور توپیډانو په ۳ نړیواله کنګره کې په ګډون برسیره په ۴۱ نړیوالو کنفرانسونو کې هم ګډون کړې دې او د خپل هېواد په کچه یې د رو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غتیایي خدماتو په لړ کې د اورتو پیدې او تراو تو ما تو لوژۍ د ښونځې بنسټ اینښودونکي هم ګڼلې شو .
داورتو پیدۍ او ترو ماتو لوژۍ د درملني په برخه کې د درملني د نویو میتودونو لکه د اوږدو هډوکو خارج محراقي او ستیو سنتیز ـ د لویو مفصلونو د اندوپرو- په غیرثابتو کسرونو کې د ملا د تیرد خلفي تثبیت دودونکې ،
د اردو د رو غتیا پالو ،او د مرستیالو ډاکترانو او خورد ظابطانو د ښونځې بنسټ اینښودونکي او په ۱۳۷۲کال په کابل کې د لمړني پرایوټ(خصوصي ) روغتون بنسټ اینښودونکي چې په خپل نوم یې یادیږې او په کارته پروان کې مو قیعت لري.هغه په افغانستان کې د سپتیک جراحي بنسټ اینښودونکي او شف دې
پرو فیسور محمد موسې وردک په دولتې چوکیو هم کار کړې چې په لنډه توګه یې یا دولې شو .
د افغانستان د وخت د اردو د تراوماتو لوژۍ مشر
د مسلحو قواوو د طبي علومو د اکاډمي سر طبیب
د نظامي طب د پو هنځي بنسټ اینښودونکي او قوماندان
د طبي علومود اکادمې علمي مرستیال
د طبي علومو د اکاډمي عمومې قو ماندان
د افغانستان د اسلامي جنبش مرستیال
په ۱۳۷۲ کال د جمهورې ریاست د سلاکارې شورا غړې
په ۱۳۶۵ کال د افغانستان د علومو اکاډمي د طبي علومو د مرکز بنسټ اینښودونکي او افتخارې ریس .
پورو فیسور الحاج محمد موسې وردک په کال ۱۹۴۹ میلادي د وردکو ولایت د سید آباد ولسوالي د صدو خیلو په کلي ستر ګې دنیا ته غړولې او لمړني زده کړې یې د تکیې په ښونځي کې او له هغه ورو سته د حر بي ښونځي له دولسم ټولګي نه فارغ شوې دې او د لوړو زده کړو لپاره د پخواني شورو ی اتحاد په لورې تللې او د MD یاني د ماشتري ډیپلوم یې د سرو زرو له مډال سره د سن پطرس بورګ د کیروف د نظامي علومو په اکا ډمې کې ترلاسه کړې ، او په ۱۹۷۵ کال یې د (ایم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اس ) او (پي اچ ډي ) يانز دو کتورا زده کړې بشپړې کړې په ۱۹۷۷ د طبي علومو د عالي دا کتر
او د ۱۹۹۷کـال راهيسـي د نـړې د جراحـانو او ارتوپيـدانو د نړيـوالي ټـولنې (سـيکوټ ) غـړې او د ۲۰۰۴ کـال را هيسـې د فـدراتيفي رو سـيې د ډاکترانـو د سراسري ټولنې غړې دې په ۱۹۸۲ کال د طب په څانګه کې د افغانستان د علو مو د اکاډمي لمرنۍ اکا ډيمسين په۱۹۸۸ د کابل د طبي انسيتيتوت د نظامي طب د پو هنځي پو هاند او په افغانستان کې د خارج محراقي ياني ASAMI داو ستيو سنتيز د ميتودونـو د نړيـوالي ټـولنې اسـتازی او غـړې او د ۲۰۱۰ کـال د نړيـوال کنفرانس چې ASAMI يې په مصر کې دايروې د علمي بو رد غړې دي.
محمد موسې وردک ډير هېواد پـالونکې انسـان دې ځکـه هغـه دهېـواد پـه تيـرو نـا خوالو کـې پـه هېـواد کـې دننـه د خپلو هېوادوالـو پـه درملنـه بـو ختۀ د طالبـانو د واکمنۍ پـه مهال يې هم د خپلو هېواد والو پـه چو پړ کې ۇ •

---

• (۶) ۳۰۱-۳۰۴ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۱۳) فرهنګيان

## شاعران

د وردګو اړوند د څلورو واړو ولسواليو سيمه ډېره ښکلې او شاعرانه سيمه ده، د دې سيمې ډېره برخه شنو درو او رڼو اوبو نيولې ده، د شنو درو په څنډه کې د جګو غرو لمنو د وردګو طبيعت ته نوره ښکلا هم ورکړې ده، همدا لامل دی چې د وردګو د سيمې او سيدونکي خلک په ذهني لحاظ ځواکمن، پوه او لايق دي، د دې سيمې محصلان او زده کوونکي او آن سياسي مشران تل تر نورو ښه ځلېدلي دي، ځکه چې هوا يې پاکه او مناظر يې زړه راښکونکي ده، همدا وجه ده چې د دې سيمې په خپله غېږه کې ښه ښه شاعران راټوکولي، خو د ټولو په اړه دلته معلومات وړاندې کول د دې کتاب چې زما د ماسترۍ د تيزس موضوع هم ده له محتوا وتلې خبره ده او د وردګو د ټولو شاعرانو يادول په لسګونه کتابونه ډکولای شي، مونږ دلته يوازې د بېلګې په توګه د څو تنو شاعرانو يادونه کوو، د وردګو هغه شاعران او ليکوالان چې مونږ يې دلته ژوند ليکونه او د شعر بېلګې ندي را اخستې په خپله پوهه او لويۍ بايد دلته مونږ وبښي البته له ټولو محترمو شاعرانو او د قلم خاوندانو سره زما ژمنه داده چې په دويم، دريم... ټوک کې به په وار سره د دوی درناوی وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګل رحمن رحماني

د همدې خاورينې نړۍ يو اوسېدونکى شاعر ګل رحمان رحماني در پېژنو، دا د علم او کلام د کاروان ملګرى ليکوال او ژباړن، خو څوک دى، څنګه دى؟ چېرته دى؟ يو څو شېبې را سره تم شئ.

## زوکړه

ګل رحمن رحماني د ارواښاد مولوي عبدالرزاق زوى، له نن نه ۲۹ پسرلي وړاندې، په ۱۳۶۵ لمريز کال د افغانستان په مرکزي ولايت ميدان وردګو کې زېږېدلى دى. دى د همدې ولايت د چک سمسورې ولسوالۍ د کولک کلي اوسېدونکى دى.

رحماني د پنځو وروڼو او پنځو خويندو کشر ورور دى. پلار يې ارواښاد مولوى عبدالرازق د خپل وخت لوى ديني عالم، مخور او منلى شخصيت و چې په ګڼ شمېر شاګردان يې روزلي او ژوند يې د خير ښېګڼې او علم خپرولو په لاره کې د يوه ديني مبلغ او مدرس په توګه تېر کړى دى.

ارواښاد مولوي صاحب ته مال او شتو ارزښت نه درلود، د خپل پلار په څېر پر معنوياتو مين او تارک دنيا انسان و، هڅه يې کوله چې په خپلو شاګردانو کې معنوي ارزښتونه او ژمنتيا وپالي او هغه څه وروښيي چې دوى ته عالي او تولنيز شخصيت ورکوي.

مولوي عبدالرازق د وردګو په بېلابېلو سيمو کې امامت او د خپلې مدرسې چارې مخته وړلې، چېرته به يې چې امامت او مدرسه وه، نو کورنۍ به يې هم ورسره بېوله، وروستۍ مسووليت يې د دې ولايت په سيداباد ولسوالۍ کې و.

خو د تقدير پرېکړې پرېښنسود چې نوموړى دې د خپل وروستي اولاد خاپوړې او ماشومتوب تر پايه وګوري، ځکه رحماني لا د خپل عمر د لومړي کال ۱۲ مياشتې نه وې پوره کړې چې د خپل پلار له سيوري محروم شو.

پر هېواد د روسانو د يرغل ناورين روان او د افغان مجاهدينو سنګرونه ګرم وو. ارواښاد مولوي صاحب يوه شپه خوب وليد چې په دښته کې روان وي، د مازديګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لمانځه وخت شي، يوازې په لمانځه ودرېږي، خو چې سلام وګرځوي، شاته نږدې شل کسيز صف پسې اقتدا کړې وي.
د همدې ورځې په سبا د روسانو د هوايي بمبار په يوه پارچه ټپي او له نړۍ يې سترګې پټې کړې، ياران او طالب العلمان يې پرې را خبر شول، اجازه يې ورنه کړه چې جنازه يې خپلې ولسوالۍ چک ته ولېږدول شي، په سيدآباد کې يې د جنازې مراسم په ښېړه وکړل او د پورته کولو پرمهال بيا د سرو لښکرو الوتکې را غبرګې شوې.
په بمبار کې د هغه ټول ملګري د شهادت لوړ مقام ته ورسېدل، له يوې جنازې سره شل نورې هم ملګرې شوې او په دې توګه د هغه د پروني ليدلي خوب تعبير خلکو ته څرګند شو.
رحماني په ١٣٩٢ کال کې ګډ ژوند پيل کړی. د ژوند ملګرې يې ورته د کورنۍ له خوا ټاکل شوې، په کلي کې يې واده کړی او اوسمهال په کابل کې استوګنه لري.

## زده کړه

ګل رحمن رحماني تر اووه کلنۍ پورې د خپل کلي په جومات کې تر دوديزو ديني زده کړو وروسته د لومړي ځل لپاره د خپلې کورنۍ له خوا د الجهاد لومړۍ نمبر ځايي لومړني ښوونځي ته چې د افغانستان لپاره د سويډن کمېټې تمويلاوه، داخل شو او د خپل پلار د يوه دوست او ددې ښوونځي د ښوونکي اروښاد مولوي عبدالواحد په ځانګړې هڅونه يې زده کړې پيل کړې.
له خپلو ښوونکو او مشرانو ځينو عجيبو او غريبو پوښتنو او خبرو، دا ماشوم د هغوی تر منځ د يوه ځانګړي او هيښ ماشوم په توګه مطرح کړ، خپلو ورونو، د ښوونځي ښوونکو لا وهڅاوه چې په لوست کې کوښښ وکړي او وخت پر بې ځايه لوبو تېر نه کړي.
له شپږم ټولګي وروسته په چک ولسوالۍ د شهيد عبدالله عزام روزنتون ته د نهاري زده کوونکي په توګه ومنل شو، دا ښوونځی له نورو متفاوت ځکه و چې هم يې درسي نصاب بدل او پياوړی و او هم يې د ليليې سيستم درلود، ځانګړي تعليمي او فرهنګي پروګرامونه يې لرل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر نهم ټولګي پورې يې هلته زده کړې په برياليتوب سره مخته يوړې، د روزنتون په ورځنيو او شپنيو پروګرامونو کې يې فرهنګي ذوق او مينه را وپښه شوه، د روزنتون د عربي ژبې استاد او شاعر سيد مصطفی حماس په کې دغه وړتيا درک کړه، تشويق يې کړ او د هغه لومړني بيتونه يې اصلاح او ستايل.

د سهاري لين او فرهنګي څانګې لپاره چې هلته ورته "نشاطات" ويل کېدل، د هغه لپوالتيا، تياري، فرهنګي او هنري پروګرامونه، شعرونه او ترانې د زده کوونکې خوښې شوې او د خپل جرئت او وينداويې لومړني ګامونه يې په کې پاخه کړل.

دا چې دا روزنتون تر نهم ټولګي پورې و، نو له درې کلنې زده کړې وروسته په ۱۳۸۰ کال کې د چک ولسوالۍ مشهورې او تاريخي لېسې (حضرت عمر فاروق) ته شامل شو.

په دې لېسه کې پر لين سربېره په فرهنګي څانګه او د ليسې نشراتي ارګان (عروه الوثقی) جريده کې د خپلې وړتيا ښودل د دې سبب شول چې د لېسې تدريسي مرستيال استاد مصباح الدين مسکينار يې د لېسې د فرهنګي څانګې د مرستيال په توګه وګوماري او د فرهنګي خونې يوه کيلي ور وسپاري.

په دې لېسه کې وروستي د زده کړې درې کلونه د هغه لپاره د زده کړې او فرهنګي کار او زيار کلونه و چې د زده کوونکو له منځه خپل شاعران او فرهنګيان را جلا او په فرهنګي څانګه کې د ځان ملګري کړي.

بريالی روان، خالد نجيم، فضل ربي احمدي، ننګيالی اتل، اروښاد سيف الرحمن محمودي، مزمل رحيمي، اصف فدايي، احمد ويس، نثار مريد او ځينې نور زده کوونکي لکه مجيب الرحمن محمودي، محب الرحمن محب، عادل عزيزي، اجمل اجمل، مجيب احساس، هدايت الله فدايي، محمد ياسين فدايي او... هغه ځوانان وو چې رحماني ورسره په لېسه او له لېسې بهر فرهنګي کارونه سمبالول.

په استادانو کې استاد مصباح الدين مسکينار، استاد حماس، استاد عالم عزيزي، استاد نعيم معرفت، مدير صاحب ګل اغا حقاني، استاد غلام دستګير احمدي، قاضي غلام درويش ابراهيمي، استاد شريف الله اکرمي، استاد احسان الله بهيج، استاد شفيق الله اکرمي، اروښاد استاد محمد اصف چکوال، اصف

(c) ketabton.com: The Digital Library

غمگین، سورگل پژمان، نبي الله ملنګ او نور هغه فعال ښوونکي او فرهنګیان وو د چک ادبي بهیر یې فعال ساتلی و.
د لېسې په ۱۲ ټولګي کې و چې د ( سانده ) په نوم لومړی ټولګه یې د میډیوټیک افغانستان لخوا د وردګو ولایت د څانګې سپارښتنه خپره شوه او په همدې کال یې د میډیوټیک په انګړ کې د ګڼو ځایي فرهنګیانو په شتون کې، د کتاب د مخکتنې د غونډې په بهانه د فرهنګي هڅو ستاینه وشوه.
نوموړی په ۱۳۸۳ کال کې له لېسې نه په ښه نومره فارغ شو. په کانکور کې یې ګډون وکړ، خو د لوړو نومرو په اخیستلو هم په بې پایلې زده کوونکو کې راغی، وروسته یې دویم ځلې عریضه ورکړه او د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي ته یې ورکړ، خو دا چې نوموړي له ادب او ژورنالیزم سره مینه درلوده، نو له دې پوهنځي یې منفکي واخیسته.
یو کال وروسته یې بیا کانکور کې ګډون وکړ او د ننګرهار پوهنتون د ښوونې روزنې پوهنځي د پښتو ادب څانګې ته بریالی شو او دا پوهنځی یې د اول نومره کدر په توګه ولوست، لیکنې یې وکړې، فرهنګي فعالیتونه یې وکړل او په ۱۳۸۹ کال کې ترې فارغ شو.
ددې تر څنګ یې د ننګرهار میډیوټیک کې د ژورنالیزم یو کلن پروګرام له ۱۳۸۷ کال نه تر ۱۳۸۸ کال پورې بشپړ او د عمومي ژورنالیزم یو کلن برې لیک یې تر ګوتو کړ.
له پوهنځي تر فراغت وروسته یې یو نیم کال په بېلابېلو رسنیو کې کار وکړ او په ۱۳۹۱المریز کال کې یې د کابل پوهنتون د پښتو ادبیاتو ماسټرۍ دورې په عمومي کانکور کې ګډون وکړ او په ښو نومرو بریالی شو.
د ماسټرۍ دا دوره یې په ۱۳۹۳ کال کې په بریالیتوب سره پای ته ورسوله او د ( پښتو شعر او سنی بهیر ) په نامه یې د ماسټرۍ ۴۰۰ مخیزه څېړنیزه رساله بشپړه او په بریالیتوب سره دفاع کړه، او سمهال په کابل کې د بهرنیو ژبو د یوه انیستیتیوت د انګلیسي ژبې د یوه کلن پروګرام محصل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فرهنګي هڅې

لکه څرنګه مو چې وړاندې وویل، نوموړی لومړی فرهنګي هڅې له ښوونځي پیل کړې، چې لـه د ېـوالي جرېـدو را نیـولې، تـر فرهنګـي، غونـډو او مشـاعرو فعـال برخوال و.

تر ټولو زیات اغېز ورباندې په وردګو کې د منې ګل کلنۍ مشاعرې جوړېدو وکړ چې د لومړي ځل لپاره په چک کې جوړه شوه. لـه کابل نـه ورتـه ګڼ فرهنګیـان، خبریالان، شاعران او لیکوال راغلل چې رحماني ورسره اشنا شو.

ددې فرهنګیانو په مرسته یې په کابل کې افغان ادبي بهیر تـه لار وموندە او ډېر ځله به د جمعې په ورځ له وردګو کابل ته راته او پـه بهیر کـې لـه ګډون وروسته بـه بېرته وردګو ته ستنېده چې په ښوونځي کې د شنبې په ورځ غیر حاضر نه شي.

له همدې بهیر نه په الهام اخیستلو یې د خپل فرهنګي او شاعر ملګري محمد عالم عزیزي سره په ګډه د چک ادبي بهیر رامنځتـه او ځایي شاعران او فرهنګیـان چې ادبي ذوق یې درلود ، په کې راغونډ کړل.

په همدې ډول د وردګو ولایت علمي او فرهنګي مرکز(میډیوټیک ) چې ولایتي دفتر یې چک ولسوالۍ کې و ، لـه ده سره پـه فرهنګي چارو او استعداد غوړېدو کې مرسته وکړه.

د لېسې په دروان کې یې د خپـل ملګري محمـد عـالم عزیـزي، شفیق الله اکرمي، استاد معرفت، ننګیـالي اتـل، ارواښـاد چکوال، ارواښـاد سید نقیب الله حیرت احمدي، حبیب الله وصال او نورو ملګرو په مرسته چک ادبي بهیر پیاوړی کړ چې د میډیوټیک مرکز له انګړ پرته یې په بېلابېلو ښوونځیو کې هم ناستې کولې، د میډیوټیک نشراتي ارګان(شپیلۍ ) مجلې هم د دوی د فعالیتونو په انعکاس کې ونډه درلوده.

د پوهنتون دوره کې د پښتو څانګې د محصلینو د خپرونې (تانده ) مرستیال او لیکـوال و ، د ننګرهـار د یـو شـمېر فرهنګـي ملګـرو د ځـانګړې مجلـې (سـایه ) مرستیال او نورو خپرونو او وېبپاڼو قلمي همکار و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کابل کې د (پل فکري کړۍ) د مرکزي شورا غړی او ددې کلتوري او ټولنیز بنسټ ویاند ، د ځینو چاپي ادبي خپرونو د کتپلاوي غړی او لیکوال. له کلونو راهیسې له تاند ، لومړیتوب او ګڼو نورو وېبپاڼو سره منظمه قلمي همکاري لري.
ددې تر څنګ یې تر او سه په لسګونو کلتوري او ادبي راپورونه او د (باور) ورځپاڼې لپاره سرمقالې او تحلیلونه لیکلي چې نوموړی یې د پیسو لپاره کار بولي او حساب پرې نه کوي، خو دا هڅې یې هم په ځانګړي ډول د ستاینې وړ دي.

## د رحماني اثار

### الف: چاپ اثار

۱ - سانده (لومړۍ شعری ټولګه): د افغانستان علمي او ټولنیز مرکز(میډیوټیک ) ، د وردګو ولایت علمي فرهنګي مرکز. چاپ کال ۱۳۸۲لمریز.
۲ - زه او ته چې ماشومان وو(شعري ټولګه): لومړی چاپ–۱۳۸۵لمریز. افعان خپرندویه ټولنه دویم چاپ - ګودر خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۱ لمریز.
۳ - د ژوند لوبه (ژباړل شوي ناول): ګودرخپرندویه ټولنه، چاپ کال ۱۳۸۸ جلال اباد ، لمریز.
۴ -تلپاتې درد (ادبي ټوټې): د صفا راډیو د خپرونو مدیریت، چاپ کال ۱۳۸۹ لمریز.
۵ - ګوره چې هېر مې نه کړې (تذکره ): د پوهنتون د ټولګیوالو تذکره ( له محمد واصل وصال سره ګډ اثر ) ، چاپ زیار: خپرندویه ټولنه. جلال اباد ، چاپ کال– ۱۳۸۹لمریز.
۶- ښکلا (ناول): ګودرخپرندویه، ټولنه، جلال اباد ، چاپ کال -۱۳۸۸ لمریز.
۷- وروستی فصل (لنډې کیسې ): ګودر خپرندویه ټولنه، چاپ کال ۱۳۹۰ لمریز.
۸- مونوګراف لیکنه (څېړنه): ګودر خپرندویه، ټولنه، چاپ کال -۱۳۹۰ لمریز.
۹- بې وطنه (لنډې کیسې): ګودرخپرندویه، ټولنه، چاپ کال -۱۳۸۹ لمریز.
۱۰- شړل شوی لمر : (ژباړل شوی ناول ) ، ګودر خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۹ لمریز کال
۱۱- دازادۍ لېونی : (تاریخ ناول ) ، ګودر خپرندویه ټولنه، جلال اباد ، چاپ کال ۱۳۸۹، لمریز.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲ - مبادي حقوق (ژباړه)، د استاد نصرالله ستانکزی مشهور اثر، چاپ کال ۱۳۹۱، ګودر خپرندویه ټولنه، جلال اباد.
۱۳- انتقام (ناول) : ختیځ خپرندیه ټولنه، چاپ کال ۱۳۹۰ لمریز.
۱۴- مصرۍ پېغله (ناول) : ګودر خپرندویه ټولنه، چاپ کال، ۱۳۹۱ لمریز.
۱۵- خاورې او بادونه (لنډې کیسې): ګودر خپرندویه ټولنه، چاپ کال -۱۳۹۱ لمریز.
۱۶- د خپګان ورځې (ادبي ټوټې): ګودر خپرندویه ټولنه. چاپ کال، ۱۳۹۱ لمریز.
۱۷- د مینې سفر( ناول ): چاپ کال۱۳۹۱لمریز، ګودر خپرندیوه ټولنه.
۱۸- دعمومي اروا پوهنې ارونه( ژباړه ): ګودر خپرندویه ټولنه، چاپ کال، ۱۳۹۰ لمریز.
۱۹- کلمه داره روپۍ ( تدوین، چاپ او سریزه ): ګودر خپرندویه ټولنه، چاپ کال ۱۳۸۹ لمریز.
۲۰-لېونی سړی ( ژباړه ) جبران خلیل جبران، چاپ کال۱۳۹۱ لمریز، ګودر خپرندویه ټولنه.
۲۱- د مینې شهیدان ( تاریخي ناول )، چاپ کال ۱۳۹۲ لمریز، ګودرخپرندویه ټولنه.
۲۲- ته هغه نه یې چې مې خوب کې لیدې (شعري ټولګه)، ۱۳۹۴لمریز کال، مومند خپرندویه ټولنه.
۲۳- د ستورو سیند ( د پښتو شعر او شاعرۍ شننه ) ۱۳۹۴لمریز کال، مومند خپرندویه ټولنه.

ب: چاپ ته چمتو اثار
۱- په نړیوالو ادبیاتو کې د رابندرناتهـ ټاګور ونډه (څېړنه)
۲- سوځېدلې ځمکه ( ادبي ټوټې)
۳- رنګ او نور(د نړیوالو ادبیاتو او ادبي څېرو په اړه مقالې)
۴- رنګ او نور(د کورنیو ادبیاتو په اړه څېړنیزې مقالې)
۵- د پښتو شعر او سنې بهیر(د ماسترۍ تیزس)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دندې

- ✓ په چک وردګ روزنتون کې د فرهنګي څانګې مدیر او د ژبې او ادبیاتو ښوونکی، ۱۳۸۳-۱-۱تر ۱۳۸۳-۲-۲لمریز پورې.
- ✓ د میدان وردګو د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست اداري مدیر او ددې ریاست د خپرنیز ارګان (هدف او ونیزه) لیکوال، ۱۳۸۳-۲-۲تر ۱۳۸۴ پورې.
- ✓ د ننګرهار کلید راډیو پروډیوسر، ۱۳۸۲تر ۱۳۸۷-۸-۱۰پورې.
- ✓ د مرام راډیو (ننګرهار) د خبري څانګې او وروسته د خپرونو مدیر، ۱۳۸۷-۸-۱۰ تر ۱۳۸۸-۱۱-۱۵پورې.
- ✓ د صفا راډیو (ننګرهار) د خپرونو مشر، ۱۳۸۸-۱۱-۱۵ نه تر ۱۳۹۰لمریز کال پورې.
- ✓ د پژواک خبري اژانس (کابل)، د اډیو (غږیز) سرویس مسوول او خبریال، ۱۳۹۰تر ۱۳۹۱لمریز کال پورې.
- ✓ د ولسي جرګې د غړي الحاج امیرجان دولتزي سلاکار او ښوونکی، ۱۳۹۰ تر ۱۳۹۱ (پس له وخته) پورې.
- ✓ د پژواک خبري اژانس (کابل)، د ژباړې څانګې مشر، ۱۳۹۲ نه تر اوسه(۱۳۹۴) پورې.
- ✓ استرالیا کې د افغانانو راډیو (شمله) خبریال، ۱۳۹۱تر ۱۳۹۲ (پس له وخته) پورې.
- ✓ د ملي باور ورځپاڼې ایډیټر او مرستیال، ۱۳۹۲تر ۱۳۹۳ (پس له وخته) پورې.

## ستاینې او ویاړنې

- ✓ د عمر فاروق (رض) لیسې له اداري څخه د غوره او فعال زده کوونکي ځانګړی ستاینلیک (۱۳۸۳)
- ✓ د مرام راډیو غوره پرډیوسر او خپرونو چمتو کوونکي ستاینلیک (۱۳۸۷)
- ✓ د صفا راډیو څخه د خپرونو د غوره مدیر ستاینلیک (۱۳۸۷)
- ✓ د ننګرهار پوهنتون څخه د غوره او فعال محصل ستاینلیک (۱۳۸۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ✓ د هېواد د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا د ۱۳۹۲ لمريز کال د هېواد د خپلواکۍ کاليزې په وياړ د کتاب په اعلان شوې کانکور سيالۍ کې (د ازادۍ لېونی ) ناول ته د کال د غوره تاريخي ناول لومړۍ درجه نغدي جايزه او ستاينليک (۱۳۹۲)
- ✓ د وردګو قومي شورا له خوا د غوره ليکوال او فرهنګي فعال ستاينليک (۱۳۹۳)
- ✓ د ميدان وردګو ولايت د مقام له خوا د غوره ژورناليست او فعال ځوان ستاينليک (۱۳۹۳)

ددې تر څنګ رحماني صاحب د هېواد د ګڼو پوهنتونونو د ادب پوهنځي له محصلينو سره د مونوګرافونو د موضوعاتو په پيدا کولو ، ليکلو او سمون کې مرسته کړې او خپله په دې باندې هم تر اوسه پورې اته بېلا بېل مونوګرافونه ليکل شوي چې د (ګل رحمن رحماني ادبي هڅې ) ، ( دګل رحمن رحماني د لنډې کيسې موضوع شننه ) ، د (ګل رحمن رحماني داستاني هڅې ) ، ( د ګل رحمن رحماني په شعرونو کې د تشبيه ډولونه ) او څو نور ترې يادولی شو.

دی خپل پرمختګونه تر ټولو وړاندې د خپلې مورجانې د دعاګانو محصول بولي چې د نوموړي لپاره يې د يوې مور تر څنګ د پلار رول هم لوبولی او تر اوسه يې په ډېرو شعرونو کې د مور د مينې او محبت روښانه انځورونه ځرکونه وهي.

رحماني په ادبي کړيو کې ښه نوم تر لاسه کړی، له فرهنګي اختلافاتو ، ډلو ، ډلبازيو او سياست ځان لرې ساتلی، يوازې د ژبې خدمت ته يې کار ويل، شاعري يې خپل ځای لري، خو د ليکوالۍ غوښنه برخه يې داستاني ادبيات دي، چې تر اوسه يې شپږ ناولونه ليکلي، دوه يې ژباړلي او درې يې د لنډو کيسو ټولګې خپرې شوې دي.

نوموړی وايي چې لومړی لوستی ناول يې د امريکايي ليکوال مارک ټواين( ټايم ساير ) ناول دی چې په ماشومت کې به مې ورور رحيم الله حيران ځينې برخې را ته ترې ويلې او د ناول له اتلانو ټام ساير او پيکۍ سره به په يوه لرې نړۍ کې روان وم.

بله مهمه خبره داده چې رحماني د ادبي ټوټو په ليکلو سره دا نثري ادبي هېر شوی ژانر له سکوت را بهر کړ او د خپلو غوره ادبي ټوټو او په دې برخه کې د درېيو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولګو( تلپاتې درد )، (د خپګان ورځې) او (سوځېدلې ځمکه) په خپرولو سره يې د ځوانو ليکوالو پام دې اړخ ته را واړولو.
هغه يو علمي کدر دی، له ليسانس او ماستري په کدر کې فارغ شوی. که چېرته له رسنيز ډګر ها خوا په اکاډميکه ساحه يا د ادب پوهنځي کې د استاد په توګه دنده اجرا کړي، نو زده کوونکو ته به يې لا زياته ګټه ورسېږي او په يوه برخه کې به محدود او مسوول پاتې شي.
دا هم د رحماني د شعر يوه غزليزه بېلګه:

غزل

ما وېل شپه به تېره شي سهار به راځي کلي ته
ژوند به راځي کلي ته او يار به راځي کلي ته
ما که سره ګلان په لار شيندل خو ستا لپاره وو
زه نو څه خبر وم چې اغيار به راځي کلي ته
ژوند به وي، ګودر به وي، خوږې خوږې کيسې به وي
بيا د شنو بنګړيو شرنګهار به راځي کلي ته
زړې مې د اوښکو ښول او په دې تمه وم
شنې به کروندې شي او بهار به راځي کلي ته
څومره توتکۍ مو د بوالونو نه شړلې دي
مه هېروئ خلکو چې ازار به راځي کلي ته
ما وېل راستنې به سندريزې هواګانې شي
زانګې به کړۍ شي او کتار به راځي کلي ته
څو چې مې د حسن د لالونو پانګه لوټ نه کړي
سور ښامار به وځي تور ښامار به راځي کلي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهیم الله فدایي

فهیم الله فدایي د حبیب الله زوی په ۱۳۶۰ هـ ش کال د چک ولسوالۍ د بر ګوډه په کلي کې د نیا ته سترګې وغړولې، لومړنۍ زده کړې یې په مسجدونو کې په خصوصي ډول تر سره کړې دي او بیا وروسته د شهادت د دیني مدرسې زده کوونکی شو تر هغه وخته چې ور څخه فارغ شو. وروسته یې د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی ولوست او په ۱۳۸۴ کال کې په عالي درجه تري فارغ شو. وروسته د ستاژ د مافوق لسانس کورس ولوست او د میدان وردګو په ابتدایه ښاري محکمه کې د غړي په توګه په دنده وګومارل شو. فدایي او سمهال د کابل ابتدایي محکمې یو تکړه غړی دی.

فهیم تر فراغت وروسته د وردګو ولایت د ښاري محکمې د غړي په توګه کار پیل کړ، ښاغلي فدایي د دینې زده کړو بر سېره په شعر او شاعرۍ بیان علم، ریاضي، هندسه، فریک او داسې نورو علومو هم پوهیږي ولي تر هر څه نه یې د کوچنیتوبه د شعر سره زیاته مینه لرله او اوس د یوه تکړه شاعر په حیث پېژندل شوی دده شعرونه زیاتره حماسي او لږ اندازه یې عشقي دي چې د غزل او آزاد شعرونو په بڼه معلومیږي دلته به دده د شعرونو څخه یو څه د بېلګې په توګه وړاندې کړو:

د فدایي د شعرونو بېلګې:

خپل جانان رانه په ظلم بېلوي ته
په سلګو مې ولې ژړوي ته
څه ګناه مې کړې وو ایه قاصده
رد سکروټو په لمبو چې سوځوي ته
د خپل یار خومارو سترګو لېونی کړم
اوس مې ولې د دار سرته خېژوي ته
دیدنونه مې هر وخت کې د آشنا کړل
نن مې ولې په دې لاره نه پرېږدې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور مې مه راوړه زخمي زړه ته لاسونه
وچې سترګې مې له اوښکو ډکوې ته
داسې ولې راته وايې چې ملنګ دی
ما په خپلو او پردو کې شرموې ته
يو مې ځان يو مې ايمان يو مې الله دی
په دې ولې انحراف رانه کوې ته
فدايي د يار په مينه کې لوګی شوم
اې ظالمه نور مې ولې ځوروې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عبد المتین وردگ



دوردګو د فرهنګي او ادبي څیرو په ډله کې یو هم مدیر عبد المتین وردګ دی چې په ۱۳۵۴کال یې هغه وخت شعري قریحه بیداره شوه چې د سیاب په لومړني ښوونځي کې ښوونکی و هغه د لومړی ځل لپاره په دغه کال موزون کلمات د سپین کاغذ په مخ د شعر په بڼه سجل کړل.

عبد المتین نه یوازې یو خوږ ژبی ولسي شاعر دی بلکه د پوهنې په برخه کې یې هم د یوه زړه سواندی مربی او ښوونکی په توګه ټول عمر د خپل ولس د اولادونو ښوونې او روزنې ته وقف کړی دی د جغتو ټول او سیدونکي د هغه په دغه خدمت ګواه او له نامه سره یې د یوه فهیم زړه سواندي او ځیرک ښوونکي په عنوان بلد او ده ته یې په متحد المال قول د جغتو د معارف د پلار لقب ورکړی دی.

عبد المتین وردګ په ۱۳۵۹کال پیښور ته هجرت وکړ خود هغه له هجرت سره سم یې دلته کور د کمونستانو لخوا تلاشي اسناد او نور هغه شیان چې د کمونیستي داړه مارانو خوښیدل د هغه له کوره یوړل.

عبد المتین وردګ په پیښور کې د پیرسید احمد ګیلاني په مرکزی دفتر کې د عوت تنظیم مدیر شو او دا وخت به له خپلو مجاهدو ورونو سره وطن ته هم پلې تلو را تلو چې یو ځل له یوه دولس کسیز ګروپ سره د وطن په لور روان وه چې د زرمت په سیمه کې د روسي جیټ الوتکو تر بمبارد لاندی را غی او سخت ټپي شو د هغه دا سفر نیمګړی شو او بیرته پیښور ته را وګرځید خو د الله فضل وو درملنه یې بریالۍ وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د مجاهدينو دری ګونۍ اتحاد په پېښورکې را منځ ته شو نو عبد المتين د ملی اسلامي محاذ لخوا ور پيژندل شو او هلته يې هم د غړيتوب د کارتونو د ويشلو د مدير په توګه په دنده پيل وکړ خود مجاهدينو عبوري حکومت چې را منځ ته شو بيا له خپل مسلک سره سم د پوهنی په وزارت کې د مامورينو لوی مدير وټاکل شو .

هغه په ۱۳۷۱ کال کله چې د هجرت له وطن پيښورنه خپل کور او کلی ته را ستون شو په جغتو کې دا مهال په دې ولسوالی کې د پوهنې سيستم ګډوډ او ويجاو و او د خلکو ټول فعاليتونه د نورو سيمو د خلکو په شان جهادي مسايلو ته وقف شوي وه خو له نيکه مرغه چې په جغتو کې د سيمې د علماو مخورو او مشرانو يوه سرتاسري متفقه شورا موجوده وه چې د سيمې نظامي او ټولنيز حالت يې څاره او اداره کاوه ، دې شورا عبد المتين ور وغوښت او د رايو په اتفاق يې د جغتو ولسوالۍ د پوهنې مسؤليت ورد غاړي کړ چې ده هم د خلکو د غه غوښتنه له کوم مادي امتياز پرته ومنله او لاندی څلوريځه يې زمزمه کړه .

د پوهنې پاک خدمت ته ليچې نغاړم     د الله نه په دی کار کې مرسته غواړم
جغتو کې هر وګړی چې عالم شي     زه (متين ) به هغه وخت په خدمت وياړم

هغه لومړی د جغتو تاريخي او مرکزي د غازي محمد جان خان ليسه فعاله کړه ځکه

دغه ليسې د جغتو په زړه کې موقيعت درلود او ټول زده کونکي ورته لاس رسی درلود .

او په دوهم ګام کې يې د عربو په مرسته د جغتو په شمال ختيځ کې د ګوربت ښونځی فعال او د امام ابو حنيفه په نوم يې ليسې ته لوړ کړ او وروسته يې د جغتو په ولسوالي کې يو په بل پسې د حکومت او سويډن د موسسې په مالي مرسته نور ښونځي هم فعال کړل د جهادی مشرانو له کورونو يې درسې کتابونه را ټول کړل او په جغتو کې يې د پوهنی ډيوه بله کړه .

دا وخت د سويدن موسسې د ليسو او منځنيو ښونځيو د ښونکو لپاره ترشپږم ټولګي پورې ۵۰۰ کلداري معاشونه ومنل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د طالبانو واکمني را منځ ته شوه نو عبد المتین یې د مخکنیو ښوخدماتو په پاس له دندې ګوښه نکړ بلکه هغه لا وهڅاوه او همکاري یې ورسره وکړه د نجونو له ښونځیو سره هم طالبانو غرض پیدا نکړ، فعال یې وساتل او کله چې د طالبانو واکمني پای ته ورسېده دخلکو په غوښتنه او د عبد المتین په هلوځلو د پوهنی په برخه کی نوي او ګړندی ګامونه پورته کړل لومړنی ښونځي منځنیو ښونځیو ته لوړ شول او منځنی ښونځی لیسو ته ارتقا وکړه او دا وخت په جغتوکې شپږ بابه لیسې دری بابه منځني ښونځي، دیارلس بابه لومړني ښونځي د جغتو د ولسوالۍ په کچه را منځ ته او رسما د پوهنی په وزارت کې سجل شول له دغه ښونځیو نه یو شمیر ته یې ودانۍ هم منظورې شوي د لیسو فارغان یې پوهنتونو ته ولاړل.

د پوهنی په برخه کې د ښوخدمتونو په بدل کې عبدالمتین د حامد کرزی په لاسلیک دوه دوهمه درجه ستاین لیکونه هم اخیستي دي چې لومړی یې په ۱۳۸۵کال او دوهم یې په ۱۳۸۹ کال دواړه یې په لاندی متن تر لاسه کړي دي.•

---

• (۸) ۱۳۷- ۱۴۱ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژورنالېستان

## حیات الله حلیم

(( زه چې یې زندان ته یوړم په اوله ورځ یې راته ویل چې یا به دلته مرې یا به اقرار کوې، یو برقي سېستم یې راپسې راوړ، ویل یې خلک په دې موټر چالانوي موږ پرې تاغوندې انسانان چالانوو، د برېښنا شاټونه یې راکول، د تحقیق پر مهال به یې ناڅاپه پورته او بیا ځمکې ته راوویشتم. ))

دا په غم لړلې کیسه د لیکوال او ژورنالست حیات الله حلیم د ترخه ژوند ده چې کلید ته یې کوله، نوموړی د وردګو ولایت د چک ولسوالۍ د ګردن مسجد د درې د مغل کوټ ( مهمدو ) د کلي اوسېدونکی دی.

په ۱۳۳۶ کال کې په همدې کلي کې زېږېدلی، خپلې زده کړې یې د خپل کلي په کلیوالي ښوونځي کې پیل کړې چې وروسته په لومړني ښوونځي بدل شو او د ګردن مسجد په نوم یاد بده، نوموړی لا کوچنی و چې تر لومړني ښوونځي وروسته د (ګوربت ) منځنی ښوونځي او بیا (بمبایې ) لېسې ته ولاړ: (( د جومات له امامه مې مروج دیني علوم هم له الفبې نه تر قدري کنز منیه او مصتخلص پورې هم ولوستل، پلار به راته ویل ، باید ملا هم شې. ))

حیات الله په بمبایې لېسه کې د لسم او یوولسم ټولګیو تر لوستلو وروسته (غازي ) لېسې ته لاړ او په (۱۳۵۵ ل کال ) د همدې لیسې له دوولسم ټولګي فارغ شو ، په ۱۳۵۲ کال د کابل پوهنتون اقتصاد پوهنځي ته بریالی او له همدغه وخته یې راډیو افغانستان ته هم مخه کړه ، هغه وایي: ((هلته مې د ترانه ها او سخن ها خپرونه لرله چې ډیره اوږده وه ، رادیو یې مجلې ته مې لنډ داستانونه لیکل او د میاشتې به مې پنځه او شپږ ډرامې نورې لیکلې چې له رادیو افغانستان به خپریدلې ، هېواد ، انیس ورځپاڼو او ژوندون مجلې ته مې هم لیکنې کولې، د ببرک کارمل په وخت کې له پوهنتون څخه فارغ شوم. ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومورې په دغه وختونو کې په ډېرو ستونزو او له مجبوریته دولتي بدلونونو سره د ځان عیارولو هڅه کوله، خو د ۱۳۵۹ کال د سختو مظاهرو پړی د ده غاړې ته هم ورکېوت:

((د روسانو د ظلمونو پر ضد مې په خپله مظاهره کوونکي راوپارول، دولت په نښه کړم.))

دا چې ولې حیات الله حلیم په مظاهرو کې د خپلو ملګرو په پارونه لاس پورې کړ، نو دا هم جالبه کیسه ده، نومړی په دې ورځو کې لا د ځلورم ټولګي محصل و چې کابلیان به یې د پوهنتون تر وره راټول شول، زیاتره به یې نجونې وې، د آزادۍ چغې به یې وهلې خو څنګ کې به یې دوی ته هم پېغورونه ورکول: ((راناري به یې کړې چې د کودکستان ((مطلب یې پوهنتون و) هلکانو شرم وکړئ راپاځئ، موږ ته هم غیرت ودرېد، په دې مظاهرو کې کمونستانو ناهید (د کابل پوهنتون محصله وه او د ۱۳۵۹ کال د حوت د درېیمې نېټې په پاڅون کې یې برخه لرله.) هم شهیده کړه او نورې دوه ټپیانې شوې، څوک یې روغتون ته د رسولو پاتې نه شول.))

حیات الله حلیم وایي، له دې پېښې وروسته یې ټول ملګري راټول کړل، خو تر مظاهرو وروسته پولیسو په ده لاس راکش کړ: ((ویې نیولم، بیا یې په ضمانت خوشې کړم، ملګرو د ډیپلوم راختو لپاره پوهنتون ته پرېښنودم، ایسته ورډګو ته ولاړم او جهاد مې پیل کړ.))

په دې موده کې نو حیات الله حلیم د هېواد زیاتو ولایتونو او آن پېښور ته ډېر پیاده مزلونه وکړل، هم یې ټوپک په اوږه او پښې به یې سختې تناکې اوه یې قلم په لاس کې و خو کله چې په پېښور کې و قلم یې د روسانو په ضد تر هر څه ښه استعمال کړ د ۱۳۶۷ کال د اکلو په نوم په یوې لوژستیکي موسسې کې د کاروانونو د آمر په توګه په دنده لګیا شو: ((د یوې موسسې له لارې به مې مجاهدینو ته مهمات رسول، یو ځل تر ۳۰ ملګري راسره و، د لوګر په بابوس دښته کې راباندې الوتکې راغلې، موږ له موټرو ځانونه وغورځول خو محاصره یې کړو، زه اوزما درې نور ملګري انجینرګل امین او عبد الوهاب موتر چلونکي یې وتړلو او کابل ته یې راوستو.))

اوس بیرته په بندیخانه را ګرځو، حیات الله حلیم له دې وروسته په بده ورځ اخته او په اړه یې ټول هغه شواهد راټول شول چې ده په کې د کمونیستي حکومتونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رد قلم خوځولی و: (( د ډاکټر نجیب واکمني وه، ما ورته ویل اوس خو تاسو ملي مصالحه اعلان کړې، نو دا ولې کوئ، ویل یې ته نیول شوی یې نه دا چې راته راغلی یې، سخت وهل یې راکړل، خوب ته یې هیڅ نه پرېښودم. ))
د بند په موده کې یې د وهلو تر څنګه حیات الله حلیم ته یوه ورځ بله مېلمستیا هم تیاره شوه او هغه دا چې نوموړي ته یې د برقي شاټ ورکولو ځانګړې ماشین په زندان کې ولګاوه: (( بېټرۍ ته ورته یو سیستم و، په پښه یې هنډل تاوېده، ویل یې په دې په نوره نړۍ کې خلک موټر چالانوي موږ پرې تاغوندې انسانان چالانوو، د برېښنا شاټونه یې راکول، د تحقیق پر مهال به یې ناڅاپه پورته او بیا ځمکې ته را وویشتم. ))
حیات الله د برق شاټونو نور د مرګ تر کندې رسولی و ان له خپله ځایه په کې د پورته کېدو سیک هم نه و پاتې، خو هره نوې ورځ به یې ورته د وهلو یوه نوې بهانه لټوله: (( کله به یې ویل چې د تښتېدلو هڅه دې کړې، وهل به یې راکړل او کله بل څه، یوه ورځ یې راته ویل، وایه چې کوم جرمونه دې کړي، ما ورته ویل، ته یې ولیکه زه به درته پرې امضاء وکړم، هغه ته غوسه ورغله سوک یې راکړ، ما ورته خپل لاس ونیو، بس همدا و چې پر مستنطق د حملې تور یې راباندې ولګاوه. ))
نوموړي ته خپله دغه د ځان ساتنې وړه هڅه هم پوره بلا وګرځېده او یو ځل بیا یې د وهلو ټکولو لړۍ له نوي سره پیل شوه: (( په اووه نفرو یې له پښو لاسو وتړلم، شنې لښتې یې راپسې راوړې، دومره یې ووهلم چې آخر ضعف شوی وم. ))
حیات الله وایي، له دې څلوېښت ورځې وروسته یې د د امنیت د تحقیقاتو (پلټنې )ریاست ته یوړو، خو یوه اونۍ یې هیڅ راته ونه ویل، خو چې د تحقیق ریاست ته یې وردننه کړو، نوله یوې اونۍ وروسته بیا مرګ هم امان راڅخه غوښت: (( په اوله ورځ یې راته وویل یا به مرې او یا به اقرار کوې، تش هډونه مې پاتې وو دلته بیا ډېرې میاشتې تیرې شوې ، په شپږ میاشتو کې یې اقرار راڅخه وانخستلی شو، د تحقیق به بهیر کې یې یو ځل دوه میاشتې یې راباندې پلچرخي کې تېرې کړې خو سرآنجام د شپږ کاله زندان امر را باندې وشو. ))
پلچرخي زندان هم هغه مهال د ژوندیو لپاره د قبر زیری و، حیات الله او ملګرو یې په ځان منلې وه چې دلته به که خیر وي د مرګ د کندې مېلمانه کېږي، مګر دلته هم هره شېبه د قیامت هنګامه وه: (( نور راباندې د چا خبرې هم ښه نه لګېدې، یو صاحب منصب مې همداسې سخت تحقیر کړ، سزا مې دا شوه چې په سیاچال کې یې یوه اونۍ وساتلم، په سیاچال کې بندي پر مخې په ملا کړوپ اچول کېده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هماغه و چې راته د ملا تکليف پيدا شو او تر او سه تر ې کړېږم له زندان وروسته راته نور رواني مشکلات هم پېښ شول.))
د زندان ترخې شپې هم تېرې شوې او په ۱۳۷۰ کال له څلور کاله زندان تېرولو وروسته حيات الله حليم بيا د ازادۍ نړۍ مېلمه شو خو دريغې چې دا وخت مجاهدين برياليي خو خپل منځي او تپل شوې جګړې له سره پيل شوې حيات الله بيا هغه پخواني حيات الله نه و، دردونه تکليفونه او ناروغي يې ګالليې وې خو له زندان وروسته نوموړي څه باندې يو کال نوره هم په هماغه موسسه کې دنده ترسره کړه خو د مجاهدينو تر بريا وروسته په ۱۳۷۲ کال کلي ته ستون او په بزګرۍ بوخت شو، تر څو يې له آزادي نړۍ غوږونه ساړه وي: (( بزګرۍ مې تکليفونه نور هم زيات کړل، په ۱۳۷۵ کال مې په غزني کې مې دوکان پرانست له ختيځ ګاونډي هېواد به مې رختونه را وړل او پر غزني کې مې خرڅول تر هغه چې په ۱۳۸۱ کال بيا دژورنالېزم ډګر ته راغلم او د غزني – وردګو لپاره د پژواک خبريال شوم.))
څه موده نوموړی د افغاني ښځې غږ راډيو کارکونکی او په هېواد کې د خپريدونکي ملالۍ مجلې متهمم پاتې شو، دغه راز په يوه موسسه کې د څلورو کالو لپاره ټرينرهم و خو قلم او کاغذ سره له غزني تر راتګ وروسته د پخوا په شان مينه ژوندۍ پاته شوه او ډير آثار يې وليکل، چې مهم يې د لومړي ځل لپاره د غازي محمد جان خان ژوند ليک، د وردګو مشاهير څلور ټوکه، زموږ پيشو هم تولسي ګوري، انتصابي جمهور رئيس طنزونه او د وردګو قومي جوړښت دی.
خو اوس يې عمرخوړلی اوورځپاڼوته يو څه ګوډې ماتې ليکنې کوي، د محمد امين او محمد يعقوب په نومونو دوه زامن او څلور لوڼې لري او لا هم د ژوند رنګونه د کتاب له سيندونو ټولوي بيا يې د خپل لړزانده قلم په مرسته د کاغذ مخ ته سپاري.•

• (۸) ۲۲۱- ۲۲۳ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# احمد زلمی (شهباز )



احمد زلمی (شهباز) دوردګو د مشاهیرو په ډله کې ترټولو ځوان اوهغه با استعداده شخصیت دی چې د دېرش کلنۍ په عمر یې دازادو او شفافو سیالیو له لارې له واسطې او وسیلې پرته د ۱۳۹۱هجري کال په نیمایي کې د هېواد په نوم ددولتي ورځپاڼې ریاست وګاټه چې دا ددې ورځپاڼې په تاریخ کې هغه ځوان رییس ګڼلی شو چې په دېر تنکي عمر یې دغه امتیاز تر لاسه کړ.

د یادولو وړ ده چې ددې ورځپاڼې په تاریخ کې تر اوسه په دغه کم عمر کوم بل ځوک ریاست ته نه دي رسېدلي ، نو ځکه پورتنی امتیاز په دغه کتاب کې د احمد زلمي شهباز د سجل یوازنی لامل ګڼلی شو.

له بلې خوا د ورځپاڼو مشري څه آسانه خبره هم نه ده او د نړۍ په نورو هېوادو کې دورځپاڼو رییسان هغه څوک ټاکل کېږي چې لوړ ادبي ، فرهنګي او سیاسي شخصیت وي او آن هغه کسان ورته ټاکل کېږي چې له لوړ نړیوال شهرت او شخصیت نه برخمن وي.

خو له نېکه مرغه چې اوس زموږ په هېواد کې هم ددې لپاره چې ملي ورځپاڼې مو په نړیوالو معیارونو برابرې شي د رییسانو لپاره یې دوړتیا اوظرفیتونو د ارزونې سیالي را منځ ته شوې چې دا په دې مانا شوه چې د سویې او وړتیا له ارزونې وروسته د احمد زلمي شهباز ټاکنه په نړیوالو معیارونو برابره ده .

دهېواد ورځپاڼې د بنسټ لومړنی رییس هم محمد ارسلان سلیمي ، وردګ و هغه چې یادونه یې د وردګو مشاهیرو په لومړي ټوک کې را غلې خو سلیمي په موسن عمر ددې ورځپاڼې رییس و ، له هغه وروسته عبد الجلیل (وجدي) بل وردګ و چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې ورځپا نې ریاست یې کړی چې هغه هم په موسن عمر ددې ور ځپانې د مشر په توګه چارې په مخ وړې دي.
په دې وروستیو کې زلمی ما یار هم ددې ور ځپانې رییس و، خو احمد زلمي شهباز څلورم ورډګ رییس دی چې د هېواد ورځپانې دروند او سرګردانه ماموریت ته یې په بشپړه ځوانه انرژۍ اوږه ورکړه.
احمد زلمي شهباز د ژوند له پیل نه ذکي انسان و او الله پاک داسې فطري استعداد ور په برخه کړي و چې په هماغه کوچینوالي کې د حیرانتیا وړ و، هغه دری کلن و چې پخپل مشر ورور پسې به ښونځي ته د زده کړو په تکل روان او دا وخت له خپل چاپېریال او غرونو رغونو سره نوی بلد بېده، په ملک کې اسلامي انقلاب روان و درز، دروز و ددوی ښونځي ودانۍ نه درلوده د بمبارد له وېرې ګرځنده و، نن دلته، سبا هلته او بله ورځ به بل چېرې د ونو تر سیوري لاندې دا تنکي ماشومان د ښونکي خولې ته د زده کړو په تمه را ټول و.
احمد زلمي لومړی ټولګی تر ختم پورې ونه لوست له دې چې هر څه به یې ژر ژر زده کېدل نو د کال په لومړیو میاشتو کې دوهم ټولګي ته ولاړ خو ددوهم ټولګي درسونه هم له اټکل نه لوړ زده کېدل جالبه دا وه چې د ښونکو په غوښتنه له څلور میاشتنۍ ازموینې نه د مخه احمد زلمي درېیم ټولګې ته ولاړ له څلور میاشتني ازموینې وروسته یوه ورځ چې ښونکي په ټولګې کې د (اذا جاءنصرالله.....مبارک سوره ولوسته نو له زده کونکو نه د یوه یې هم نه شو زده خو کله چې د احمد زلمي نه وپوښتل شول نو د بلبل په شا ن یې په خواږه نظم پورته مبارک سورة ولوست هغه وو چې د زلمي دا معجزه اسا لیاقت ددې سبب شو چې د ښونکو لخوا څلورم ټولګي ته بو تلل شي او په نتیجه کې احمد زلمي شهباز د زده کړو د غه څلور کلن سفر په یوه کال کې طی کړ، په څلورم ټولګي له ریاضي سره مخ شو او ریاضي کې کسرونو هم د هغه مغز ذهن او فکر هم کسر او نور یې په هرکال کې یو ټولګي ولوست خو بیا هم په ښونځي کې د خپل ټولګي ترټولو لایق زده کونکي و، او باید اول نمره وای خو په زړه پورې دا وه چې احمد زلمي هېڅکله ځان نه اول نمره کاوه دا پوښتني د ټولو په ذهن کې را ګرځېدې چې ولې؟ احمد زلمی په دومره لیاقت برسېره نه اول نمره کېږي خو اصلا خبره بله وه د وردګو په ښونځیو کې دا معمول وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هر اول نمبره به جبرا د ټولګي کپتان هم و چې د ټولګي کپتان به بیا هم جبرا د ټولګي خد متګار و تخته پاک ،تخته ،حاضري ، ترقي تعلیم به ورد غاړي وو ، نو څنګه چې ددوی ښوونځی لکه د مخه چې وویل شول ګرځنده و نو احمد زلمي دا بیګار نشوای ګاللی یوه ورځ چا ترې وپوښتل اول نمرګي لوړنوم لري ولې نه اول نمره کېږې خو احمد زلمي ورته وویل: ښونځی مو ګرځنده دی د ټولګي توره تخته په اوږه نشم ګرځولای هغه رانه باد وړي .

هغه نه یوازې دا چې په ښونځي کې یې دعصري علومو د زده کړو بشپړ استعداد درلود بلکه د ژمي په مهال به یې د کلي په جومات کې له ملا نه ددیني علومو لوست وایه او په ډېر واړه سن به یې د کلي هلکانو او نورو کوچنیو چړیانو ته قدري منیه ،مختصر او خلاصه ور زده کول چې دا وخت به لوی ملا نورو غټو طالبانو ته لوست وایه.

لکه د مخه چې وویل شول احمد زلمي ته الله پاک لوړ فطري استعداد ور په برخه کړی و هغه له ماشومتوب نه د رادیویې خپرونو له اورېدو سره ډېره مینه درلوده تل به یې د رادیو ادبي پروګرامونه اورېدل او له خپل ځان سره به یې ددغه پرو ګرامونو د زده کړو مشق او تمرین کاوه او هیله یې درلوده چې په پوهنتون کې به هغه پوهنځي لولي په کومه کې چې دغه پرګرامونه زده کېږي نو همدا وجه وه کله چې په ۱۲ کلنۍ په بریالیتوب سره د عربانو د لېسې له دوولسم ټولګي نه فارغ شو نو د کانکور په ازموینه کې یې یوازې د ژور نالیزم پوهنځي انتخاب کړ چې په ترځ کې یې خپلې پخوانۍ هیلې ته نایل اود ژور نالیزم پو هنځي ته بریالی شو او په ۱۳۸۲ کال کې په داسې حال کې ترې فارغ شو چې د نمرو اوسط یې نوي په سلو کې و.

هغه کله چې له پوهنتون نه ووت نو لومړی دنده یې د (آرزوي مردم ) په نوم د یوې جریدې خپرول وو چې د امتیاز خاوند یې پخپله احمد زلمی شهباز وو او ترشپاړلسمې ګڼې پورې چاپ شوه له هغه وروسته په ۱۳۸۳کال د هېواد ورځپاڼې ته دخبریال په توګه راغی او په ۱۳۸۵ کال ددغه ورځپاڼې د سیاسي مبصر په توګه وټاکل شو چې دانسبتا دهغه لپاره درنده وظیفه وه خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بریالیتوب سره یې په مخ یوړه بیا وروسته په ۱۳۸۷ کال د دغه ورځپاڼې مسوول سکرتر و ټاکل شو.
احمد زلمي د هېواد ورځپاڼې او نورو دولتي او غیر دولتي ورځپاڼو ته په زرګونو اقتصادي سیاسي او فرهنګي مقالې او نور مطالب لیکلي او آن د کابل ټایمز انګلیسي ورځپاڼې د هغه مقالې له تصرف پرته په انګلیسي ژبه ژباړي او خپروي یې.
احمد زلمي شهباز د ښونځي او پوهنتون په زده کړو برسیره د IWPR د ژورنالېزم د زده کړو ورکشاپونه هم لیدلي دي.
احمد زلمی شهباز د پښتو ادبیاتو او پښتو ګرامر ته بشپړ معیاري لاس رسی لري
.
که ژوند په دنیا باقي و موږ نور هم سترګې په لاره یو چې احمد زلمی د خپل ملک او قوم په ګټه لا ښه د نیکو خدمتونو مصدر وګرځي.•

---

• (۸) ۱۶- ۱۹ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# امان الله نصرت

نوم مې امان الله نصرت دی، د غلام دستګیر عزیزي زوی ، په ۱۳۵۸ لمریز کال د وردګو ولایت د بند چک ولسوالۍ د ګلي په کلي کې زېږېدلی یم.
لومړنۍ او منځنۍ زده کړې مې په ۱۳۷۷ لمریز کال د چک په عالي لیسه (حضرت عمر فاروق ض )کې سرته رسولې او په همدې کال کې د لوړو زده کړو په موخه په کابل پوهنتون کې مې آزموینه ورکړه، چې له خپلې خوښې سره سم د ژورنالیزم پوهنځي ته بریالی شوم، خو د یو لړ ستونزو له کبله مې په زده کړو کې دوه کاله ځنډ راغی. په ۱۳۸۳ لمریز کال د کابل پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځي د مطبوعاتو له څانګې فارغ شوم.
په ۱۳۸۳ لمریز کال کې د زده کړو ترڅنګه خپل مسلکي ډګر ته ورګډ شوم. د سولې او جنګ په اړه رپوټ ورکولو په نړیوال انستیتیوت (IWPR) کې، چې د ټولې نړۍ لپاره خبرنیز او معلوماتي رپوټونه خپروي، دیوه رپوټ ترخپریدو وروسته مې په نوموړي انستیتیوت کې په رسمي توګه دنده واخیسته او د خپلې زده کړې ترڅنګه مې ژورنالستیکي کارونه پرمخ وړل. څه کم درې کاله مې له نوموړي انستیتیوت سره کار وکړ ، د هیواد د روانو حالاتو په اړه زما په لسګونه رپوټونه خپاره شول .
په ۱۳۸۵ لمریز کال د کلید ګروپ په چوکاټ کې، چې یو مطبوعاتي خپرنیز ارګان دی، په کار پیل وکړ. په دغه ارګان کې د کلید راډیو د خبرونو د څانګې د مرستیال په توګه مې په کار پیل کړ او تر شپږو میاشتو وروسته د همدغې څانګې مسوول وټاکل شوم، چې تراوسه هم د نوموړې څانګې چارې پرمخ وړم. سربېره پر دې هره ورځ په نوموړې راډیو کې یو ساعت خبري مجله هم مخته وړم.
دا چې له خپل افغاني کلتور او فرهنګ سره د زړه له تله مینه لرم، وخت ناوخت ځینې لیکنې کوم او له یو شمېر فرهنګي خپرونو سره همکاري لرم. همدا رنګه دا هم د یادونې وړ بولم، چې د انټرنټ له نړۍ سره هم همغاړی یم او یوه فرهنګي او سیاسي پاڼه مې په کې پرانستې ده، چې ترډېره بریده په هغه کې د افغانو لیکوالو او شاعرانو هستونې او پېژندګلوۍ راځي. دغه پاڼه ( مشال ) نومېږي، چې په دې پته www.mashaal.blogfa.com کتل کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکوالان

## حبیب الله « رفیع»



د پښتو خوږژبي شاعر ، تکړه لیکوال ، ماهر ادیب ، څیړونکي ، بې ویرې نقاد او شنونکي چې کما حقه په پورتنیو صفاتو موصوف دې تر دې دمه د ژوند په شیبو کې دی ، روح پکې چلیږې او ژوندې دې ، که له وا قیعت نه سترګې پټې نکړو حبیب الله رفیع دم ګړی په ملي او نړیواله کچه د پښتو ادب ، پښتو ثقا فت یوازنی وارث ګڼل کیدای شي .

حبیب الله رفیع نه یوازې دا چې د پښتو ادب په آسمان یوځلانده ستورې دی چې راځلیږې بلکې په سیاسي ډګرکې هم د موجوده واکمنې درواغجن سیاست د رسوا کولو لپاره لوي غنیمت ګڼل کیږې ځکه حبیب الله رفیع په خپلو تحلیلونو کې له بیرې پرته وا قیعتونه بیانوې.

خو دریغه ، چې حبیب الله رفیع اوس په یوه داسې چا پیر یال کې ژوند کوی چې دلته هر څه د روا بطو په بنا دې او ضوابطو ته د لساني تبعیضونو په بنا ترجیح نه ورکول کیږې او د سیاسي واکمنۍ چوکات داسې جوړ شوې چې یوازې څو محدود متعصب کسان پکې ځا ی دی او بس.

په دغه جوړښتونو کې ظرفیتونو ته ځکه ځای نه ورکول کیږې چې استعمارې کړه هم هو ښیارې دی او نه غواړې چې یو ه او هو ښیار کسان د کارونو په راس کې قرار ولري نوځکه یې په ټولو برخو کې داسې کسان په دندو ګمارلي چې یوازې د خپلې خیټې غم ورسره وی او په ملي ګټو له ازله کاڼه او ړانده پیدا شوې وی.

په پاړسۍ کې متل دی چې وایې ( سزاوار رحم است عالم تحت فرمان جاهل ) نواوس خو،خود بهرنیانو لپاره ( دیوانه زنده خوش ا ست ) کسان پکار دی چې د استعمارې موخو په وړاندې یې خنډ نشي ، نو ګیله ځکه نه ده پکار، چې ریښتنې او په وطن مین کسان ته خو ځای نشته او په دې تبعیضی دړدنګ کې خونه یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ادب په برخه کې رفیع صیب ! بلکې په نورو ټولو سیاسي ،اقتصادي، ټولنیزو او نظامي برخو کې هم ورته ماهرین د انتصابي واکدارانو د سالم قضاوت؟ ! له امله بیکاره دی او په دندو داسې مصلحتي کسان ؟؟ ! ګمارل شوی چې د دوو خرو وربشې هم نشي ویشلای .

ګورو چې د ناغیړو، نا خبره او بې تو پیره واکمنانانو د نه پا ملرنې له امله د پښتو ادب دودې پراختیا او پر مختیا بیړۍ د هستۍ په سمندر کې د یو شمیر داسې متعصبو او ځان غو ښتونکو کړیو تر نا مریې اغیزلاندې ده چې په څرګنده یې ساه ډوبه ډوبه او د ځانکدن په حال کې ده .

اودا ستونزه نه یوازې دا چې د پښتو ادب ته تکیه ده بلکې لکه د مخه چې وویل شول د تبعیض وږې ښامار په ټولو سیاسي اقتصادي ابعادو کې د اداري فساد په ملګر تیا د طلسم اوتزویر یو داسې تور او پراخه جال غوړولې چې هر څه یې تر خپل تیاره سیورې لاندې راوستې ، دې جادوګرې غښې د ملک ټولې ادبي هستې د خپل مکر په جال کې را نغښتې او د حق په مرې یې داسې پل ایښې چې که نن وې او یا سبا ددې ملک ټوله ادبي هستې به دیویا خورندواوچالاکو کسانو لخوا د انقراض تر پولې رسیږي ، څکه وینو چې دې کړیو ؟ ! د پردیود فرهنګ ترویج ته ته داسې پراخه اجازه ورکړې چې په ډیره بیباکې دا کړې په ظاهرا ددموکراسې اود بیان د آزادې تر عنوان لاندې هغه فعالیتونه کوي چې هیچا ته د منلو وړ نه دی هغوي په ډیره بې شرمۍ د پردیو نا آشنا فرهنګونه دافغانانو سترګوته ور ځلوې او دوی پکې خپلې مادې ګټې لټوي ، دا کړۍ پرته له دې چې د ملک ملي یوالۍ قومې نزا کتونه په پام کې ولرې هغه څه ته لاس اچوې چې ملي وحدت زیانمنوي ، نو په داسې یوه چا پیر یال کې به څنګه د پښتوادب د ودې پراختیا او پر مختیا لپاره اغیز من کارونه تر سره کړی.

بیا هم نه نا هیلې کیږو ، څکه ډاډه یو چې که خدای کول هغه څه چې د رفیع صیب په غنې ذهن کې د پښتو ادب د ودې او بډاینې لپاره پراته دې هغه یې د کتا بونو او نورو رسالو په پاڼو کې تسجیل کړې او زموږ په واک کې یې را کړې چې که سم کار ترې واخیستل شې نو کافې دې.

د هغه د لیکل شویو آثارو نومونه په لاندې ډول دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف: بیو ګرافي.
۱ـ ستورې د ادب په اسمان کې: د پښتو د یو لړنا پېژندل شویو شا عرانو تذکره
ب: ببلیو ګرافي:
۲ـ پښتو تذکرې: د پښتو د پخوانیو او او سنیو تذکرو معرفي
۳ـ د پښتو خپاره شوي آثار: د پښتو د چاپ شویو آثارو مردفه او سیستماتیکه ببلیو ګرافي.
۴ـ پښتو خپرونې دلرې او برې پښتونخوا د پښتو جریدو، مجلو او ورځپاڼو معرفي.
ج: ادبي او تاریخي څیړنې:
۵- پښتو شعر: د پښتو شعر د ډولونو معرفي او د شعر په باب معلومات
۶ـ مشاعره: په پښتو کې د مشاعرې تاریخي سیر، ډولونه او د پښتو لمړنۍ تاریخي مشاعره.
۷ـ د پښتو منظوم ادب: د او لسي نظم په باب څېړنه
۸ـ علم او ادب: په پښتو ادب کې د ښونکې او پو هنې مقام
د: ګرامري او لغوی څېړنې:
۹- رفیع اللغات: د پښتو شعري او ادبي قاموس
۱۰ـ ولې: چې یوازې د علایمو په بدلون ۳۳ ماناوې لرې
۱۱ـ پښتو لیک دود: د یو لړ ګرامرې مقالو مجموعه
هه: فلکلور او کلتور:
۱۲ـ د خلکو سندرې:
۱۳- پښتنې پسول
۱۴ – پښتنې فلکلور
۱۵ـ اوربې: د کیسو مجموعه
۱۶ـ ولور: په څلورو پردو کې ډرامه
۱۷ کوډې: انتقادي درامه
۱۸ـ پیوار حماسي درامه
ز: نور لنیز آثار:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹ـ د امید غوټۍ: دادبي ټولګه
۲۰ـ ګل پاڼې: د دانتقادي اصلاحي مقالو ټولګه
۲۱ـ کلۍ غږ: کليوالې خپرونې
ح: ژباړې:
۲۲ـ د وړو هینداره
۲۳- د حضرت علي خبرې
ط: عمومي څیړنې
۲۴ وردک: د سیمې او خلکو په باب تاریخي او ادبي څیړنې
۲۵ چاپ: په افغانستان کې د طباعت تاریخچه
ي: ټولونې:
۲۶ـ څولۍ: د لر او بر پښتونخوا د لیکوالانو غوره ډرا مې
۲۷ بخرۍ: د یو لړ ټو لنیزو ټوټو او مضامینو ټو لګه
منظوم آثار:
الف: اصلاحي انتقادي او انتباهي
۲۸ـ رفیع ګلونه: د اشعارو ټولګه
۲۹ سکروټې: د اشعارو ټولګه
۳۰ـ بریښ: د اشعارو ټولګه
۳۱ـ څرک: د اشعارو ټولګه
ب: تاریخي:
۳۲ـ تیر یادونه: د تاریخي اشعارو مجموعه
۳۳ـ ونه و: فلکلور نظم
د: عشقي:
۳۴ـ د زړه ویني ( د عشقي اشعارو ټولګه )
۳۵ـ د امید ګلونه: (دولسې اشعارو ټولګه )
هه: انتخابي:
۳۶ـ رنګین ګلونه: د څلورو شاعرانو اشعار چې چاپ ته تیار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهوتکو ناري ۱۳۴۶ ،د خلکو سندرې ۱۳۴۹ د پښتو پخواني تذکرې ۱۳۵۰ ،د تاریخ ټولني کتا بونه ۱۳۵۱ ،د جمهوریت ورمې (شعرونه )۱۳۵۲ ، ادبي ستورې (تذکره.دوه ټوکه ) ۱۳۵۳_۱۳۵۹ ،پښتو پانګه (ببلوګرافي.دوه ټوکه )۱۳۵۴_ ۱۳۵۶ ، تیر یادونه شعري ټولګه ۱۳۵۴ ، د روښان یاد دمقالوټولګه ۱۳۵۵ روښاني لیکني ۱۳۵۵ ، دخواجه عبد الله منا جاتونه ۱۳۵۵، پښتو د پیړیو په پوړ کې ۱۳۵۵ فلکلور د علم مور ۱۳۵۵ ،ای هیواده ای هیواده شعرونه ۱۳۵۶ ، پښتو خبروني ۱۳۵۶ ، په افغانستان کې د ژورنالیزم تاریخچه(ژباړه ) ۱۳۵۶ ،پښتو کتاب ښود ،۱۳۵۶ معرفت الافغاني د پیر محمد کاکړ ۱۳۵۶ ، درحمان بابا دیوان (تصیح ، سریزه،مقابله او لغت نامه ) ۱۳۵۶ ، د سره غره ګلونه (دزلمي هیواد مل په ملګرې )۱۳۵۷ ،خوب شعرونه ۱۳۵۸ ،ملي مسایل ۱۳۵۸ ،د واصل رو ښاني الفنامي ۱۳۶۰ ،د پښتو ننۍ ادب(دافغان یاد کې ) ۱۳۶۰ ، ژبپالنه (لو مړې ټوک ) زریني ځانګې ۱۳۶۰ زنځیرۍ_خو شحال خان ۱۳۶۱ ، په افغانستان کې د سید جمال الدین خد متونه ۱۳۶۳ ،اورونه او ویرونه (شعرونه ) ۱۳۶۳ ، د شمال لخوا شمال دی (شعرونه ) ۱۳۶۳زندان (شعرونه )۱۳۶۳ ، د وینو بهیر (شعرونه ) ۱۳۶۳ ، آنجام شعرونه ،۱۳۶۳ تصویر (شعرونه ) ۱۳۶۳ ، شا شجاع او ببرک د تاریخ په تله کې ۱۳۶۴ ، وحشیانه تیرۍ او شر میدلي ماته ۱۳۶۴ ، د استقلال څلورمه جبهه (عبد الخالق اخلاص)۱۳۶۵ ، فالنامه د خو شحال خان (تصحیح مقابله او سریزه )۱۳۶۴ ، داستاد یاد (علامه حبیبي ) ۱۳۶۵ ، دمحمدي آخند زاده پر دیوان ځلنده نظر ۱۳۶۵ ، دروسي ښکیلاک رنګونه او نیر نګونه ۱۳۶۵ رلۍ او ګو لۍ (شعرونه ) ۱۳۶۷ ، د افغاني جر ګو ټو لنیز او رواني ارزښتونه ۱۳۷۴ ، په افغانستان کې د عصري ښوني او روزني پیل او پر مختیا ۱۳۷۷ ، لیکونه سر لیکونه ۱۳۷۵ ، په افغانستان کې د ښځینه زده کړو تاریخي سیر ۱۳۷۵ ، دوی طرحې ۱۳۷۵ ، ننباني او ترانې (شعرونه ) ۱۳۷۶ ، د ورمو نخښې (د جهاد ادبي کتاب ښود ) ۱۳۶۹ ،هره نیشه زهر لرو نکې لیشه(شعرونه ) ۱۳۷۷ ، د تمدن سو غات ۱۳۷۸ ، ولونه ولونه (شعرونه ) ۱۳۷۹ ، د ستوریو کرونده (شعرونه ) ۱۳۷۹ ، ملي زا ویه ۱۳۷۹ ،د بتانو هنګامه ۱۳۸۰ ، هندو کوهنامه _خوشحال خان (سریزه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمون ) ۱۳۸۰ ، اخلاق نامه خو شحال خان او صدر خان (سریزه او سمون ) ۱۳۸۰ ، فالنامه د مصحف خوشحال (سریزه او سمون )۱۳۸۰ ، لویه جرګه ۱۳۸۱ ، پښتنې ودونه ۱۳۸۱ سید جمال الدین افغانې و افغانستان (پا ړسي ) ۱۳۸۵ زندان خوړلې ادیبان تذکره ۱۳۸۵ .

حبیب الله رفیع بیشکه چې د پښتو ادب د بډاینې لپاره خپل درونه مسؤ لیت تر سره کړې چاپ شوې آثار یې په دې ګواه دې چې هغه هر څه لیکلې د پښتو په ګرامراو لیک دود یې ډیر کار کړې خو دا بیا په موږ پورې اړه لرې چې څنګه له هغه نه په ځای ګټه واخلو او د پښتو ادب په برخه کې د هغه خدمتونه هیڅکله د هیریدو نه دې

دحبیب الله رفیع په شاعرې کې د ښکلا او ښایست انځورد کلام په خاص هنر تر سره شوې چې هر اوریدونکې بیله ځنده د وا قیعتونو په منځ کې دروې د مینې او محبت ، ټولنیزو نا خوالو ، دردونو او غمنو غبرګون یې په شعر دوه بیتیو چار بیتیو اود موزون کلام په نورو غږیزو پردو کې په داسې ما هرانه ډول راغبرګ شوې چې په کلام کې د موضوع پو خوالی او بشپړوالې له ورا یه څرګندیږې ځکه په ادبې لحاظ د هغه اشعار د پوخوالې ورو ستې او پخې مرحلې ته رسیدلې دی.

نثرخو یې په ځای پریږده چې په ډیرو لنډو ، غوڅو او مانا لرونکو کلموکې یې ډیر مفهوم را نغښتی وي او په هره لمړنې ویل شوې اویا لیکل شوې جمله کې د بلې کلمې یا جملې حتې د یوه تورې د ځا ییدو لپاره هم ځای نه موندل کیږې او په دې تو ګه یې له هرې لمړنی کلمې پوره مفهوم افاده کیږې او هره کلمه یې د کلا م فصاحت له پلوه دومره پخه او په ځای وی لکه ختګر چی د پخسی په نیمګړی ځای کی د اډل پنډه ور ، وولی .

موږ رفیع صیب ته په بار بار مرا جعه وکړه چې د خپل ژوند او فعالیتونو په اړه معلومات راکړې خو هغه به یوازې مئین وخندل او وبه یې ویل چې هر څه لیکې دا ستاسې خپل کاراو مرضې ده ، له ما چی پو ښتی زه به د خپل ځان په اړه څه معلومات درکړم ؟

محمد ها شم زمانې (د استقلال ځلورمه جبهه ) تاریخ په تقریظ کې لیکې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

حبیب الله رفیع د مرحوم پوهاند عبد الحي حبیبي صاحب د لاس نیالگي دي چې د وطن دادب پـه بڼ کې یې پخپـل لاس کښینولي دي ،اوس ددغـه نیـالگي جرړې ژورې په ځمکه کې ننوتي دي خپلې څانگې یې شا وخوا خورې کړې دي او خوروې یې ، د وطن دادب په بڼ کې شین تازه ولاړ ښکاري ، چې ورځ په ورځ ښه وده کوي خوږې-خوږې میوې نیسي چې په خوند یې سړې نه مړیږې

رفیـع صاحب ښه خوږ ژبی ملي شا عر اولیکوال دي او برسیره پر دې مورخ او محقق هم دي هغه په ټولو برخو کې د خپل استاد خداي بښلي حبیبي صاحب په پله پل ایښی چې د ملي افتخاراتو پټې خزانې یې را بر سیره کړې هغه پټې خزانې چې د هېواد د نورو مور خینو او محقیقینو نه پټې پاته شوې او هغوی نه دي موندلې.

حبیب الله رفیـع د خدای بښـلي مولانا نصر الله خان نقشبند زوی پـه ۱۳۲۴ هجـرې قمرې کال د سید آباد ولسوالي دآبدرې په کلي زیږدلی دي ښاغلي رفیع په پیل کی دیني زده کړې کړې او په عصری علومو کی د بکلوریا تر سویی زدکړې ، کړی دی.

ادبي او شعرې قریحه یې له یولس کلنې نه را بیداره شوې هغـه لـه وړوکتـوب نـه د پښتو ادب سره فطرې مینه درلوده او د پښتو آثارو د لو ستلو ډیر شوقمن ؤ اولـه پښتنې فلکلور سره یی هم زیاته مینه درلوده ، او په ځانگړې توگه په دې برخه کې پراخه خپرونې لرې

هغه د لو مړي ځل لپاره په ۱۳۴۰ هجری کال دعرفان او پو هنی د مجلو مهتمم او پـه ۱۳۴۲هجـری کـال د آریانـا مجلـی مهـتمم پـه ۱۳۴۸کـال د د افغـان ملت د جریـدی مسؤل مدیر په ۱۳۵۲ د پښتو ټو لنی غړې ، په ۱۳۵۷ د پښتو څیړنو د نړیوال مرکز غړی ،په ۱۳۵۸ د افغانستان د علومو اکادمۍ غړی په ۱۳۶۱پښتنو خوا پیښور تـه مهاجر او د پیښورد پښتو اکاډمۍ همکار ، پـه ۱۳۶۵د جهادي څیړنو د مرکز غړي او د قلم مجلی د لیکونکی ډلی غړی په ۱۳۶۶د افغانستان د جهاد د ثقا فتی شورا غړی او د افغان جهاد مجلی د لیکونکی ډلی غړی پـه ۱۳۶۷ د افغـان د کلتـوری ټو لنـی غـړی او د سـپیدی مجلـی د لیکـونکی ډلـی غـړی ، پـه ۱۳۶۸د تعـاون مجلـی مسؤل مدیر ، په ۱۳۸۰ کال هېواد ته را ستون شو او د اطلاعات او فر هنگ وزارت د عالی شورا غړی شو په ۱۳۸۳ کال د آریانا دایرة المعـارف رئیس او لـه ۱۳۸۲ را هیسې د افغانستان د علومو اکاډمي سلا کار دی

دهغه د اشعارو څو نمونې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســـاده وم پـــه چلونـــو ددنیـــا و غـــو لیـــدم
د خلکـــو پـــه ظـــاهر او پـــه ریـــا و غـــو لیـــدم
غلــط شــوم پــه دوســتۍ د مطلــب دوستوآشــنایانو
پــه داســې ابــن الوخــت غونــدې آشــنا وغــو لیــدم
قــاضــې نــه وه ،لیــوه و لــیکن مــا چــې پــاک ګڼلــو
ګــرم نــه وم پــه مســند زه د قضــا وغــو لیــدم
مطلــب یــې ؤ رشــوت کــج قلمــې بــه یــې کولــه
خــو زه پــه ســبا راشــه د میــرزا وغــو لیــدم
خبــرې یــې کــولې زه یــې ډیــر معتقــد وم
عمــل یــې را نــه پــټ ؤ پــه مــلا و غــو لیــدم
جامــه کــې د رښــتیا وو بــه دروغ ومــا منــل بــه
ددروغــو پــه جامــه کــې پــه رښــتیا و غــو لیــدم
قلــم نــه وو آزاد پــه اخبــار کــې چــا پلــو ســې وه
منلــه مــا پــه دې غــوره ویــا وغــو لیــدم
رفیعــه اوس پــوه شــوې یــم پــه هیچــا نــه غــو لیــږم
نــور تیــر شــو هغــه وخــت چــې پــه هــر چــا و غــو لیــدم

رفیع صیب د پیښو او ناخوالو بې تو پیریو سره د مبارزې په ډګر کې کلک ولاړدی او وایې:

ګوهر سنګ غوندې مې سردې درته ایښې
د فلک څرخه تاو یږه مې په سر
ټول حواس مې دی آشنا له حوادثو
پروا نلرې دریږه مې په سر
ښه درانه درانه پلونه په سر کیږده
له هغه ورو سته څر خیږه مې په سر
زه پښتون یم سر به نه کړم درنه لیرې
ټوله شپه او ورځ ګډیږه مې په سر•

---

• (۶) ۶۴- ۷۴ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګل آغا احمدي وردګ

ګل آغا احمدي وردګ ولایت د جغتو د ولسوالۍ د ګلدرې (پخواني کنده قول) د لیګي باباخیلو د کلي او سیدونکی دی او په ۱۳۴۵ هجري لمریز کال چې د ۱۹۶۶ زیږدیز کال سره سمون خوري په وردګو کې زیږدلی دی.

زده کړې او تعلیم

ګل آغا احمدي وردګ خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې د ګوربت په منځنۍ ښوونځۍ کې چې (اوس مهال لیسه ده) د ۱۳۵۱ او ۱۳۵۸ کلونو تر منځ کړې او ثانوي زده کړې یې د پېښور د مجاهد په عالي لیسه کې په ۱۳۶۵ کې سر ته رسولې دي. په ۱۳۶۷ کې یې په پېښور کې د ښوونکو عالي دارالمعلمین څخه فراغت حاصل کړی او په ۱۳۷۴ کې د ساینس او تکنالوجۍ د اسلامي پوهنتون د اقتصاد د پوهنځۍ څخه لیسانس لاسته راوړی دی. احمدي همدارنګه په ۱۳۸۳ کې د پریسټون پوهنتون د سوداګریزې ادارې په څانګه کې د ماسترۍ سند لاسته راوړی دی .

کاري تجربه او رسمی دندې

ګل آغا احمدي وردګ په ۱۳۶۳ کال په خپل کلي یانې د جغتو په ګلدره کې یوه کلیواله ښوونځۍ د نورالمدارس په نامه تاسیس کړه. احمدي به هغه مهال چې په پېښور کې زده کوونکی وو، نوموړې ښوونځۍ ته د درسي کتابونو د رسولو او د رخصتۍ پر مهال د تدریس او ادارې په برخه کې همکاري کوله.

ګل آغا احمدي په ۱۳۶۷ کې کویټ مېشتې لجنه الدعوه الاسلامیه موسسه وردګو، غزني، پروان او پکتیکا ولایتونو کې د تعلیمي او روغتیایي فعالیت په موخه وردګو ته راوسته او د لومړي ګام په توګه یې د وردګو د دایمرداد د جلګې د تنګي سیدان په سیمه کې د یو سیمه ییز روغتون په جوړولو پیل وکړ او په ۱۳۶۸ کې یې د جغتو په ولسوالي کې د امام ابي حنیفه (د ګوربت عالي لیسه) فعاله کړه او د دوو کلونو لپاره یې د نوموړې لیسې د مدیریت تر څنګ په وردګو، پکتیکا، غزني، پکتیا او پروان ولایتونو کې د لجنه الدعوه اسلامیه د تعلیمي موسسې د پروګرانو د تطبیق نظارت کاوه او د هغه عمومي مسوولیت ور په غاړه وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګل آغا احمدي وردګ په سیمه کې تر دوه کلن تعلیمي فعالیت وروسته د لوړو زده کړو د بشپړولو په موخه پېښور ته ولاړ او هلته یې د لوړو زده کړو تر څنګ د افغان ښوونکو د عالي دارالمعلمین یا HTI په تعلیمي موسسه کې د ښوونکي او د کتابتون د مسوول په توګه په دنده بوخت شو. نوموړې دنده یې د ۱۳۸۰ تر وروستیو پورې د تحصیل تر څنګ د LDI ، HTIاو FAIS په تعلیمي موسسو کې سر ته ورسوله چې په پېښور کې یې موقعیت درلود او د افغان محصلینو لپاره یې تعلیمي خدمات سر ته رسول.

په هیواد کې د سولې او بیا رغونې د بهیر د پیل کېدو وروسته ګل آغا احمدي وردګ هم خپل هېواد ته راستون شو او لاندې دندې یې سر ته رسولې دي:

۱ .د ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۸۲ پورې د APA او SDF د موسسو اداري مسوول او ژورنالیست،

۲ .د ۱۳۸۲ څخه تر ۱۳۸۳ پورې په کابل کې د اماراتو د سفارت د سرې میاشتې سکرتر،

۳ .د ۱۳۸۳ څخه تر ۱۳۸۵ پورې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ولسمشر د دفتر د عرایضو او اداري څانګې مدیر،

۴ .د ۱۳۸۵ څخه تر ۱۳۸۶ پورې د IRD او USAID موسسې د انرژۍ د څانګې ژورنالیست،

۵ .د ۱۳۸۶ څخه تر ۱۳۸۷ پورې د مخابراتو د وزارت د معلوماتي ټکنالوجۍ د ظرفیتونو د لوړولو مدیر،

۶ .د ۱۳۸۷ څخه تر ۱۳۸۸ پورې د افغانستان د جمهوري ریاست د ولسمشر د دفتر د شکایتونو د اوریدلو او مکاتباتو رییس وو.

۷ .د ۱۳۸۹ په لومړیو دریو میاشتو کې د سولې د ملي مشورتي جرګې ویاند او د فرهنګي او مطبوعاتي کمیټې رییس وو .

۸.د ۱۳۸۹ د چنګاښ د میاشتې څخه را وروسته تر ۱۳۹۰ پورې ګل آغا احمدي د پوهنې د وزارت د ویاند وو.

۹.له ۱۳۹۰ کال څخه وروسته تر ۱۳۹۴ کال پورې د پوهنې وزارت د مطبوعاتي سلاکار په توګه دنده اجرا کوي. همدارنګه ګل آغا احمدي وردګ د پوهنې وزارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلاکار د دندې سرېبره د ۱۳۹۳ کال د نوروز جشن د نمانځلو د کمیسیون د دارالانشا رییس وو چې دغه نړیوال جشن د ۱۳۹۳ کال د وري د میاشتې په ۸ مه نېټه د ۱۳ هېوادونو د مشرانو او هیئتونو په حضور د کابل د ارګ په سلامخانې ماڼۍ کې جوړ شو .

ستاینلیکونه، مډالونه او جایزې

په ۱۳۹۰کال کې ګل آغا احمدي وردګ د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ولسمشر ښاغلي حامد کرزي له لوري د سولې مډال تر لاسه کړی دی.

ګل آغا احمدي وردګ ته په ۱۳۹۲ کال کې د وردګ ولایت د مقام، د اطلاعاتو او کلتور د ریاست او د دې ولایت د ولسونو له لوري د سولې د لیکوال لقب ورکړل شوی دی.

همدارنګه احمدي د خپلو رسمي او کلتوري دندو د اجرا پر مهال په لسګونو ستاینلیکونو، مډالونو ، ډالیو او جایزو نازول شوی او په هیواد کې د سولې د تامین د لارې د یوه ریښتني فعال په توګه یې خپل رول ثابت کړی دی.

کلتوري خدمتونه

ګل آغا احمدي وردګ په ۱۳۷۱ کې د خپلو دفتري خدمتونو او تحصیل تر څنګ لیکنو ته هم مخه کړه او د پښتو شعر، نثر او د ورځې د تودو موضوعاتو په برخه کې یې په زرګونو لیکنې کړې دي چې په داخل او بهر کې د افغاني چاپي او بریښنایي مطبوعاتو له لارې خپرې شوې دي. د احمدي زیاتره لیکنې په هیواد کې د سولې د تامین، ښوونیزې، کلتوري او هراړخیزې پراختیا په هکله معلومات له لوستونکو سره شریکوي او د خپلو لیکنو د محتویاتو په لړ کې د یوه پرمختللي، سوله ایز، سمسور، ښوونیز، آباد او ښیرازه افغانستان هیله کوي. همدارنګه نوموړی په لسګونو افغاني کلتوري ټولنو کې د موسس، شرکت کوونکي او غړي په توګه د مدني ټولنې په جوړښتونو کې برخه اخیستې ده چې افغان ادبي بهیر، میوند ادبي بهیر، افغان ادبي انجمن، د جغتو مدني او کلتوري بهیر، د افغان کلتوري ټولنو جرګه، د وردګو کلتوري یون، د محصلینو ټولنې، د وردګو قومي شورې او د سولې د ښوونیزې ادارې د جوړیدو په برخه کې د نوموړي فعالیتونه د نمونې په توګه یادولی شو. نوموړی هر کال د منې ګل د مشاعرې په جوړولو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله ونډه اخلي او د وردګو د کلتوري يون له خوا تر دې مهاله څو لويې غونډې او مشاعرې جوړې کړې دي. پر دې سربيره احمدي هر کال د محصلينو سره د دوی د فراغت په نمانځغونډو کې فعال ګډون کوي او له محصلينو سره د دوی د علمي فعاليتونو د سمون په برخه کې ونډه اخلي.

احمدي همدارنګه د خپلو ملګرو په همکارۍ د جغتو مهالنۍ او منې د مجلې د بنسټ ايښودلو وياړ په غاړه لري او اوس مهال د رسمي بوختياوو تر څنګ د منې د مجلې د مسوول مدير په توګه دنده مخته بيايي. د وردګو کلتوري يون چې مشري يې ګل آغا احمدي وردګ کوي په ۱۳۸۷ کې تاسيس او د هيواد په تاريخ کې يې د لومړي ځل لپاره د وردګو تاريخ چې د ښاغلي حامد حليمي ليکنه ده او د غازي محمد جانخان د کارنامو کتاب چې د ښاغلي حيات الله حليم ليکنه ده د چاپ پر ګانه ښکلي او د هيوادوالو د مطالعې وړ يې وګرځول. د سولې د ملي مشورتي جرګې او د پوهنې د وزارت د ويانډ په توګه د خپلو رسمي دندو په جريان کې ګل آغا احمدي وردګ له ملي او نړيوالو چاپي، راديويي، تلويزيوني او برېښنايي رسنيو سره له ۱۵۰۰ څخه زياتې مرکې په پښتو، دري، عربي او انګريزي ژبو کړې او د خپل هيواد حالات يې ورته تشريح کړي دي .

ليکلي او چاپ شوي آثار

ګل آغا احمدي وردګ د ۲۵ په شاوخوا کې ليکي آثار او کتابونه لري چې له دغه شميرې څخه يې تر دې مهاله يې يوازې ۱۹ کتابونه د چاپ په ښه ښکلي شوي او د چاپ شوو کتابونو نومونه يې په لاندې ډول دي:

۱ .ارمانجن ( پښتو شعري ټولګه ) د چاپ کال ۱۳۸۰ پيښور، پښتونخوا

۲ .د افغان کلتوري ټولنو جرګه د چاپ کال ۱۳۸۷ کابل، افغانستان

۳ .د محمد ارسلان سليمي ژوند ليک د چاپ کال ۱۳۸۸ کابل، افغانستان

۴ .نهمه منې ګل مشاعره ( شعري مجموعه ) د چاپ کال ۱۳۸۹ کابل، افغانستان

۵.خېښې ( د وردګو د واده پانګه ) په ۱۳۹۱ کې چاپ شوی.

۶.سوله په آيتونو کې چې په ۱۳۹۲ کال په کابل کې چاپ شوی دی.

۷.سوله په حديثونو کې//

۸.سوله په حکمونو کې//

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹.سوله په سیرتونو کې//
۱۰.سوله په نظرونو کې//
۱۱.سوله په شخصیتونو کې//
۱۲.سوله په بنستېونو کې//
۱۳.سوله په مکتبونو کې//
۱۴.سوله په شعرونو کې//
۱۵.سوله په نثرونو کې//
۱۶.غلام فاروق وردګ شخصیت او مدیریت چې په ۱۳۹۲ کال کې چاپ شوی دی.
۱۷.غزني د اسلامي تمدن پلازمېنه چې په ۱۳۹۳ کال کې چاپ شوی دی.
۱۸.د نوروز کلتوري آرونه چې په ۱۳۹۲ کال په کابل کې چاپ شوی دی.
۱۹.سل لومړۍ ورځې د محمد اشرف غني د واکمنۍ چې په ۱۳۹۳ کال په کابل کې چاپ شوی دی.

بهرني سفرونه او په نړیوالو کنفرانسونو کې ګډون

ګل آغا احمدي وردګ د سعودي عربستان، عربي متحده اماراتو، هندوستان، بنګله دیش، ترکیې، پاکستان، ایران او د امریکا د متحده ایالاتو هیوادونو ته رسمي سفرونه کړي دي او په مختلفو نړیوالو کنفرانسونو کې یې د افغان لوري په استازیتوب ویناوې هم کړې دي. په ۱۳۸۷ او ۱۳۹۳ کلونو کې دوه ځلې سعودي عربستان ته د حج د ادا کولو په موخه تللی او د مینا په نوم یې د حج یو نلیک اثر په ۲۰۰ مخونو کې لیکلی دی چې لا هم د چاپ انتظار باسي•.

• (۹) ۶۱- ۶۵ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# احسان الله (آرینزی)



احسان الله آرینزی د افغانستان یو پېژندل شوی ادبي او فرهنګي شخصیت دی چې تر ۲۱ پورې ټولنیز، څېړنیزاو جغرافیایي چاپ شوي آثارلري چې تر ټولولوی اوحیرانونکی اثریې د نړۍ د هېنداريې په نامه دی چې په پنځوټوکونو او ۳۸۰۰ مخونوکې د ۲۰۰۶ـ ۲۰۰۹ کلونو ترمنځ لیکل شوی چې دا اثر د احسان الله ارینزي دادبي فعالیتونو یو ترټولو لوی حیرانونکی او مهم شاهکار ګڼلی شو.

په دغه اثرکي دآسیا ،افریقا،استرلیا،اروپا اوآمریکا د یو شمېرهغه هېوادونو بشپړهتاریخي طبیعي او اقتصادي پېژندګلوي شوې ده د کومو چې په افغانستان کې یې د پېژند ګلوی په اړه معلومات کم وه خو که د هغه د لیکل شویو ټولو آثاروبشپړ معلومات په لاس راوړونوښایي په زرګونو پاڼوته ورسیږي.

خو په هرصورت د نړۍ دهېنداريې په کتاب برسیره یې د یو شمېرنوروتخلیقي او څېړنیزو آثارو نوموونه هم اخلو:

۱.د ښادۍ بدلې

۲.د وردګو د واده دود او بدلې

۳.شلېدلي تارونه

۴.سېل

۵.تند ر

۶.سرې جامې

۷.ننبه

ددغه ترڅنګ احسان الله ارینزی دنړۍ د یو شمېر مشهورو لیکوالانو آثار هم پښتو ژبې ته را ژباړلي چې په لاندې ډول یې نوموونه اخلو :

۱.موراوزوی ،دماکسیم ګورکی اثر،په۱۴۴مخونوکې.

۲. تورغا ټول ،دالکساندردوما لیکنه په۳۳څپرکیواو۱۲۰مخمونوکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. د مینې افسانه ،د صمد بهرنګی اثر په ۱۱۲ مخونو کې.
۴.دادبیاتو موخه ،د ماکسیم ګورکي اثر په ۱۳۷ مخونو کې.
۵.وړې مین، د ترکي عزیز نسین لیکنه ،طنزیه ټولګه په۱۵۲مخونو کې.
۶.ژوندي د وي خلک ،د مختلفو لیکوالو اثرونه.
۷.د افغانستان لنډې کیسې ،دادافغانلیکوالود لنډوکیسو ټولګه ده چې د احسان الله ارینزی لخوا د پښتو اودری نه انګلیسی ته اړول شوي ده.
۸.دښمن او نهه نوري کیسې ،دنړۍد مختلفولیکوالانو لنډ ېکیسې
.هغه آثار چې احسان الله آرینزی لیکلي خوچاپ شوي نه دي.
۱.نړیوالی ټولنې( دنړۍ د لویو او کوچنیو سیاسي پوځیا قتصادي اوفرهنګي ټولنو پیژنګلوي ده )
۲.د افغانستان هوایې ترانسپورت( اقتصادې خبرڼه )
۳.د نړۍ هېنداره ،لومړیټوکدری.
۴.د افغا نستان لنډه پیژند ګلوي.
۵.د اسلامي هېوادونو لنډه پیژند ګلوي.
۶.د پخواني شوروي د خپلواکو هېوادونو ،لنډهپیژندګلویاو د پورتنیو اثارو ترڅنګ احسان الله ارینزی له ۱۳۵۲ کال را پدیخوا له مختلفو ورځپاڼو او مجلولکه د عرفان میاشتنۍ مجله ،دفولکلوردوهمیاشتنۍ مجله، ژوندون مجله، دننګرهار، کندهار او پکتیامجلې، دهېواد، انیس او اصلاح دولتي ورځپاڼو سره قلمي همکاري درلوده چې دا لړۍ لاتراوسه هم دیو شمېر نورو ورځپانواو رسنیو په شمول جاری ده.
آرینزي د ښو او وړخدماتو په بدل کې له مختلفو اورګانونو نه جایزې ترلاسه کړي چې په ۲۰۰۷ کال یې د متمدنې معاشرې له خوا د امن د ورځې په موقع یوه ویاړلي جایزه ترلاسه کړه.
په۲۰۰۹ ل یې د افغانستان دکاراوکارګرد مرکزلخواد ښو ژورنالستیکو فعالیتونو د سرته رسولو په بنا یو مډال ترلاسه کړ.
په ۱۳۸۲ کال د افغان د امن د اتحادیې لخوا ژورنالستیکه جایزه ور کړل شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغان د متمدنې معاشرې لخوا په ۱۳۸۲کال د لنډو کیسو د ټولګو په لیکلو ستاینلیک ورکړل شو.

د ښو اداری فعالیتونو د سرته رسولو له امله د اطلات او کلتور د وزارت لخوا په ۱۳۸۲کال ستاینلیک ورکړل شو او همدارنګه د بیات د بنیاد لخوا د غریبانو د اړتیاوو د پورکولو په بنا یوه یا دګاری جایزه ورکړل شوه.

د ادبي او هنري فعالیتونو تر څنګ که د هغه دندو ته یوه ځغلنده کتنه وکړو نو احسان الله ارینزی کله چې په ۱۳۵۲ کال د کابل پوهنتون د اقتصاد له پوهنځۍ فارغ شو لومړی دنده یې د ننګرهار ولایت په یوه تعلیمي غنډ کې وه او وروسته بیا په پښتني تجارتي بانګ کې په دنده و ګومارل شو له دې چې د ښې وړتیا او استعداد درلودونکي کس وو نوله لږ مودې وروسته د مالیې په وزارت کې د مالیې مجلې په دفتر کې په دنده وګومارل شو او له څه وخت وروسته د افغان صنعتي بانګ ته تبدیل شو چې د هغه د ماموریت تر ټولو اوږده موده د افغانستان په صنعتي بانګ کې تیره شوې ده.

کله چې په هېواد کې د ګرځنده تلیفونو شبکې فعالې شوې نو احسان الله ارینزی د افغان بیسیم (Awcc ) د مخابراتي شرکت رییس وټاکل شو چې تراوسه په همدې دنده بوخت دی او ددې ترڅنګ د بشپړې وړتیا له مخې د آریانا تلویزیون مشر او په اروپایي هېوادو کې د دغه تلویزوني شبکې سلاکار دی.

-احسان الله ارینزی د نړۍ مختلفو هېوادونو ته رسمې سفرونه کړی دي چې په لنډ ډول یې په لاندې ډول تشریح کوو.

۱. دهند سفر: چې دا دیوه تعلیمي پروګرام لپاره یو دری میاشتنی سفر وو چې د افریقایې ۷ هېوادو دبانګونو دمامورینو د بانګي زده کړو لپاره ترتیب شوی وو.

۲ـ دشوروي سفر: د لیکوالانو د اتحادیې په مالي لګښت برابر شوي وو ځلوینښت ورځي یې دوام وکړ.

۳ـ د پاکستان سفر: په ۲۰۰۷ کال کې ترسره شو چې د پاکستان ددولتي تلویزیون په بلنه و او اوه ورځي یې دوام درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. دالمان سفر: په ۲۰۰۸ کال کې د(دويچه وله ) د نړيوالی راديو لخوا د ملي ، آريانا اوطلوع تلويزيونو ددولسو تنوكاركونكولپاره چې د( درسنيو لپاره د مشرتابه روزنه ) يې موخه وه او ديوي مياشتي لپاره داير شوي وو.

۵. د بنګلديش سفر: دا سفر چې په ۲۰۰۹ کال د سهيلي آسيا د آزادورسنيو په نوبت د ولسواکۍ او واک چلونې په هکله برابر شوي وو.

۶ـ د اسلام آباد سفر: دا سفرد سپما د موسسې لخوا د ولسي جرګې مشرانوجرګې کارپوهانو ژور ناليستانو يوې ۵۵ کسيزې ډلې ته د پاکستان د پارلمان سره د همغږۍ لپاره وو چې په دې سفر کې دوی د پاکستان له لوړ پوړو چارواکو لکه آصف علی زرداری،آصفرضاګيلانيسرههموکتل.

۷. د اطريش سفر: دا سفر په ۲۰۰۹ کال د فا نوس په نامه يوې اطريشي موسسې د افغانستان ،پاکستاناوهنددرسنيوداستازولپاره برابر کړيوو.

۸. د ترکيې سفر: دا سفر هم په ۲۰۰۹ کال د ترکيې د سوداګرانود پرمختيايې اداري په مټ جوړ شوي وو چې له افغانستان نه د بلخ ولايت ۲۲ تنوسوداګرو پکې ګډون کړيوواو اريزي په دغه سفر کې د افغان رسنيو يوازنی پلاويوو چې ترکې اړخ ددغه سفر لپاره ټاکلي وو.

۹. ددوبی لومړی سفر: دا سفر په ۲۰۰۹ کال کې د اريزي يو رسمی سفر وو ددې غونډې موخه د افغانستان په روانو ستونزو د حل لپاره خبري اتري وي که څه هم اريزي تر ځلوينبتو ځلو پورې دوبی ته شخصی سفرونه کړی خو دا يو رسمی سفر وو.

۱۰ . د پاکستان سفر: د ا سفر په ۲۰۱۰ کال کې د پا کستان د اطلاعاتو د وزارت لخوا پلا ن شويوو چې د اريزی په ګډون د افغانستان د رسنيو لسو استازيو پکې برخه درلوده.

۱۱. ددوبی دوهم سفر: دا سفر په ۲۰۱۰ کال د سپما لخوا برابرشوي و چې په دغه سفر کې اريزی اوداکتراکبر (اکبر) د سارک په سرمشريزه غونډه له افغانستان نه ګډون کړی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲ـ د المان سفر: که څه هم ارينزی تر او سه ۸ ځلې المان ته سفرونه کړي دي خو دا يو رسمې سفروو چې د هنر مندانو د کلنۍ غونډې په يوه جشن کې يې ګډون وکړ .

۱۳ـ د هالينډ سفر: ارينزی په تيرو نهه کلونو کې ديارلس ځلې هالينډ ته سفرونه کړی خودا د هغه رسمې سفر ووچې په ۲۰۱۱کال د افغان هنرمندانو په يوه جشن کې د ګډون لپاره هغه هېواد ته تلليوو .

۱۴ ددوبی دريم سفر: دا سفر په ۲۰۱۲ کال د آريانا تلويزيون دهنرمندانو په شپږم جشن کې د ګډون لپاره وو .

هغه ځينو هېوادو ته غير رسمې سيا حتی او سوداګريز سفرونه هم کړې دي چې کولای شو د پاکستان ،هند ستان،بنګله ديش ، بوتان، ايران، عربستان، ترکيې، روسيې، ګرجستان،آذربايجان، ارمنستان، ترکمنستان، تاجکستان، دوبی، بلغاريا، هالينډ، فرانسه، بلجيم، المان، ډنمارک، سويډن، ناروي او فنلينډ نومونه واخلو.

که د احسان الله ارينزی دژوند لومړيوته را وګرځونو هغه د محمد عمرخان زوی اود بابه جان لمسې دی،په۱۳۳۳کال دجدي دمياشتې په۲۱نيټه دکابل دمستوراتو په روغتون کې دنيا ته سترګې غړولي دي دا هغه مهال وو چې ددوی کورنی د کابل په شور بازارکې او سيدله ،خود ارينزی اصلی پلرنی ټا ټوبی د سيد آباد په ولسوالۍ کې د شنيز د ښيرازه سيمې د چاردهې کلی دي.

ارينزی له کوچينوالي نه د کتاب او قلم سره ډېره مينه درلوده اود غازي محمد ايوب خان په ښونځي کې شامل شواو تر دولسم ټولګي پورې اول نمره وو کله چې له دولسم ټولګي نه فارغ شونود کانکور په ازموينه کې د کابل پو هنتون د اقتصاد پو هنځۍ ته بريالی شو اود لاريونو په بهير کې يې خپل لوړ تحصيلات تر سره کړل.•

• (۷) ۵- ۱۱ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوکتور کفایت الله وردګ

دوکتور مفتي کفایت الله وردګ د ۱۳۳۹ هجري لمریز کال د وري د میاشتې په ۱۴ مه نېټه د وردګ ولایت د چک د ولسوالۍ د آبکزار په سیمه کې زېږېدلی او لومړني تعلیمات یې له خپل کاکا او د آبکزار په لومړني ښوونځي کې بشپړ کړي دي. ښاغلي دوکتور مفتي کفایت الله وردګ تر دوکتورا پورې لوړې زده کړې په مصر او پاکستان کې کړې او د ګڼو آثارو پنځونکی دی چې د ټولو لیکل شوو آثارو شمېر یې ۲۷ عنوانه ته رسېږي چې له دې جملې څخه تر دې مهاله د نوموړي ۵۰ عنوان کتابونه د چاپ په زېور ښکلي شوي دي. د کتابونو ژبه یې پښتو، دري او انګرېزي ده او د زیاترو کتابونو منځپانګه یې له مختلفو اړخونو څخه د اسلامي دین په هکله شننه او څېړنه ده. باید وویل شي چې دوکتور کفایت الله وردګ په نظر کې لري چې د خپلو آثارو شمېر په لومړي ګام کې تر ۱۰۰ عنوان پورې ورسوي. ښاغلي دوکتور کفایت وردګ توانېدلی چې د زمزم په نامه یوه خیریه خپرنیزه موسسه رامنځته کړي، د همدې موسسې له لارې خپل کتابونه چاپ او په افغانستان او د نړۍ په ځینو نورو هېوادونو کې یې مینه والو ته په وړیا توګه توزیع کړي. دوکتور مفتي کفایت الله وردګ کاناډا، مصر، ایران، سوریې، لبنان، عربي نړۍ او پاکستان ته سفرونه کړي، د قرآن کریم حفظ یې کړی، تجوید یې په مسلکي توګه لوستی، مختلفې ژبې یې زده کړې او د رسمي تحصیلاتو تر څنګ یې د پښتونخوا په دیني مدرسو کې د دیني متونو د زده کړې دورې هم سر ته رسولې دي. نوموړی توانېدلی چې په پېښور پوهنتون کې خپلو لوړو تحصلاتو ته ادامه ورکړي او د مصر د الازهر له نړیوال پوهنتون څخه د دوکتورا علمي درجه تر لاسه کړي. دوکتور مفتي کفایت الله وردګ یو زړه سواند افغان او یو ویاړلی وردګ دی چې خپل لیکل شوي آثار او کتابونه د چا له مالي مرستې پرته په خپله چاپوي او د مینه والو چوپړ ته یې وړاندې کوي. مختلفو هېوادونو ته د سفرونو پر مهال نوموړی و توانېد چې په دیني علومو سربېره د انګریزي، اردو، عربي او پارسي ژبې ژوره مطالعه وکړي او په ښه شکل یې زده کړي. د مهمو بهرنیو ژبو زده کړو د نوموړي د استعداد له غوړېدو سره پراخه مرسته کړې څو د علمي متونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړې په برخه کې له کومې ستونزې سره مخ نه شي. ښاغلی دوکتور مفتي کفایت الله وردګ په ۱۳۸۳ کال هېواد ته راستون شو ، څه وخت یې داوه طلبانه ډول د ملګرو ملتونو د سازمان د سلاکار په توګه کار وکړ چې وروسته د افغانستان په ستره محکمه کې د ملګرو ملتونو د تخنیکي سلاکار په توګه وټاکل شو. خو د افغانستان په قضایي اداراتو کې موجوده شرېدلي حالت نوموړی له ستونزو سره مخ کړ او مجبور شو چې د لوړو امتیازاتو سره سره په ستره محکمه کې خپله دنده پرېږدي. ښاغلی دوکتور مفتي کفایت الله وردګ اوس مهال په خپلو علمي څېړنو بوخت دی او غواړي له همدې لارې د افغان ولس خدمت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ارسلان ( سليمي )



ارسلان سليمې په خپل وخت کې د افغانستان په کچه يوه پيژندل شوې ادبي او فرهنګي خيره وه چې له نامه سره يې ټول افغانان بلد دی ، هغه په پښتو او فارسې دواړو ژبو ډيرنثرونه ليکلي ، ښاغلي عبدالروف بينوا هغه ته په خپل اوسني ليکوال کتاب کې د تيزو احساساتو درلودونکې ليکوال او شاعر لقب ورکړې ؤ.

ارسلان سليمي نه يوازې يو ليکوال ، اديب او شاعرؤ بلکه يو علم پالونې شخيصت هم ؤ او تل به يې زيار ايسته چې د هېواد بچيانو د سالمې ښونې او روزنې لپاره د ليک او لو ست زمينه برابره کړي.

هغه کليوال ښو نځي چې ما پکې خپلې لمړنې زدکړې پيل کړې د ښاغلي ارسلان سليمې په نو ښت او هڅو په ١٣۴٢ لمريزکال د ګردن مسجد د سيمې د مهترخيلو په کلي کې په داسې حال کې چې د ګردن مسجد د ټولو کليو نه خلک را ټول شوې وه ، پرا نستيل شو .

محمد ارسلان سليمي په ډيره سختې په دې توانيدلې ؤچې د ګردن مسجد د کليوالې ښونځې منظورې د وخت له حکومت نه واخلې ځکه هغه وخت هر څه لمړنې وه ، امکانات کم وه ، دولت له هره پلوه کمزورې وه او د ښونځيو شميره دټول هېواد په کچه ډيره کمه وه ښه مې په ياد شې چې ارسلان سليمې د مهتر خيلو په کلي کې د ملکانو د ميلمستون په سپاچه لوړ ولاړ ؤ او راغليو کسانو ته يې په خطاب کې وويل : ما ډير زيار ايستلې تر څو ستاسې د اولادونو د روزنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره ددې ښو نځې منظورې واخلم د پوهنې وزیر ماته ویل چې موږ نورامکانات نلرو پیسې نشته ته چې کومې سیمې ته ښونځې غواړې دهغه سیمې دخلکو اولادونه دچک ولسوالې دبمبایې ښونځې ته د زده کړو لپاره ولاړ شې نو ځکه زه اړ شوم چې نیغ له
محمد ظاهرشا نه ستاسې د ښونځې منظورې واخلم زما تمه داده چې تاسې خپل اولادونه په دې نوې ښو نځې کې شامل کړې که یې سن تر دولسو کلو او ښتې وې هم خیر، پروا نلرې خو چې زده کړې وکړې او بیسواده پاته نشي له هغه ورځې وروسته به د محمد ارسلان سلیمي نوم د ګردن مسجد په خلکو ډیر خوږ لګیده.
هغه په خپل کور کلي او سیمه کې هم تهول زده کړو ته هڅول اود اوسنې ګربت د لیسې د بنسټ ډبره هم محمد ارسلان سلیمي ایښې ده چې په څرګنده یې د لاس له نیالګیو نه همدا اوس غټې ونې جوړې شوې دې چې تهول وردک پرې ویاړي
او س را ګرځو د اروانباد عبد الروف بینو د اوسنې لیکوال د کتاب په حواله دهغه د ژوند لمړیو مرحلو ته.
« ښاغلې سلیمي لمړنی زده کړې په جماتونو کې له ملا امامانو نه کړې دې او له هغه نه د پورته دینې کتابونو لکه صرف، نحوې او منطق کتا بونه یې هم
لو ستې دې تر څو د کابل په عربې دارالعلوم کې یې تر شپږم تهولګې پورې خپل زده کړې پا ی ته رسولې هغه په ۱۳۱۳ کال په قندهار کې د د پښتو ادبې انجمن د تحویلدار په حیث و تاکل شو او بیا په ۱۳۱۴ لمریز کال د کندهار د مرافعې محکمې محرر و تاکل شو او په ۱۳۱۵ کال د سرطان په میاشت کې په کابل کې د اصلاح ورځپانې پښتو محرر شو او په ۱۳۱۸لمریزکال د جدي په میاشت کې چې د مطبوعاتو مستقل ریا ست جوړ شو نو ښا غلې سلیمي د پښتو تو لنې د لمړې غړې په تو ګه و تا کل شو او ورسره د با ختر آژانس په مو سسه او د نشراتو په لو ی مدیریت کې یې د پښتو لیکونکې په حیث کار کاوه په ۱۳۱۹ د ثور په لمړې نیټه د قطغن د ولایت د اتحاد د اخبار چلونکې و تاکل شو په ۱۳۲۲ د آریانا د دایرة المعارف د پښتو څانګې په غړیتوب ومنل شو په ۱۳۲۳ کال د پکتیا ولایت د وړانګې د ا خبار د چلونکې په حیث و لیږل شو له ۱۳۲۵ نه تر ۱۳۲۷ پورې د آریانا ددایرة المعارف مرستیالې ور په غاړه وه په ۱۳۲۷ کال د با ختر آژانس د لو ي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدیریت مر ستیال و تاکل شو په ۱۳۲۹ کال د قبایلو لو ي مد یرشو هغه زیاته موده په قبایلو کې خپله دنده په مخ بیولې ده »

که د هغه کار نامې او فعالیتونه را و سپړل شي په کارنامو او فعالیتونو یې ښا یې کتابونه ډک شي خوځینې کار نامې یې په لنډه توګه په لاندې ډول یا دولې شو .

د کابل په زړه کې دغازي محمد جان خان په نوم د یوه واټ نومول .

.د وردکو د ولایت نوم ، دهغه داداري تشکیلاتو او ولسواليو را منځ ته کول.

ښاغلې محمد ارسلان «سليمې» د ادب په برخه کې هم د پام وړ خدمتونه تر سره کړې او زیات کتابونه یې لیکلې او ژباړلې دي

هغه کتابونه چې شا غلې محمد ارسلا سليمې لیکلې دې په لاندې ډول دې.

۱. د یو لسم ټولګې تاریخ

۲. ددولسم ټولګې تاریخ

۳. نارنج ګل(۱)

(۱)دا کتا ب د ننګر هار د نارنج ګل د هغه مشاعرې کتاب دي چې د هېواد یو سل لسو پښتو ژبیو او درې ژبیو لیکوالو او شاعرانو خپل نظمونه او نثرونه پکې راغلې او محمد ارسلان سليمې چې دا وخت د نوموړې ټولنې ریس دې دا کتا ب یې راټول کړې او دافغانستان د علومو اکاډمې د پښتو برخې ته د پراختیا د ریاست په مرسته یې ۱۷۷ مخونو کې چاپ کړې دي

۴. د آریانا دایرة المعارف په لیکولو کې فعال ګډون کونکې(۲)

(۲) په ۱۳۲۲هجرې کال د آریانا دایرة المعارف د لیکوالو په غړیتوب ومنل شو او له دریو کالو وروسته ددې دایرة المعارف د مرستیال په توګه یې په دنده وګمارل شو

۵–د ننګیالې پښتون لیکوال ګډونوال.

۶.د پښتونستان د آزادې جرګه

۷.د خپلواکۍ تړونونه (په دووټوکونو کې ) چې د آزادې په اړه مقالې ،شعرونه به پکې خپرېدل

اوهغه شمیرکتا بونه چې اروا ښاد محمد ارسلا ن سليمې له انګریزې نه ژباړلې دې د برتړانډر سل دوه اثرونه چې یو یې په ځان باور د ارواح پوهنې کتاب دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبل يې د نيکبختي په نوم د نوموړې انګريزي ليکوال دوهم اثر دې چې ښا غلې ارسلان سليمي ژبا ړلې دې
زما يادونه: (د مارشال شا ولي خان دري ليکنه ده او پښتو ته را اړول شوې )
اخلاق: ( د افغانستان د تعليمي نصاب د اووم ټولګې مضمون )
هغه نه يوازې دا چې په دولتي ادارو کې يې لوړې
چوکۍ په مخ بيولې او زيات وخت يې په هلمند کې
دندې تر سره کړې بلکې يو قومي مخور شخصيت هم
ؤ چې تل به يې د خپل قوم په ګوډو ،ماتو او د خپل
منځي شخړو په حل فصل کې فعاله ونډه درلوده هغه
د وخت له حکومتونو سره هم د خپل قوم د حقوقو په
اړه هم زياتې ډغرې وهلې دې او څو څو ځله به له
حکومت نه خفه او مرور شو خو حکومت تر پنځو
شپږو ورځو زيات د دې توان نه درلو د چې هغه د خفه
پاته شي ژر به يې بيرته را پخلا کاوه

د هغه د شعر يو ه بيلګه:

چې په بريښ د دنيا ټوله رڼا کيږي
تجلا د په عالم باندې خوره ده
انس جنس باندې فرمان د تل چليږي
په دنيا د هره ورځ نوې دوره ده
بيله تا سرېتوب کله حا صليږي
په حديث کې مې ليدلې اشاره ده
دا خوته يې چې عالم په تا نا زيږي
په دنيا د رحمت لمن خوره ده
سليمي چې يې تر څو قلم چليږي
تا به ستايي ځکه ستا توره تيره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروابناد سليمي د مرحوم اسد خان زوي په کال ۱۲۹۷هجري کال د ګونده کول ددرې د ليګې بابا خيلو په کلي کې په يوه ديندار ه کورنۍ کې زيږدلې او د وردکو د مايارو د قبيلې د سيد خليل په اولاده کې د ابراهيم خيلو په ثانګه پورې اړه لري او په پاني نړۍ کې له ۲۱ کاله عمر تيرولو وروسته په **۱۳۵۷** هجري کال د ثور په شپږمه نيټه په داسې حال له دنيا نه سترګې پټې کړې چې د غوايې کودتا را پيل شوې وه او په سبا يې جنازه د ارغندي چوک په هديره کې خاورو ته وسپارل شوه.•

---

• (۶) ۴۹- ۵۳ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آغا محمد (غیرت )



آغامحمد غیرت د یوه متکراو نوښت ګرافغان په توګه ډیر داسې څه خپاره کړي چې تر اوسه د چا نه و ورپام او که یې ورپام هم وای نو داسې معلوماتي مواد او جغرافیایې نقشې لکه غیرت چې خپرې کړې دی له وس او توان نه به یې لوړه خبره وه او نه به و پرې توانېدلي ډیر متفکر مغزونه یې په دی خو کاشکي چې په افغانستان کې نه ! بلکه د نړۍ د یوه کوم داسې هېواد وګړی وای چې هلته د متفکرو او نوښتګرو مغزونو قدر او منزلت وای او زړه سواندي او په وطن مین واکمنان یې در لودای.

هغه نو ښتونه چې آغامحمد غیرت د هېواد په تاریخ او جغرافیا کې را منځ ته کړي په حقیقت کې د هغه کلف کلی ده چې ددې کلی پواسطه په ډیره اسانی په یوه ځغلنده نظر د افغانستان پنځه زره کلن تاریخ ته دیوې نقشې په دننه کې وروصل کیږو چې په ډیره اسانی هر لیدونکي او لو ستونکي کولای شي د پیړیو په پوړیو کې د خپل هېواد د تاریخ بشپړې آیینې ته وروصل شي په دغه نقشه کې تر هر څه لومړی د(آریانا ، خراسان او افغانستان) تاریخي نومونو ډل بندي شوی او وروسته بیا دهرنامه په چوکات کې دواکمنیو او امپراطوریو بشپړه شرح راغلی ده د اریانا په دوره کې چې د افغانستان تر ټولو لومړنی او قدیمی نوم دی او له میلاد نه ۱۰۰۰کاله د مخه د اویستا له زمانې بیا تر پنځمې میلادي پیړۍ پورې دغه نوم د افغانستان لپاره کارول شوی دی ، ددې دورې د واکمنانانو تشریح راوړو.

پیشدادیان چې ۱۲۰۰کاله له میلاد نه د مخه یې د افغانستان په اوسني جغرافیایې محدوده واکمن وه تشریح راغلې ده.

۱۰۰۰ کاله له میلاد نه دمخه کیانیانو په اریانا کې واکمنی درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۰۰ کاله له میلاد نه د مخه د اسپه کورنی په اریایي قلمرو حکومت کړی دی بیا د یو څه وخت لپاره اریایي ملک د پردیو (هخامنشیانو یونانیانو او هندوانو ) تر تاړاکونو لاندې را غلی دی چې له نیکه مرغه د شرمونکې ماتې سره مخ شوې دی.
د اریانا په سر زمین ۱۳۵ نه تر ۲۵۰ ق م پورې د باختري یونان مستقل حکومتونه را منځ ته شول.
کوشانیانو او یفتلیانو په اریانا حکومتونه کړي تر هغه چې د اسلام مبین دین افغانستان ته راغی او ددې ملک نوم هم له اریانا نه خراسان ته واړول شو.
د خراسان په دوره کې او سنی افغانستان د اسلام په سپیڅلی دین مشرف شو او دلته په وار سره د طاهریانو، سامانیانو غزنویانو سلجوقیانو غوریانو او خوارزمشاهیانو عادل او ظالم خپلواک حکومتونه را منځ ته شول تر څو د جنګیز د ساعقې په را منځ ته کېدو سره دخراسان د خلکو د قتل عام مرحله را ورسېد ه چې اغزن تاریخ لري.
تیموریان را منځ ته کیږي خو له وروسته خراسان یو ځل بیا د ګاوندیو هېواد ددری ګونې شوم مثلث تر حملو لاندې را ځي چې د شمال پلوه ضلع شیبانیان د ختیځ پلو بابری حکومت او د لودیځ له لورې د صفویانو حکومتونو دا ملک تر ګوابن لاندې را ووست.
د میرویس هوتکي په مشری هوتکیان را منځ ته کیږي او بیا په ۱۸۱۸ کال د احمد شا ابدالي په مشری سدوزیانو امپراطوري را منځ ته کیږي.
د امیر شیرعلي په مشر ی د محمد زایي کورنی را منځ ته کیږي.
د کمونستانو او مجاهدینو غوبل او کور ګډیو جګړو انځور هم په دې نقشه کې را غبرګ شوي دی ګران لو ستونکي به حیران شي چې ددې تشریح ته څه اړتیا وه خو اصلا خبره داده چې دا ټول پنځه زره کلن تاریخ له ټول مفهوم او تشریح سره په دې یوه نقشه کې داسې ځای په ځای شوي چې لو ستونکی د سترګو په رپ کې بشپړ مفهوم ته ور وصل کوي او همدارنګه د همدې نقشې یوې نقشې په تشریح آغامحمد غیرت یو کتاب هم لیکلي چې د غه دورې په جزیاتو پکې تشریح شوې دي خو هغه کسانو چې تاریخ سره لږ څه معرفت لري په ډیر اسانی یې په ذهن د افغانستان د ۵۰۰۰ کلن تاریخ انځور ځای نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم اثر (افغانستان پیژندنه ده ) چې د یوې نقشې په دننه کې یې ټول مهم مواد ځای په ځای شوې چې یوه نظر د افغانستان بشپړې پیژندنې ته لیدونکی وصل کوي ، په دې نقشه کې د افغانستان ټول اداري تشکیلات ، طبیعي جوړښت د افغانستان د ښارو ترمنځ فاصله د کیلو متر په سنجش او همدارنګه د هېواد د ولایتونه د درجو په بنسټ او په هغه شاملې ولسوالی د درجو په اساس شاملې دی

د نړۍ د آئینې په اړه بله نقشه ده چې د نړۍ له پیدا ایښت یانې د تیرو توږلوله دورې بیا تر نن پورې د مدنیتونو ټول بهیر په ډېر ساده ډول پکې شامل دی.

او همدارنګه د نړۍ ټول خپلواک هېوادونه چې په هر بر اعظم کې واقع دی په ډېر مهارت یې په دې نقشه کې معلومات ورکړل شوې دي.

د نړۍ مهم نو ښتونه او اختراعات د هغه د مخترع نوم د اختراع له کال سره دا په ځنځیري توګه ټول غبرګ پکې لیکل شوې دی د دې تر څنګ د وردګو د سیمې پر اختیايي نقشه چې په هغه کې د وردګو د سیمې بشپړه جغرافیایي پیژندنه شوې ده د ولسوالیو په تشکیل کې په بیلا بیل ډول د وردګو د کلیو نومونه د هرې ولسوالی د ښونځیو شمیره د لیسو منځیو او لومړنیو ښونځیو په بنا د وردګو مشهور شخصیتونه پکې ذکر شوې دی او همدارنګه د تدریس په اړه یې د عمومي لارښوونې یو نقشه هم ترتیب کړې ده چې د ښونکو لپاره لازمي اسانتیاوې په کې ځای ځای شوې دی بریالی ښونه او روزنه څه شی ده او د ښونځیو لپاره د ددري ژبې دستور هم شامل دی خو آغا محمد غیرت هم د یو شمیر نورو افغان نوښتګرو په څیر د خپلو ټولو نو ښتون سره سره د نا امیدی په حاشیه کې مجبور ژوند تیروي او د خپل اولاد په نفقه پورې حیران دی خو دا چې د خپلو نوښتونو په جرم ( ! ) بیا هم ژوندی پاته دی لوی غنیمت دی که نه دا سې استعدادونه خو په افغانستان غوندې یوه ملک کې د مطلق مرګ لیاقت لري په دا سې یو ملک کې چې نو ښت هلته جرم ګڼل کیږي او هغه ته پر اختیا ورکول بالکل کفر ، ځکه موږ افغانان په دې محکوم یو چې د نړۍ د پر مختګ له کاروان وروسته او په تورو تیاروکې وساتل شو او هیڅکله مو سترګې خلاصې نشي او نه مو استعدادونه وغوړیږي باید له اوله تر ازله د ژوند په ټړلو برخو نړیوالو ته احتیاج او لاسونه مو ورته اوږده وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخ شاهد دی چې په افغانستان کې ډېرنوښتګر مغزونه و خوزمینه ورته مساعده نشوه.
غیرت د ژوند له پیل نه د هېواد په جغرافیایي جوړښت کې ډېرنو ښتونه کړي هغه داسې نقشې ترسیم کړې چې تر اوسه د چیودوزی ریاست د هغه په ترسیم نه دی توانېدلی د غیرت نقشې تولې په مقیاسونو برابرې او د طول البلد او عرض البلد سیستم بشپړپکې رعایت شوی دی.
غیرت ته ددې زمینه نه ده برابره شوي چې خپل استعداد د مالي امکاناتو په درلودولو سره لا پسې پراخه کړي دا چې تر اوسه ژوندی پاته دی او نه دی وژل شوي دا هم غنیمت دی آغامحمد غیرت د اروابناد عبد لمحمد خان زوی په ۱۳۳۳ هجري شمسي کال د جلګې ولسوالۍ د وردګو ولایت د دورانیو په کلي کې زیږدلی دی او په ۱۳۴۳ کال یې د جلګې په لومړنی ښونځي کې زده کړو ته ګوښده ماته کړې او په ۱۳۴۸لومړنی زده کړې بریالی تر سره کړې دی او له هغه وروسته یې منځنی زده کړې د شنیز د تکیې په ښونځي کې له ۱۳۴۹ نه تر ۱۳۵۱ کال پورې تر سره کړي او ثانوي زده کړې یې په ۱۳۵۴ د حبیبې په عالي لیسه کې سرته ورسولې.
هغه به د حبیبې په لیسه کې ددیوالي جریدو لپاره د ساینس او اجتماعیاتو په برخه کې مضامین لیکل چې په همدغه وخت کې به د زده کوونکو او ښوونکو لخوا ډېر هڅول کیده په ۱۳۵۵ کال یې د عسکری خدمت دنده اداکړه او په ۱۳۵۶ کال د پوهنې وزارت د تالیف او ترجمې د ریاست ددرسې کتابونو لپاره د نقشو ،چارتونو ،هندسي اشکالو او د اسلامي علومو په خطاطی بوخت شو هغه به دا وخت د پوهنې وزارت، علومو اکاډمی، کابل پوهنتون او د رادیو تلویزیون له کتابتونو ګټه اخیستله او په مطالعه به یې دومره وخت تیراوه چې ان د هغه روغتیا ته به یې هم زیان رساوه هغه په همدغه وخت کې په نوښتونو لاس پورې کړ او د هېواد د پنځه زره کلن تاریخ د لیکلو نظریه یې په ذهن کې پیدا شوه هغه دا وخت د پوهنې وزارت تدریسي سیستم ته دومره ګټور شو چې د پوهنې د وخت وزیر محمد ابراهیم مجید سراج هغه په نقدي مکافاتو او ستاین لیکونو وویاړه چې دا ګام د هغه د لا هڅونې سبب شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو کال وروسته د کمونستانو خونړی کودتا را منځ ته شوه چې ترڅ کې به يې هرچاته د شک او ترديد په سترګه کتل کېدل تر هغه چې روسانو په افغانستان بربند تيری وکړ او آغامحمد ددغه اشغال په وړاندې په ډاګه او ښکاره مخالف پيل کړ او په روسانو او کمونستانو پسې به يې په ډګر تبليغات کول تر څو چې د ۱۳۶۰کال ونيول شو او د نظارت او پلټنې په بهير کې ټول هغه واقعيتونه او حقيقتونه بيان کړل کوم چې و نو له امله يې د دولت ضد تبليغاتو په تورد وخت د اختصاصي انقلابي ( ! ) محکمې د رييس او غړو لخوا په څلور کاله او شپږ مياشتې تنفيذي بند محکوم شو او د بند ټوله موده يې د څرخي پله په زندان کې بشپړه کړه تر هغه چې په ۱۳۶۵ کال له دغه زندان نه خلاص شو .

له زندان وروسته يې د کابل ښار په ليسو کې د څه وخت لپاره د ښوونکي په توګه پاته شوی تر څو په ۱۳۸۹ کال يې د افغانستان د تخنيکي او مسلکي زده کړو په انسيستوت کې هم دنده تر سره کړې ده .

غيرت د ژوند په شيبو کې دی څلور زامن او څلور لوراني لري•

---

• (۹) ۷۰- ۷۲ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژباړن

## زبیر شفیقي



((لیکوالي مې له شعر نه را پیل کړه، شعر مې له دردونو څخه ولیکو او دردونه مې د شوروي د سرې برېبوکۍ په منځ کې ولیدل.))

دا د هېواد د تکړه لیکوال او شاعر محمد زبیر شفیقي څرګندونې دي، خو د شفیقي شهکار قلم، لیک او لیکوالۍ له ډېرو سترګو خوبونه تښتولي، د ډېرو په زړونو یې پټې لګولې، ډېر یې ژړولي او د ډېرو نورو سخت زړیو انسانانو د زړونو ټینګې غوټې یې د اوښکو په بهولو سره پرانیستې دي.

د مطالعې خاوندان هېڅکله هم د هغه د آثارو د مطالعې پر وخت د تفریح غوښتونکي نه دي، د لوستونکو لپاره د هغه د آثارو پرانیستل یوې نوې نړۍ ته ننوتل او په ذهنونو کې د پخوانیو زمانو انځورول دي.

په ټولو داستانونو کې یې خیال د ژړا او خوښۍ په وزرونو دومره ځواکمن الوت کوي چې تل پرې الوتل د سړي زړه غواړي، خو د داستانونو پایته رسول یې د هغه چا په څېر وي چې په خوب کې د زړونو د ارمانونو د نیا ته تللی وي او په را ویښېدو سخت پښېمانه شي.

په دې اړه د هېواد د وتلي شاعر پیرمحمد کاروان هغه خبره د یادولو وړ ده چې وایي، د زبیر شفیقي ژباړل شوی ناول "محمد بن قاسم" یې د خونې په تاخچه کې پروت و: ((یو ماښام مې دغه کتاب د پام غلطولو لپاره را واخیست، خو په هر توري او هره کرښه کې یې جذابیت او کشش و. له دې کبله مې د کتاب تر پایه زړه ترې بېل نه کړ.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغـه ټـول ژبـاړلي داسـتانونه د الفـت، خيـال، انځـورګرۍ او عـواطفـو پـه ژبـه د اسلامي تاريخ درسونه دي، چې تل يې د اسلامي تـاريخ مېړني د وخت د لويو او بې سياله ځواكونو په وړاندې درولي او د هغوی د ايماني ځواک پر بنسټ تر لاسه کړيـو مېړانـې تـه يې د نننـۍ زمـانې د خلکـو احساسـات د اوښـکو پـه بـاران کـې وړانـدې کـړي دي: ((خلـک زمـا داسـتانونه د دردونـو، ژړاګـانو او نهايـت خوښـيو مجموعه بولي، خو زه بايد ووايم، چې دا زمـا د ليكنـو نـه بلكې د اسلامي تـاريخ ځانګړنه ده.))

پر هېواد د شوروي سرو لښكرو د تيري پر وخت د همدې ليكـوال ځـواني وه، دغـه وخت په هر كلي او كور كې هر ماشوم او ځوان شـورويان وپېژنـدل، پـه دې لـړ کـې هغه هم د هېواد په وړاندې خپل مسؤليت درک کړ، د شوروي د اسـتعماري ځـواک په وړاندې يې قلم ته لاس کړ، د هغوی په وړاندې يې د شعر په ژبه مبـارزه پيـل کـړه او وروسـته يې ټولـو هېوادوالـو تـه د هغـوی اهداف او غوښـتنې وسپړلې:((شـعر ليکـل مې لـه همـدې وخت نـه را پيـل کـړل چې ډېری يې د هغـه وخت پـه مجلـو او اخبارونو کې چاپ شوې دي.))

د ماشومتوب، نوي زلميتـوب او بـا احساسـه ژونـد تـر منځ يې د بېلتـون کرښـه پـه همدې وخت راكښله: ((د ژوند رنګ بدل شو، د خوښيو ځای دردونـه او هسـتوګنې ځای مو غرونه شول.))

د هغه د شعرونو مرګ او ژوند د مجاهدينو په ژوند پورې تړلي و، ځکـه د هغـه ډېـر شعرونه مجاهدينو لوستل او په خپلو جېبونو کې به يې ګرځول: ((زما ډېر شـعرونه د مجاهدينو په جېبونو کې او يا يې له ځانـه سره ګـور تـه يـوړل، ځکـه هغـوی بـه پـه خپلو جېبونو کې ګرځول.))

ډېر شعرونه او ليکنې يې تر خاورو لاندې شوې، خـو د هغـه قلم سـتړی او دمـه نـه شو، بلکې په پرله پسې توګه يې ډېـر اخبارونـه او مجلې د محمـد زبيـر شـفيقي پـه نوم خپرې کړې.

محمـد زبيـر شـفيقي د جنت ګـل زوی او د وردګـو ولايـت د چـک ولسـوالۍ پـه الـه خېلو کې زيږېدلی دی، زده کړې يې د حضرت عمر فاروق په عـالي لېسـه کـې سرتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسولې دي. له ښوونځي تر فراغت وروسته د کابل پولي تخنيک پوهنتون ته بريالی شو.
هغه لا د همدې پوهنتون په دوهم سمستر کې و چې د هېواد د بدمرغۍ ورځ را ورسېده او د شوروي اتحاد سرو لښکرو د يرغل له کبله يې د مهاجرت ستونزې، مسافرتونه، لوږې او تندې وګاللې، خو له دې سره سره په خپل هوډ ټينګ پاتې شو: (( پر هېواد د راغلي بدمرغۍ له کبله کور، کلی او پوهنتون رانه پاتې او د لومړي ځل لپاره د غرونو او ګړنګونو له سختو مزلونو، لوږو او تندو سره مخ شوم. ))
د هغه په خبره د ژوند تر ټولو بده ورځ يې همدا وه چې خپل هېواد يې پرېښود : ((د هېواد پرېښودل ډېر سخت کار و، په شپو شپو مو په غرونو کې مزلونه وکړل، څو وزيرستان ته ورسېدو او هلته له نورو ملګرو مجاهدينو سره يوځای شوو. ))
نوموړی تر دوه کاله مهاجرت وروسته پکتيا ته راغی، په جهادي هلو ځلو يې پيل وکړ، خو وروسته بېرته پېښور ته مهاجر او د هجرت پرمهال په ادبي او فرهنګي چارو بوخت و: ((د هجرت پر مهال مې د سهار په نوم يوې ورځپاڼې سره همکاري کوله. ))
پېښور ته له هجرت راهيسې د نږدې دېرشو کلونو پرله پسې ادبي او فرهنګي هڅو په ترڅ کې د شفق، اميد، حريت، منبع الجهاد مجلو او شهادت، سهار، ويسا او نورو ګڼو ورځپاڼو او مجلو سره د مدير او ليکوال په توګه پاتې شوی دی.
د هېواد په بېلابېلو ورځپاڼو، مجلو او مطبوعاتو کې د هغه په زرګونه مقالې چاپ شوې دي او لا هم د ويسا ورځپاڼې مدير مسؤل دی: ((زما مقالې ډېرې زياتې خپرې شوې دي او اوس هم له ويسا او نورو ورځپاڼو څخه زما ليکنې خپرېږي. ))
د شفيقي له ليکلو او ژباړليو آثارو څخه تر دېرشو ډېر چاپ شوي او په همدومره اندازه نور آثار يې چاپ ته انتظار باسي: (( ډېر آثار مې مناسب وخت ته اړتيا لري او ډېر نورو ته بيا تر اوسه وار نه دی رسېدلی. ))
شفيقي په پښتو ژباړه کې د ځانګړي مهارت او وړتيا خاوند دی او د همدې وياړ پر بنسټ ورته د پښتو ژبې د لومړني ژباړونکي "ابو محمد هاشم بن الزيد سرواني

(c) ketabton.com: The Digital Library

البستي "د سرو زرو مډال هم ورکړل شوی دی: ((دغه مډال راته د افغان کلتوري ټولنې جرګې له خوا راکړل شوی دی.))
محمد زبیر شفیقي د اردو ژبې لیکوال محمد نسیم حجازي، دیارلس ناولونه په پښتو ژباړلي چې د بېر زیات مینه وال لري: ((له نوي نسل سره زما د تړاو او پېژندګلوۍ وسیله همدغه ژباړلي ناولونه دي چې د فکري او یقیني جوړښت په رامنځته کولو او له اسلامي تاریخ سره د ځوانانو د پېژندګلوۍ یوه ډېره مهمه وسیله ده.))
نوموړي د نسیم حجازي د ټولو ناولونو د ژباړې لړۍ پایته رسولې ده او اوسمهال په دې هڅه کې دی چې د همدې ناولونو په رڼا کې د خپل هېواد جهادي پېښې خوندي کړي: ((ناول او داستان لیکل مې عادت ګرځېدلي، خو له بده مرغه یو لړ ناروغۍ او کمزورۍ د دې اجازه نه راکوي چې د په خوا په څېر لیکنې وکړم.))
شفیقي په لومړي ځل د "جهاد زمزمې" تر سرلیک لاندې خپله شعري ټولګه چاپ کړه.
د شعر په ژبه د جهاد په وخت کې د "وینو پیغام، د جهاد زمزمې" په نومونو یې دوې شعري ټولګې چاپ کړې، خو اوس له شعر لیکلو څخه لرې شوی دی: ((د ښه شعر لوستل او اورېدل د په خوا په څېر خوند راکوي، کله کله په ذهن کې مات ګوډ تصویرونه هم جوړ کړم، خو د لیکلو شیمه یې را سره نه وي، هماغسې پاتې شي او بیا د وخت تر ګردونو لاندې پټ شي.))
شفیقي تل د خپل قلم په مرسته د هېواد د ملي ارزښتونو ساتنې، پالنې او آزادۍ په برخه کې قلم چلولی او د یوه نوموتي ژورنالیست، سیاسي کارپوه، لیکوال او ورځپاڼه لیکونکي په توګه شهرت لري او د ډېرو رسنیو د مشر، مسؤل او مدیر په توګه یې دنده ترسره کړې ده: ((له څه باندې درې لسیزو راهیسې، د چاپي، راډیویي او تلویزوني رسنیو په برخه کې مې کار کړی.))
شفیقي د کورنیو جګړو پرمهال په پېښور کې اوسېدو او همدا مهال یې د "سهار" په نوم د افغان کډوالو په یوه ورځپاڼه کې په زرګونو مقالې خپرې شوې دي: ((په دغه مجله کې مې د سیاست، فرهنګ، اقتصاد، پوځي او ټولنیزو چارو په برخه کې تر ۴۵۰۰ ډېرې لیکنې خپرې شوې دي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شفيقي په خبره تل يې د رسنيو د آزادۍ او ژورنالستيکو اصولو پر بنسټ د افغان ولس له غوښتنو سره سمې ليکنې کړې دي او وايي چې له دې کبله يې د ځينو کړيو له لوري تهديد شوی هم دی: ((هر چا د خپلې واکمنۍ پر مهال راته ويلي چې داسې ليکه او داسې مه ليکه، خو دغه فشار د مهاجرت په دوره کې د کوربنو له لورې ډېر زيات و.))

خو هغه تل خپل ژورنالستيک رسالت ساتلی: ((ما تل هغه څه ليکلي چې خلکو ويلي، غوښتي او کړي دي.))•

---

• (۲۱) ۱۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ديني عالمان

## زمرک ـ یاسر (استاد یاسر)



استاد (یا سر) په ۱۳۴۸ کال هغه وخت چې د حبیبې په لیسه کې زده کونکی وو له اسلامي غورځنګ سره يې پيژند ګلوي پيدا شوه او په دغه چوکاټ کې يې رسماً مبارزه پيل کړه او په زړه پورې دا وه چې هغه دا وخت د حبيبې ليسې د ممتازو شاګردانو په ډله کې د یوه کال لپاره د آمریکا متحده ایالاتو ته د زده کړو لپاره ولاړ له دې چې مبارز شخصیت وو نو د آمريکا چاپيريال دهغه په روحيه کومه منفي اغيزه ونکړه اوبيرته په سالمه اسلامي آيد يالوژۍ هېواد ته را وګرځيد او د خپلو مبارزو وروښو ترڅنګ يې اسلامي مبارزه لا پسې ګړندۍ کړه .

د محمد داود خان د واکمنۍ په مهال استاد یاسر د هغه لږ شمېر مبارزينو په ډله کې چې د سردار محمد داود خان د رژيم مخالفين وو ،پيښور ته ولاړ او هلته د اسلامي تحريک لهمبارزينو سره يوځای مبارزه پيل کړه او عجالتا د دغه نهضت په تشکيل کې د مالي کمسيون مسوول وټاکل شو.

له یو څه هسکو ټيټو وروسته په پيښور کې زړه تنګی شو او د زده کړو د بشپړولو لپاره له پيښورنه سعودي عربستان ته ولاړ دهغه دا سفر نوموړي هېواد ته ددغه سبب شو چې له عربی اسلام پالو شيخانو او نوري اسلامينړۍ سره ژوره پيژندګلوي او بلد يت پيدا کړي او هغوي د افغا نستان د اسلامي نهضت له موخو سره بلد کړي د عربي هېوادو ته د استاد یاسر دا تګ د دغه سبب هم شو چې عربي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ د اسلامي نهضت دیوه ډاډمن تمویل کونکي مرجع په توګه په افغان اسلامي جهاد کې ونډه واخلي.

استاد یاسر د همدې باور په رڼا کې تنظیمي رهبران عربوته ور پېژندل تر دې منځ یوناځاپه دغوبې خونړۍ کودتا رامنځ ته شوه ،استاد یاسر د مسلحانه جهاد په تکل بیرته پېښور ته راغی او د کونړ ،پکتیا ،ورد ګو په جبهو کې عملا وجنګید او په ضمن کې دا وخت د جمیعت اسلامي د ( تنظیم دعوت ) د مسوول په توګه هم وټاکل شو.

یاسر د مجاهدینو له اتحاد او اتفاق سره ډېره مینه درلوده او هیڅکله یې دیوه تنظیم یا یوې ډلې په ګټه فکر نه کاوه بلکې د مجاهدینو تر منځ یې د اتحاد او یوالی په اړه د قرآني ارشاداتو په رڼا کې ډېر پراخه اولوړفکر درلود ،له همدې امله هغه تل په دې هڅه کې و چې د مجاهدینو ترمنځ یو ریښتني اتحاد را منځ ته شي هغه د مجاهدینو لپاره د یوالی او اتحاد دهلو ځلو یوه څرګنده بیلګه دا وه چې یو وخت د سخیداد فا یزاو فیضان په ملګرتیا وردګو ته را غی کلی په کلی او جومات په جومات وګرځیدل او مجاهدین یې یوالي او اتفاق ته را وبلل چې دا سفرتر ډېره بریده بریالیهم وو ځکه دمجاهدینو په روحیه کې یې د اتفاق په اړه مثبت بد لون را ووست.

استاد یاسرنه یوازې په خپل قوم کې دمجاهدینو ترمنځ د اتفاق او اتحاد غوښتونکی و بلکې دهغه په ګډون د یوشمېر وحدت غوښتونکو څیرو هلې ځلې ددغه سبب شوي چې ددری ګونی او پنځه ګونی اتحاد او وروسته بیا اوه ګوني اتحاد را منځ ته شی په دغه اتحاد کی استاد یا سر ته د بهرنیو اړیکومسوولیت وردغاړې شو خوکله چې په پېښور کې د مجاهدینو(جلای وطن ) موقت حکومت را منځ ته شو او حضرت صبغته الله مجددی د هغه مشروټاکلشونو استاد یاسر ددغه حکومت په کابینه کې د اطلاعات او کلتورد وزیرپه توګه وټا کل شو او کله چې په کابل کې د کمونستانو حکومت را نسکور شو نو دا حکومت د مجددي ترمشری لاندې کابل ته را غی استاد یاسر په دغه حکومت کې ( چې د افغانستان د اسلامي دولت تر عنوان لاندې یې نوی په فعالیت پیل وکړ ) د سا ختماني چارو د وزیرپه توګه چې اوس دا وزارت د(ټول ګټو ) یا فواید عامې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزارت په نوم یا دیرې ،وټاکل شو، کله چې په کابل کې د اسلامي تنظیمونو د مجاهدینو ترمنځ د ټولو اسلامي، اخلاقیاو جهادیموازینو خلاف خپل منځي کورګډې جګړې پیل شوې نو استاد یاسرته دا جګړې، وژنې ،ناخوالې،ناشدې، تاوتریخوالی اونورې نادودې د زغم وړنه وې نو سمد لاسه یې په غوڅه پریکړه د وزارت له دندې استعفا ورکړه او دیوه آزاد خیاله او له ګنا نه د خلاص ژوند په لوریې مخه وکړه اوپه واقعي مفهوم یې د اسلامي نهضت ددعوت لپاره ددوهم ځل لپاره له سره هلې ځلې پیل کړې کله چې د طالبانو تحریک دهېواد په سهیلې برخو کې رامنځ ته شونو استاد یا سر په ډېره مینه ددغه تحریک کړنوته سترګې په لار پاته شو،خوورسره همکارنهوو،لهیوڅه وخت وروسته کله چې طالبانو په (اصتلاح د وخت له موجوده حکومت نه ) په نیول شویو سیمو کې بشپړ امنیت تامین کړنو د استاد یاسرنظرهغوي ته د یو(لاسی) له امله نیک شواود طالبانو له تحریک سره د نظراوعمل یوڅه نیږدې والی پیدا کړخود آمریکایانو په را تګ او د ملک په ثاني اشغال سخت ودردید اوکلک د طالبانوپلوی شوڅکه د اسلامي نهضتد مبارزې اصیلې موخې دا وخت د طالبانود تحریک له موخو سره یوشان ته وې دواړه د اشغال او استعمار ضد نهضتونه او تحریکونه وه.

خویووخت په ډېره نا باورې ولیدل شول چې له اسلامي نهضتونواوتحریکونو سره د پاکستان دمذبذب اودوه مخې سیا ست له مخې استاد یا سر چې له مردان نه د پیښور په لور را روان وه ددغه ملک د استخباراتې کړیو لخوا د نا معلوم جرم په جرم ونیول شو او له څه مود ې وروسته آمریکایانواو افغان حکومت ته په لاس ورکړل شو چې تر ۲۰۰۷ کال پورې د څرخې پله په زندان کې وو دهغه د خلاصون لپاره خوځوځله د وردګو مخور او د نوروا سلامي تنظیمو مشران استاد یاسر ته ورغلل او له ده یې هیله وکړه چې موږ به ضمانت وکړو او تا به له بندیخانې خلاص کړوخوشرط به دا وي چې ته به دلته په کابل کې اوسېږې ،خوهغه له چاسره د خپل ځان دخلاصون په اړه کومتړون ته غاړه کینښوده ترهغه چې په ۲۰۰۷ کال له یوه ایتالوي خبریال سره تبادله شو او هلمند ته بوتلل شو خو له دې چې استاد زمرک یاسر یو آزاد خیاله اسلامي مبارز وو او په واقعي مفهوم مبارزه یې خوښوله نو له هلمند نه بیرته پیښور ته ولاړ خود هغه دا ټول حرکات اوسکنات د سیمې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مغرضو او دوه مخيو استخباراتي کړيو تر ټينګې څارنې لاندې وو ترهغه چې يو ځل بيا د همدې کړيو ،له خوا ونيول شوا وبندي شو ،خو هيڅوک نه وه چې پو ښتنه وکړي چې دا ټول ولې ؟او ولې د هغه په بر خليک دومره ملنډې وهل کيږي.

د۱۳۹۱کال دغويي د مياشتې د ديارلسمې نيټې د افغانستان د چاپي ،تصويرياوغږيزو رسنيو د رپو ټونوله مخې چې د طالبانو خبرځايونوهم دا خبر تائيد کړه د استاد زمرک ياسر د برخليک په اړه په لاندې متن خبررا غلي وو.

دطالبانو د اسلامي تحريک يو مشر محمد ياسر چې د پاکستان د استخباراتي کړيو په بند کې وو په دې وروستيو کې په مرموز ډول له منځه تللې دې ،ياسرچېد پخوانېشوروي اتحاد د ځواکونو د شتون په وخت کې د افغانستان د اسلامي تحريک مرستيال وواود مجاهدينو لخوا د کابل له نيول کيدو وروسته په څو لوړو دولتي پوستونو وټاکل شواوپه پاي کې له طالبانو سره يوځاي شو او ددغه تحريک د فرهنګي کو ميټې او د سياسي چارو مسوول وټاکل شو هغه د افغان حکومت له بند نه د يوه ايتالوي خبريال په بدله کې خوشي شو او بيرته پيښور ته ولاړ خوله يو څه مودې وروسته هغه يو ځل بيا د دغه هېواد استخباراتي کړيو ونيو او په مرموز ډول يې له منځه يوړ.•

• (۷) ۹۱- ۹۵ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# محمد عبدالله (خوشحال)



شیخ الحدیث والتفسیر محمد عبدالله خوشحال چې په جغتواودوردګو په نورو سیموکې پرمولوي خوشحال شهرت لري دمتآخروعلماوو په لړکې یوجید او بحري عالم دی چې د عالم الاسلام د اصلاح لپاره یې د اسلام سپیڅلي دین په ریښتني مانا او حقیقي بڼه تفسیر او روښانه کړی او په دې اړه یې زښته ډیرتوضیحي کتابونه لیکلي دي اودهغه مبتذلورواجي مسایلوخطر او عذاب ته یې چې د زمانې په تیریدو سره یې دیني صبغه خپله کړې ده د مسلمانانو پام ور اړولی دی همدارنګه د دیني علوموترڅنګ یې په عصري اوسیاسي علومو کښې هم د مطالعې له لارې کافي معلومات تر لاسه کړي دي ، مولوي محمد عبد الله خوشحال خپل ټول وخت ددیني علومو تدریس اودعصري او سیاسي علومو په اړه آفاقي مطالعې ته وقف کړی دی چې نتیجتا هغه یومتعصب عالم نه ، بلکې یو روشن ضمیرعالم دی چې هره دیني او سیاسي پوښتنه په خلاصه ټنډه جوابوي ، محمد عبدالله خوشحال د ژوندله پیل نه د اسلامي نهضت یوپیاوړي غړی اومتعهد مجاهد پاته شوی ، کله چې د سردار محمد داودخان د واکمنی په مهال په ښوونځیو پوهنتونو او نورو دولتي ادراو کې د کمونستانو په ضد مبارزې او لاریونه پیل شول نو محمد عبد الله خوشحال هم چې دا وخت د غازي محمد جان خان په ښوونځي کې متعلم و له دې چې مبارزه روحیه یې درلوده د اسلامي نهضت لیکو ته شامل شو او په ډیره میړانه یې په همدغه تنکي عمر دخپل توان او قدرت په اندازه د دین او وطن له دښمنانانو (خلقیانو او پرچمیانو ) سره دغازي محمد جان خان د ښوونځي په چاپیریال کې مبارزې او مقابلې پیل کړې ځکه دا وخت د کمونستان جرړې د وردګو په ښوونځیو کې د یو شمیر لاوبالي او نادانه زده کونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بشپړې ناپوهۍ له وجې ځغلیدلي وې، که څه هم په ۱۳۵۸ کال د غازي محمد جان خان ښوونځی په سیمه کې د اسلامي پاڅون د پیل کېدو په وجه وتړل شو خو محمد عبدالله خوشحال د خپلو والدینو په خاصه پاملرنه او هڅونه د عصري زده کړو په ځای د دیني علومو زده کړو ته کښېنول شو چې دا د هغه د والدینو لویه هوښیاري او بیداري وه ځکه د هغه دورې ټول زده کوونکي د اوږدې مودې لپاره د سواد له نعمت څخه محروم پاته شول دلیل داؤ چې ښوونځی نشته، چې نشته، نو نشته، خو محمد عبدالله خوشحال د خپل ځان او زمان په پیژندلو سره دلته هلته په درسونو او مدرسو کې جهادي وسله پر اوږه او کتاب تر څنګ خپلې زده کړې کولې تر هغه چې په ۱۳۶۴ کال د روسي ښکیلاک د ډیرو حملو له وجې د هغه د دیني زده کړو بهیر هم د یو څه وخت لپاره وځنډید او له یوې مخې یې جهاد ته ملا وتړله خو بیا یې هم د ګربت د مجاهدینو په کفرماتونکي سنګر کې په نسبي توګه خپلو زده کړو ته هم ادامه ورکړه. محمد عبد الله خوشحال په ۱۳۶۵ کال کښې د لوړو دیني زده کړو لپاره د پاکستان د کویټې ښار ته ولاړ او هلته یې شپه او ورځ په ځان یو کړه او په ډېره مینه یې خپل دیني درسونه ولوستل او د ریو کالو په اوږدو کې یې د الله په فضل او توفیق دیني علوم ټول سرته ورسول او په ۱۳۶۸ کال یې د احادیثو له دورې وروسته د (دارالارشاد) په جامعه کې له مرحوم شیخ الحدیث فقیه او مشرعالم مولانا نورحبیب صواتي (قدس الله سره) له نوموړې جامعې نه د پنځه دیرشو همصنفیانو له منځه لومړی درجه فارغ بریالی او په دې توګه یې د فضیلت پګړۍ تړې وتړله، محمد عبدالله خوشحال د تحصیل په دې دری کلنه دوره کې هم د تدریس چارې پرمخ وړلې، ګڼ شمیر د قرآنکریم او تجوید شاګردان او د عربو په دارالایتام کې د شهیدانو په سوونو یتیمان اولادونه وروزل.له فراغت وروسته پېښور ورته ولاړ او هلته د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه په مدرسه کښې د استاد په توګه په تدریس پیل وکړ، د مدرسې له رخصتیدو سره سم په ۱۳۷۰ کال کله چې خپل وطن ته راغی نو په خپل کلي بلندخیلو کې یې د فاروقیې په نامه یوه دیني مدرسه جوړه او په خپله یې تدریس پکې پیل کړ، دا د جهاد په دوران کې په جغتو کښې لومړنۍ لویه مدرسه وه چې په لوړه کچه دیني زده کړې پکې تر سره کېدې.دا مدرسه د طالبانو د اسلامي امارت په وخت په یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوی دارالعلوم بدله شوه چې په سوونو طالب العلمانو په کښې زده کړې کولې چې تر اوسه هم په هماغه حال تدریس او د قرآنکریم دارالحفاظ پکې فعالیت لري. په نوموړې مدرسه کښې تقریبا شل کاله پرلپسې د ددیني علوموتدریس وشو چې طالب العلمانو دیني علوم اومنطقي فنون په ښه وجه پکې زده او تمرین کړل په دې مدرسه کې څوځو ځله طالب العلمانو لویه او کوچنی دورې وکړې د اټکلي احصایې له مخې نوموړي شیخ صاحب د ژوند په اوږدو کښې د افغانستان د ګڼ شمیر ولایتونو په زرګونو شاګردان اوطالب العلمان روزلي اود اسلامي ثقافت په ګڼه سنمبال یې ددې ملت ټولنې ته وړاندې کړي دي چې له اکثره دغه کسانو نه د علم معرفت ، دعوت او جهاد په برخوکې لوی لوی عالمان او کاري شخصیتونه جوړ شوي دي. څرنګه چې محمد عبدالله خوشحال له کوچنیوالي نه د قرائت او تجوید سره ډېره مینه درلوده اوپه فارغ وختونو کې به یې د مختلفو قاریانو لکه قاري عبدالباسط، عنطر او نورو خوږژبیو قاریانو په لهجو شیرین قرائت تمرین کاوه د زمانې په تیریدو سره الله پاک د قرائت د یادښت برکت د هغه په وجود کې هم کیښود د ۱۳۸۰کال د رمضان په مبارکه میاشت کې د ورځې د یوې سپارې په ګردان سره د یوې میاشتې په اوږدو کې په دې وتوانید چې ټول قرآن عظیم الشان ګردان اوحفظ یې تازه کړي او بیا دبیګاه په تراویح کښې پرې ختم وکړي ، دوه فاتحان به ورپسې وو خو تر آخره د فتحې اړتیا پیدا نه شواو حفظ بشپړ و . محمد عبدالله خوشحال ډېر ښه واعظ او مبلغ هم دی چې دوعظ او دعوت طریقه یې ډېره نرمه اوتل د منطقی استدلال په بناء ولاړه ده ، هغه تل په هره موضوع کې بشپړ معلومات لري او قانع کوونکي دلایل وړاندې کوي، د ناروا رواجونو او رسمونو سره سخت مخالف دی او په بدلون کې یې د یادولو وړ خدمتونه کړي دي، د علماوو د اتحادیو لپاره یې نه هیریدونکي هڅې کړې دي، ترڅو د علماوو ترمنځ د کوچنیو مسایلو په اړه اختلاف ورک او ملت ته په اتفاق او یوه غږ د دین پیغام ورسوي او د عامو خلکو تشویشونه له منځه ولاړ شي.

محمد عبدالله خوشحال یو ځل په ۱۳۹۰کال د کابل په چهارآسیاب کې د الفاروق الاعظم په جامعه کښې د شیخ الحدیث په توګه مقرر شو څرنګه چې هغه کلی چې دا مدرسه پکې جوړه شوې وه د جنګ مرکز وګرځید نو مولوی صیب ونشوای

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړای چې په دې مرکز کې خپل تدریس ته ادامه ورکړي تر یوه کال وروسته غزني ته راغی او هلته یې په مختلفو دیني مدارسو او علمي مرکزونو کې د تدریس فعالیتونه پیل کړل چې په دې لړ کښې یې د لرغوني غزني په مرکز کې د شهید غازي محمدجان خان وردک په ښارګوټي کې ددغه نومیالي په نامه ددیني علومو د یوې جامعې جوړولو تکل وکړ او ترڅنګ یې د یوه پراخه جامع جومات د جوړولو همت هم وکړ چې اوس ۱۳۹۴ کال نیمایې، کار په درز پرې روان دی ان شاء الله تعالی دروان کال کې تر وروستیو پورې به یې یو منزل په بشپړه توګه تکمیل شي.

محمد عبدالله خوشحال دځوانۍ له شیبو دعلمي څېړنو او ادبي لیکنو سره مینه درلوده او وخت ناوخت به یې د ځینو مسایلو په اړه ژورفکر کاوه اودنظر د پایلو یادښتونه به یې له ځا سره ساتل، خو له پنځو کالو راپه دې خوا یې د تدریس، فتوی او د خلکو د ستونزو د حل په خاطر د فرصت په پیدا کولو سره په لاندې شمیر یوځه کتور کتابونه هم لیکلي دي

- د لمانځه روح او د فاتحې اسرار، چې په دغه اثرکې د لمانځه د فضلیتونو په اړه او همدارنګه د فاتحې د سورة دبرکاتو په اړه بشپړ معلومات راغلي دي.

۲- ښځه او د عصري زینت خطرونه، په دې اثر کې یې ښځې دیته متوجې کړې چې خیرن کمیاوي او بې ځایه سینګارډیرفزیکي اومعنوي ضررونه او خطرونه لري ښځې ځانونه باید ځانونه ترې بچ وساتي.

۳- زموږ د ټولنې رواجونه د اسلام په هنداره کښې، لومړۍ برخه له ښځو سره چلند، چې په دې برخه کې د اسلام د سپیځلي دین په احکامو کې له ښځې د نارینه د چال چلند په اړه بشپړ معلومات ورکړ شوي دي.

۴- زموږ د ټولنې رواجونه د اسلام په هنداره کښې، دوهمه برخه د مړي مراسم، چې په دې برخه کې د مړي د کېدو په صورت کې هغه ملا ماتونکي رواجونه چې د شریعت له هیڅ اړخ سره سر نه لګوي او یوازې د سیالۍ د رواجو په بنا تر سره کیږي بشپړه رڼا اچول شوې ده

۵- زن و خطرهای فیشن و آرایش عصر، چې ددوهم ټوک ژباړه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶- مجموعه سوالات تعلیمات اسلامي صنف دوازدهم چې په دري ژبه چاپ او نشر شوی دی.
۷ - د ریاض الصالحین په نامه اثر چې د (شرحي نزهة المتقین ) ژباړه ده تر چاپ لاندې ده
۸- زموږ د ټولنې رواجونه د اسلام په هنداره کښې، دریمه برخه، د قبر مراسم، نږدې چاپ ته آماده دی.
۹- د فقهي ضروري مسائلو مجموعه چې تر اوسه چاپ شوې نه ده.
۱۰- افغانستان له (۱۳۵۲ څخه تر (۱۳۹۴) پورې، تاریخ
۱۱- د شعرونو او مناجاتونو یوه ټولګه.
محمد عبدالله خوشحال د علاقه دارمحمد عثمان خان زوی، د میرزا سیداحمد خان لمسی او د میرزا نورمحمد خان کړوسی دی په ۱۳۴۳کال د وردګو ولایت د جغتو اولسوالۍ د بلندخیلو د کلي په یوه مشهوره او دینداره کورنۍ کښې زیږدلی دی.
په ۱۳۵۱کښې د غازي محمد جان خان په ښوونځي کې شامل شو، له دې چې د کوچینوالي نه ډیر ذهین او د لوړ استعداد خاوند و په په ټولو ښوونځیو او مدرسو کې اول نمره و.•

---

(۹) ۱- ۳ مخونه •

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مولوي محمد نصير الدين آخندزاده



مولوي محمد نصيرالدين آخند زاده دژوند ټول فعاليتونه په دوو لويو برخو ويشل کيږي چې هره برخه يې د ځانګړو مشخصاتو درلودونکې ده ، لومړې يې له اسلامي انقلاب دمخه په وردګو کې د تدريس او دعوت مرحله او دوهمه يې دهجرت په وطن کې د اسلامي مبارزې برخه ده ، خوکوم معيارونه چې موږ د وردګو مشاهيرو دثبت او سجل لپاره شاخص ګرځولي هغه د محمد نصيرالدين آخندزاده دژوند په دوهمه ياني مبارزوي برخه کې شامل دي په کومه کې چې نوموړی د جهاد د برحق داعيې د يوه لوی حامي اودافغانستان د اسلامي حزب په تشکيلاتو کې د يوه ستر مجاهد په توګه را څرګند شو اولوړجهادي فعاليتونه يې اعمال کړل آخند زاده صيب کله چې په ۱۳۵۷ په نيمايي کې دچک په ولسوالۍ کې دکمونيستي حکومت ترسخت تعقيب لاندې راغی اودا ناشونې شوه چې مولوي صاحب د نور په خلاصو متو اسلامي تبليغ او مبارزې ته دوام ورکړي اوپه کوريې هم د اسې وخت د روس ملانو بريد وشو چې له نيکه مرغه مولوي په کور کې نه و اودغه ګېډړ ته ورته شرمښانو ته په لاس ورنغی ، دا پيښه ددې سبب شوه چې مولوي صيب نورهرڅه يې په ځای پرايښودل اودمولوي رحيم ګل په ملتيا د ګردن مسجد له لارې دهجرت دوطن په لور ولاړاوهلته دافغانستان په اسلامي حزب کې دحزب دمرکزي شورا دهميشني غړيتوب ترڅنګ د علمي کدرونو دتنظيم لپاره دجوړې شوې ادارې دعلمي مرستيال، بيا وروسته دنوموړې ادارې دمشرورپسې دقضا رييس اودد ارالانشاء مسؤل، اوسرآنجام دحزب اسلامي افغانستان دنايب امير په توګه وټاکل شو چې له همدې لارې يې دجهادي صف د تقويې اود مجاهدينو روحيې د پياوړتيا لپاره نه هيرېدونکي خدمتونه ترسره کړي دي، ددې ترڅنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړی دهجرت په ټاټوبي کې دافغانستان دعلماوو دشورى يوفعال او دايمي غړی هم پاته شوی دی او څوځله يې عربي هېوادونو په تيره بيا سعودي عربستان ته دجهادي هيئتونو په ترکيب کې سفرونه کړي او يوځل خو سعودي عربستان ته دتلونکي هيأت مشري هم اروا ښاد مولوي صاحب په غاړه لرله، مولوي صيب نه يوازې دا چې بهرني ديپلوماتيک سفرونه يې کړي بلکه د جهاد په منظور يې څوځله دهېواد په دننه سرحدي ولاياتونو ته لکه کنړ، ننګرهار، پکتيا ته هم دجبهاتو دليدلو ، او جهادي مورچلو د تنظيمولو لپاره سفرونه کړي دي، او همدارنګه يې دمجاهدينو پنډغاړو ځايونو ته له هغوی سره ددوی د ستونزو او داحوال اخيستنې په موخه په ډليزاو شخصي توګه کتلي چې کولای شو دکورمې ، اړولي په سيمو کې دميشت وردګو ، او دکويټې په لورلايي سيمه کې دمهاجرينو د پنډغاړځايونو څخه دنمونې په توګه يادونه وکړو .

د پورتنيو فعاليتونو ترڅنګ مولوي صيب دهجرت په وطن کې هم دجهادي او سياسي فعاليتونو ترڅنګ د تدريس چارې په خورا مينه اولوالتيا دعبد الله بن عباس په مدرسه کې پر مخ وړې دي او ډير وخت يې دلجنة الدعوة خيريه مؤسسې له خوا جوړ شوي دالمعهد الشرعي العالي دارللمعلمين په نوم علمي مرکز کې دفقهي علومو تدريس هم کړی دی د پېښور په حيات آباد سيمه کې دميشت (الجامعة الاسلامية للعلوم والتقنية )په نوم پوهنتون کې دامناوو دمجلس غړيتوب هم درلود ، کله چې دجامعة الامام محمد بن الحسن الشيباني په نامه پوهنتون دتاسيس ډېره کېښوول شوه نو درياست واګې يې له هماغه پيل نه مولوي صاحب نصير الدين آخند زاده ته وسپارل شوې چې ترڅنګ يې په نوموړي پوهنتون کې دصحيح بخاري او سنن ابي داود او ګڼو نورو مضامينو تدريس هم په غاړه درلود ، چې بيا وروسته نوموړی پوهنتون د( کلية الشريعة واصول الدين ) دپوهنځی په نوم له اسلامي پوهنتون سره يوځای شو ، او مولوي صاحب ترآخره په نوموړي پوهنځي کې درياست تر څنګ دګڼ شمېر مضامينو په تدريس بوخت وو. خو ددغه يوه ټکي يادونه په پيل کې ضروري ده چې دکمونستانو په ضد د مولوي صيب مبارزه د وخت او شرايطو زيږنده نه ده بلکه مولوي صيب هغه وخت مبارز و او ددالحاد په ضد يې د ځوانانو په فکري تنظيم کې ډيره له پخوا ونډه درلوده چې دغه دوره د ظاهرشاه او سردار محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

داود خان په واکمنیو کې شامله وه ، ښه مې په یاد شي چې په ۱۳۵۳ کال د اوړي په موسم کې یوه ورځ مولوي صیب د نورخیلو د مرحوم امام الدین خان کره چې زه هم هلته د سبق لپاره دیره وم ، میلمه شو زما بریتونه ډیرلوی او ژیرې مې له غوږو لاندې تبرزینونه درلودل مرحوم مولوی صیب ماته سخت متوجې شو خو ژر امام الدین کاکا هغه ته وویل: مولوي صیب دا کس حیات الله نومیږي او ستا سې ډیرخواخوږی او ټینګ مبارزملګری دی ددې خبرې په اوریدو سره د مولوي صیب ټنډه وغوړیده اوله ماسره په خبرو پیل وکړ ، مولوي صیب دا وخت نه یوازې دا چې په سیمه کې یې ددیني علومو د تدریس چارې پرمخ ویشتې بلکه دکمونستانو د مبارزې له کبله ددوی پر لاس د ملک د اشغال خطره هم وه نو همدا وجه وه چې مولوي صیب ډیر پیاوړي ځوانان د مبارزې ډګر ته را وبلل دوی یې وپښن او تنظیم کړل چې په دې ډله کې د اسلامي تحریک وتلې خیره د بمبایې دکلي استاد زمرک (یاسر) دلوړکلي اوسیدونکی اودننګرهار پوهنتون استاد شهید انجنیر محمد دین، دبابا قلعې اوسیدونکی جهادي خیره ډاکتر صاحب غلام حضرت، دخلیلي دژوري اوسیدونکي شهید استاد محمد کبیر، شهید استاد محمد عالم، داله خیلو اوسیدونکی شهید انجنیر زلمی، درشیدانو مدیرغلام درویش خان، دوخت دمعارف دثانوي تدریساتو مسؤل مدیر دبمبایې اوسیدونکی استاد منهاج الدین وهاج، داله سنګ اوسیدونکی جهادي شخصیت او امیر، ښاغلی مدیر محمد شریف عدالتیار، دبمبایې اوسیدونکی جهادي قوماندان او دمعارف وتلی استاد محترم محمد داود غیرت او ورته په لسګونو مبارزین یې وپښن کړي او د جهاد په مقدسه لاره یې روان کړي دي.

مولوي صاحب محمد نصیر الدین آخندزاده نه یوازې دا چې ددیني علومو یوجید عالم او تکړه مدرس و بلکه یو وپښن اسلامي روڼ آندی اوداسې دیني عالم و چې سیاست یې دژوند سره نه بېلېدونکیاو ټینګه ګنډه خوړلې وه اود وګړو داصلاح په نیت یې په هېواد دننه او بهر سیاسي فعالیتونو کې ګډون خپله ایماني وجیبه بلله، دنړۍ په پېښو یې تل ځان خبراوه اوپه نوښتونو یې هم تل نظر ساته، په هېواد اوملک دننه یې دوخت درژیمونو کړه وړه له نیږدې څارل، تل یې دخپلو دینو موعظو، سیمینارونو، کنفرانسونو له لارې دوخت درژیمونو په بې غوریو، نارسیو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې لاريو، نا غيرېو دولس په خدمت کې په پاته راتلو نقد او نيوکه کوله او دهغوی مظالم او مفاسد يې عام ولس ته په ګوته کول.

علمي مرکز يې محمد ظاهر شاه د سلطنت په وخت د ديموکراسی په پړاو کې په هغه زياتره لاريونونو، مظاهرو او اعتراض غونډو کې نېغ په نېغه ګډون درلود چې د اسلامي تحريک په مشرۍ به دهېواد لروبر کې تر سره کېدلې، دولسوالۍ په کچه خو به زياتره لاريونونه او اعتراض غونډې دنو موړي د درس او مدرسې له خوا رهبري کېدې.

دګهيځ جريده چې هغه وخت دهېواد په دننه کې د اسلامي مفکورو د خپرولو يوازينۍ چاپي رسنۍ بلل کېده دهمده دعلمي مرکز اړوند زده کوونکو طالب علمانو په لاس وردګو چک ولسوالۍ ته راوړل کېده، په علماوو، او زده کوونکو به وېشل کېده.

کله چې د ۱۳۴۹ المريز کال دولسي شورا ددولسمې دورې ټاکنې پيل شوې، نو مولوي صاحب نصيرالدين اخندزاده دخپلو نورو ملګرو سره يوځای د اسلامي تحريک وتلې نامتو مخکښه څېره، دګهيځ جريدې مسؤل، د ابوحنيفه مدرسې لوی استاد اروا ښاد شهيد مولوي صاحب عبد الرب احدي په خپله نيغه مشوره وهڅاوه چې په ټاکنو کې دنوروکانديدانو تر څنګ په تېره بيا دهېواد او نړۍ په کچه سياسي مشهوره پېژندل شوې څېره، دوخت درژيم دکورنيو چارو وزير پوهندوی داکترمحمد عمر وردګ سيالۍ ته تيار شي.

دمحمد عمروردګ پلار عبد الاحد خان هم دمولوي صاحب نصيرالدين آخند زاده د پلار له مخلصينو، آشنايانو، او مقتديانو څخه و، خو مولوي صاحب پخپله له خپلو ټولو طالبالعمانو سره د عبد الرب احدي ملاتړ ته ترپايه دوام ورکړ.

مولوي صاحب محمد نصيرالدين آخندزاده د سردار محمد داود خان دچنګاښ د ۲۲ ترکودتا وروسته له خپل ځان سره ډېر احتياط کاوه ځکه دا کودتا هم دوخت دکمونيستانو په نيغ ملاتړ ترسره شوې وه ،څنګه چې مولوي صيب يو ټولنيزشخصيت و له علماوو او د عام ولس له استازو او مشرانو سره يې ډېره راشه درشه او ناست پاسته هم درلوده له مولوي عبد الرب احدي، شهيد قاضي عبد السليم فرقاني، استاد محمد حميد آخندزاده ، مولوي صاحب عبدالکريم قانع ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد رسول مشهور په خارنوال نقیب الله، مولوي صاحب محمد یوسف، مولوي هدایت الله د بلاغ سره په کور او مدرسه کې مجلسونه درلودل.
همدا ډول د عام ولس له استازو او مشرانو سره لکه ملک محمد عزیزخان، ملک محمد امین، سرمعلم علي خان، ملک امیرخان، الحاج علم ګل خان، شیریندل خان، ملک محمد شریف، حبیب آخندزاده، د ګردن مسجد ملک محمد اسلم خان، او ملک امیر، د نېک پایقول ملک صاحب عبد القدیر به تل د مولوي صاحب علمي مرکز او مدرسې ته تګ راتګ درلود او له ده سره به یې د سیمې پر پېښو او د ولس په ستونزو سلاه مشورې کولې.
د نورو دیني او ټولنیزو فعالیتونو ترڅنګ مولوي صاحب په ډېره لوالتیا غوښتل د چک ولسوالۍ اړوند سیمو کې د جمعې ورځې لمونځ هم ترویج شي، ترڅو له یوې خوا د الهي دین یوه لویه فریضه په ځای شوې وي، له بلې خوا د جمعې د خطبو او منبر له لارې ولس ته د اسلام د دین پیغام ورسول شي، د خلکو تر لمنځ فکري تشه ډکه، په سیمه کې د انحرافاتو، فکري بې لاریو، او د پردي کلتور د یرغل مخه ونیول شي، په دې هکله نوموړی له حکومتي ځینو حلقاتو سر بېره د ځینو علماوو له مخالفتونو سره چې د نوم له اخیستو یې ډه ډه کوم هم مخ وو، خو د خپل پلان د عملي کولو لپار یې له ځان سره ګڼ شمېر علمي و تلې څېرې لکه شهید اروانښاد مولوي صاحب عبد الرب احدي، اروانښاد شهید استاد محمد حمید آخندزاده، اروانښاد د علیشې ملاصاحب محمد یوسف او د اسې نور ملګري کړي وو، همدا رنګه د وخت د ولسوالۍ ابتدایه محکمې قاضي، د وخت د ولسوالۍ حاکم ولسوال یې هم په شخصي غیر رسمي توګه په خپل اعتماد کې راوستي وو، چې بالآخره د یو لړ بې دریغه هلو ځلو څخه وروسته یې وکولای شول لومړی د ولسوالۍ مرکز او بازار ته څېرمه د خپل درس او علمي مرکز اړوند د ملک محمد امین په جومات کې دغه فریضه ادا، او بیا وروسته یې د وخت د رژیم او ځینو نورو له مخالفتونو سره سره د اروانښاد شهید مولوي صاحب احدي په ملتیا د بمبایي سیمې د فرارو کلي جومات کې هم راژوندۍ کړي، نوموړې فریضه د چک ولسوالۍ بازار کې له هماغه وخت نیولې آن تر ننه پورې دوام لري، خو په خواشینۍ سره چې د کمونیست رژیم په راتګ سره چې د اروانښاد مولوي صاحب احدي په نیولو، او شهادت، او اروانښاد مولوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب محمد نصير الدين آخندزاده په هجرت او هېواد پرېښودنه تمامه شوه دبمبايې په کلي کې دا نېک سنت ببرته له له منځه ولاړ ځکه په دغه کلي کې بيا هېڅا هم دجمعې لمونځ ادا نه کړ.

مولوي صيب نصير الدين آخند زاده نه يوازې دوردګو په مربوطاتو کې بلکه له دې چې د تدريس په فصاحت کې يې شهرت درلود د هېواد په کچه يې زيات شاګردان روزلي دي چې يو شمير له دغه کسانو نه د فضيلت پګړۍ هم تړلې دي

چې د سيمو دويش په بنسټ يې د بيلګې په توګه په لاندې ډول يادونه کوو:

مولوي محمد رسول، جهادي قوماندان مولوي عبد البصير مولوي محمد وصيل، مولوي ضياؤالحق آخندزاده، جهادي قوماندان محمد قاسم آخندزاده، ملامعاذالحق آخندزاده، ملا محمد ظاهر آخندزاده، صاحبزاده عبدالکريم. مولوي غلام محی الدين، مولوی محمد حسن جان آخندزاده، مولوي محسن آخندزاده، مولوي محمد عمر مولوي على مرجان.

مولوي رحيم ګل ، مولوي ملا جان، ملا سعد الله.

مولوي عبدالقدير حنفى، مولوي صاحب جنت ګل، مولوي زلمى، مولوي جمعه ګل، مولوي عبد الخليل، مولوي اوليا.

شهيد مولوي عبدالکريم، مولوي ريد يګل محمد حنيف مولوي محمد حسن چې په رئيس محمد حسن يې شهرت دلود او همدارنګه د ميدان له سيمې نه ملا نورمحمد چې دميدان په ملا سره مشهور واو همدارنګه دشهاب الدين کلي ملا ګل رحمن دهلمند دګرشک اوسيدونکي مولوي الله داد چې دکندهارملا په نامه يې شهرت درلود ، ملا عبد الرشيد مولوي محمد على کندهاري دزابل ولايت اوسيدونکی قاضي عبيدالرحمن زابلي.

دغزني دمقر اوسيدنکی مولوي عبد القيوم چې دمقر په ملا پېژند ل کېده.

دپکتيکا اوسيدونکي مولوي ګل محمد کټوازی، مولوي عبد الظاهر کټوازی.

دپکتيا ولايت دزرمت اوسيدونکی مولوي خليل الله چې دزرمت به ملا پېژندل کېده.

دبلخ ولايت اوسيدونکي هريو مولوي شمس الحق آخندزاده، قاضي عبد الحق، مولوي نورمحمد آخندزاده چی دترکستان په آخندزاده مشهورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلوګر او سیدونکي مولوي محمد طاهر، مولوي شهباز.
دبغلان اوسیدونکي مولوي قاضي محمد معین، مولوي نظرمحمد.
دکورنۍ غړي يې هريو مولوي عبدالقدير قدردان، جهادي قوماندان قاضي محمد نذير همت، چې دتره زامن يې دي، دکابل پوهنتون دژبوا او ادبياتو پوهنځي استاذ پوهنمل دکتور محمد قسيم آخندزاده چې وراره يې دی، دسعودي عربستان دامام محمد ابن سعود پوهنتون استاد دکتور نقيب احمد، داسلام آباد دنړيوال پوهنتون استاد دوکتور عبد المجيب، مولوي عبد اللطيف چې وروستي درې واړه يې زامن دي.
مولوي محمد نصيرالدين آخندزاده صاحب چې دچک په آخندزاده يې هم شهرت درلود په (۱۳۱۳) هجري لمريز کال دچک ولسوالۍ دخليلي کلي دعلم خانخيل په محله کې په يوه درنه ديندار علمي اوروحاني کورنۍ کې دنيا ته سترګې غړولې دي او والد صيب مولوي احمدجان چې دخليلي په لوی ملا مشهورو زوی چې هغه بيا د ملاعبدالوهاب اوهغه د ملا علی محمد زوی دی د محمد نصيرالدين آخند زاده والد صيب مولوي احمد جان هم دوخت يو وتلی مشهور، معتبر او مخورعالم و، په فقه، نحو، صرف، بلاغت، منطق، کې يې لوړ نوم درلود، په رياضي او حکمت کې يې ددينې زده کړو دطالب علمانو ترمنځ لوړ شهرت درلود، نوموړي په خپل لاس دځمک پېژندنې په موخه جوړه شوې کره، او دفضا او فلک پېژندنې (اصطرلاب دايرې) دعلمي آثارو د ارزښتناکې پانګې په توګه له ځان څخه ترشا پرابښې دی په نوموړو علوموکې دهغه دپوره تخصص او لاسرسي ښې بېلګې موجودې دي.
هغه دعمر وروستي کالونه کرې ورځ دفقې او احاديثو دعلم په مطالعه تيرولـه اوددغه علومو مطالعه يې ورځنی مشغولاوه، پاته دې نه وي چې هغه خپل ټول عمر دوردګو په سيمه دولس خدمت او ددينې زده کړې مينه والو په روزنه کې تير کړې دی، هغه د وردګو په مختلفو سيمو لکه شيخ آباد، بکسمند، بمبايې، ګوده، اوسياب کې تدريس کړی خو دخليلي په سيمه کې چې دده خپل کلی او کور دی دعمر دوروستيو کلونو درس او مدرسه خورا مشهوره وه چې دخليلي دمتدين ولس په نيغه مرسته او مالي سرښندنه تر ۹۰ زيات طالب علمان درلودل کله ناکله خو به دطالب علمانو شمېر له دې هم زيات شو، چې ګاونډيو کليو به ورسره مرسته کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروانښاد محمد نصيرالدين آخند زاده کله چې څه را لوی شو نو د خپل والد صيب په پاملرنه يې ديني زده کړو ته ګونډه ماته کړه او په ډيره ليوالتيا يې له الفبې نه پيل وکړ هغه متداوله علوم لکه صرف نحوه تفاسير احاديث فقه او اوصول فقه علم کلام او ادب له خپل والد صيب نه پيل کړل له څه مودې وروسته د غزني اندړو ته ولاړ او هلته يې په مولوي عبد الکريم چې د جان آباد په مولوي صيب يې شهرت درلود او د نصير الدين آخندزاده صيب د عمه زوی هم و ديره او تر ډيره بريده يې د هغه د پوهې له سمندر نه علمي استفادې او استفاضې وکړې له څه وخت وروسته بيرته وردګو ته راغی او د شيخي په مولوي محمد پذير ديره شو له هغه يې هم زيات علوم زده کړل او بيا د څه وخت لپاره د نرخ ولسوالۍ ته ته ولاړ او هلته يې د پيرداد و له مولوي څخه هم زده وکړې له ځايه يې د جلريز په لور مخه وکړه او پوره پنځه کاله يې په جلريز کې د سيد احمد صيب نه زده کړې وکړې او په همدغه ځای کې يې د تدريس لومړنی پروسه هم پيل کړه بيا وروسته دداحاديثو ددورې د بشپړولو لپاره د تګاب د ميا ګل جان آغا مدرسې ته ولاړ او هلته يې په ۱۳۴۰ کال د زده کړو وروستی بری ليک تر لاسه کړ او خپل کلي ته راغی او د يو لړ پرتمينو مراسمو په ترڅ کې يې د فضيلت پګړۍ وتړله وروسته يې د لومړي ځل لپاره د سيداباد ولسوالۍ په شاترو کې د امامت او تدريس پروسه پيل کړه تر څو د زمانې په تيريدو سره د چک ستر ملا صيب مولوي عبد الحکيم چې د آخند زاده صيب د پلار د تره زوی و وفات شو او په وفات يې د چک په ولسوالۍ کې ستره علمي ظايعه را منځ ته شوه تر څو د چک د شاوخوا کليو او سېدونکو په يوه اتفاق او اتحاد سره ددې تشې د ډکولو لپاره د مولوي نصيرالدين آخند زاده را وستل تصويب کړل چې مولوي صيب هم د چک د ستر علمي کانون د وارثۍ سرپرستی او مخ ته وړلو په منظور چک ته راغی او پوره د ۱۷ کالو لپاره همدلته يو جيد مدرس پاته شو

اروانښاد مولوي محمد نصير الدين آخندزاده دژوند په وروستيو کې د پېښور په ښارکې د شکرې او فشار له ناروغۍ نه ځوريده اوددې ترڅنګ د۱۹۹۲زيږديز کال په اوږدو کې چې د کابل دفتحې په نوم دکمونستانو او روسانو دتوطيې په پايله کې دمجاهدينو ترمنځ چې کومې خونړۍ پېښې رامنځ ته شوې، مولوي صاحب يې ډير وځوراوه، په هماغه وخت يې په پخوانيو نارغيو يوه بله درنه دزړه ناروغي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورزیاته شوه، دمجاهدینو دخپل منځي وسلوالو شخړو هماغه اوله ورځ په نومو ړي دزړه حمله راغله چې په روغتون کې د بستر تر بریده خبره ورسیده معالج ډاکتر هغه داوخت دخبرونو له اوریدو منع کړ

مولوي صاحب له پورته ناروغیو نه ډیر وخت وکړید چې له امله یې د۱۳۹۱هجري لمریز کال دسلواغې میاشتې په څلورمه نېټه دپنجشنبې ورځې سهار سپېده داغ مهال شاوخوا څلور بجې دهجرت په ټاټوبي پېښور ښار کې د اته اویا کلنۍ په عمرله فاني نړۍ دتل لپاره سترګې پټې کړې، د جنازې لمونځ یې په هماغه ورځ پېښور ښار ته څېرمه د نصرت مېنې د مهاجرینو د پنډغالي دجامع جومات په انګړ کې دزرګونه مینه والو په ګډون ادا، اودنورو شهیدانو، او مهاجرو ملګرو ترڅنګ د نصرت مېنې په لویه هدیره کې دخپل وصیت سره سم خاورو ته وسپارل شو.•

• (۹) ۲۱- ۲۶ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مسعود حلیم د قرانکریم نو ښتګر لیکوال

ای علم هنر دیگر هیچ عیب نداری عیب تو همین که در کشور مایې



هر انسان په خپل وجود کې یوډول فطري او ذاتي هنراو کمال لري اوهغه چا چې خپل دغه فطري هنري کمال پیژندلی نو هغه ته یې له ښکلا سره مل د خپلو خلکو او ټولنې په ګټه تبارز ورکړی او په کاریې اچولی دی دا په نو نیک بختـه او بختور کسان وبولو ، خوترڅنګ یې یو شمیرداسې کسان هم شته چې د یوه ښه فطري هنراوکمال درلودونکي دي خو له بده مرغه چې شرایطو هغه ته ددې اجازه نه ده ورکړې چې خپل دا هنرپکار واچوي اواکثر له دغه کسانو په دې هم نه پوهیږي چې د کوم هنر لرونکی دی که نه ؟ نودا هم ددې سبب شوي چې هرڅه یې په وجود کې پرته له دې چې ګټه ترې واخیستل شي راکد پاته شوي چې اکثریت له دغه کسانو د سواد له نعمت څخه هم محروم وي ، ملامت به یې نه ګڼو ځکه ددوی دفطري پوهې او استعدادونوغوټۍ د بیسوادۍ اوناخبرۍ په وجه نه دي غوړیدلې ، خو یوځل بیا دغه ټکي ته اشاره کوو او وایو چې نیک بخت او بختور به هغه کسان وي چې با سواده او په خپل فطرت کې نغښتی کمال یې پیژندلی اوهغه ته یې د خلکو اوټولنې په ګټه ځلولی وي او چیرې د چا دا هنراو وړتیا د الله پاک دارزښتونو په ساتنه او پالنه کې پکاراچول شوي وي نو( نور۔الله۔نور ) دا به تر ټولو بختور کسان وبولو .

یوله دغه بختورو کسانو نه مسعود حلیم دی چې خپل هنر یې په نسخ ( د زیر، زبر، پیښ او غړوندی لرونکي ) خط د قرانکریم د شپږو نسخو په لیکلو سره ځلولی او په دې توګه یې دخپل هنر یونړیوال تل پاته دیني اوتاریخي ارزښت درلودونکی یادګار په ځای پرایښی دی. د هغه پواسطه د قرانکریم په لاس لیکل شوې خطي نسخو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربښتیا هم چې ملي نړیوال شهرت موندلی او د یوشمیر آسیایې هېوادود باچاهانو، امیرانو او جمهورو ریسانو لخوا یې تود هرکلی شوی دی.
مسعود په ۲۰۰۴ میلادي کال د سعودي عربستان د باچا خادم الحرمین شریفین ملک فهد بن عبد العزیز په رسمي بلنه سعودي عربستان ته ولاړ او د ځو اونیو لپاره دهغه باچا خاص میلمه و
په دغه سفرکې د سعودي عربستان د اسلامي شئونو وزیر الشیخ صالح د عربستان خبریالان او نور مطبوعاتیان را وغوښتل او په تحت لفظي خطاب یې ورته وویل:
تاسې راشئ وګورئ چې یو عجم شخصیت په خپلو نرمو او پستو ګوتو څومره ښایسته او ښکلی قرانکریم لیکلی او مونږ ته یې را وړی دی، دومره ښکلی او ښایسته چې زما سترګو ته یې د قرانکریم د اعجاز په اړه د معرفت نوی نور وبانبه !
د قرانکریم دغه په لاس لیکل شوې نسخه د ټول عربستا ن په رسنیو کې د یوه ارزښت لرونکي اسلامي شاهکار په توګه راغبرګه شوه او د قرانکریم د ښکلا دغه نوښت د ټول سعودي عربستان د خلکو د خوشحالی او خوښی سبب وګرځېد، په دغه سفر کې د نوموړی باچا په حکم یوه الوتکه د مسعود حلیم په خدمت کې ورکړل شوې وه چې د دغه هېواد په دننه کې یې هرګوټ ته پکې سفرونه وکړل او لنډه دا چې مسعود حلیم په دغه سفر کې د دغه هېواد د مقاماتو لخوا د زړه له کومي او په ریښتني ناز ونازول شو.
بل ځل په ۲۰۰۷ کال مسعود حلیم د افغانستان د وخت د جمهور ریس حامد (کرزي) سره په یوه رسمي سفرعربی نړۍ ته ولاړ او خپل لیکلی پنځم ټوک قرانکریم یې د کویت امیر(الشیخ صباح الاحمد الجابر آلصباح ) ته ډالی کړ دا داسې شیبې وې چې نوموړی امیر د خپل قصرنه د قرانکریم په درناوي ترډیره ځایه په پښو راغی چې دا عمل د حامد کرزي د ډیرې خوښی او سرلوړی سبب وګرځېد چې دا هم د مسعود د هڅونې یو داسې سفر و چې د اسلامي هېوادونو د جمهورو ریسانو او امیرانو د خبرو اترو موضوع په قرانکریم د ریښتني اعتقاد او د دغه اسماني کتاب مدحه او ستاینه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو تر ټولو مهمه او حساسه خبره داده چې مسعود حلیم تر خپله وسه هڅه کړې چې د قرانکریم په لاس لیکلو دغه (هنر) د افغانستان د خط او مینیاتوری په اصلي او لرغوني هنر او د خپل هېواد په لومړنیو امکاناتو لکه کاغذ ، رنګ او قلم ولیکي او هېوادوالو او نورو نړیوالو ته د خپل وطن دا هنر وروپیژني.

(الاسلام ) د افغانستان د علماوو د سرتاسري شورا (جریده ) په خپله پرلپسې ۲۰۷ ګڼه کې لیکي:

مسعود حلیم یو ځوان افغان خطاط دی چې د شپږم ځل لپاره یې وکړای شول قرانکریم خطاطي او مینیاتوري(۱) کړي ،چې دا لوی اجر او ثواب دی ، ده مخکې هم پنځه ځلې قرانکریم خطاطي کړی و ،چې لومړی او دوهمه نسخه یې د سعودی عربستان او کویت باچاهانو ته ډالی شوي وه ، دریمه نسخه یې د افغانستان د ولسمشری په کتابتون او څلورمه او پنځمه نسخه یې د نړۍ په سترو کتابونو کې د افغاني هنر او کتابت د بیلګې په ډول اېښودل شوی ده.

مسعود حلیم شا وخوا ۲۵ کاله کیږي چې د قرانکریم په کتابت او د اسلامي ایتونو په لیکلو بوخت دی ، دده ترټولو لویه نیکمرغي داده چې پوره کورنی یې ورسره په دغه سپیڅلي کارکې مرسته کوي ،مسعود وروستی قرانکریم په څلورو کلونو کې بشپړکړ خودی وایې چې چیرې زمینه ورته برابره شي نو کولای شي چې په کال د قرانکریم دوه نسخې په لاس خطاطي کړي.

مسعود حلیم له کوچینوالي نه د ښه خط لیکلو سره مینه درلوده او تل به یې د خپلو هم ټولګیانو سره په ټولګي کې د حسن خط لیکلو سالمه سیالي درلوده د هغه خط به تل تر نورو ښلی او ښایسته و اوس یې د کورنۍ ټول غړي د قرانکریم په مینیاتوری لیکلو کې له هغه سره مرسته کوي او دهغه او لادونه دهغه د وفادارو مرستیالانو په توګه مینه لري چې تل د خپل پلار تر څنګ د خیر او برکت په دغه غوره لاره کې دهغه مرستندوی او کومکي و اوسي او دا لاره تعقیب کړي .

قرانکریم الله پاک په عربي ژبه عربي الفاظو له نن څخه څه کم ۱۴۰۰کاله د مخه د روژې په مبارکه میاشت کې په ۲۳ کلونو کې په خپل استازي جناب محمدرسو الله (ص) را نازل کړی دی چې په لومړیو کې یې زبر زیرنه درلودل خو وروسته د عجم

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړو د ستونزو د دحل لپاره هغه ته زور او زیر ورکړل شول چې په دې توګه د قرانکریم د تلفظ او ادآ ستونزه هم کنترول شوه.

(۱) مینیاتوري د افغانستان اصیل او پخوانی هنر دی چې ډیری خلک د بهزاد د سبک پلویان دي د اسلامي ارزښتونو د غه لوی خدمتګار مسعود حلیم وردګ په ۱۳۵۲ هجري کال د اسد د میاشتې په لسمه نیټه د کابل په خوشحال مینه کې د عبدالحلیم په کور کې وزیږ چې عبد الحلیم بیا د ملاعلم خان او د هغه پلار فتح خان نومېده چې دا سلسله ټول عالمان و.

لومړنی زده کړې یې د غازي محمد جان خان په ښوونځي کې پیل کړي خو له هغه وروسته یې کورنی کابل ته راغله او مسعود خپلو زده کړو ته د خوشحال خان د سپین کلی په ښونځي کې تر اتم ټولګي پورې ادامه ورکړه له هغه وروسته حربي ښونځي ته ولاړ او له دولسم ټولګي نه اول نمره فارغ شو بیا د پولیسو اکاډمی ته ولاړ او دریو کالو د لیسانس په درجه اول نمره له دې اکادمۍ نه فارغ او بیرته په همدې اکاډمی کې د ښونکي په عنوان په دنده بوخت شو او تر ۱۳۷۵ کال پورې د دې اکاډمۍ د حقوقو او جنایي جرایمو په دیپارتمنت کې استاد و د طالبانو د واکمنی په مهال یې دنده پریښوده او خپلې خطاطی ارزښتاک هنر ته یې پراخوالی ورکړ.

مسعود حلیم او س د بهرنیو چارو وزارت د ......اداره کې کار کوي او کله خپل کور ته را شي نو خپل هنر د نویو نو ښتونو په اعمال لاپسې غوړوي•

• (۹) ۳۱- ۳۳ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مولوي عبدالرب ((احدي))



د ژوند له پیل نه مبارز شخصیت اونامتو لیکوال تیرشوي هغه په خپل ژوند کې د اسلامي نهضت د پراختیا او پر مختیا لپاره دومره هځې کړې چې دې ده نوم یې د ټول هېواد په کچه د افغانانو په ذهنونو کې را ژوندي کړې او هیڅکله د هیریدو نه دی

مولوی عبد الرب «احدي» به تل د اسلامي ثقافت د ودې لپاره په داخل او خارج کې سفرونه کول په اسلامي کنفرانسونو او غونډو کې به یې برخه اخیستله هغه په ۱۳۵۲ لمریز کال له صبغة الله «مجددي»، غلام رباني «عطیش» او یو شمیر نورو علماوو سره په هغه نړیوال اسلامي کنفرانس کې برخه واخیسته او خپله مقاله یې وویله کوم چې د لیبیا په هېواد کې دایر شوې ؤ.

مولوی عبد الرب «احدي» په ۱۳۴۸ لمریز کال دولسې جرګې د ۱۳ تقنیني دورې لپاره د چک له ولسوالي نه ځان کاندید کړچې زښته ډیرې او د پام وړ رایې یې ترلاسه کړې خو ولسې جرګې ته یې لاره ونه موندله.

مولوی عبد الرب «احدي» د خپل ژوند په یوه دوره کې د ګهیځ د اسلامي جریدې د مسؤل مدیر په توګه هم پاته شوې دی.

هغه په ۱۳۴۵ لمریز کال د هرات ولایت ته ولاړ او هلته یې د فخرالمدارس د لویې دیني مدرسې له زده کونکو او استادانو سره د اسلامي نهضت د ودې لپاره کنفرانسونه جوړ کړل.

څرنګه چې مولوی عبد الرب «احدي» له وړوکتوب نه ډیر زیرک او د ښه استعداد درلودونکې کس ؤ نو په کو چینوالې کې یې ډیر ژر په زده کړو پیل وکړ او په ۱۳۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

کال د کابل په عربي دارلعلوم کې شامل او په ۱۳۳۱ کال په اعلې درجه ترې فارغ او د لمړي ځل لپاره د نجات په عالي لیسه د ښونکي په توګه مقرر شو.
هغه په دې لیسه کې پوره لس کاله یانې تر۱۳۴۱ لمریز کال پورې د استادۍ دنده په ډیر صداقت سره په دې لیسه کې په مخ یوړه او له هغه ورو سته بیا د امام ابو حنیفة مدرسې ته تبدیل شو او هلته یې د اسلامې نهضت ودې او پراختیا ته دومره زور ورکړ چې د اسلامې دعوت دداعې اود یوه سترنړیوال مبارز په توګه و پیژندل شو .
شهید مولوی عبدالرب «احدې» د اسلامې مبارزو یو تل پاته تاریخ په ځای پرایښې او له نامه سره یې ټول هېوادوال او حتې د آسیایې اسلامې هېواد و مبارزین بلد دی.
کله چې په ۱۳۵۷ لمریز کال د غوایې خونړۍ کودتا را منځ ته شوه نود مولوی عبدالرب «احدې» په رو حیاتو د الحاد او دهریت د پلویانو ګواښونو او پټکو کومه منفې اغیزه ونکړه اود پخوا په څیر مبارزپاته شو او له کودتا څو ورځې ورو سته یې د خیر خانې مینې د کویټې په جامع جو مات کې جوزا د میاشتې په ۲۳ نیټه د د جمعې مبارکې د لمانځه په خطبه کې ددهریت او الحاد د پلویانو د آدیالوژۍ په اړه د لو ډو سپکر له لارې ددې با طلې آدیا لوژۍ د ابطال په اړه پراخه خبرې وکړې او په روانو خبرو یې دکمو نستانو کفرې او الحادې څیره رسوا او علناً یې د همدې لو ډسپکر له لارې ددوی په وړاندې د جهاد اعلان وکړ ، هغه وه چې له لمانځه ورو سته مولوی صیب د الله(ج) د دین د پیا م رسولو په جرم ونیول شو او بیا تر ننه پورې چا ونه لید او د شهادت لوړ مقام ته ورسید خو نوم یې دیوه مسلمان مبارز تر عنوان لاندې د خلکود ذهن په پردو کې پروت او یاد یې تازه دی
شهید مولوی عبد الرب احدې په ۱۳۰۱ کال د چک ولسوالۍ د بمبایې په کلې کې په دیندار او علم پالونکې کورنۍ دنیا ته سترګې غړولې د پلار نوم یې مولوی عبدالاحد ؤ هغه چې د امان الله خان له لاسه دیوی تو طیی په ترخ کی شهید شو او په خپل ځای کې شرحه شوې دي.•

---

• (۶) ۱۸۵- ۱۹۱ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

له کلونو، کلونو زیار ګاللو وروسته د وردګو کلتوري یون تر سرلیک لاندې ټولګه چې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي د پښتو څانګې د ماسترۍ د دورې څخه زما د تیزس موضوع ټاکل شوه وه په (۲۲۴) عنوانو، (۳۵۰) مخونو کې پای ته ورسیده.

په دې تیزس کې چې زما د مهربان استاد پوهنوال احمدشاه زغم تر لارښوونې لاندې لیکل شوی دی، د وردګو د څلورو ولسوالیو(بند چک، جغتو، سیداباد، دایمیرداد ) اړوند ولسونو کلتوري چارې څېړل شوې دي، په پیل کې د کلتور په اړه عمومي معلومات، د کلتور ارزښت او اهمیت باندې د پوهانو له انده رڼا اچول شوې، ورپسې د وردګو د کلتوري ژوند عمده توکي را اخستل شوي او د دې سیمې د وګړو مادي او معنوي ژوند د څرنګوالي په اړه، د دې سیمې د خلکو په لاسي صنایعو،دودونو( دکوژدې دود، د ماشوم دپیدا کیدا دود، دمړي دود، د ځانګړو ورځو لمانځلو دود،لوبو، خوښیو... ) باندې رڼا اچول شوې ده ورپسې د وردګو د سیمې د میلمه پالنې دود تشریح شوی او دهغو خواړو یادونه شوې ده چې په دې سیمه کې یې له پخوا څخه دود درلود اود دې سیمې سیمه ییز خواړه بلل کیږي. همداراز د وردګو محلي او ملي لوبې په ۴۱ عنوانونو کې تعریف شوې دي، په دې لوبو کې ډیرې داسې لوبې هم شته چې په وردګو سربېره ممکن په نورو پښتني سیمو کې هم دود ولري.

جرګې او مرکې او د جرګو او مرکو اړوند دودیزې چارې چې د پښتنو له مهمو دودونو څخه دي هم په دې تیزس کې راوړل شوي دي او ترڅنګ یې د وردګو د روغتیایي ژوند اوروغتیا اړوند دودیزو او سیمه ییزو درملو او طبابت غړیدلي یو، چې اوس هم په وردګو کې دود دی او د خلکو د ژوند یوه مهمه برخه جوړوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداشان په دې ټولګه کې د وردګو د پوهنې ریاست د معلومات پر اساس د معارف اړوند مسایلو ته اشاره شوې او دا څرګنده شوې چې د وردګو معارف او د معارف اړوند چارې او ژوند څه ډول دي.
د وردګو پوهنتون، علمي او متخصص کدرونو، جیدو دیني عالمانو معرفي، د مشاهیرو، شاعرانو، لیکوالانو ،ژورنالستانو او اتلانو په ژوند خبرې او دهغوی د نومونو یادول د دې سیمې له علمي او مشهورو کسانو سره اشنایي د دې تیزس نور مهم موضوعات دي، هڅه مو کړې څو د وردګو د سیمې وولسي ادبیات، انګیرنې، سیمه ییزو نکلونو څرنګوالی، متلونه، دودیزې سندرې، کنځاکې او نور هریو د محتوا سره سم وړاندې کړو.
د وردګو په شعر شاعرۍ، د منې ګل په مشاعره، مدني او کلتوري ټولنو، رسنیو، لرغونو سیمو په اړه موهم معلومات وړاندې کړي دي څو لوستونکي د وردګو د کلتوري یون له ټولو یا مهمو خواوو څخه د دې ټولګې په لوستلو خبر شي، په هغه برخه کې چې مو معلومات نه درلودل یا باوري سند نه و موجود موږ هڅه کړې د اړوند موضوع په اړه نوي او موثق معلومات راغونډ کړو او د اداري له رییس سره مود موضوع اړوند خبرې کړې دي.
د یادونې وړ بولو چې د دې ټولګې ډیر ارقام او معلومات د با اعتباره ماخذونو او رسمي چارواکو څخه اخستل شوي او په دې ټولګه کې چې زما د تیزس موضوع ده ځای پرځای شوي دي، زه د دې ټولګې لیکل زموږ د کلتوري بهیر د پیاوړتیا په برخه کې د یو ګام پورته کول بولم او هیله لرم چې زموږ د لیکوالو او فرهنګپالو لپاره د ګټې وړ وګرځي په پای کې د خپل لارښود استاد پوهنوال احمدشاه زغم چې له علمي پلوه او د سیمې د جغرافیوي موقعیت د نږدې والي له پلوه زموږ د کلتوري چارو سره زیاته بلدتیا لري مننه کوم چې د دې تیزس په بشپړتیا کې له ما سره د زړه له کومې مرسته کړې او زه یې د دې ستر کار لیکلو ته هڅولی یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مناقشه

د وردګو کولتوري یون چې د ماسترۍ له دورې څخه زما د تېزس موضوع وه د لوی خدای په فضل او د هېواد په ځانګړې توګه د وردګو د لیکوالو او فرهنګ پالو په مخلصانه همکاریو په ۳۵۰ مخونو کې پای ته ورسیده، دا چې ما ولې دغه موضوع غوره کړه او کوم مهم موضوعات پکې راوړل شوی، له کومو ماخذونو څخه پکې ګټه اخستل شوې او د کلتورکومې خواوې پکې راوړل شوې، ولې مې د وردګو کلتوري یون څېړلی دا او د بېته ورته ډېرې پوښتنې شته چې باید ځواب یې وویل شي:

لومړی اړینه بولم چې ووایم د ادب او ادبیاتو یوه لویه برخه په کلتور او کلتوري مسایلو راڅرخي، دا چې ما دخپلې لیسانس او وروسته د ماسترۍ دوره د ادبیاتو په برخه کې تیره کړه اوزه دخپلو استادانو له خوا د کلتور او کلتوري یون له ارزښت سره اشنا شوم نو زما علاقه له کولتورسره ډېره زیاته شوه، دویم دا چې زما د رسمي او کاري ژوند ډېره برخه له کلتور سره په ځانګړي ډول د خپلې سیمې ( د وردګو له کلتوري مسایلو ) سره تیریږه زما علاقه یې په دې برخه کې نوره هم زیاته کړې ده او زه تل دا فکر کوم چې د وردګو کلتور باید وده او پرمختګ وکړي او ټول هېواد وال د دې علمي او دودیزې سیمې له سختو او ناسختو دودونو او کلتورسره اشنا شي، له ما سره به تل دا پوښتنه وه چې ولې د وردګو په دومره زیاتو لیکوالانو کې چا د دې سیمې د کولتور لپاره پوره کار نه دی کړی، څو د دې سیمې د خواره واره او بډای کلتوربېلابېلې خواوې سره راټولې کړي او په یوه ټولګه کې یې وړاندې کړي څو یو وردګ میشت یا یوبل پښتون او د ادب او کلتور مینه وال چې وغواړي د وردګو له کلتور سره ځان اشنا کړي، که څه هم په دې برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ځینو لیکوالانو د ستاینې وړ کارونه کړي دي، خو هغه د کلتور یوې یا څو محدودو برخو ته ځانګړې شوې دي، په دې ټولګه کې د وردګو د دودونو مختلف اړخونه راوړل شوي چې په لوستو یې سړی کولای شي د وردګو له دودونو او دودیزو مراسمو، د هغوی د ژوند له څرنګوالي، د هغوی له علمی او تاریخي کادرونو، د هغوی پوهنې، فرهنګ او د ژوند اړوند مسایلو سره اشنايي پیدا کړي.

د دې تیزس ارزښت او اهمیت په دې کې دی چې د وردګو د ټولو سیمو او میشتو قومونو دودونه چې یو ډول دودونه دي پکې په ریښتونې توګه خوندي ساتل شوي دي.
دا چې له کومو منابعو او کومو ماخذونو پکې کار اخستل شوی په ځواب کې یې ویلای شو چې د دې تیزس مهموالی هم دادی چې د ماخذونو دیری لیکوالان او کلتورپوهان د وردګو د خلکو په منځ کې را لوی شوی، با اعتباره او شخصیت لرونکي لیکوالان دي چې دلته یې د بیلګې په توګه د څو تنو نومونه او د هغوی د کتابونو یادونه کوو:
د واده، کوژدې اړوند مسآلو ډیره برخه د ګل اغا احمدي وردګ د خپښي کتاب څخه را اخستل شوې ده، چې د وردګو د واده، کوژدې، طوی، د واده سندرو او داسې نورو دودیزو او کلتوري مسایلو په اړه معلومات پکې په ډیره مفصله توګه را اخستل شوي دي.
د مشاهیرو په اړه یې د هڅاند لیکوال او ژورنالست حیات الله حلیم (د وردګو مشاهیر) له لومړي، دویم، دریم، څلورم ټوکو څخه ګټه اخستل شوې ده ښاغلی حلیم سره د دې چې دا مهال په پلازمینه کابل کې فعال او په کلتوري چارو بوخت لیکوال دی په وردګو کې اوسیږي ، د وردګو له هرڅه خبر او د وردګو له ټولو سیاسي او مشاهیرو افرادو سره په مستقیم یا غیر مستقیمه توګه سرو کار لري، زموږ د ماخذ بله لیکواله د ګودر مجلې مسول مدیره اغلې روشنا وردګ ده، روشنا هغه څوک ده چې تل یې د ګودر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغـاړي ځخـه د وردګـو د ښـځو د زړه درد او احسـاس تـه د ادب او خيـال پـه جامه کې ښکلی لباس ور اغوستی او د سيمې د دردمنو او لـه خيـال او ادب سره د سـروکار لرونکو ميرمنو اونجونـو احساسات، عواطف، خيالونـه، ادب، انګيرنې او... د يوې تکړه ليکوالې پـه توګـه را اخسـتې پـه دې ټولګـه کـې د اغلـې روشـنا وردګ د (فولکلـوري وړانګـې) لـه کتـاب ځخـه چـې د وردګـو فلکلوريکـو مسـايلو پـه اړه دی ډيرځـه را اخسـتل شـوي دي، همدا راز، د تاند ليکوال اوژورنالست محب الله شريفزي د (ولسي لوبو) لـه کتـاب ځخـه د احسـان الله ارينـزي د وردګـو د واده بـدلې، د وردګـو د اطلاعـاتو اوفرهنګ رياست د ملـي هدف اونيـزې لـه ارشـيف، د څيړنيـار محمد حامد حليمي د (وردګ قوم، سيمه او کلتـور) نومي اثـر، د وردګو د مختلفـو اداري واحـدونو، د وردګـو پـه اړه د بيلابيلـو مونوګرافونـو، بيلابيلو مرکو او زمـا د شخصي معلومـاتو پـر اساس چې زه عمـلا پـه دې برخه کې په وردګو ولايت کې د کلتـوري چارو اړونـد مسـايلو بوخت يم (د وردګو د اطلاعـاتو او کلتور رييس يم) د معلومـاتو پـه اسـاس ليکـل شـوی دی.

په ډاډ سره ويلای شم چې پورته ياد شوي او همدا راز هغه ليکوالان چې پـه دې ټولګه کې د هغوی له اثارو ګټه اخستل شوې ټول يې ماته او زما وولـس ته منلي او پيژندلي شوي شخصيتونه دي، موږ هڅه کړې څو د دې پيژنـدل شـوو ليکوالانـو پـه بـاوري ماخذونو يـوه بـاوري ټولګـه (همـدا تيـزس) وولسونو ته وړاندې کړو ځکه که له يوې خوا د ماسترۍ د دورې د بشـپړيدا دا زموږ مسوليت و له بلې خوا دا پر موږ د وولسـونو پـور ووځو د يـو بشـپړ کلتـوري يـون پـه ليکلـو او ترتيبولـو سره د دې سيمې او همـدا راز د هيـوا دليکوالانو او عامو وګړو ادبي تنده ماتـه کړو ! وردګ قـوم چـې د علـم او فرهنګ سره ډيره علاقه او ځانګړې مينـه لـري، د دوی فرهنګ هم يو بډای

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګ او د نورو قومونو څخه په ځينو ځايونو کې جوت توپير لري په ځانګړي ډول د وردګو ولسي ادب چې د کلتور يوه مهمه برخه ده له نورو پښتني سيمو توپير لري چې بايد پرې ډير کار وشي، د دې سيمې ولسي سندرې، انګيرنې، دوديزې ميلمستياوې، د ودونو دود ، د اخترونو دود او د مړي دود هم ممکن له نورو سيمو توپير کوي چې دلته هريو تر يو ځايه روښانه شو او د دې تيزس په ليکلو سره زموږ د ملي کلتور مهم اړخ چې د يوې سترې سيمې کلتور دی (د وردګو په کلتوري يون ) کې روښانه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایلیزه (نتیجه ګیري)

د وردګو کلتوري یون چې زما د ماسترۍ د دورې د تیزس موضوع ده، د پښتني کلتور یوه مهمه برخه ده چې لیکل یې اړین و، ما د دې اړتیا له امله په خپل رسمي او کاري ژوند کې حس کړه چې د وردګو د سیمې خور وور کلتور باید په یوه منظمه ټولګه کې را ټول شي، که څه هم چې په دې برخه کې ځینو لیکوالانو کار کړی و، خو د بسنې وړ او بشپړ کار نه بلل کیدا، له همدې امله ما (د وردګو کلتوري یون) تر نامه لاندې موضوع غوره کړه، له نیکه مرغه لارښود استاد پوهنوال احمد شاه زغم او د ماسترۍ بورد هم زما غوښتنه مهمه وبلله او تر تایید وروسته یې ماته لارښوونه وکړه څو دا موضوع وڅیړم، د لارښوونې سره سم مې د کلتور په ځانګړې ډول د وردګو د کلتور اړوند کتابونه او نور چاپي اثار پیدا کړل، د دې ترڅنګ مې د وردګو د سیمې د نوموتو لیکوالانو په همکارۍ او د خپل کاري ټیم په هلوځلو چې ټول یې د کلتور لپاره کار کوي د یوشمیر خلکو او مسولانو سره مرکې وکړې او د وردګو د ژوند مهم اړخونه مو وڅیړل او دا ټولګه موترتیب کړه چې د خدای په فضل تر بشپړیدا وروسته پای ته ورسېده په دې ټولګه کې د وردګو د سیمې د خلکو د کلتوري ژوند بېلابېل اړخونه په ناپېیلي او کره توګه وړاندې شول، د دې ټولګې بشپړېدا د سیمې د کلتوري یون د بشپړتیا په لاره کې یو ښه زېری ګڼل کېږي هغه شاعران، لیکوالان، ادیبان چې غواړي د وردګو د ژوند له بېلابېلو اړخونو، دودونو، کلتور، ادب، انګېرنو، شاعرۍ، اعتقاداتو، اتلولیو، پوهې، روغتیا، طبابت، مادي او معنوي ژوند، د مړي او ژوندي له دود او د دې سیمې د خلکو له ژوندانه څخه په هر اړخیز ډول ځان خبر کړي د وردګو کلتوري یون په لوستلو د دې سیمې خلکو د ژوند په ډېرو څېړونو پوهېدلی شي. په دې تېزس کې په پورته نومول شوو برخو سربېره د وردګو لرغونې او تاریخي سیمې او فرهنګي ځایونه چې د وردګو د شهکاریو او اتلولیو بېلګې دي هم راوړل شوي دي، همداراز مو هڅه کړې چې د وردګو د بېلابېلو کلتوري او مدني ټولنو، رسنیو او هنر څخه یادونه وکړو تر څو د وردګو د سیمې اړوند ټول کلتوري مناسبات او دودونه په دې ټولګه کې د مینه والو لپاره وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو ، اوس د دې ټولګې په بشپړيدا د وردګو د سيمې او تاريخ داسې مهمې برخې روښانه شوې چې تر دې وړاندې پرې کار نه و شوی ، زه د هيواد دليکوالو ، رسنيو او د کلتور د برخې څېړونکو او لوستونکو ته چې غواړي د وردګو په کلتوري يون ځان خبر کړي دغه ټولګه د يو موثق او باوري کتاب په توګه ډالۍ کوم او ډاډ ورکو چې د دې څېړنې په بهير کې په پوره ناپيلتوب او ثقه والی کارشوی دی.
په پای کې ډاډ درکوو چې (د وردګو کلتوري يون) د هر هېوادوال لپاره د يادې سيمې د کلتور په اړه د معلوماتو غوره او تر ټولو جامع ټولګه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړاندیزونه

په سیمه او هیواد کې د کلتوري هڅو د سمون لپاره د وردګو د ولایت کلتوري یون لاندې وړاندیزونه کوي:

لومړی: د یوې داسې ستراتیژۍ جوړیدو ته اړتیا لیدل کیږي چې د کلتوري ټولنو د سمون لپاره اوږد مهالي او لنډمهالي پلانونه ولري او د خپلو پلانونو د عملي کولو لپاره په موثرو ګامونو سمباله او د سیمې د شرایطو سره سمه پر مخ ولاړه شي.

دویم: د یوې داسې پالیسۍ موجودیت ته اړتیا ده چې د فرهنګي ټولنو فعالیت د سیمې د خلکو تر منځ د سولې، روغ نیت او ورورګلوۍ بنسټونه غښتلي کړي او په ټولنه کې لازم پرمختګ ته وده ورکړي. همدارنګه داسې چارې د خپل فعالیت په دایره کې راولي چې د ټولنې لپاره د نیکمرغۍ په سمسورو ګامونو سمبالې وي.

دریم: د داسې بنسټونو پیاوړتیا چې له مخې یې په سیمه کې کلتوري ټولنې پیاوړې شي او په ډاډه زړه خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي. همدارنګه هیڅ ډول سیمه ایز د دوی په فعالیتونو ناوړه اغیزه و نه کړي.

څلورم: د ګټورو رسنیو، کتابونو، مجلو او داسې نورو اړوندو موادو د منظم چاپ لپاره د مناسبې پانګې د پیدا کولو په لارو چارو دې غور وشي البته په داسې توګه چې همیشنی حل له ځان سره ولري.

پنځم: د وردګو کلتوري یون اړینه ګڼي څو د فرهنګي ټولنو د ګټورو علمي او فرهنګي تماسونو له لارې د هیواد په ګوټ ګوټ کې د کلتوري ټولنو سره خپلې تجربې شریکې او هر اخیز ارتباط قایم کړي.

شپږم: د هیواد یوې سیمې ته له بلې سیمې څخه د فرهنګي پلاوي تګ او راتګ، په ادبي غونډو کې منظم ګډون، ګډه خپل منځي همکاري پیاوړې کول او د ادبي ټولنو د چاروا کو تر منځ هر اړخیزه پیژندنه په هیواد کې د ادبي بهیر د پیاوړتیا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ادب د ګلونو تر منځ د غوره اړیکو د ځواکمنتیا بو غوره اساس دی چې د وردګو کلتوري یون یې وړاندیز کوي.

اووم: له حکومتي چارواکو، مدني ټولنو، خبري رسنیو، ملي سوداګرو، علمي ستهو او د هیواد د پرګنو له نورو طبقانو سره باید د پرمختګ په لاره کې ګډې هلې ځلې وشي او د کلتوري ټولنو له خوا همیشنۍ اړیکې ورسره تامین وي.

آتم: د وردګو کلتوري یون لازمه ګڼي چې د اطلاعاتو او کلتور له وزارت سره د کلتور د پیاوړتیا په لاره کې ګډ کار او هر اړخیزه همکاري وشي او د هغه همکاري هم د ځان خواته راجلب کړي. همدارنګه د خپلو تجربو له مخې نوموړي وزارت ته وخت پر وخت ګټورې مشورې ورکړي.

نهم: له هیواد څخه بهر دې له افغان فرهنګي کړیو، علمي اشخاصو او ادبي بنسټونو سره پراخو اړیکو ته پراختیا ورکړل شي او د امکان په صورت کې دې د هغوی له لارې دې د کلتوري بهیر د پیاوړتیا په موخه او د تجربو د شریکو له کبله د میلمه پالو هیوادونو له فرهنګي یون سره ارتباطات قایم شي.

لسم: د انټرنیټ او نوې ټکنالوجۍ پر مټ دې د پښتو ژبې د ودې او موثرو بریښنا پاڼو جوړولو ته زیاته پاملرنه وشي. همدارنګه نوی کلتوري نسل دې د دغه لویې آسانتیا له اهمیت څخه خبر کړای شي. په همدې توګه ټولې فرهنګي ټولنې دې د انټرنیټ له لارې له یوې او بلې سره وصل شي.

یوولسم: په هیواد کې د غوړیدلو ادبي ټولنو ډیر زیات تمرکز دې د هیواد د نوي نسل روزلو ته وقف شي چې په دې لړ کې د هیواد د ښوونځیو، لیسو او پوهنتونونو له زده کوونکو، محصلینو او استادانو سره د هیواد کلتوري یون خپلو اړیکو ته پراختیا ورکړي، د ستونزو په حل کې مرسته ورسره وشي، علمي مسابقې ورته برابرې او د لیکوالۍ لوري ته یې دې وهڅوي.

دوولسم: وړاندیز کیږي چې په هیواد کې هره یوه فرهنګي ټولنه دې د خپلو فعالیتونو د سمون ځرګندولو لپاره یوه ارزښتناکه بریښنا پاڼه یا ویبلاګ جوړ کړي او خپل اړین معلومات دې پکې خوندي کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځلیکونه


۱. ارینزی، احسان الله، ۱۳۸۷ل کال، د وردګو د واده دود او بدلې، کابل، الازهر خپرندویه ټولنه.
۲. احمدي، ګل اغا، ۱۳۹۱ل کال، خپښي، کابل، د وردګو کلتوري یون خپرندویه موسسه.
۳. احمدي، ګل اغا، وردګ پوهنه ناچاپ اثر.
۴. احـدي، پښـتون، ۱۳۸۲ کـال، د دایمیـرداد ولسـوالۍ د واده دود مونوګراف، کابل پوهنتون پښتو څانګه.
۵. پښتو - پښتو تشریحي قاموس، ۱۳۸۳ ل کال، څلورم ټوک، دوهم چاپ، (میدیوتیک)، کابل، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز.
۶. حلیم، حیات الله، ۱۳۹۰ل کال، د وردګو مشاهیر، لومړی ټوک، کابل، اقرا نشراتي مرکز.
۷. حلیم، حیات الله، ۱۳۹۱ل کال، د وردګو مشاهیر، دوهم ټوک، کابل، بهیر چاپخونه.
۸. حلیم، حیات الله، ، ۱۳۹۲ل کال، د وردګو مشاهیر، درېیم ټوک، کابل، بهیر چاپخونه.
۹. حلیم، حیات الله، ۱۳۹۴ل کال، د وردګو مشاهیر، څلورم ټوک، کابل، بهیر چاپخونه.
۱۰. حلیم، حیات الله، ۱۳۸۷کال، غازي محمد جانخان وردګ، کابل، د وردګو کلتوري یون خپرندویه موسسه.
۱۱. حبیب زوی، عبدالرحمن، ۱۳۸۴ کال چاپ (نری نری باران) پېښور، دانش خپرندویه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۲. حليمي، محمد حامد ، ۱۳۸۷ل کال، وردګ (قوم، سيمه او کلتور) ، کابل، بهير چاپخونه.

۱۳. د وردګو د پوهنې رياست معلومات ۱۳۹۴ل کال.

۱۴. د وردګو د کانونو رياست معلومات ۱۳۹۴ل کال.

۱۵. روهي، محمد صديق، ۱۳۶۵ ل کال، فولکلور پېژندنه، کابل، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، پښتو ټولنه.

۱۶. رسا ، محمدنسيم، ملي هدف، ۱۳۹۴ل کال ، ۱۸۴مه ګڼه، کابل، شبير مطبعه.

۱۷. روغتيا پالنه، ۱۳۹۴ل کال، د وردګو د عامې روغتيا رياست کلنۍ خپرونه، دريمه ګڼه، کابل، شبير مطبعه.

۱۸. شريفزی، محب الله، ولسي لوبې ناچاپ اثر.

۱۹. عطايي، محمد ابراهيم، ۱۳۷۰ ل کال، د پښتو پر شفاهي داستان يوه تحليلي څېړنه، کابل، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د نشراتو رياست، دولتي مطبعه.

۲۰. فروزي، احمد فريد ، ۱۳۸۵ل کال، د شاعرانو تذکره، کابل حبيب الله حسيب مطبعه.

۲۱. مختار، اورنګ، ۱۳۹۱ کال، کليد اونيزه، ۴۲۳مه ګڼه، کابل، نبراسکا مطبعه.

۲۲. ملي هدف فوق العاده ګڼه، ۱۳۸۵ کال، کابل، د وردګ ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رياست خپرنيز ارګان.

۲۳. وردګ، روښنا ، ۱۳۹۰ل کال، فولکورې وړانګې، کابل، دانش خپرندويه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحريک له جهادي شخصيت ښاغلي (زلمي توپان) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته يې اوږه ورکړه. ملي تحريک وياړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ يې پيل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هيله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

يو ځل بيا د دې اثر له ليکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د ليکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مينه

د افغانستان ملي تحريک

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال پېژندنه

محمد اورنگ مختار له نن څخه ۳۷ کاله وړاندې د وردګو د چک ولسوالۍ د ګوده په نهه برجه تاریخي کلا کې په یوه علم دوسته کورنۍ کې نړۍ ته سترګې پرانستې نوموړی په ماشومتوب کې له خپلې کورنۍ سره کوزې پښتونخوا ته کډه شو؛ هلته یې د حضرت علي ک په عالي لېسه کې تر لسم ټولګي پورې زده کړې وکړې او د حضرت بلال رض له لېسې څخه یې د دولسم ټولګي د فراغت سند ترلاسه کړ. له فراغت وروسته د خپلې خوښې سره سم د وخت د دعوت الجهاد پوهنتون د ژورنالیزم او ادبیاتو پوهنځي ته بریالی شو ، خو د کورنیو جګړو له امله یې په دغه پوهنتون کې زده کړې بشپړې نه شوې ، له ستونزو سره سره نوموړي د علم او پوهې لاره پرېنښوده د جلاوطنۍ پرمهال یې د خپلو ادبي کړنو ترڅنګ د قاضي حسام الدین له عالي دارالعلوم څخه د دیني علومو او احادیثو د دورې دبشپړېدا سند واخست . په ۱۳۸۳ کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې شامل او په ۱۳۸٦ کال کې ترې په کادري درجه فارغ شو. مختار د تحصیل په دوره کې په بېلابېلو چاپي ، غږیزو او انځوریزو رسنیو کې په کار بوخت و او د فراغت تر مهاله یې په رسنیو کې په سلګونه بېلابېلې ادبي،هنرې او سیاسي مقالې چاپ شوې . نوموړی په ۱۳۷۸ کال کې د سید جمال الدین افغان د ښوونکو د روزنې دعالي موسسې استاد او په همدې وخت کې د کلید رادیو ویاند او د مرسل او کلید اونیزو خبریال و. په ۱۳۸۹ ل کال کې د کابل پوهنتون د ماسترۍ په پروګرام کې شامل او د ۱۳۹۰ کال په پای کې یې د ماسترۍ دوره بشپړه کړه . مختار په ۱۳۹۱ ل کال کې د آزادې سیالۍ له لارې د وردګو ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ د رئیس په توګه وګمارل شو چې تر دې مهاله په همدې دنده بوخت دی او د خپل کار په دوره کې یې له بیلابېلوادارو څخه ۱۷ ستاینلیکونه تقدیر نامې تر لاسه کړي دي .د یادونې ده چې اورنګ مختار په هیواد ، انیس، اصلاح ، ویسا ، اراده ، باختر ، سرنوشت ، سخن جدید ، راه نجات ، ۸ صبح ورځپاڼو کې مقالې خپرې شوي دي. په ملي رادیو تلویزیون کې د بهرنیو خبرونو په څانګه کې کار کړی دی. د (ویښ )، (غښتلي ځوانان) په نامه دوې بېلابېلې رسنۍ د نوموړي له خوا تاسیس شوي .

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ٦٥

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**